بسم الله الرحمن الرحیم

بَدْرُ الفتاوی

فِی الفقهِ الحَنفی

دافغانستان د اسلامي امارت دسترې محکمې قاضي القضاة
او د مرکزي دارالافتاء رئیس مولانا مفتي

نور محمد ثاقب

په مشرتابه کې
دافغانستان د مرکزي دارالافتاء لخوا صادر شوي مسائل

مرتب
مفتي محمد ابراهیم (خلیل)

نور القرآن خپرندویه ټولنه
سګاني روډ ـ کوټه

بدرالفتاوٰی

فی الفقه الحنفي

دافغانستان داسلامي امارت دستري محكمې قاضي القضاة
او دمركزي دارالافتاء رئيس مولانامفتي

نور محمد ثاقب

په مشرتابه كي
دافغانستان دمركزي دارالافتاء لخوا صادرشوي مسائل

مرتب

مفتي محمدابراهيم «خليل»

همكار

ابوخالدمولوی عبدالاحد«مجروح»

ناشر

کتاب پيژندنه :-

دکتاب نوم :	بدرالفتاوی فی الفقه الحنفي
تألیف	دافغانستان داسلامي امارت د مرکزي دارلافتاء علماء
ترنظارت لاندي	دافغانستان دستري محکمي قاضی القضاة اودارالافتاء رئیس مولانامفتي نورمحمد ثاقب
ترتیب اوتبویب	مفتی محمد ابراهیم خلیل ولد حاجي عبدالحق مرحوم
دیزائن اوسمون	مولوی عبدالاحد «مجروح»
کمپوزاوتصحیح	مولوی ګل احمد صاحب
خپرونکي	مکتبه نورالقرآن کاسی روډ کوټه
پرلیکه کوونکی	عزت الله سلطانزی
دخپریدوکال	۲۰۱۲میلادی دجون میاشت
دچاپ شمیر	۱۱۰۰عدد
دریم چاپ	دهمدې کال داګست میاشت
شمیر	۱۱۰۰عدد

دبدرالفتاوی نوې کمپیوټري نسخه
نوی ترتیب

①نوی فهرس:

پدې نسخه کې دټولو مسائلو فهرس په ترتیب سره راړول شوی چې هره مسئله په اسانی سره پیدا کیږي-

②فقهي تبویب :

دهرباب ټول مسائل په یوه کتاب اوباب کې جمع شوی دي ، چې په اصل اوقلمي نسخه کې داترتیب موجود نه وه-

③دټولو فتاواؤ حوالې داوسنیو چاپونوسره برابرول :

دټولو فتاواؤ حوالې داوسنیو چاپونوسره برابرې کړل شوې دي چې حواله په اسانی پکې پیداکیږي لکه رشیدیه ،غفاریه، عثمانیه ،حقانیه اونور چاپونه-

④مکرر مسائل ایستل :

مکرر مسائل تري نه ایستل شوي دي، په اصل کې دمختلفو خواؤ څخه استفتاوې راغلې وې اودهغوجوابونه ورکول شوي وو چې بعضې به پکې مکرر وونو هغه مکرر ورځیني ایستل شوی دي-

⑤داردو عباراتو ترجمه :

په قلمي نسخه کې ډیرځایونه دفتاوی دارالعلوم دیوبند، کفایت المفتي ،امدادالفتاوی اونورو اردو فتاواؤ عبارات رانقل شوي وو چې پدې نسخه کې دهغو ټولو عباراتو ترجمه په لنډ ډول راوړل شوې ده-

⑥د دارالافتاء مهر اوامضاءګانې :

پدې نسخه کې دمرکزي دارالافتاء مهر اودمفتیانوصاحبانو امضاء ګانې دهرې مسئلې سره په هماغه شکل راوړل شوي کوم چې په قلمي نسخه کې موجود وو-

دبدرالفتاوی دمضامینوفهرست

ددې نسخې په اړه لنډ وضاحت

باب الاذان

کتاب الصلوة

کتاب الزکاة والعشر

كتاب الصوم

كتاب الحج

كتاب النكاح

باب في حرمة المصاهرة

باب الرضاع

كتاب الطلاق

کتاب الجهاد

کتاب اللقطه

کتاب الشرکة

کتاب الوقف

کتاب الحدود والتعزیرات

کتاب البیوع

باب الربا

كتاب الاجارة

كتاب الوديعة والعارية

كتاب الهبه

كتاب الغصب

باب الضمان

كتاب الدعوى

كتاب القضاء والشهادات

کتاب الصلح

کتاب الوکالة

کتاب الشفعه

کتاب المزارعة

کتاب الحجر

کتاب احیاء الموات والشرب

کتاب القسمة

باب الحقوق

کتاب الصید والذبائح

کتاب الحظروالاباحة

كتاب الوصية

كتاب الفرائض

اللهم اختم لنا بالخیر والسعادة والبشارة

والایمان



بسم الله الرحمن الرحيم

دمرتب وينا

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى

دفقه ارزښت او ارتیاد روښانه ورځي په څيرله چاپته نه ده څکه هرانسان ديوه مسلمان په حيث دخپل ژوند په هره شيبه کي دفقه اوشريعت په رڼاکي خپله تګلاره ټاکي ،داڅکه چي دضلالت اوګمراهی دتورې اوورکې لارې لاروی پکي سرګردانه نشي ،که داسي وشي نوپايله به ئې ددنيااواخرت خسران وي ،رحيم اوکريم خدای ﷻ دسمې اوسيده لارې دټاکلواوورښودلولپاره په دنياکی دانبياء کرامو عليهم الصلاة والسلام لړۍ پيل کړي ده ،ترڅوپرېندګانو خپل حجت بشپړکړي ،دانبياء کرامو عليهم السلام لړۍ پرخاتم الانبياء والرسل ددووجهانوسردارحضرت محمد ﷺ باندی پای ته ورسيده ،خودانبيأء کرامو عليهم السلام دسلسلې دپای ته رسيدومطلب دانه دی چي راتلونکی نسلونه وسمې تګلارې ته اړنه دی بلکه ددې کارذمه واري په ميراث کي دامت وعلماء کراموته ورپه برخه شوه چي دقرآن اوحديث په رڼاکي دوی دامت علمی تنده ورماته کړي څکه دامام ابوحنيفة رحمه الله اودده دګرانوشاګردانورحمهم الله په هڅودامت لپاره يوه داسی ذخيره تياره شوه چي ترقيامته به راتلونکي نسلونه ورڅينې مستفيدوی اودی.

اوبل لوري امت هم ودې ته وهڅول شو:چي تاسودخپلې لارې ټاکل علماؤته وسپارۍ په قرآن کريم کي ارشاد دی: (فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ) اوبل ځای ارشاددي: (وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ)

علامه بيضاوی رحمه الله فرمايي : وفی الاية دلالة علی وجوب المراجعة الی العلماء فيما لايعلم(بيضاوی) څکه په دينی ترون کي دهر امتی ذمه واری جوړيږي چي خپله فريضه ترسره کړی ،هسی نه چې د(فان الجحيم هی المأوی) مصداق وګرزو.(العياذبالله)

دهمدې ذمه واری په اساس دافغانستان تکړه اومحققينوعلماء کرامو دطالبانو داسلامی دورې په اوږدوکي دمولوی مفتی نورمحمد «ثاقب» صاحب ترمشرتابه لاندی په ډيره لنډه اواضطراری موده کي وامت ته دمشکلاتو دحل لاره وښوده:

چې په دې خدمت کي ورسره برخه اخیستوونکی علماء کرام په لاندی ډول دی:
①مولوی عبدالحکیم صاحب
②مولوی ندا محمد الحقانی فاضل وفاق المدارس
③مولوی احمدنوری
④مولوی محمد مسلم حقانی
⑤مولوی محمد اخلاص برکتی
⑥مولوی زمان شاه صاحب
⑦مولوی عبدالله صاحب مشهور په خطیب صاحب اروزګاني
⑧مولوی حمدالله صاحب
⑨مولوی عبدالستار صاحب
⑩مولوی خلیل الله صاحب
⑪مولوی محمود میوندوال صاحب

اوداسی نورتکړه اوجید علماء کرام چې دټولونومونه مووانه خیستل ددوی په کوشش دافغانستان له مرکزي دارالافتاء څخه خپروشویو مسائلودا ټولګه تیاره شوه چې دمرکزي دارالافتاء دمفتیانو لاس لیکونه هم ورباندی ثبت شوی ،خوبنده یواځي په دی فکر ودې علمې ټولګې ته دخپل نمګړی فکرسره سم دترتیب ورکولوهڅي وکړی چی دالله ﷻ په دربارکی دښه نیت اودهمت سره سم هڅوهم ډیرقدروی ،کنه زه دخپلې پوهې له مخې هیڅ کله ددې وړنه یم خوچې داکارنور دامت په ګټه تمام شی څکه می ددې تبویب یاداردوعباراتوپښتوترجمه پکي اضافه کړل: خوداول ناس اول الناس په اساس په دې ترتیب اوتبویب کي دخطاء رامنځته کیدل هم څه بعیده نه ده څکه له ښاغلیو علماؤ کراموڅخه هیله ده چي که کومه داسی خطاپه نظرورشی دهغې مورد ته خبرراکول شی ترڅوپه راتلونکوچاپوکی اصلاح شی په پای کی داله العلمین ذات څخه دادعاده: چې په دی فتاوی کی هرډول سعی کوونکی په خپل مغفرت ونازوی ،اودټول امت دخلاصون ذریعه ئي وګرزوی.امین

دعاغوښتونکی محمدابراهیم خلیل
ولدحاجی ملاعبدالحق مرحوم

دقلمي نسخي (۲۰۴) مخ

۳۲

— (استفتاء پوښتل دری) — ۱۰۳

نعاداکالونه څکه چه کرايه دری د دری کالو په اجاره اخیستې ده کالو په موده نیسه

نومونږ څکه راکرخو و دڅکی ددوه کلو ماصلات لی دوی خوړلی دی ددی په

مرګ سره اجاره باطليږی که یا —

(الفتوی)

بسم الله الرحمن الرحيم

للجواب ومنه الصدق والصواب

اجاره په مرګ د هرچا چه عقد د اجارې ورته د پاره شوی وی که موجر وی یا مستأجر

فسخ کیږی چه ضرورت نه وی که مرګ د مستأجر په لارکی د مکی ته وه د لته د غه ضرورت

موجود نه دی په سبب ددی لاندی مسئلی

(وتنفسخ) بلا حاجة الى الفسخ (بموت احد عاقدين) عندنا لا بجنونه مطلقا

(عقدها لنفسه) الا لضرورة كونه فى طريق مكة ولا حاكم فى الطريق الخ الدر المختار مع الشامى ص ۵۷ / ۵۹

كل من وقع له عقد الاجارة اذا مات تنفسخ الاجارة بموته ومن لم يقع له العقد

لا ينفسخ العقد بموته الفتاوى الهندية ص ۴۶۳ / ۴۹۰ والله تعالى اعلم

۳۲۹

مولوی نور رحمة ثاقب

رئیس دار الافتاء د مرکزی

دولت اسلامی افغانستان



العبد الاحقر نذا محمد

باب الاذان

په مسجدکي اذان اوپه سپيکرکي خطبه څه حکم لري ؟

پوښتنه:ماحکم الاذان سوی الاذان فی وقت الخطبة فی داخل المسجدهل له کراهية ام لا؟ وماحکم الخطبة فی لاوډسپیکر (مکبرالصوت) هل لها کراهية ام لا؟بینواتوجروا۔

المستفتی: (الحاج مولوی محمدنورخطیب جامع مسجد محمد افضل خان)

الجواب بسم الله الرحمن الرحيم په مسجدکی دننه اذان کول څه پروا نه لري اوداچي د فقهې دځینوکتابونوله عباراتوڅخه کراهیت معلومیږي هغه په اعتباردنه پوره والی د مقصود داذان دی چي هغه تبليغ اورسول دآوازدی ،غیرحاضرینوته لکه دبیان څخه چي ددغولاندی عباراتومعلومیږي اوکه مقصودداذان پوره کیدی په داخل دمسجدکی هم لکه اذان په لاوډسپیکرسره بیاکراهیت نشته ،اوهرچي خطبه په اسپیکر کی ده هغه جائزده مکرونه نه ده اودعلماء اتفاق دی پرجوازدلمانځه اوامامت اواذان په اسپیکرکي نوچي لمونځ اوامامت جائزدی خطبه په طريقه اولی سره جائزده ،په اعلاء السنن پنځم ټوک مخ(۲۳۵۱، ۲۳۵۲ ،) کي ئي ليکلی دی:

واعلم ان الاذان لايکره فی المسجد مطلقاً کمافهم بعضهم من بعض العبارات الفقهية و عمموّه هذا الاذ ان (الاذان بين يدی الخطيب) بل مقيدبمااذاکان المقصوداعلام ناس غيرحاضرين (الی قوله) فی الجلابی انه يؤذن فی المسجداومافی حکمه لافی البعيدمنه قال: الشيخ فقوله فی المسجد صريح فی عدم کراهة الاذان فی داخل المسجدوانماهوخلاف الأولی اذامست الحاجة الی الاعلان البالغ وهوالمرادبالکراهة المنقولة فی بعض الکتب ،

اوپه جديدفقهی مسائل جلد۱ص۵۲کي ئي ليکلی دی:

لاوڈاسپیکر کے ذریعہ نماز درست ہے یانہیں ،ابتداء میں ہنداوبیرون ہند علماء کے درمیان اس مسئلہ میں اختلاف تھا،بعض حضرات کی رائے تھی کہ لاوڈسپیکر کی آوازبعینہ امام کی آواز نہیں بلکہ اس آواز کی بازگشت ہے اس طرح آوازپرمقتدیوں کی نقل وحرکت گویاامام کی بجائی ایک دوسری آوازکی بناء پرہوگی اوریہ بات جائزنہیں ہے ،کہ مقتدی امام کی بجائے کسی اورکی آوازپرنقل وحرکت شروع کردیں اس کی مقابلی میں کچھ لوگوں کاخیال تھاکہ اس کے باوجودنمازکیلئے لاوڈسپیکرکااستعمال صحیح ہے ،اورشریعت میں اس کی نظیرموجودہے کہ نمازکے باہرکے ایک شخص کی تلقین پرنمازیوں نی نقل حرکت کی چنانچہ جب بیت المقدس کے بجائے خانہ کعبہ کوقبلہ بنایاگیا اورمدینہ کے

مضافات کی بعض مساجد میں جہاں بیت المقدس ہی کی طرف رخ کر کے لوگ نمازادا کر رہے تھے قبلہ کی تبدیلی کہ ایک شخص نی اطلاع دی اور سبھوں نے اپنا رخ بدل لیا ظاھر ہے یہ نقل وحرکت ایک ایسی شخص کی آواز پر عمل مین آئی جو نماز سی باہر تھا اب یہ بات پایہ تحقیق کو پہنچ چکی کہ لاوڈ سپیکر کی آوازامام کی نقل اوراس کا عکس نہیں ہے ،بلکہ بعنیہ امام کی وہی آواز ہے جواس کی زبان سی نکلتی ہے اس طرح اب لاؤڈ سپیکر سی نماز وامامت کے جواز پر علماء کا اتفاق ہو چکا ہے (۱) واللہ اعلم وعلمہ اتم



مولوی محمد اخلاص برکتی

مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان داسلامی امارت ددارالافتاء رئیس

(۱) ژباره: دسپیکر په ذریعه لمونځ صحیح دی او کنه؟ په پیل کی دهند او له هنده بهر علماؤ ترمنځ په دې مسئله کی اختلاف ؤ: دځینو بنا غلیو رأیه داوه چي دسپیکر آواز بعینه دامام آواز نه دی ،بلکه دده دآواز ازانګه ده په دې دول په دی آواز باندی به دمقتدیانو نقل او حرکت ګواکی دامام پرځای دیو بل آواز په وجه وی ،او داخبره جائز نه ده چي مقتدی دامام پرځای دکوم بل چا په آواز نقل او حرکت وکړی ،د دوي په مقابل کی دځینو خلګو خیال داوو: چي سره له دې دلمانځه لپاره دسپیکر کارول صحیح دی او په شریعت کی د دې نظیر وجود لري ،چي له لمانځه دباندی دیوه سړی په تلقین لمونځ کوونکو نقل او حرکت وکړ ،څکه کله چي دبیت المقدس پرځای بیت الله شریفه قبله وګرزول شوه او دمدینی په شاوخواکی په ځینو مسجدونو کي چیری چي دبیت المقدس پرلور په مخ کولو خلکو لمونځ کاوو دقبلې دبدلید و یوه سړی خبردرکړی او تولو خپل مخونه واړول ښکاره خبره ده دغه نقل او حرکت دیو داسی سړی په آواز په عمل کی راغلی کوم چي له لمانځه دباندی ؤ ،اوس داخبره په تحقیق رسیدلی ده چي دسپیکر آواز دامام نقل او دهغه عکس نه دی بلکه بعینه دامام هم هغه آواز دی کوم چي دده ترخوله راوزي ،په دې دول اوس په سپیکر سره دلمانځه او امامت پر جواز دعلماؤ اتفاق راغلی دی (مرتب)

كتاب الصلوة

دوهم جماعت اوجمعه څه حکم لري ؟

پوښتنه:دوهم جماعت اودوهمې جمعې په هکله مفتيان صاحبان څه حکم کوی،جواز ياثواب لري که چيري ئې لري په کوم صورت کي ئې لري؟ (رياست ارشادواوقاف)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب: بعون ملهم الصدق الصواب :

ديوه ښارپه څومسجدونوکی دجمعې دلمانځه تعدد جائزاوصحيح دی ،اوپه يوه مسجد کي تکراردجمعې دلمانځه مکروه دی:

تعددجمعه ایک شہر میں دومسجدوں میں یازیادہ میں عندالحنفیہ درست ہے کمافی الدرالمختارالخ لیکن ایک مسجد میں تعدد جماعت مکروہ ہے پس دوسری جماعت جمعہ کی اس صورت میں مکروہ ہے جیساکہ تمام نمازوں کی جماعت ثانیہ کواس مسجدمیں جس مین امام ومؤذن مقررهوں فقہاء نی مکروہ لکھاہے اورخصوصاً جمعہ پڑنی کی بعدجامع مسجدکوبندکردنی کاحکم دیاہے(**)شامی میں ہے:

والظاهر انه يغلق ايضاً بعداقامة الجماعة لئلايجتمع به احدبعدها.

(فتاوى دارالعلوم ديوبندج۵ص ۸۱،ج۳ ص۳۹)

اوددوهم جماعت په باره کی علماء داسی وايي: چي هغه دمحلی مسجدچي خپل امام اومؤذن ولري هلته دوهم جماعت مطلقاً يعنی که اذان اواقامت وی اوکه نه که تغير د هيئت سابقه وی که نه وی مکروه دی تکرارجماعت درمسجدمحله که امام ومؤذنش معين باشند ،اگرچه بلااذان واقامت وبتغيرهيئت باشد مکروه است کمافی الشامی الخ عزيزالفتاوی ص۱۹۰وهکذافی فتاوی دارالعلوم ديوبندج۳ ص۳۵۔ اوپه فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۳ص۳۹کی يې په ډيرودلائلوکراهت ثابت کړی دی ،حضرت مولانامفتی رشيداحمد صاحب دامت برکاتهم په خپله رساله (الوصية الاخوانية فی حکم

(**) تعدددجمعې په يوه ښارکی په دوو يازياتومسجدونوکي عندالحنفيه صحيح دی کمافی الدرالمختارخوپه يوه مسجدکي تعدد دجماعت مکروه دی نودجمعې دوهم جماعت په دی صورت کی مکروه دی لکه چي دټولولمونځونودوهم جماعت په هغه مسجدکی چي پکی امام اومؤذن مقرروی فقهاء مکروه ليکلی دی اوپه تيره بياچي ترجمعې کولو وروسته دجامع مسجددبندولوحکم کړی دي ،په شامی کی دی: دمحلی په مسجدکی دجماعت تکرارچي ټاکلی امام اومؤذن لري که څه هم بيله اذان اواقامته اودهيئت له بدلولو سره وی مکروه دی۔(مرتب)

الجماعة الثانية) كي لاندي توضيحات كړي دي:
اول دوهم جماعت (۷) صورته لري (۱) دلاري مسجد يعنى چي تاكلى امام يامقتدى و نه لري (۲) هغه مسجدچي خپل امام اومؤذن نه لري (۳) هغه دمحلې مسجدچي بيګانه خلګوتر مخه جماعت پکښي كړى وى (۴) هغه مسجدچي دمحلى خلګوبى اذانه يابې اعلانه داذان جماعت كړى وى (۵) هغه مسجدچي دمحلى خلګوجماعت سره له اعلانه داذان كړى وى اودوهم جماعت له اذانه سره اداكړل شى (۶) چي دوهم جماعت بيله اذانه اداكړل شي امارهيئت داول جماعت وى (۷) چي دوهم جماعت بيله اذانه اداكړل شى سره له تغيره په هيئت كي داول جماعت: په اولوڅلوروصورتوكي دوهم جماعت جائزڅه چي افضل دى اتفاقاً اوپه پنځم اوشپږم صورت كي مكروه تحريمى دى اتفاقاً اوپه اووم صورت كي اختلاف دى امام صاحب رحمه الله يې مكروه بولى ،اوامام ابويوسف رحمه الله ئې جائزبولى.

دوهم: مراد دتغيرڅخه دهيئت اولى ليري كيدل دى له محاذاة څخه دمحراب صرف ليري كيدل له محراب څخه اوبيرته دريدل پرمحاذاة دمحراب كفايت نه كوي (دريېم) دامام صاحب رحمه الله اوامام ابويوسف رحمه الله دقولونوپه منځ كي تطبيق دادى: چي دامام صاحب دكراهت له اثبات څخه مرادى كراهت تنزيهى ،اودامام ابويوسف رحمه الله له قول څخه نفى دكراهت مراددى دكراهت تحريمى نوددواړوشيخينومراد يودى چي ثبوت دكراهة تنزيهيه دى.
(من الوصية الاخوانية فى حكم الجماعة الثانية المطبوعة فى احسن الفتاوى ج۳ص۳۲۱) والله اعلم وعلمه اتم

مولوی احمد نوری مولوی نذاحمد اسحاقی مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی امارت اسلامی افغانستان

دمسجدامام په کوم وخت کي بايدځواب شي ؟

پوښتنه : دمسجدامام په کوم وخت کي دامامت څخه جواب کيدای شي چي دمقتدی اقتداء ورپسی څرنګه وی ؟

(دارشاداواوقافوریاست)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب:

کوم امام چي دامامت قابل وی که په يو مسجدكي امام شي هغه وخت ځواب کيدای شی چي يوخيانت ،فسق اوفسادځينی ښکاره شي اوکه داشيان نه وی پکښي نوبيائي عزل صحت نه لري اوکه دکلی خلګوله ده څخه کراهة کاوونودا کراهة که په يوشرعی وجهٔ هم دده عزل کيدای شي ،اوکه له شرعی وجې پرته وونوبياصحت نه لري ،مطلب:

لايصح عزل صاحب وظيفة بلاجنحة وعدم اهلية (ردالمحتارج۳ص۴۲۳ط رشيديه) رجل امّ قوماوهم له كارهون فان كان الكراهة لفسادفيه اولانهم احق بالامامة منه كره له ذالک و ان كان هواحق بالامامة لايكره لان الجاهل والفاسق يكره العالم والصالح (فتاوی قاضيخان بهامش الهندية ج۱ص ۹۲ط دارالاشاعت قندهاروهكذافی فتاوی الهندية ج۱ص ۸۷ ط دارالاشاعة قندهار وردالمحتارج۱ ص۴۱۳ط رشيديه)

له مسجدڅخه دملاامام عزل په کوم وخت کي کيږي ؟

پوښتنه :جناب محترم فضيلت مآب دمرکزي شوری رئيس صاحب السلام عليکم ورحمة الله وبركاته ! محترمه ! ماپه ۲۱/۴/۱۱ دخپل محلی په موافقه ليکلی تصديق اودوخت دمحکمی دقاضی په استيذان اوبرعلاوه دطالبانوکرامودتحريک دلوړې قاضی الحاج مولوی پاسنی په حکم اوتائيديوه ،جامع اومدرسه مې په دولتی ځمکه کي چي مځکی دغه مځکه خرڅول کيده ماوګرزوله اوپه لووالهٔ کي واقع ده جوړه کړه اوپه شخصی تلاش اوسعی مې غيرددغه محلی دهمکاری دمختلفومنطقودخلګوپه مرسته دخدای جل جلاله په فضل پرېښوودروله اوفعلاً په هغه جامع کی په سلګونومصليان فرض لمونځ اداکوي اوهم (۱۵۰) تنه طالبان اوهلکان تدريس کوی دزياتوخلګودسهولت سبب وګرزيدی الحمدلله ليکن اوس دځينو خود غرضوخلګواومعاندولخواچي په محلی کی محدوددی اومځکی هم ليکلی اسنادلرم ځينی مشکلات رامنځته کوي اوغواړی چي زماتصرف اوو ظيفه ته خنډواقع کړی اوماله دغه ځايه

څخه ليري کړي ،څنګه چي زه يو ملا امام عالم يم اودتحريک غړی يم نه غواړم چي غيرشرعي اقدام وکړم نوپه همدغه لحاظ ستاسو محترم اومدبرانه حضورته عارض او احترامانه توقع لرم چي په دی باب ماته شرعي فتوی راکړئ اوزمادغه درخواست ومحترم رئيس صاحب ته ددارالافتاء تقديم اوراجع کړئ چي ددغه اسنادواواوصافوپه لرلوسره زه دنومړي حقيت لرم کنه ؟په دی باب کي زماسره همکاري وکړئ. (ومن الله التوفيق)

(قاري عبد الباقی دهيئت دخريداری دشعبی عضو)

ملاحظه شد

جناب فضیلت مآب رئیس صاحب دارالافتاء السلام علیکم ! درمورد موضوع مذکور ابراز نظر شرعی فرمایید والسلام

الحاج مولوی عبدالودود اخند
رئيس شوری مرکزي علماء۲۲/۳/۱۳۷۶

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلاهله والصلاة غلی اهلها


امابعد:فنقول ومن الله التوفيق محترموځرنګه چي امامت اوجوړول دمدرسی اوتدريس په امرقاضی صاحب دوخت وونوداماموره يځ وخت له خپلي وظيفی څخه ځوک نشی معزولولای ترهغه وخته چي په ده کي کوم خيانت ،فسق اوفسادنه وی پيداشوی اوکه خيانت فسق اوفسادپکي پيداشونودی مستحق دعزل دی که څه هم اميرمقررکړی وی ،اوامام دمحلی چي عالم باعمله وی فاسق اوبی دينه نه وی اهل دمحلی يې نشی معزول کولای اوامام چي فاسق فاجر نااهل وی بيانوحق دعزل لري څکه چي امامت يې مکروه تحريمی دی ،په سبب دلاندينی مسئلي:

تنبيه:قال:فی البحر وا ستفيدمن عدم صحة عزل الناظربلاجنحة عد مهالصاحب وظيفة فی وقف بغير جنحة وعدم اهلية الخ وفی آخر الفن الثالث من الاشباه اذاولی السلطان مدرساليس باهل لم تصح توليته لان فعله مقيد بالمصلحة خصوصاً ان کان المقرر عن مدرس اهل فان الاهل لم ينعزل وصرح البزازی فی الصلح بان السلطان اذااعطی غيرالمستحق فقدظلم مرتين بمنع المستحق واعطائه غيرالمستحق (ردالمحتارج۳ص۴۲۳،مطلب لايصح عزل صاحب وظيفة بلاجنحة وعدم اهلية ـ کتاب الوقف ط رشيديه) وان اختاربعض القوم لهذاوالبعض لهذافالعبرة

لاجتماع الاكثر رجل امّ قوماً وهم له كارهون فان كان الكراهة لفسادفيه اولانهم احق بالامامة منه كره له ذلک وان كان هواحق بالامامة لايكره لان الجاهل والفاسق يكره العالم والصالح .

(فتاوى قاضيخان بهامش الفتاوى الهندية ج١ص٩٢كتاب الصلوة ط دارالاشاعة قندهار وكذافى الهندية ج١ص٨٧كتاب الصلوة ط دارالاشاعة العربيه قندهاروكذافى ردالحتارج١ص٤١٣كتاب الصلاة ط رشيديه) فان اختلفوافالعبرة بمااختاره الاكثر. قال فى شرح المشكوة لعله محمول على الاكثرمن العلماء اذاوجدوا والافلاعبرة لكثرة الجاهلين قال تعالى : ولكن اكثرهم لايعلمون وان قدمواغيرالاولى فقدأساؤا ولكن لايأثمون كذافى التجنيس وفيه لوامّ قوماً وهم له كارهون فهوعلى ثلاثة اوجه ان كانت الكراهة لفسادفيه اوكانوااحق بالامامة منه يكره.

قال الحلبى: وينبغى ان تكون الكراهة تحريمية لخبرابى داؤد: ثلاثة لايقبل الله منهم صلوة وعدّ منهم من تقدم قوماً وهم له كارهون وان كان هواحق بهامنهم ولافسادفيه ومع هذايكرهونه لايكره له التقدم لأن الجاهل والفاسق يكره العالم والصالح وقال ﷺ : ان سركم ان تقبل صلوتكم فليؤمكم علمائكم فانهم وفدفيمابينكم وبين ربكم وفى رواية : فليؤمكم خياركم (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح شرح نورالايضاح ،فصل فى بيان الاحق بالامامة : ص٢٤٤ط انصارى كتب خانه افغانستان) والله اعلم بالصواب



مولوى نذاحمدالحقانى مولوى احمدنورى عفى عنه مولوى نورمحمد ثاقب رئيس دارالافتاء مركزى امارت اسلامى افغانستان

له راديوڅخه سماع دسجده تلاوت څه حکم لري

پوښتنه:بخواندن آيت سجده ازطريق راديو سجده واجب ميشود يانى بينواتوجروا

(بهاحترام برادرشماعبدالواحد)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب والله الموفق للصواب

كه په راډيو کې قاري دسجدې آيت تلاوت کړي نواياپرسامعينوبه دتلاوت سجده لازميږي کنه؟

خلاصة الجواب:ظاهره ده چې دا آله په دې حال اوزمانه کې ايجادشوې ده ددې حکم په صريحو

الفاظو کي دفقهي په کتابونو یا په نصوصو دکتاب او سنت کي نه پیداکیږي، قواعد او اصولو اونظائرو څخه ددې حکم معلومیږي دفقهاؤ په کلام کي ددی یو نظیر دامذکوردی چي صوت صدی یعنی اوازبازگشت چي دڅه گنبدې یا کوهي څخه اوریدل کیږي داآواز خپله دمتکلم اصلی آوازنه دی بلکه دهغه عکس دی چي دیو غیرذی شعورشئ په ذریعه انسان ته رسیږي ،څکه فقهاء داتلاوت نه دي گرزولی ،اودوجوب سجده دپاره تلاوت صحیحه شرط دی څکه چي سجده تلاوت چي دبازگشت په ذریعه واوریدل شی پراوریدونکی بی سجده نه لازمیږي - ولاتجب اذاسمعهامن طیرهو المختار وان سمعهامن الصدی لاتجب علیه (الفتاوی الهندیه ج۱/ص۱۳۲ ط دارالاشاعة العربیه قندهار) لکن احتیاط دادي: چي سجده تلاوت وکړي. (آلات جدیدة ص ۱۲۲) والله اعلم



مولوی نذ احمد اسحاقی   مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی امارت اسلامی افغانستان

په کوم مسجدکي دجمعي لمونځ کیدای شي ؟

پوښتنه:دجمعې لمونځ په کومو مساجدو کي کیدای شی په کومو شرائطو مشروط دی اوله ښار څخه که فاصله وی لکه هوایي میدان حکم ئي څه دی ؟

(دارشاداو او قافوریاست)

بسم الله الرحمن الرحیم


الجواب بعون ملهم الصدق والصواب:

احکام او شرائط دجمعي عامو کتابونو دفقهي ذکرکړی دی او اختلاف پکښي شته اود فاصلی د مقدار لپاره تاکلی اندازه نشته خو هوائي میدان یانور فوجي یا فوجي ځایونه چي دښاردضروریاتو لپاره جوړشوی وی هغه حکم دفناء دمصرلري جمعه پکښي جائزه ده خصوصاً که په امرد امیرالمؤمنین یو مسجد پکښي جوړشوی وی چی دابعینه امردی په جمعه سره.

فناء مصر وہ مقام ہے جو شہر کی ضروریات کی لیے متعین ہو مثلاً قبرستان گور اڈانی یا گھوڑ دوڑ یا جنگی مشق یا فوجی اجتماع

وغیرہ کیئے میدان ہوائی اڈہ اور ریلوی اسٹیشن وغیرہ (۱) (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۳۳)

فی فتاوی الدیناری: اذابنی مسجدفی الرستاق بامرالامام فهوامربالجمعة اتفاقاً علی ماقال السرخسی آه والرستاق القری (ردالمحتار: ج۱ص ۵۹۰ ط رشیدیه کوئٹه) والله اعلم



مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی امارت اسلامی افغانستان

په هوائي ډګرکي دجمعي اواخترانولمونځ جائزدی کنه ؟

پوښتنه: په هوايي ميدان کی دقندهارلمونځ دجمعي اواختر روادی کنه ؟
توجيبوا وتوجروا جزاكم الله تعالى خيرالجزاء

(المستفتی ملااخترمحمد «منصور»)

بسم الله الرحمن الرحيم

الفتوی بعون الملک العلی الاعلی

کله چي يوشرط له شرطونو څخه دلمانځه دجمعي (مصر) يعنی ښاراويافناء دښاروه يعنی شاوخوادښارچي جوړه کړای شوی وی دښاردکتولپاره نوپه همدې اساس هوائي ميدان دقندهارفناء دښاربلل کيږي ،لمونځ دجمعي اواخترپکښي روادی دښاردفناء دليريوالی اونژديوالی هيڅ فرق نه راځي ،لکه په الدرالمختار علی هامش ردالمحتارج۱ص ۵۹۱ کي ليکل شوی دی

(اوفنائه) بکسرالفاء (وهوما) حوله (اتصل به) اولاکماحرره ابن الکمال وغيره (لاجل مصالحه)کدفن الموتی ورکض الخيل والمختارللفتوی تقديره بفرسخ ذکره الولوالجی.

اودفناء دتقدير په اړه په فرسخ يابل څه سره صاحب دردالمحتار هم په دغه ذکرشوی

---

(۱) ژباړه: فناء دمصرهغه ځای دی کوم چي دښاردارتياوو لپاره تاکل شوی وی ،مثلاً هديره ،دانباراچولوځای يادآسانوزغلولوځای يادجنګی مشق ،يادفوجی غونډی اونورولپاره ميدان ،هوائي اده اوريل ګاډی استيشن اونور(مرتب)

صفحه كي ليكلي دي :چي خلاصه دهغه عدم اعتباردتقديراوتحديد دي په باره دفناء كنبي : اعلم ان بعض المحققين اهل الترجيح اطلق الفناء عن تقديره بمسافة وكذامحررالمذهب الامام محمدوبعضهم قدره بهاوجملة اقوالهم فى تقديره ثمانية اقوال اوتسعة غلوة ميل ميلان ثلاثة فرسخ فرسخان ثلاثة سماع الصوت ،سماع الاذان والتعريف احسن من التحديدلانه لايوجد ذلك فى كل مصر وانماهوبحسب كبر المصر وصغره الخ وهكذا په احسن الفتاوى ج۴ص۱۳۳كنبي په عنوان دسوال اوجواب كي ذكرشوى دى:

فناء معر وه مقام ہے جو شہر کی ضروریات کے لئے معین ہو مثلاً قبرستان گور اڈالنی یا گھوڑدوڑیا جنگی مشق یافوجی اجتماع وغیرہ کیئے میدان ہوائے اڈہ اور ریلوی اسٹیشن وغیرہ۔

فناء شہرسے اتصال ضروری نہیں اور نہ ہے اس کی مسافت اوروسعت کی کوئی تحدید ہے بلکہ شہر کی حیثیت کی مطابق اس کی فناء مختلف ہوگی(۱)۔

اوبل علاوه پردغه ذكرشوى بيان داخبره هم ده كوم مسجد چي ميدان هوايي كى جوړدى غالبا په امردامير المؤمنين سره به وى اوكله چي په امردامام سره مسجد په يوكلى كى جوړشى دغه امردى په جمعى سره لكه په ردالمحتار ج۱ ص۵۹۱ كنبى ليكلى شويدي: وهذاالم يتصل به حكم فان فى فتاوى الدينارى اذابنى مسجد فى الرستاق بامر الامام فهو امر با لجمعة اتفاقا على ماقال السرخسى آه فافهم والرستاق القرى كمافى القاموس والله اعلم بالصواب.

عبدالحکیم عفی اللہ عنہ

مولوی محمد اخلاص برکتی

مولوی احمد نوری عفی عنہ مولوی عبدالحکیم عفااللہ عنہ مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان داسلامی امارت ددارالافتاء رئیس

---

(۱) ژباړه : فناء دمصرهغه خاى دى كوم چي دښاردارتياوو لپاره ټاكل شوى وى ،مثلاً هديره ،دانبار اچولو خاى يادآسانوزغلولوخاى يادجنگى مشق ،يادفوجى غونډى اونورولپاره ميدان ،هوائي اډه اوريل گاډى استيشن اونور دفناء اتصال له ښارسره ضرورى نه دى اونه ددې مسافى اووسعت (فراخى) كوم تحديدشته ،بلكه دښاردحيثيت سره سم به دهغه فناء مختلف وى (مرتب)

په دوونژدی جامع مسجدونو کي دجمعي لمونځ څه حکم لري ؟

پوښتنه :پخوانی مسجدجامع وو په بالاکرزکی چي دجمعی لمونځ په کي کیدی بیاهغه جامع مسجدخراب شو ،اوس هغه ته نژدی مسجدچي هغه هم پخواخراب شوی وو اوس جوړشوی دی دجمعی لمونځ په کي شروع شویدی ایااوس دغه دجمعی لمونځ صحت لري کنه ؟(المستفتی معلم عبدالله)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب: حامداً و مصلیاً

مسئله داده: چي دوه مسجدان چي هغه هم سره متصل وی اودواړه هم نژدی سره واقع وی نودجمعي لمونځ پکښی صحیح دی.

(وتؤدی فی مصرواحدبمواضع کثیرة)مطلقاً علی المذاهب وعلیه الفتوی (مطلقا) قوله ای سواء کان المصرکبیرآاولا وسواء فصل بین جانبیه نهر کبیر کبغداداولا وسواء قطع الجسر اوبقی متصلاً وسواء کان التعددفی مسجدین اواکثرهکذایسفاد من الفتح ومقتضاه انه لایلزم ان یکون التعددبقدرالحاجة کمایدل علیه کلام السرخسی(الدرالمختار وردالمحتار ج۱ص۵۹۵ طالبانو رشیدیه) وتجوزالجمعة فی موضعین فی مصرواحدفی قول ابی حنیفة رحمه الله وابی یوسف رحمه الله(الفتاوی الخانیه بهامش الفتاوی الهندیه ج۱ص۱۷۶(سئل) فی صلاة الجمعة هل تؤدی فی مصرواحدفی مواضع کثیرة (الجواب) نعم کماذکره فی التنویروقال السرخسی : هوالصحیح من مذهب ابی حنیفة رحمه الله وبه نأخذالخ (الفتاوی الکاملیة ج۱ص۷ وهکذافی فتاوی دارالعلوم دیوبندج۵ص۵)

احمدنوری عفی عنه

داول خط جنګي طالبان به قصرکوي که پوره لمونځ ؟

پوښتنه :ددارالافتاء ومحترموعلماء کراموته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وبعد : دجنګ داول خط طلباء کرام چي په حالت دقراراوفرارکي دی که دوی نیت داقامت وکړي آیاددوئ دغه نیت صحت لري اوکنه ؟ دوي به دلمانځه اتمام کوي اوکه قصر موږ ته صحیح معلومات راکړئ

(دچهارآسیاب داول خط دمسئولینواوطالبانوله طرفه)

به مقام محترم ریاست دارالافتاء تحریک اسلامی
دچهارآسیاب زړورو دسنګرغبنتلیوطالبانوکراموپه عاجله توګه داسی فتوی غوښتي ده څرنګه چي موږ په سنګر کي قرارلرونوبعضی وایي چي خپل لمونځونه په مسافرانه صورت اداکړئ اوبعضی وائي چي دمقیم په توګه ئې اداکړئ نوموږ ته په دی باره کي شرعی فتوی راکړئ چي خپل لمونځونه څرنګه وکړو ،دادي موضوع موتاسی ته راجع کړه چي دګرانوطالبانودلمونځوپه باره کي ژرترژره فتوی راکړئ. والسلام علیکم
(مولوی محمداعظم عضو دیوان امنیت عامه تمیز)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجوابـ ومنه الصدق والصواب:
هغه ځایونه چي اول خط بلل کیږي هغه ځایونه داقامت نه دی که طالبان داقامت یعنی د(۱۵) شپونیت وکړي دغه نیت ئې صحت نه لري ،لمونځ به قصرکوي که په حال دجنګ کښي وی اوکه په حال دمحاصرې دکلی یا قلعه کي وی دکلی له داخیلیدو وروسته اوپه مځکه دکفرکي وی اوکه په مځکه داسلام کي وی دباغیانوسره اودامحاصره په مصرکي وی اوکه په غیرمصر کی ځکه حال ددوئ مخالف ده دقصداوعزم ددوي سره حال ددوي کله پرمختک وی کله پرشاتګ وی اوکله پرځای پاته کیدل وی ،داحکم دلاندی ذکر کیدوونکو کتابونو څخه معلوم دی:

حاصر قومٌ مدينةً في دارالحرب اواهل البغي في دارالاسلام في غير مصر ونووا الاقامة خمسة عشريوماً قصروا لان حالهم متردد بين قرار وفرارفلاتصح نيتهم وان نزلوافي بيوتهم كذافي التمرتاشي (الفتاوى الهندية ج۱ص۱۴۰ ط:دارالاشاعة العربية قندهار) فنقول: انماتصح نية الاقامة اذاكان الموضع الذي نوى الاقامة فيه محلاً للاقامة حتى ان اهل العسكر اذانووا الاقامة في دارالحرب خمسة عشريوماً اواكثروهم محاصرون اهل مدينة لاتصح نيتهم وفي المضمرات وقال: زفر رحمه الله ان كانت القوة والشوكة للغزاة صحت نية الاقامة منهم والافلاوقال: ابويوسف رحمه الله ان كانوانزلوافي الابنية صحت وان كانوافي الخيام لم تصح والاصح ماقلنا۔ اهل البغي اذاالمتنعوافي دارالبغي وحاصرناهم لاتصح منّا الاقامة.... الخ (الفتاوى التاتارخانية ج۲ص۹ :قديمي كتب خانه كراچي)
(قوله واذادخل العسكرارض الحرب فنوواقامة خمسة عشريوماًلم يتموا) ظاهر هذاولوكانت الشوكة لهم لان حالهم مبطل عزيمتهم لانّهم بين ان يغلبوفيقر وابين ان يُغلبوفيفرواافلم يكن داراقامة كالمفازة الخ (الجوهرةالنيرة ج۱ص۱۰۳ ط مكتبه حقانيه ملتان)

اگرچي په فتاوی هندیه کي قیدد «غیرمصر» ذکرشوخواوس به موږ هغه کتابونه ذکرکړو چي داقیدنه معتبروي:

په الطحطاوی علی الدر المختارج۱ص ۳۳۳ ط دارالمعرفة بیروت) کنبي ئی لیکلي دی : قال فی الشرنبلالیة معزیا للعنایة التعلیل یدل علی ان قوله فی غیرالمصر لیس بقیدحتی لونزلوامدینة اهل البغی وحاصر وهم فی الحصن لم تصح نیتهم ایضاً لان مدیتهم کالمفازة عندحضول المقصودلا یقیمون فیها ...الخ.

اوپه ردالمحتارج۱ص۵۸۲ طرشیدیه کوئټه) کنبي لیکلی دی:

ثم اعلم ان التقیید بغیرالمصروقع فی الجامع الصغیروالهدایة والکنزوغیر هاوهویو هم صحة نیة الاقامتو لونزلوافی المصر وحاصر واحصناً فیه قال فی المعراج لان اطلاق ماذکرفی المبسوط یدل علی انه لیس کذلک واطال فی بیانه وکذانص فی العنایة علی انه لیس بقیدکمایقتضیه التعلیل الآتی وذکر عبارته الشرنبلالی ومشی علیه فی متنه (قوله للترد د بین القرار والفرار) الاول بالقاف والثانی بالفاء ای فکانت حالتهم تنافی عزیمتهم والاطلاق شامل لمااذاکانت الشوکة لعسکرنالاحتمال وصول المدد للعدواو جودمکیدة کمافی الفتح الخ.

اوپه منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ج۲ص ۲۳۴ طرشیدیه کوئټه) کي لیکلي دی:

(قول المصنف اوحاصر واهل البغی فی دارنافی غیره) ای غیرالمصرظاهره انه لوحاصروهم فی المصر لایقصرون ووقع التقیید به ایضاً فی الجامع الصغیروالهدایة والدررومواهب الرحمن وعبارة الهدایة وکذلک اذاحاصر واهل البغی فی دارالاسلام فی غیر مصراو حاصروهم فی البحرلان حالهم مبطل عزیمتهم آه وقدصرح بهذا المفهوم العینی فی شرح هذاالمختصربقوله واماانا حاصروهم فی مصر من امصارالمسلمین تصح نیتهم للاقامة بلاخلاف آه وصرح فی النهرایضاً بانهم یتمون ولم یتعرض له الزیلعی والمقدسی کالمؤلف لکن قال فی العنایة :قوله لان حالهم مبطل عزیمتهم یشیر الی ان المحل وان کان صالحاًلکن ثمه مانعاًآخر وهوانهم انمایقیمون لغرض فاذاحصل انزعجوافلاتکون نیتهم مستقرة وهذاالتعلیل یدل علی ان قوله فی غیرمصروقوله فی البحرلیس بقیدحتی لونزلوامدینة أهل البغی وحاصروهم وهم فی الحصن لم تصح نیتهم ایضاًلان منیتهم کالمفازة عندحصول المقصودلایقیمون فیهاآه وفی معراج الدرایة هم التقیید بقوله فی غیر مصر وفی البحر یوهم انهم لونزلوامدینة اهل البغی وحاصروهم وثم فی الحصن تصح نیة الاقامة لکن اطلاق ماذکرفی المبسوط یدل علی انه لیس کذلک فانه قال وکذااذاحاربو اهل البغی فی دارالاسلام اماالتعلیل فیشمل المفازة والمدینة الاانه قید فی الجامع الصغیربغیر المصر وبالبحرلانه فی عدم الجوازاَبعَدُ عن توهم الجوازفی غیرالمصراو البحرثم بسط الکلام فی التوجیه فراجعه وقداطلقه فی السراج والذخیرة والحاصل ان المفهوم من عبارات المتون کالهدایة ان عسکرنالوحاصراهل البغی والعسکرداخل المصرمن دیارالاسلام تصح نیتهم للاقامة والمفهوم من اطلاق

المبسوط والسراج والذخيرة وهومقتضى التعليل انها لاتصح وظاهر كلام العناية والمعراج اختياره وبه جزم الشرنبلالی فی نورالایضاح . والله اعلم.



مولوی محمداخلاص برکتی مولوی زمان شاه صاحب مولوی احمد نوری

مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان داسلامی امارت دمرکزی دارالافتاء سرپرست

دقروی امام امامت داهل اخبیه لپاره جائزدی کنه ؟

پوښتنه : بعضی ملایان قروی امامت داهل اخبیه وپه مفازاتوکي کوی داصحت لري او کنه اومفازاة کوم ځای ته ویل کیږي کوم حدلري او کنه ؟

(المستفتی ملاشاه ولی ـ له هلمندولایته)


بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الملک الوهاب

دقروی امام امامت داهل اخبیه لپاره صحیح دی ځکه صحت دامامت پرقروی اوغیر قروی پوري اړه نه لري لکن که اهل اخبیه نیت داقامت وکړي په داسی مفازاة کنبي چي اوبه اوواښه دومره کافی کیږي چي مدة داقامت وی نومقیمین ګرزي اوقروی مسافردی که ئې نیت داقامت کړی وی هم اعتبارنه لري ،نودغه قروی امام به قصر کوي اواهل اخبیه مقتدیان به ئې اتمام کوي : په الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارج۱ص۵۸۳ ط رشیدیه) کي راغلی دی :(بخلاف اهل الاخبیة) کعرب وترکمان(نوواها)فی المفازة فانها تصح (فی الاصح)وبه یفتی اذاکان عند هم من المآء والکلاء مایکفیهم مدتها لان الاقامة اصل الااذاقصدواموضعاً بینهمامدة السفر فیقصرون ان نوواسفراً والا لا ولونوی غیرهم الاقامة معهم لم یصح فی الاصح۔ په البحرالرئق ج۲ص ۲۳۵ ط رشیدیه کوئته) کنبي راغلی دی:

وقید باهل الاخبیة لان غیرهم من المسافرین لونوی الاقامة معهم فعن ابی یوسف رحمه الله روایتان وعندابی حنیفة رحمه الله لا یصیرون مقیمین وهو الصحیح کذافی البدائع.

په فتح القدیرج۲ص ۳۹۹ ط دارصادربیروت کښې راغلی دی:
امامن لیس من اهل البادیة بل هومسافر فلایصیر مقیماً بنیة الاقامة فی مرعی اوجزیرة .
مفازه هغه ځای ته ویل کیږي چي ګمان دهلاکت پکښې وی یعنی له ابادی څخه دومره لیری وی چي ګمان دچولا وه کیدلوپکښې کیږي
په حاشیة دطحطاوی علی الدرالمختارج۱ص ۳۳۳ ط دارالمعرفة بیروت) کښې راغلی دی:
(قوله فی المفازة) هی الموضع المهلک مأخوذمن فوّزبالتشدیداذامات لانهامظنة الموت وقیل من فازاذانجاوسلم سمیت به تفاؤلاً بالسلامة . والله اعلم بالصواب



مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی محمودمیوندوال مولوی مدّاحمداسحاقی مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان داسلامی امارت دمرکزی دارالافتاء مشر

دوطني امام داقامت نیت دکوچیانوسره صحیح کیږي کنه ؟

پوښتنه :وحضورته دمحترم رئیس صاحب دارالافتاء اوهمکارانو ته السلام علیکم بعداً : دکوچیانوداقامت نیت خوپه دښت اوصحراکي هم صحیح کیږي اماکه امام ئي وطنی سړی وی ددغه امام وطنی نیت په دغوکوچیانوسره په دښت کي صحیح کیږي کنه ؟
(المستفتی ملااحمدشاه دمرکزي محکمی محرر)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الملک العلی الاعلی:
محترم مستفتی صاحب وطنی اوقروی سړی چي امام ودریږي دکوچیانوسره په یوداسی دښت اوصحری کي چي دهغونیت داقامت صحیح کیږي په هغه صحری کي ددغه قروی اووطنی امام نیت داقامت ورسره نه صحیح کیږي بلکه دی مسافر بلل کیږي که مسافه دسفرکي ووپه الدرالمختاربهامش ردالمحتار ج۱ص ۵۸۳ ط رشیدیه کوئته) کښې راغلی دی:
(بخلاف اهل الاخبیة) کعرب وترکمان (نوواها)في المفازة فانها تصح (فی الاصح)وبه یفتی اذاکان عند هم من المآء والکلاء مایکفیهم مدتها لان الاقامة اصل الااذاقصدواموضعاً بینهمامدة

اذاكان عند هم من المآء والكلاء مايكفيهم مدتها لان الاقامة اصل الااذاقصدواموضعاً بينهمامدة السفر فيقصرون ان نوواسفراً والا لا ولونوى غيرهم الاقامة معهم لم يصح فى الاصح.

په البحرالرائق(ج ۲/ص۱۲) كښي راغلي دي:

وقيد باهل الاخبية لان غيرهم من المسافرين لونوى الاقامة معهم فعن ابى يوسف رحمه الله روايتان وعندابى حنيفة رحمه الله لايصيرون مقيمن وهو الصحيح كذافى البدائع.

په فتح القديرج۲ ص ۳۹۹ ط دارصادربيروت كښي راغلي دي:

امامن ليس من اهل البادية بل هومسافر فلايصير مقيماً بنية الاقامة فى مرعى اوجزيرة. والله اعلم.



احمدنوري مولوي محمودميوندوال مولوي نورمحمدثاقب دافغانستان دمركزي دارالافتاء رئيس

كتاب الزكاة والعشر

چي زكاة نه وركوي ياني غنيانو(مړو) ته وركوي دهغوئ څه حكم دى ؟

پوښتنه: كوم خلك چي مالداروى اوخپل زكاة اغنياؤته وركوى اويائي نه وركوي ،په دې باره كى به موږ ته دشرعى احكامو له رويه فتوى راكړئ. والسلام

(ملامحمدحسن رحماني دكندهاروالى)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملك العلى الاعلى:

مالدارخلک چي خپل زكاة مالدارو اوغنيانوته وركوي ،هغه اغنياء چي پرهغوئ زكاة نه كيږي لكه دسوال ظاهرچي هم دغسى دي دالكه نه وركړه ده څكه چي داتولومتونودفقه شريفي اوفتاواوو ليكلى دي: چي غنى ته زكوة قصداً وركړي زكوة يي نه كيږي.

فى البحر الرائق من المجلدالثانى باب المصرف ص ۴۲۶ ط رشيديه كوئته (قوله وغنى يملك نصاباً) لايجوز الدفع له لحديث معاذ رضي الله عنه المشهور خذهامن اغنيائهم وردّهافى فقرائهم.

باقى تاركين دزكاة چي زكاة نه وركوي كه نه وركوونكي دزكاة داموال ظاهره وو وى نواسلامى حكومت اوامام دمسلمانانوته اجازه ده دشريعت له طرفه څخه چي په زور

اوجبرئي څيني واخلي كه په رضائي نه وركوى لكه تاسودالبحرالرائق اوله حواله وګورئ چي په صراحت سره ذكردى چي ابوبكرصديق ﷺ قتال اعلان كړى وو دمانعينودزكاة سره اوكه نه وركوونكي دزكاة داموال باطنه وو وي نوبياپس له پوره معلوماتوڅخه چي دى تارك دزكاة دى نودى مرتكب دمعصيت بلل كيږي ،حكم ئي داسى دى لكه حكم دتارك الصلوة اوخوړوونكى دروژې بې له شرعى عذره چي هغه تعزيردى په بندى كولوسره ياپه بل شى سره چي ترڅوتوبه وباسى.

فى الفتاوى الكاملية : (ص۴۷) فائدة : قال فى الاشباه كل مرتكب معصية لاحد فيها ففيها التعزيرآه ونقله فى الدرونقل محشيه ابن عابدين عن الفتح انه يعزرمن شهد شرب الشاربين ويعزر من معه ركوة خمر والمفطرفى رمضان وكذاالمسلم يبيع الخمر ويأكل السرباوالمغنى والمخنث والنائحة يعزرون ويحبسون حتى يحدثواتوبة ،ومن يتهم بالقتل والرقة يحبس ويخلد فى السجن الى ان يظهر التوبة وكذامن قبّل اجنبية اوعانقها اومسّها بشهوة وذكر فى البحران الحاصل وجوبه باجماع الامة لكل مرتكب معصية ليس فيها حدمقدرآه . والله اعلم



مولوى احمدنورى مولوى نورمحمد ثاقب

دكورد نفقي پرټكټرياموټرباندى زكوة شته اوكنه ؟

پوښتنه:كه څوک ټكټرياموټردكوردنفقى (خوارى) لپاره واخلى اومزدورى په كوى آياپه دغه ټكټركي ياموټركي زكاة شته كنه ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب حامداً ومصلياً

په ټكټراوموټركي چي مزدورى په كوي دفروش لپاره نه وى اګركه بيې په نيت كي فروش وى په آخيركي زكوة نشته.اذااشترى جوالق بعشرة آلاف درهم ليؤاجرهامن الناس فحال عليهاالحول فلازكوة فيها لانه اشتراها للغلة لا للتجارة فان كان فى نيته انه يبيعها آخرافلاعبرة لهذاوكذلک الجواب فى ابل الحمالين وحمر المكارين (التاتارخانية ج۲ص ۱۸۲ ط قديمى كتب

لهذاوكذلک الجواب فى ابل الحمالين وحمر المكارين (التاتارخانية ج٢ص ١٨٢ ط قديمى كتب خانه كراچى ،وخلاصة الفتاوى ج١ص٢٤٠ ط رشيديه كوئته) والله اعلم.



مولوى محمد اخلاص بركتى مولوى احمد نورى مولوى نورمحمد ثاقب دافغانستان داسلامى امارت دمركزى دار الافتاء رئيس

له يوه ځاى څخه بل ځاى ته دزكوة انتقال (وړل) څه حكم لري ؟

پوښتنه:بحضورمحترم رئيس صاحب دار الافتاء قندهار السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ا بعد:درياست عمومى عشروزكوة له طرفه وټولومربوطه ولاياتوته دعشررئيسان مقرر اومعرفى شوى چي خپلوحوالى اواطرافوڅخه دعشراصناف راجمع كړى دقندهارد ولايت نقدي پيسى هغه اندازه چي دمحل داامامانودضرورت څخه اضافه وى درياست عشرته تحويل شوي چي په نتيجه كي مبلغ (١٢) زره لكه افغانى په ظرف دڅلورو مياشتو كي دټول افغانستان دولاياتو مسكينانو، معيوبينوگوډيانو يتيمانو اوبيوزلوته توزيع شوى تنهاوتنهاپه ولاياتو كي غنم پاته دى چي دهغوپه انتقال اوتوزيع كي ستاسو امرته سترگي په لاره يو چي هلته توزيع اويامركزته راوړل شي ،چي دټول افغانستان و مستحقينو ته تقسيم اودتمام تحريک په نفع كي مصرف شي بااحترام.

(ملاحميد الله اخندزاده رئيس عمومى عشر تاريخ ١٥/٨/١٣٧٥)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب حامداً ومصلياً

محترم رئيس صاحب دعشر اوزكوة بايدخپله مصلحت ته وگورى چي ايامصلحت به داوى چي په هغوولاياتوكي چي غنم پكښي جمع شوى دى تقسيم شى اوكه مركزته را انتقال شى اودمركزله طرفه تقسيم شى ،دمشرانوترنظارت لاندى.هرچي مسئله دانتقال دزكوة ديوه ځايه بل ځاى ته ده حكم ئي دشريعت له نگاه په لاندى ډول دى :نقل زكوة اودعشرديوه ځايه وبل ځاى ته مكروه تنزيهى دى لكن كه چيرى واقرباؤ محتاجانوته وى اوياومحتاجينوفقيرانوته وى چي تردغه ځاى ترفقيرانواحوج وى اوياواصلح ته

تردغواويااورع ته تردغواويا وانفع للمسلمين ته تردغواويا وطلباؤته دعلم اويا وركول دزكوة مخكي تروخت ؤ اويادارالحرب څخه ودارالسلام ته وه په دغوصورتونوکي مکروه نه دی په غیرددغوصورتونوکي جائزدي لکن مکروه دی.

وكره (نقلها الاّ الى قرابة اواحوج) اصلح اواورع اوانفع للمسلمين (اومن دارالحرب الى دارالاسلام اوالى طالب علم) وفى المعراج التصدق على العالم الفقير افضل (اوالى الزهاداوكانت معجلة) قبل تمام الحول فلايكره خلاصة (الدّرالمختارعلى هامش ردالمحتارج٢ص٧٥ ط رشيديه كوئته ،الفقه الاسلامى ج ٣ص ١٩٧٧ ط رشيديه، والدّرالمنتقى على هامش مجمع الانهرج١ص٣٣٣ ط مكتبه غفاريه كوئته) قوله :(وكره نقلها الى بلدآخر لغيرقريب واحوج) اما الصحة فلاطلاق قوله تعالى [انما الصدقات للفقرآء] من غيرقيدبالمكان واماحديث معاذ رضي الله عنه المشهور خذها من اغنيآئهم وردهافى فقرآئهم فلاينفى الصحة لان الضمير راجع الى فقرآء المسلمين لاالى اهل اليمن اولانه ورد لبيان انه عليه الصلوة والسلام لاطمع له فى الصدقات ولانه صح عنه انه كان يقول لاهل اليمن ائتونى بخميس اولبيس وهماالصغارمن الثياب آخذه منكم فى الصدقة مكان الشعير والذرة اهون عليكم لاصحاب رسو ل الله صلى الله عليه وسلم فان كان فى زمنه فهو تقرير وان كان فى زمن ابى بكر رضي الله عنه فذاک اجماع لسكوتهم عنه وعدم الكراهة فى نقلها للقريب الجمع بين اجرى الصدقة والصلة وللاحوج لان المقصودمنهاسدّ خلة المحتاج فمن كان احوج كان اولى وليس عدم الكراهة منحصراً فى هاتين لانه لونقلها الى فقير فى بلدآخراورع واصلح كمافعل معاذ رضي الله عنه لايكره ..ولايكره نقلها من دارالحرب الى فقرآء دارالاسلام وكذالايكره نقل الزكوة المعجّلة مطلقاً ...والمعتبرفى الزكوة مكان المال فى الروايات كلّهاآه البحرالرائق ج٢ص ٤٣٦ ط رشيديه كوئته) وفى منحة الخالق على البحر الرّائق بعدنقل قول الزيلعى اقول يؤخذمنه انها كراهة تنزيه آه (ج٢ص ٤٣٦) والله اعلم



مولوی محمد اخلاص برکتی

مولوی احمد نوری مولوی زمان شاه مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان داسلامی امارت دمرکزی دارالافتاء رئیس

بل ولایت ته دعشراوزکاة انتقال جائزدی کنه ؟

پوښتنه :دطالبانوداسلامی تحریک ددارالافتاء محترم مقام ته ! څرنګه چي دطالبانو اسلامی تحریک غواړي عشر اوزکاة له ځینی مستعدوولایاتوڅخه هغوولایاتو ته چي داقتصادپه لحاظ کمزوري وي انتقال کړی داچي داموضوع دشریعت له نګاه څنګه ده ؟

(المستفتی حافظ عبدالمجید رئیس شهداء و معلولین)

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم


الجواب باسم ملهم الصواب

دعشراوزکاة انتقال له یوه ښاره بل ښارته له ضرورت پرته مکروه تنزیهی دی اوبناء پرضرورت جائزدی بیله کراهته یعنی دبل ښارفقرآء دزکاة ورکوونکي دښارترفقرآؤ ډیراړ وي یاقریبان وی یاصالحین اوتقوی داره وی ،یابې نفعه ومسلمانانوته ډیره رسیږي بلکه دضرورت له مخې دغه انتقال اولی اوبهتردی

ویکره انتقال الزکوة من بلدالی بلد – الا ان ینقلها الانسان الی قرابته اوالی قوم هم احوج من اهل بلده لمافیه من الصلة اوزیادة دفع الحاجة ولونقل الی غیرهم اجزاه وان کان مکروها لان المصرف مطلق الفقرآء بالنص. الهدایه ج۱ص ۱۹۰ ط رشیدیه کوئټه) (قوله الاان ینقلها) استثناء من کراهة النقل (فتح القدیرج۲ص۲۱۷) قوله هم احوج من اهل بلده) وکذلک اذاکان الفقیر الذی فی بلدآخراورع وانفع للمسلمین بتعلیمهم شرائع الاسلام الاتری ان معاذﷺ کیف نقلهامن الیمن الی المدینة لهذه المعانی (الکفایةمع الفتح القدیرج۲ص۲۱۷) واماالی قوم هم احوج من اهل بلده فلان المقصودسدخلة الفقیر فمن کان احوج کان اولی وقدصح عن معاذﷺ انه کان یقول بالیمن ائتونی بخمیس ولبیس آخذه منکم فی الصدقة فانه ایسر علیکم وانفع للمهاجرین بالمدینة والخمیس

الثوب الصغیر طوله خمسة اذرع واللبیس الخلق (العنایة علی هامش فتح القدیرج۲ص۲۱۷) وکره (نقلهاالاالی قرابة... اواحوج) اواصلح اواورع اوانفع للمسلمین (الدرالمختار) (قوله وکره نقلها) والمتبادرمنه ان الکراهة تنزیهیة تأمل فلونقلهاجاز (ردالمحتارط رشیدیه ج ۲ص ۷۵) فامااذالم یکن فقراء تلک البلدة محتاجین للحال اوکانوامحتاجین الاان فقراء بلدة اخری اکثرحاجة فالصرف الی فقراء بلدة اخری اولی (التاتارخانیة ج۲ص ۲۸۲ ط قدیمی کتب خانه کراچی) ویکره نقل الزکوة من بلدالی بلدالاان ینقلها الانسان الی قرابته اوالی قوم هم احوج الیهامن اهل بلده (الهندیه ج۱ص۱۹۰ط دارالاشاعة العربیة ،بحرالرائق ج۲ص ۴۳۶ ط رشیدیه کوئټه ،والاختیارج۱ص۱۴۲ ،والفقه الاسلامی وادلته ج ۳ص ۱۹۷۷ ط رشیدیه ،وامدادالمفتین ج۲ص ۴۶۶ ،واحسن الفتاوی ج۴ص۲۲۵ ،ومجمع الانهر فی شرح ملتقی الابحروعلی

هامش الدر المتقى فى شرح الملتقى ج ۱ ص ۲۲۶-۲۲۵



معلوی محمد اخلاص برکتی

مولوی نذ احمد فاضل وفاق المدارس مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان داسلامی امارت دمرکزی دارالافتاء رئیس

ایادزکوة وکیل خپلوقریبانوته دغه زکوة ورکولای شي کنه ؟

پوښتنه: محترم رئیس صاحب دار الافتاء السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

محترم حاجي رئیس صاحب زه غنی یم یو سړی دزکاة پیسی راکړی.دی .زه یې خپل مسکین پلار یا مسکینی مور یا بالغ زوی یالور ته چي مسکینان وی ورکولای شم کنه ؟ په دي اړه درخخه فتوی غواړو (المستفتی عبد الله)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب:

وکالة په زکاة کي صحیح دی لکن وکالة پردوه قسمه دی: یووکالة په روکولوکي دزکاة عام وی یعنی وهرچاته چي یې ورکوي په دغه صورت کي ئي وهرمسکین ته ورکول صحیح دی اوضمان پروکیل نشته اودوهم صورت دادي: که ئي وکیل ته معین شخص وربښودلی وی په دې صورت کي څوک وايي ضمان پروکیل باندی شته اوڅوک وايي ضمان نشته داچي ضمان شته ترجیح لري اود ترجیح قول صحیح دی.

هکذافی الفقه الاسلامی ج ۳ص ۱۹۷۶ ط رشیدیه کوئته) وان امره بالدفع الی شخص معین فدفعماالوکیل لغیره ففیه قولان عندالحنفیة قول بانه لایضمن آه وقول رجحه ابن عابدین یضمن... آه.

هغه دول وکالة کي چي عام وي وهرمسکین ته ورکول دزکاة روادی که څه هم زوي یالوردوکیل وي اویائي زوجه وي.

هکذافی الفقه الاسلامی ج ۳ص ۱۹۷۶ ط رشیدیه) ،وردالمحتار ج ۲ص ۱۲ط رشیدیه کوئته) وللوکیل ان یدفع الزکاة لولده الفقیر وزوجته الفقیرة اذالم یأمره بالدفع الی شخص معین آه . والله اعلم وعلمه اتم

احمد نوری العبد الاحقر نذ احمد مولوی محمود میوندوال

دگمرک اوټرانسپورټ عوائدچاته باید ورکول سي ؟

پوښتنه: ویتیمانو اومعیوبینوته په قانوني شکل له کمرک اوټرانسپورټ څخه تقسیم صحت لري اوکنه ؟

(المستفتی حافظ عبدالمجید دشهداؤاومعلولینورئیس)

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

الجواب باسم ملهم الصواب:

دغنیمت پنځمه برخه یادمعدن اورکازمبلغ په یتیمانوباندی مصرف کیدلای شي اوهغه شیان چي پیداشوی وی چي هغه ته اللقطات وایي یاداسی شخص ترکه چي دهغه وارث نه وی پاته شوی په معیوبینوباندی مصرف کیدلای شي نوکه دګمرک اوټرانسپورټ مبلغ دمذکوره اشیاؤڅخه وی نوپه یتیمانواومعیوبینومصرف کیدای شي خومعیوبین به فقراء وی اوهم دنفقی برابرولوقریب به نه لري

(والثانی) خمس الغنائم والمعادن والرکازویصرف الیوم الی ثلاثة اصناف الیتامی والمساکین وابن السبیل (الهندیة ج۱ص۱۹۰ط دارالاشاعة العربیه قندهار ،وبدائع الصنائع ج۷ص۱۲۴ ط ایچ ایم سعیدکراچی) قوله المال المستخرج من الارض له اسام ثلاثة الکنزوالمعدن والرکاز، فالکنزاسم لمادفنه بنوآدم والمعدن اسم لماخلقه الله تعالی فی الارض یوم خلق الارض والرکازاسم لهماجمیعاً (العنایة علی هامش فتح القدیرج۲ص۱۷۹)

(والرابع)اللقطات ومااخذمن ترکة المیت الذی مات ولم یترک وارثا... وهذا النوع یصرف الی انفقة المرضی وادویتهم وهم فقراء... والی نفقة من هوعاجزعن الکسب ولیس له من تجب علیه نفقته (الهندیة ج۱ص۱۹۱ط دارالاشاعة قندهار ،وبدائع الصنائع ج۲ص۶۹ ط ایچ ایم سعیدکراچی) والله اعلم



العبدالاحقر نذاحمد مولوی نورمحمد ثاقب

دافغانستان داسلامی امارت دمرکزی دارالافتاء مشر

ایاپرعامومسلمانانو،معیوبینودشهداؤ

وارثانودتحریک پرفقراءمسئولینواوتعلیم اوتربیه بیت المال مصروفولای شي؟

پوښتنه :جناب محترم رئیس صاحب دارالافتاء اوستاسو ملګرو علماء کرامو څخه ددې فتوی غوښتونکی یوچي کوم عشراوزکوة دبیت المال حق ده دبیت المال څخه مصرف په دغوځلوروفریقوجوازلري اوکه ئي نه لري :(۱) عام مساکین (۲) دوهم معیوبین دجهاداو وارثین دتحریک دشهداؤ(۳) دریم مسئولین دتحریک چي فقیران وی (۴) تعلیم اوتربیه

(المستفتی عبدالمجیددشهیدانواومعلولینودریاست رئیس)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب وهوملهم الصواب

په استفاء کي چي اول اودریم فریق دی یعنی عام مساکین اودتحریک مسئولین چي فقراء وی دوي مصرف دعشراوزکوة دی یعنی ورکول دعشراودزکوة دوي ته بې شکه صحیح ده ،اوهرچي دوهم اوځلورم فریق دی یعنی معیوبین دجهاداودتحریک د شهیدانو وارثان اوتعلیم اوتربیه دامصرف دخراج (مالیه) اودجزیې دی ،که څه هم دامام (باچا) لپاره جائزده چي دبیت العشرڅخه قرض وکړي بیت دخراج اوجزیې لره ئې ورکړي اوداسی بالعکس اوداقرض په ځلوروواړوبیوت دمال کښي صحیح کیږي.

زیات تفصیل به دلاندی عباراتوڅخه معلوم شي

په(الدرالمختاراوردالمحتارج۳ص۳۰۶- ۳۰۷ ط رشیدیه کوئټه)کي په بیان دمصرف دخراج اوجزیه وغیرهماکي لیکلی دی:

(وكفاية العلماء) والمتعلمين تجنيس وبه يدخل طلبة العلم فتح (والقضاة والعمال) ككتبة قضاة وشهودقسمة ورقباء سواحل (ورزق المقاتلة وذراريهم) اى ذراري من ذكر مسكين واعتمده فى البحر(قوله وكفاية العلماء) هم اصحاب التفسيروالحديث والظاهر ان المراد بهم من يَعلم العلوم الشرعية فيشمل الصرف والنحووغيرهما حموى عن البرجندي ط وفى التعبيربالكفاية اشعار بانه لايزادعليهاوسيأتى بيانه وكذايشعرباشتراط فقرهم لكن فى حظرالخانية سئل على الرازي عن بيت المال هل للاغنياء فيه نصيب قال لا الان يكون عاملاً اوقاضياً وليس للفقهاء فيه نصيب الافقيه فرغ نفسه لتعليم الناس الفقه أو القرآن آه قال فى البحر :اى بان صرف غالب اوقاته فى العلم

وليس مرادالرازي الاقتصارعلى العامل اوالقاضى بل اشاربهماالى كل من فرغ نفسه لعمل المسلمين فيدخل فيه المفتى والجندى فيستحقان الكفاية مع الغنى... آه

وفسر الذرارى فى شرح دررالبحار بالزّوجة والاولاد- نقل الشيخ عيس السفطى فى رسالته مانصه قال ابويوسف فى كتاب الخراج ان من كان مستحقاً فى بيت المال وفرض له استحقاقه فيه فانه يفرض لذريته ايضاً تبعاًله ولايسقط بموته وقال صاحب الحاوى الفتوى :على انه يفرض لذرارى العلمآء والفقهآء والمقاتلة ومن كان مستحقاً فى بيت المال لايسقط مافرض لذراريهم بموتهم آه . قلت لكن قول الملتون الآتى ومن مات فى نصف الحول حرم من العطآء ينافى ذلك الا ان يجاب بان مايجرى على الذراري عطاء مستقل خاص بالذرارى لاعطاء الميت بطريق الارث بين جميع الورثة تأمل لكن مامرّ عن الحاوى لم أره فى الحاوى القدسى ولافى الحاوى الزاهدى وراجعت مواضع كثيرة من كتاب الخراج فلم آره فيه والله اعلم نعم قال الحموى فى رسالته وقدذكرعلمائنانه يفرض لاولادهم تبعاً ولايسقط بموت الاصل ترغيباًآه وذكرالعلامة المقدسى ان اعطائهم بالاولى لشدة احتياجهم سيماًاذاكانوا يجتهدون فى سلوك طريق آبائهم آه .

وذكرفى(ردالمحتار ج۲ص۶۳ ط رشيديه كوئته) وقال الشرنبلالى فى رسالته ذكروا انه يجب عليه (اى الامام) ان يجعل لكل نوع منهابيتاً يخصه ولايخلط بعضه ببعض وانه اذااحتاج الى مصرف خزانة وليس فيها مايفئ به يستقرض من خزانة غيرهاثم اذاحصل للتى استقرض لهامال يردالى المستقرض منها الان يكون المصروف من الصدقات اوخمس الغنائم على اهل الخراج وهم فقراء فانه لايردشيئاًلاستحقاقهم للصدقات بالفقروكذافى غيره اذاصرفه الى المستحق... آه .

اوداخيرى مضمون په فتاوى هنديه (ج۱ص۱۹۱دارالاشاعة العربيه قندهار) كي اوهم په البحرالرائق ج۵ص۲۰۰ ط رشيديه كوئته كي ذكرشوى دى.



مولوی عبدالحکیم عفی عنہ | مولوی محمد اخلاص برکتی | مولوی نورمحمد ثاقب

دمرکزی دارالافتاء سرپرست

دعشر اوزکوة عاملین چې سیدان وی دزکوة اخیستل ئې څه حکم لري؟

ریاست عمومی عشروزکاة ولایت کندهار
بحضورجناب رئیس صاحب تمیزالسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !
امابعد: ریاست عشروزکاة درولایات وولسوالی هامربوطه خودعاشرین وعاملین برایي فراهم آوردن عشروزکوة مؤظف ومقررنموده که بعضی افرادآنان سادات میباشندکه قابضین وآخذین عشرمیباشند ومایان درقبض واخذعشر موصوفان مترددمیباشم لطفاً مطابق شریعت غرّاء تاامراجراء کاروظیفه شان عنایت فرمائید احترام (ملاحمیدالله اخندزاده رئیس عمومی عشروزکوة)
ملاحضه شد ۱۸/۵/۱۳۷۵
ریاست محترم دارالافتاء درموردابرازنظرشرعی فرمایند !والسلام.
(مولوی خلیل الله فیروزي رئیس عالی تمیز)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب:

اگرعاشرین وعاملین سادات وبنی هاشم باشندوامام برایشان رزق مقررنمایدلکن بغیرازعشروزکوة پس درست است وآنجاکه ذکرمیشودکه عاشرین وعاملین بنی هاشم وسادات نباشند-مرادآن اینست که اگرفتن وخوردن برای خوایشن آزان عشروزکوة که آنهاازمسلمین جمع کردندصحیح نیست زیراکه خوردن آن عشروزکوة براي شان حلال نیست –جهت تنزیه قرابة نبی کریم ﷺ ازشبهه چرک ومراداین نیست که مقررکردن آنهابوظیفه عاشرین وعاملین درست نیست بلکه درست است وبرای ایشان رزق ازدیگر حصه بیت المال مقررگردد-

اعلم ان هذالشرط اعنی کونه غیر هاشمی عزاه فی البحرالی الغایة ولم ارمن ذکره غیره وهومخالف لماذکره فی النهایة وغیرهافی باب المصرف انه اذااستعمل الهاشمی علی الصدقة لاینبغی له الاخذمنهاولو عمل ورزق من غیرهافلابأس به آه. ومراده بلاینبغی لایحل کماعبّربه الزیلعی هناک وهذاکالصریح فی جوازنصبه عاملاً فیحمل ماهناعلی انه شرط لحل آخذه من الصدقة ویدل علیه تعلیل صاحب الغایة وبقوله لمافیه من شبهة الزکاة فان مفاده انه یجوزکونه هاشمیاًاذاجعل له الامام شیئاًمن بیت المال اوکان لایأخذ شیئاً مما یأ خذه من المسلین وسنذکرفی باب المصرف تمامه. (ردالمحتارج۲ص۴۲ط رشیدیه کوئټه)

فلاتحل للعامل الهاشمی تنزیهاً لقرابة النبی ﷺ عن شبهة الوسخ وتحل للغنی لانه لایوازي الهاشمی فی

كمابسطه فی الفتح قال فی النهر وفی النهاية استعمل الهاشمی علی الصدقة فأجری له منها رزق لاینبغی له اخذه ولو عمل ورزق من غیرهافلابأس به قال فی البحر وهذایفیدصحة تولیته وان اخذه منهامکروه لاحرام آه . والمرادالکراهة التحریم لقولهم لایحلّ لکن مامرّ من ان شرائط الساعی ان لایکون هاشمیاً یعارضه وهذا للذی ینبغی ان یعول علیه آه . مافی النهر اقول الظاهر ان الاشارة فی قوله وهذا الی ماذکرهنامن صحة تولیته ووجهه ان ماذکروه هناصریح فی عدم حل الاخذمماجمعه من الصدقة لامن غیره فلادلیل حینئذعلی عدم صحة تولیته عاملاً اذارزق من غیرهاوقد منا ان اشتراط ان لایکون هاشمیاً نقله فی البحرعن الغاية ولم آره لغیره علی انه فی الغاية علّل ذلک بقوله لمافیه من شبهة الزکاة کماعلّلوابه هنافعلم ان ذلک شرطٌ لحل الاخذمن الصدقة لالصحة التولية فلایعارض ماهناکماقدمناه هناک والله تعالی اعلم (ردالمحتارج۲ص ۶۴ ط رشیدیه کوئته) فان عمل الهاشمی علیهاورزق من غیرهالا بأس به —هکذافی الخلاصة —(الفتاوی الهندية ج۱ص۱۸۸ ط دارالاشاعة قندهار)



مولوی محمد مسلم حقانی مولوی عبدالحکیم مولوی نورمحمد ثاقب دمرکزی دارالافتاء رئیس

ایاعاشربه دظاهري اوباطني مالونودواړوزکوة راټولوی ؟

پوښتنه- ددارالافتاء محترمي اداري ته ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
دهغوکسانوزکوة چي مالداروي مثلاً دتریاکوتجاران یادنورموادو تجاران چي له هغوي سره نغدي روپۍ وی آیازکوة ئي عاشران ټولوي دمقدس شریعت له نګاه څخه څنګه دی ؟
(المستفتی ملامحمد حسن رحمانی دکندهاروالی)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

ظاهری مالونه لکه حیوانات دامفوض دی دمسلمانانوامام لره هغه که په ښارکي وی که په کلیوکي وی اوکه په صحراء کي وي اوزکوة دباطني مالونوپه ښهرکي اوکه په کلیوکي ورکول ئي په خپلومالکانوپوري تعلق لري هرچاته چي يي ورکوي ورکولای یي شی چي مصرف دزکوة وي حکومت ئي په زورنشی څینی اخیستلای اخیستونکی دزکوة داموال


ظاهروو چي د اسلامی حکومت لخوا مقررکړل شوي وي ،په علم فقه شریفه کي ورته ساعی ویل کیږي اوعاشرهغه چاته ویل کیږي چي امام دمسلمانانویي نصب کړی په یولاریاندی په صحراء کي چيٰ زکاتونه دهغوتجارانوڅخه واخلی چي مالونه تیروی پردغه لاریاندی دغه عاشرته بیاحق شته دا خیستلو دزکوة دهرقسم مالونوکه اموال ظاهره وي اوکه باطنه اواموال باطنه لکه سره زراوسپین زر.

فی مجمع الانهر من المجلدالاول (ص ۲۸۷ ط مکتبه غفاریه کوئته) (ولامدیون مطالب) ولو بالجبر والحبس طلباًواقعاً (من العباد) وهواما الامام فی الاموال الظاهرة ای السوائم اوالملاک فی الاموال الباطنة فان الملاک نوابه لان حق الاخذکان للامام فی الاموال الظاهرة والباطنة الی زمن عثمان ﷺ ففوض الاموال الباطنة الی اربابهاخوفاً علیهم من السعاة السوء۔

وایضاً من هذاالمجلد(ص ۳۰۹ ط مکتبه غفاریه کوئته) (باب العاشر) (هومن نصب) ای نصبه الامام (علی الطریق)احترازاً عن الساعی وهوالذی یسعی فی القبائل لیأخذصدقة المواشی فی اماکنهافلایصح ان یکون عبداً ولاکافراً لعدم الولایة فیهما ولاهاشمیاً لمافیه من شبهة الزکوة وبه یعلم حکم تولیة الکافرفی زماناعلی بعض الاعمال ولاشک فی حرمة ذالک (لیأخذصدقات التجار) المارین باموالهم علیه فیأخذمن الاموال الظاهرة والباطنة وهذابان لایکون فی المصرولا فی القری بل فی المفازة قالوانماینصب لیأ من التجارمن اللصوص ویحمیهم منهم۔ فیستفادمنه انه لابدان یکون قادراً علی الحمایة لان الجبایة الحمایة وانماسمی بالصدقة تغلیباً لاسم الصدقة علی غیرها۔ وایضاً من هذا المجلد(۳۱۰ ط مکتبه غفاریه کوئته) (اوادعی الاداء بنفسه الی الفقراء فی المصر) لان الاداء کان مفوضاً الیه فیه وولایة الاخذبالمرورلدخوله تحت الحمایة وانماقال فی المصر لانه لوادعی الدفع الیهم بعدالخروج من المصر لایقبل (فی غیرالسوائم) لان حق الاخذفی السوائم للامام فی المصروغیره ثم اذالم یجز الامام دفعه یضمن عندناقیل الزکوة هوالاول والثانی سیاسة وقیل هوالثانی والاول ینقلب نفلاً هوالصحیح.

وفی البحرالرائق من المجلدالثانی باب العاشر(ص ۴۰۳ ط رشیدیه کوئته) وحاصله ان مال الزکوة نوعان ظاهروهوالمواشی والمال الذی یمربه التاجرعلی العاشروباطن وهوالذهب والفضة واموال التجارة فی مواضعها اماالظاهر فللامام ونوابه وهم المصدقون من السعاة والعشارولایة الاخذ للآیة (خُذْمِنْ اَموَالِهِمْ صَدَقَةً) ولجعله للعاملین علیهاحقاً فلولم یکن للامام مطالبتهم لم یکن له وجه ولمااشتهرمن بعثه علیه السلام للقبائل لاخذالزکوة وکذا الخلفاء بعده حتی قاتل الصدیق مانعی الزکوة

(خُذْمِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً) ولجعله للعاملين عليهاحقاً فلولم يكن للامام مطالبتهم لم يكن له وجه ولمااشتهر من بعثه ﷺ للقبائل لاخذالزكوة وكذالخلفآء بعده حتى قاتل الصديق مانعى الزكوة ولاشک ان السوائم تحتاج الى الحماية لانهاتكون فى البرارى بحماية السلطان وغيرهامن الاموال اذاخرجه فى السفراحتاج الى الحماية بخلاف الاموال الباطنة اذالم يخرجها مالكها من المصر لفقد هذالمعنى.



مولوی احمد نوری مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی نور محمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی دولت افغانستان

په اجاره کي زکوة پرمؤجردی که پرمستأجر؟

پوښتنه:-له محترمو علماء کرامو څخه داپوښتنه کوم چي يوسړی په اول پسرلي کی چمن اجاره کړي مثلاً په(۶۰) لکه اوګټه(۲۹۰) لکه شي زکوة يي پرمؤجردی که پرمتسأجر؟

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب حامداً ومصليا

مځکه چي اجاره کړائی شی نوکه په اجرة کامله يعنی اجرمثل سره وی چي هغه د دغې زمکې پوره اوموافق اجر وی نوعشربي پرمؤجريعنی مالک دزمکې دی اوکه اجاره په اجرمثل سره نه بلکه په کم سره وی نوعشربياپرمستأجر يعنی اجاره داردی.

هكذافى ردالمحتار ج٢ص٦٠ ط رشيديه کوئته وتنقيح حامدية ج١ص١٠) فان امكن اخذالاجرة كاملة يفتى بقول الامام والافبقولهمالمايلزم عليه من الضرر الواضح الذى لايقول به احد.

مولوی ندا محمد الحقانی


داجارې زکوة پرمؤجردی که پرمستأجر؟

پوښتنه- که زمکه اجاره کړله شی دحاصلوپه وخت کي عشرپرچاباندي دی آياپرمؤجردی که پرمستأجر؟

(المستفتى مولوى احمد الله فانى)

پوره اوموافق اجر وی نوعشربي پرمؤجريعنی مالک دزمکې دی اوکه اجاره په اجرمثل سره نه بلکه په کم سره وی نوعشربيا پرمستأجر يعني اجاره داردی.

هکذافی ردالمحتار ج۲ص۶۰ ط رشیدیه کوئټه والفتاوی تنقیح ا لحامدیة ج۱ص۱۰) فان امکن اخذالاجرة کاملة یفتي بقول الامام والافبقولهمالمایلزم علیه من الضرر الواضح الذی لایقول به احد . والله تعالی اعلم .



مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب د افغانستان د اسلامی امارت د مرکزی دارالافتاء رئیس

داهل ذمه په املاکو کي عشردی که خراج ؟

دولتي ياغيردولتي املاک چي په اجاره ورکول شي عشريي پرمؤجردی که پرمستأجر؟اودولتي املاک چي حکومت پخپله کرلي وی عشرلري اوکنه ؟

پوښتنه جناب محترم دتمیز عالی رئیس صاحب السلام علیکم

موږدعشر دټولولو اداره دلاندی موضوعاتو سره مخامخ یو که لطفا دهغوی په باب شرعی فتوی راکړی ډیر ممنون به سو هغه املاک چې داهل ذمه وویعنی (هندوانو) دی په هغوکی عشرسته اوکه خراج اوکه دواړ اندازه ئ څومره وی هغه شخصی املاک چې په اجاره ور کول شوی وی آیا عشرئ پرمؤجراوکه پرمستاجردی هغه املاک چې دولتی وی او بیا په اجاره ور کول شوی وی عشرئ پر چا دی همدارنگه هغه املاک چې دولتی وی اودولت پخپله کرلی وی آیا عشرلری که نه اوڅومروی که لطفاددغه درو گونو موادو په باب شرعی فتوی راکړی ډیره به ښه وی والسلام۔

(الحاج ملا حمید الله اخندزاده دعشرمسؤل)

ریاست دارالافتاء درموردفتوی شرعی بدهند والسلام

(مولوی خلیل الله رئیس عالی تمیز ۷۵۱۵۱۱)

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الجواب بعون الملک الوھاب


ھغه املاک چې داهل ذمه (هندوانو) دی په هغو کی خراج ده بیاخراج په دوه قسمه ده یو خراج مقاسمة ده چې واجب بعض د هغه مال خارج وی لکه خمس وغیره بل خراج موظف ده چې واجب یو شئ وی پرذمه باندی چې واجب وی په مجرد قدرت علی الا نتفاع بالارض سره اگرکه خارج موجود نه وی هم حضرت عمررضی اللہ عنه په خراج موظف کښی وضع کړی وه په هرجریب چې اوبه ورته رسیږی یوه پیمانه دغنمو اویو درهم اویایوه پیمانه دوربشو اویو درهم اوپه هرجریب دترکاری وضع کړی وی پنځه روپی اوپه هرجریب دونو دخرماد انگور وغیره چې ونی یو بل ته متصلی ولاړی وی وضع کړی وی لس روپی (عشرة دراهم) اوپه هغو اشیاء کښی چې مقرری دحضرت عمررضی اللہ تعالی عنه نه وی نو په هغو کښی به مطابق دطاقت خراج وی اوغایه دطاقت نصف دخارج ده پس زیادة په نصف باندی په هغو اشیاء کي او هم په خراج مقاسمة کی جائز نده اوهمدارنگه جائز نده زیادة په مقرری دحضرت عمررضی اللہ عنه باندی په هغو اشیاء کي چې هغه مبارک مقرری کړی ده هغه املاک چې په اجاره ورکول شی عشریٔ پر مؤجر ده که ده پوره اجرة اخستلو اوپرمستاجرده که مؤجر کم اجرة ځنی اخستلو هغه املاک چې دولتی وی او په اجاره ورکول شی په هغو کښی اجرة ده چې دغه اجرة بیاپه حق کی دامام خراج ده که دراهم وي خراج موظف ده اوکه بعض خارج وی نو خراج مقاسمة ده- هغه املاک چې دولتی وی اودولت پخپله کرلی وی په هغو کښی عشرشته:

(قوله وخراج ان اشتری ذمیٓ ارضا عشریة من مسلم) ای یجب الخراج لان فی العشر معنی العبادة والکفر ینافیها ولا وجه الی التضعیف لان الکلام فی غیر التغلبی بخلاف الخراج لانه عقوبة والاسلام لاینافیها کالرق وبه اندفع قول ابی یوسف من تضعیف العشر علیه وقول محمد ببقاء العشر البحر الرائق ج ۲ ص ۴۱۶ ط رشیدیه کوئٹه)

(وهو) ای الخراج (نوعان خراج مقاسمة ان کان الواجب بعض الخارج کالخمس ونحوه وخراج وظیفة ان کان الواجب شیاء فی الذمة یتعلق بالتمکن من الا نتفاع بالارض کماوضع عمررضی اللہ عنه علی السواد لکل جریب) هوستون ذراعا فی ستین بذراع کسری سبع قبضات وقیل المعتبر فی کل بلدة عرفهم وعرف مصر التقدیر بالفدان فتح وعلی الاول المعول بحر (یبلغه الماء صاعا من بر او شعیر ودرهما) عطف علی صاع من اجودالنقود زیلعی (ولجریب الرطبة خمسة دراهم ولجریب الکرم اوالنخل متصلة) قید

فيهما (ضعفها ولما سواه) ممالیس فيه توظیف عمر (کزعفران وبستان) هو کلّ ارض یحوطها حائط وفيها اشجار متفرقة يمكن الزرع تحتها فلو ملتفة اى متصلة لا یمکن زراعة ارضها فهو کرم (طاقته و غاية الطاقة (نصف الخارج) لان التنصیف عین الانصاف (فلايزاد عليه) فى خراج المقاسمة ولافی الموظف على مقدار ماوظفه عمر رضي الله تعالى عنه الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ص۲۸۴ ط رشیدیه کوئته) فان امکن اخذالاجرة کاملة یفتی بقول الامام والا فبقولهما لما يلزم عليه من الضرر الواضح الذى لايقول به احد والله تعالى اعلم ۱۲ (ردالمحتار ج۲ ص۶۰ ط رشیدیه کوئته) اودغه تطبیق په مابین دقول دامام صاحب اودقول دصاحبینو کښی په امدادالفتاوی ج۳ ص۵۸ کښی هم ذکرشوی دی قلت وهذانوع ثالث يعنى لاعشرية ولاخراجية من الاراضی تسمی ارض المملکة واراضی الحوز وهومامات اربابه بلاوارث وال لبيت المال او فتح عنوة وابقى للمسلمين الى يوم القيامة وحكمه على مافى التاتارخانيه انه يجوز للامام دفعه للزراع باحد طريقين اما باقامتهم مقام الملاک فى الزراعت واعطاء الخراج واما باجارتها لهم بقدر الخراج فيكون المأخوذ فى حق الامام خراجا ثم ان كان دراهم فهو خراج موظف وان كان بعض الخارج فخراج مقاسمة واما فی حق الاكرة فاجرة لاغير الخ (ردالمحتار ج۳ ص۲۸۰ ط رشیدیه کوئته) فى التاتارخانية السطان اذدفع أراضی لامالک لها وهی التی تسمی الاراضى المملكة الى قوم ليعطوا الخراج جاز وطريق الجواز احد شيئين اما اقامتهم مقام الملاک فى الزراعة واعطاء الخراج اوالاجارة بقدر الخراج ويكون الماخوذ منهم خراجا فى حق الامام اجرة فى حقهم اه (ردالمحتارج۲ ص۶۰ ط رشیدیه کوئته) اودغه عبارة په منحة الخالق على البحرائق ج۵ ص ۱۷۸ ط رشیدیه کوئته کښی هم ذکر شوی ده په اراضی دبیت المال او آراضی دوقف کی عشر شته په (ردالمحتار ج۳ ص۲۷۹ ط رشیدیه کوئته) کی په د یرو دلائلو سره عشر په اراضی دوقف کی ثابت کړی ده او په الفتاوی تنقیح الحامد یة ج۲ ص۱۱۰ ط مکتبه حبیبه کوئته کښی لیکلی:

قد تقرر او اراضی بیت المال یسلک بها مسالک ارض الوقف خيرية من العشر والخراج الخ ۱۲



مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان داسلامی امارت ددار الافتاء رئیس

په بيع وفاكي زكوة پر بائع دی که پر مشتری

پوښتنه: يوه سړی ځمکه په بيع وفارانيوله دحاصلاتوزکوة يي پرمشتری (رانيونكي) دی اوكه پربائع (خرڅونكی) دی

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب حامدا ومصليا

په بيع وفا كي زكوة پر مشتری دی كه چيری كښت په كرلی وو اوتاوان يي ځمكی ته نه رساوه اوكه چيری وځمكی ته تاوان رساوه نوزكوة يي بياپراصلی مالک دمځکی کيږی هكذافی ردالمحتار على الدرالمختار ج۲ ص۵۹ ط رشيديه كوټه وفی البزازية بعد التقابض ان لم تنقصها الزراعة فالعشر على المشتزی وان نقصها فعلى البائع الخراج والعشر والله تعالى اعلم بالصواب مولوی ندامحمد الحقانی

دغرونواوصحراگانوپه ميوه كي عشرشته اوكنه

محترم دتميزرياست!

دليک لرونكی ورور سره دبادغيسی دپسته لغ په باب مفاهمه اوداستفتاء تحريری شرعی فتوی په هكله لطف وكړی- والسلام

(اميرالمؤمنين ملامحمد عمرمجاهد)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب دغرو نو اوصحراگانوپه ميوه جاتوكښی عشرشته كه حماية كوی امام داهل حرب اوبغاة اوقطاع الطريق څخه اوكه امام ئي حماية نكوی نوبيا پكښی عشر نشته اودابيا پشان دصيدده اوبله خبره داده چې ميوه جات دغرونو مباح دی دټولو مسلمانانو دپاره نو چې كله ورسيږی داميوه جات نوبيا جائزنه ده، نه امام اونه بل چاله چې منع كړی مسلمانان له دی ميوه جاتو څخه

(وكذا) يجب العشر (فی ثمرة جبل او مفازة ان حماه الامام) لانه مال مقصود لا ان لم يحمه لانه كالصيد (قوله فی ثمرة جبل) يدخل فيه القطن لان الثمر اسم لشئ متفرع من اصل يصلح للاكل واللباس كمافي الكرمانی وفی القاموس انه اسم لحمل الشجر والمشهور مافی المفردات انه اسم لكل مايستطعم من احمال الشجر ويجب العشر ولوكان الشجر غير مملوک ولم يعالجه احد وخرج ثمرة شجر فی داررجل ولو بستانا فی داره لانه تبع للدار كذافی الخانية ط عن القهستانی (قوله ان حماه الامام) الضمير عائدالی المذكور وهو

العسل والثمرة والظاهر ان المراد الحماية من اهل الحرب والبغاة وقطاع الطريق لاعن كل احد فان ثمر الجبال مباح لايجوز منع المسلمين عنه وقال ابويوسف لاشئ فيمايوجد فى الجبال لان الارض ليست مملوكة ولهما ان المقصود من ملكها النماء وقدحصل آه(الدرالمختارورد المحتارج۲ص ۵۳ ط رشيديه كوئته)صاحب دردالمحتار داخپل عبارت دحاشية الطحطاوى على الدر المختار ج۱ ص۴۱۸ ط دارالمعرفة بيروت څخه ئ نقل كړى ده او طحطاوى بيادا عبارت دحاشية الحلبى على الدر المختار څخه رانقل كړى ده ۱۲



مولوى عبدالحكيم عفى الله عنه مولوى محمد مسلم حقانى مولوى نورمحمد ثاقب دافغانستان داسلامى امارت د دارالافتاء رئيس

په لرګيو کي عشر شته او کنه

پوښتنه :محرم رئيس صاحب دارالافتاء السلام عليكم ورحمة الله محترمه مونږ دعشر مسئولين وته د عشر په باب معلومات راكړى چى لرګى چى خرڅ كړل شى په دوه سوه لكه افغانى يادوه لكه كلدارى نو عشرپكښى شته اوكنه

(المستفتي ملا نعمت الله اخند)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله الملك العلى الاعلى

محترم مستفتي صاحب دعشردمسؤولينو اونورو عامو مسلمانانو دشرعى معلوماتو لپاره دلرګود عشرپه باب به مورد اعرض اوګذارش وړاندى كړو چې لرګى پردوه ۲ ډوله دى يو هغه ډول لرګى دى چې دمځكى څخه واخستل شى اوتول كړى شى چې په هغه لرګوسره قصد اواراده داستغلال يعنى دګټى اونماء دمځكى شوى وى نو په دغه قسم لرګوكى عشرلازم دى اوبل هغه ډول لرګى دى چې پردغه مذكور صفت نه وى يعنى چې په هغه سره قصد اواراده داستغلال دمځكى نه وى شوى نوپه دغه دوهم قسم لرګوكى عشرواجب اولازم نه دي داول قسم لرګو مثال لكه په يو مځكه كى نهال شانى وسى په دى غرض اوقصد چې ددغه نهالانو څخه چې غټ شي لرګي به اخستل كيږى او بيا به خرڅيږى اويا به په بله فائده راوستل كيږى ددوهم قسم لرګومثال چې عشر پكښى لازم نه دي لكه ديومځكى څخه لرګى تول كړل شى چې هغه

داسی نه وی داستغلال دمخکی شخه نه شمیرل کیږی بلکه ضمنا اوتبعا په کتی دمخکی کی راشی لکه د درختو بناخلی چې پریکړی شی:
فلاعشر فی الحطب والحشیش والقصب والطرفاء و السعف لان الاراضی لاتستنمی بهذه الاشیاء بل تفسدها حتی لو استنمی بقوائم الخلاف والحشیش والقصب وغصون النخل اوفیها دلب اوصنو بر ونحوها وکان یقطعه ویبیعه یجب فیه العشر کذافی محیط السرخسی(الفتاوی الهندیة ج۱ ص۱۸۶ ط دارالاشاعة قندهار) وایضاً فی هذه الصفحة ولاعشرفیما هوتابع للارض کالنخل والاشجاروکل مایخرج من الشجر کالصمغ والقطران لانه لا یقصد به الاستغلال کذافی البحرالرائق ولوجعل ارضه مشجرة اومقصبة یقطعها ویبیعها فی کل سنة کان فیه العشر (الفتاوی الخانیة علی هامش الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۲۷۶ ط دارالاشاعة قندهار) (قوله حتی لو اشغل ارضه بها یجب العشر)فلواستنمی ارضه بقوائم الخلاف وماشبهه اوبالقصب اوالحشیش وکان یقطع ذلک ویبیعه کان فیه العشر غایة البیان ومثله فی البدائع وغیرها (ردالمحتار ج۲ ص۵۵ ط رشیدیه) واللّٰه تعالی اعلم بالصواب



مولوی محمد اخلاص برکتی

مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی نذاحمد الحقانی مولوی محمود میوندوال

مولوی مفتی نورمحمد ثاقب رئیس عمومی دارالافتاء مرکزی ومعین قضائی ستره محکمه دولت اسلامی طلباء افغانستان

په پروړ کي عشرسته اوکنه

پوښتنه جناب محترم رئیس صاحب دارالافتاء هغه مځکی چې دغنمو کښتو نه کری دهغه حا صلاتو شخه بې عشرونه اخستل کیږی داسی وقت اوزمان راسی چې په اصطلاح پروړ کاوی په پوره قیمت خرڅیږی چې دهغه دقیمت شخه عشر اخستل کیږی که څنګه هیله ده چې شرعی قاطع امر اعطاء کړی په احترام
(المستفتی ملاحمیدالله اخند مسئول عشروزکوة)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

مسئله داده: چې په کښت دخرما کې اوپروړکې زکوة نشته اوکه پروړ مقصود گرځیدلی وونوبیازکوة شته اومقصودوالی دپروړ په هغه وخت کې دی چې تردانو ترېخید و مخ کې واخستل شي اوپه ډیر والی دقیمت سره مقصودوالی دپروړ نه دي :

ولایجب العشر فی التبن ولافی الحطب والحشیش والقنب والصنوبر والقصب الفارسي ولافی سعف النخل ولافی الطرفاء ولافی الدلب وشجرالقطن والباذنجان (الفتاوی قاضیخان بهامش الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۲۷۶ ط دارالاشاعة العربیه قندهار) الافیما لایقصد به استغلال الارض (نحوحطب وقصب) فارسی(وحشیش)وتبن وسعف وصمغ وقطران وخطمی واشنان وشجر قطن وباذنجان وبزربطیخ وقثاء وادویة کحلبة وشونیز حتی لو اشغل ارضه بها یجب العشر (قوله وتبن) بالباء الموحدة قال فی الفتح غیر انه لوفصله قبل انعقاد الحب وحب العشر فیه لانه صار هوالمقصود وعن محمد فی التبن اذایبس العشر(الدر المختار وردالمحتار ج۲ ص۵۵ ط رشیدیه کوئته) والله اعلم بالصواب



مولوی محمد اخلاص برکتی

احمد نوری عفی عنه مولوی محمود میوندوال

مولوی مفتی نورمحمد ثاقب


عشردمصارفوتربستلووروسته وی اوکه مخکي

محترم ددارالافتاءمقام ته السلام علیکم پس له سلامه عرض دادی چې غنموجواریواو نورودانوکښنی حکم مفتی به په څه شان دی یعنی لود لوگرو اومصرف دماشین کښنی هم عشر پر مالک دمخکی دی یااول باید ذکرشوی مصارف تری لیری شی اوبیاعشرورکړی شی په دی حصه کي که رساله چاپ شی نوډیر خلک به له تشویش څخه خلاص شی اوخاص که موسسه وی نود شرعی حکم سره موږ پوه کړی والسلام.

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب منه والصدق والصواب

مسئله داده دحاصلاتو دکبنت عشر چې ورکول کیږي نواولا به دټول حصلاتو دکبنت چې مصارف ئ نه څنې ایستل شوي وی عشربه ورکوی ثانیا به بیا مصارف ورکول کیږي:
(بلا رفع مؤن) ای کلف (الزرع) وبلااخراج البذر لتصريحهم بالعشر فی کل الخارج (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج۲ ص۵۶ ط رشیدیه کوټه) وفی مسقی مطر اوسیح ای ماء اودية ... ونصفه (فی مسقی غرب اودالية بلا رفع المؤن) ای یجب العشر فی الاول ونصفه فی الثانی بلارفع اجرة العمال ونفقة البقرو کری الانهار واجرة الحافظ ونحوذلک (وبلااخراج البذر) فان شراح الهداية وغير هم صرحوابو جوب العشر فی کل الخارج (دررالحکام ج۱ ص۱۸۷)ولاتحسب اجرة العمال ونفقة البقر وکری الانهار واجرة الحافظ وغیرذلک فیجب اخراج الواجب من جميع ماا خرجته الارض عشرا اونصفا کذافی البحر الرائق(الفتاوی الهندية ج۱ص۱۸۷ ط دارالاشاعة قندهار) قال رحمه الله (لاترفع المؤن ای فی کل ماا خرجته الارض لاتحتسب اجرة العمال ونفقة البقروکری الانهارواجرة الحافظ وغير ذلک (تبيين الحقائق ج۲ ص ایچ ایم سعید) وهکذافی فتح القدیرج۲ ص۱۹۴) والله اعلم بالصواب.



احمد نوری عفی عنه العبدالاحقر نذ احمد الحقانی مولوی محمود میوندوال مولوی مفتی نورمحمد ثاقب

عشردمصارفوتراخراجولووروسته وی که مخکې؟

دافغانستان دعلماء دشوری ددارالافتاء عالی مقام ته السلام علیکم ورحمة الله وبعد محترمه ازه ملاجمعه خان دقشله جدید په مجبورآ باد کی ملایم دمحل خلک ټول دولتی کارکوونکی او په دولتی مځکه پراته دی اوهم کومی زراعتی مځکی چې کری هغه هم دولتی دی نوکله چې دزکاة مسئله مابین ته سی دوی لومړی ټول مصارف څنې وباسی بیا دپاته مبلغ زکاة باسی نو پوښتنه داده چې زکاة باید دسره څخه ویستل سی او که د

مصارفو ځخه وروسته هیله ده معلومات راته راکړی والسلام -(المستفتی ملا جمعه خان)

بسم الرحمن الرحیم

الجواب ومنه التوفیق علی الصواب

هرکله چې عشرورکول کیږی نو مصارف به نه ځنی ایسته کیږی بلکه دټوله کښت ځخه به عشرورکول کیږی: (بلارفع مؤن)

ای کلف (الزرع) وبلا اخراج البذر لتصریحهم بالعشر فی کل الخارج (الدر المختار بهامش ردالمحتارج۲ ص ۵۶ ط رشیدیه کوئته) ولا تحتسب اجرة العمال ونفقة البقر وکری الانهار واجرة الحافظ وغیر ذلک فیجب اخراج الواجب من جمیع ما اخرجته الارض عشر اونصفا کذافی البحر الرائق (الفتاوی الهندیة ج۱ ص۱۸۷)وهکذا فی الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۱ص۱۰ط مکتبه حبیبیه کوئته)

په دولتی مځکوکی چې دولت پخپله کرلی وی اوپه اجاره یې نه وی ورکړی عشرسته اوکه یې په اجاره ورکړی وی نو په هغه کی اجرة دی چې دغه اجرة په حق کی دامام خراج دی

وکذا ملک الارض لیس بشرط للوجوب لوجوبه فی الاراضی الموقوفة (الفتاوی الهندیة ج۱ ص۱۸۵ ط دارالاشاعة قندهار) نعم قدتقرران اراضی بیت المال یسلک بها مسالک ارض الوقف خیریة من العشرو الخراج (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص ۱۱۰ ط مکتبه حبیبیه کوئته) واستدل علی اثبات العشر فی اراضی الدولة فی (ردالمحتار ج۳ ص۲۷۹ ط رشیدیه کوئته)بدلائل کثیرة وفی التتارخانیة السلطان اذادفع اراضی لا مالک لها وهی التی تسمی الاراضی المملکة الی قوم لیعطو الخراج جازوطریق الجواز احد شیئین اما اقامتهم مقام الملاک فی الزراعة واعطاء الخراج اوالاجارة بقدر الخراج ویکون الماخوذ منهم خراجا فی حق الامام اجرة فی حقهم... آه(ردالمحتار ج۲ ص۶۰ ط رشیدیه پاکستان)والله اعلم وعلمه اتم واکمل

مولوی احمدنوری عفی عنه مولوی ندامحمد الحقانی

خراج له مصارفو ځخه مځکي وی

که وروسته اودبزگرلپاره له خراج ځخه پرته ځه شئ شته اوکنه


جناب محترم رئیس صاحب دارلافتاء دتحریک مقدس ترکنترول لاندی په اکثره ولایاتو کی دهندوانو مځکی باغونه جایدادونه وجود لری چې د نومړو دحاصلاتو ځخه د مقاسمی خراج اخستل کیږی هغه مځکی چې مسلمانانو په اجاره ځنی اخیستی وی اویا بزگرانوته ورکړه سوی وی اوپه زرولکونو افغانی مصارف ئ په روزنه کی لگیدلی وی خراج دعشر په قیاس دټولو مصارفو مقدم یاځنگه اجراء ات تر سره کړو مفصل واضح

شرعی امر ته انتظار لیدل کیږی همد غه رنګه دبزګر دحصی په هکله معلومات غوارو
چې څه شی ځنی علاوه ورځخه اخستل کیږی که څنګه ؟
(المستفتی ملاحمید الله اخند مسئول عشروزکوة)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الملک العلی الاعلی
داولی پوښتنی په جواب کی به موږ داوو ایو په کومک دلوی اوتوانا خدای جل جلا له
سره چې خراج مقاسمه کوم چې تاسو په استفتاء کی ذکر کړي دی دا په ټولو احکاموکی
په مثل د عشر دی نو عشر خو مقدم دی ترټو لو مصارفو نو خراج مذکور په استفتاء کی
هم مقدم دی ترټو لو مصارفو لیکن په یو څو احکاموکی مخالف دی دعشر څخه یودا چې
مصارف دخراج مغایردی دمصارف دعشر څخه بل دا چې حصص دخراج مفوض دی رای
دامام المسلمین لره او حصص دعشر شرعی دی تعلق په شریعت پوری لری لکه شارع ئ
تعین کړي دی چې هغه عشر اونصف عشردی اوبل دا چې امام اونائب د ده لره جائزدی
چې خراج معاف کړی ولی په شرط د دی خبری چې دامعاف کړی سوی به داهل څخه
دمصرف دخراج وی اوکه مصرف نه وی نوبیادی خیرات کړی او په عشر کی هیڅ چا لره
داحق نه دي حاصل چې معاف کړی.
قال الخیرالرملی خراج المقاسمة کالموظف مصرفا وکالعشر مأخذالافرق فیه بین الرطاب والزرع والکرم ونخل المتصل وغیره فیقسم الجمیع علی حسب ما تطیق الارض من النصف اوالثلث اوالربع اوالخمس وقد تقرران خراج المقاسمة کالعشر لتعلقه بالخارج ولذ ایتکرر بتکرر الخارج فی السنة وایضاً یفارقه فی المصرف فکل شئ یؤخذ منه العشر اونصفه یو خذمنه خراج المقاسمة وتجری الاحکام التی قررت فی العشر وفاقاوخلافا ردالمحتار ج۳ص۲۸۴ وهکذا فی الاختیار لتعلیل المختار ج۴ص۱۴۴ وهکذا فی حاشیة الطحطاوی ج۲ ص۴۶۵ ط دارالمعرفت بیروت)وتقدیره مفوض الی رای الا مام ردالمحتا ر ج۴ ص۱۸۴) (ترک السلطان) اونائبه (الخراج لرب الا رض) بان اخذه منه ثم اعطاه ایاه جاز عند الثانی وحل له لو مصرفا والاتصدق به به یفتی الخ(الدرالمختار علی ها مش رد المحتار ج۳ ص۲۸۹ ط رشیدیه کوئته)
ددوهمی پو ښتنی په جواب کی داویل کیږی چې دبزګرد حصی دخراج څخه علاوه بل
شی نه اخستل کیږی بس هم دغه دخراج حصه ورلره کا فی کیږی

(ولايؤخذ العشر من الخارج من ارض الخراج) لانهما لايجتمعان خلا فا لشا فعی الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۲۸۹ والله اعلم وعلمه اتم



مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی محمود میوندوال مولوی نور محمد ثاقب رئیس عمومی دار الافتاء مرکزی امارت اسلامی افغانستان

دموټرانو پرترميم اوتيلو اونوروارتيا ودعشر مصرفول څه حکم لري

پو ښتنه څه وايي علماء ددين مبين اومفتيان ددار الافتاء

هغه عشر ونه چې راجمع شي بياځ عاملين اوعا شرين پرهغو شـانو لکه موټر ان اوموټرسي کلان مصرف کولاشي چې هغه په ترميم شي اوکه څنګه ؟اوخريداری دروغنياتود موټرانو په کولاشي اوکه نه؟ اودغه عاملين دخپلو احتيا جاتو په لحاظ په خپلو اوطا قو کښې مصرف ځيني کولاشي اوکه نه؟اوپه دغه عشر وباندی بغيرد عاملينو دحکومت نور موظفين موټران په رانيو لای شي او که نه بينوا وتوجروا

(ملاحميد الله مسئول عمومی عشروزکوة)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب وهو ملهم الصواب:

مصرف دعشر عين مصرف د زکوة ده چې په مصرف کښې به هم فقروی اوهم قبض اود موټرانو اوموټرسيکلانو په رانيولواوياد هغه په ترميم کولو کښی اويادروغنياتو په رانيولو کښی اويادنور وفوجی وسائلو په رانيو لو کښی قبض نشته لهذا عشر پدی شيانو خرج کول درست نه ده اوداشيان مصالح دمؤمنينودی چې په دی کښی صلاح دمؤمنينوده او په کو مو شيانو کی چې صلاح دمؤمنينوی په هغو شيانو مصرف اوخرج دخراج اوجزية څخه کيږی نو څکه پکارده چې په دی ذکر شووشيانو کښی دبيت المال دخراج اوجزية څخه رقم خرج شي البته که رقم دخراج اودجزيه موجود نه وی نوامام له عشر څخه قرض ورکولاشي چی خرج شي په دغه شيانو خودقرض اد اضروری دی او عاملين او عاشرين که څه هم اغنياء وی بياهم دوی خرج کولای شی دعشر اوزکوة څخه په

قدرد كفاية اودعمل(متوسط مقدار) چې كافي كيږي دد وى اود اعوانوددوى دپاره په موده دتلواوراتلو كنبى اوحرام د ه پردوى اتباع دخواهشاتو په خوراكونو كنبى اوپه څښلوكنبى اوپه لباس كى څكه دامحض اسراف ده اوپه امام باندى ضرورى ده چې داسى اشخاص راه انتخاب كوى ددى كارد پاره چې راضى كيږى په متو سط مقدار بدون داسراف اودتقتير څخه پهٔ الدر المختار على هامش ردالمحتارج٣ص٣٠٢ ط رشيديه كوئته)كښى په بيان دمصرف دخراج اودجزيه كښى ليكلى دى:

(مصالحنا كسد ثغور وبناء قنطرة وجسر وكفاية العلماء)وبه يدخل طلبة العلم فتح(والقضاةالعمال) ككتبة قضاة وشهود قسمة ورقباءسواحل (ورزق المقاتلة وذرار يهم)الخ

او په الفتاوى الهند يةج١ ص١٩٠ ط دار الاشاعة العربية قندهار) كى ليكلى دى:

والثالث الخراج والجزية وماصولح عليه بنونجران من الحلل وبنوتغلب من الصدقة المضاعفة ومااخذه العاشر من المستأمنين وتجار اهل الذمة كذافى السراج الوهاج وتصرف تلك الى عطايا المقاتلة وسدالثغور وبناء الحصون ثمة والى مراصدالطريق فى دار الاسلام حتى يقع الامن عن قطع اللصوص الطرق والى اصلاح القناطر والجسور كذا فى محيط السرخسى والى كرى الانهار العظام التي لاملك لاحد فيها كالجيحون والفرات ودجلة كذافى شرح الطحاوى والى بناء الرباطات والمساجد وسد البثق (معناه كسرشط النهر) وتحصين مايخاف عليه البثق والى ارزاق الولاة وأعوانهم والقضاة والمفتين والمحتسبين كذافى محيط السرخسى والمعلمين والمتعلمين كذافى السراج الوهاج ويصرف الى كل من تقلد شيئا من امور المسلمين والى مافيه صلاح المؤمنين كذافى محيط السرخسى) وقال الشرنبلا لى فى رسالته ذكروانه يجب عليه ان يجعل لكل نوع منهابيتا يخصه ولا يخلط بعضه ببعض وانه اذااحتاج الى مصرف خزانة وليس فيها ما يفى به يستقر ض من خزانة غيرها ثم اذا حصل للتى استقر ض لها مال يرد الى المستقرض منها الا ان يكون المصروف من الصدقات اوخمس الغنا ثم على اهل الخراج وهم فقراء فانه لايرد شيئا لاستحقا قهم للصد قات بالفقروكذا فى غيره اذاصرفه الى المستحق اه ردالمحتار ج٢ ص٦٣ ط رشيديه كوئته)

اودغه اخيرى بيان په الفتاوى الهندية ج١ص١٩١ كښى اوپه البحر الرائق ج٥ ص ٢٠٠ ط رشيديه كوئته) كښى هم ذكرشوى ده:

(قوله والعامل) تقدم تفسيره فى باب العاشر وعبر بالعامل دون العاشر ليشمل الساعى ايضا وقد

منا الفرق بینهما مایکفیه واعو انه بالوسط مدة ذهابهم وایا بهم مادام المال باقیا الا اذا ستغرقت کفایته الز کاة فلایزاد علی النصف لان التنصیف عین الا نصاف قید نابا لوسط لانه لایجوز له ان یتبع شهو ة فی المأ کل والمشرب والملبس لانها حرام لکونها اسرافا محضا وعلی الامام ان یبعث من یر ضی بالوسط من غیر اسراف ولاتقتیر کذافی غایة البیان البحرالرائق ج۲ ص ۴۲۰ ط رشیدیه) (بقدر عمله)مایکفیه واعوانه بالوسط لکن لا یزاد علی نصف ما یقبضه (قوله مایکفیه واعوانه) بیان لقوله بقدر عمله وقد منا انه یعطی مالم یهلک المال والا بطلت عمالته ولایعطی من بیت المال شیئا کما فی البحر الخ (قوله بالوسط) فیحرم ان یتبع شهوته فی المأ کل والمشرب لانه اسراف محض وعلی الامام ان یبعث من یر ضی بالوسط بحر (قوله لکن الخ) ای لواستغرقت کفا یته الزکاة لایزاد علی النصف لان التنصیف عین الانصاف (الدرالمختار ورد المحتار ج۲ص۶۵ ط رشیدیه سرکی رو دکوئته -

مفتی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی

په فقیر دعشر قبض کول اوبیاور څیني

اخستل جائزدی اوکنه اوفقیر که ټینګ شي عشر ځان ته راوکر ځوی نوځه حکم لر ی؟

پوښتنه محترم رئیس صاحب دارالافتاء السلام علیکم

محترم موږدیو مدرسې دپاره عشر ټولوی په امردلوی ملاصاحب نودعشر ورکو نکو دغاړی خلا صید و لپا ره موږ داحیله کوله چې یونفر باندی به موقبض کړی هغه به بیا مدرسی ته ورو بخښی آیا په دغه حیله سره دهغو غاړي خلاصیږی او که یا ؟ اوکه دغه کس پردغه عشرټینګ سی آیاحق دغه عامل لره سته چې جبرا ځنی واخلی اوکه یا ؟

(استفتاءازجانب منسوبین مدرسه ناحیه کرز ولایت قندهار)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب حامداومصلیا حیله دمصرف کولو دزکاة په مسجد باندی اویادمدرسی جوړولو اوپل جوړ ولو باندی دارنګه ده چې زکوة به اول وار په یو مسکین قبض کړی بیاکه مسکین په مسجد او یا په مدرسه مصرف کړل صرف کیدل ئ جوازلری په زورد مسکین ځخه ځوک نسی اخستلای اوثواب ئې دمسکین کیږی ثواب داصلی مالک نه کیږی اوغاړی داصل مالک په خپل زکاة سره خلاصی دی؛

هکذا فی الفتاوی الهندیة ج۶ص۳۹۲ وکذالک فی جمیع ابواب البرالتی لایقع بها التملیک کعمارة

المسجدو بناء القناطر والرباطات لايجوزصرف الزكاة الى هذه الوجوه والحيلة له ان يتصدق بمقدارزكاته على فقير ثم يأمره بعدذلك بالصرف والى هذه الوجوه فيكون للمتصدق ثواب الصدقة ولذلك الفقير ثواب بناء المسجد والله اعلم وعلمه أتم



مولوی نذیر احمد مولوی حقانی احمد نوری مفتی مدرسه مولوی محمود میوندوال مولوی مفتی نور محمد ثاقب رئیس عمومی دارالافتاء مرکزی

كتاب الصوم

په رؤيت الهلال كي راډيوته اعتبار سته او كنه

پوښتنه: محترم رئیس صاحب دارالافتاء واعضای شان السلام علیکم ورحمة الله محترما رؤیت هلال رمضان ویا عید باخبار راډیو اعتبار ستیلا؟


بینو أتو جروا بالاحترام

المستفتی برادر شماعبدالواحد

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

خلاصة الجواب دسعودي درادیو یانورو اسلامی مملکتونودرادیوګانو په اعلان سره مونږ کولای شو چې ملت ته دروژی خبرور کړو لکن په مراعاة دغو شرائطو سره یودا چې دغه اعلان اوخبردهغه مملکت به په فیصله دعلماء دهغه مملکت وی اوبل دا چې نشر کونکی به ثقه او معتمد خلق وی یعنی دغه نشرکونکی به بی احتیاط اوبی باکه کسان نه وی اوبل دا چې ددغه مذکوره شرائطو پوره تحقیق اوتفتیش به مخ کی (پخوا) ترقبول اوعمل داعلان وی داځکه چې دشرائطو پوره پوره معلومات وشی امداد المفتین ص ۴۷۷ لکن داختر په باره کی دیوی راډیو په اعلا ن سره اکتفاء نه کیږی تر څو پوری چې لس شلو یعنی ډیرو راډیوګانو اعلان نه وی کړی دمختلف استیشنونو څخه ځکه چې دډیرو راډیوګانو اعلانونه په نزد دعلماء ددیو بند په خبر مستفیض کښی داخل دی او په خبر مستفیض سره ساقطیږی شرائط دشهادت چې هغه شرط دی په لیدلو دمیاشتی داخترکی خو په دی شرط چې دمملکت یاښهر مفتی اوقاضی دغه خبر مستفیض تسلیم کړی صرف دعوامو فیصله نوی امداد المفتین ص ۴۷۸ والله اعلم



مولوی نور محمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

درادیوپه اعلان اودجنتری په حساب روژه نیول څه حکم لری

د افغانستان داسلامی دولت ددار الافتاء ریاست السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
څرنګه چې دروژې مبارکه میاشت راروانه ده موږ غواړو چې په لنډوالفاظوسره ستاسو
څخه استفتاء وکړو ۱دسعودی درادیو په اعلان سره موږکولای سوچې خپل ملت ته
دروژې خبرور کړو ۲ چونکه بعض خلق دجنتری دحسابه یاداحتیاط له کبله روژه نیسی
حکم ئ څه شی دی هغه صحیح قوی حکم که موږته لطفا روښانه کړی څوموږبې
هیوادوالو ته په لنډو الفاظو کښی نشر کړو والسلام -
(مولوی سالمی رئیس حج واوقاف ۱۳۷۵۱۱۰۱۱۸)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الملک الوهاب
(۱)دسعودی درادیو یانورو اسلامی مملکتونو درادیو ګانو په اعلان سره موږ کولای شو
چې ملت ته دروژې خبرورکړو لکن په مراعات دځو شرائطوسره یو داچې دغه اعلان او
خبردهغه مملکت به په فیصله دعلماء دهغه مملکت وی اوبل داچې نشرکونکی به ثقه
اومعتمد خلق وی یعنی دغه نشرکونکی به بی احتیاط اوبی باکه کسان نوی اوبل دا چې
ددغه مذکوره شرائطو تحقیق اوتفتیش به مخ کی(پخوا)ترقبول اوعمل داعلان وی
داځکه چې دشرائطو پوره پوره معلومات وشی په امداد المفتین ص ۴۷۷ کښی لیکلی:
ہلال رمضان کی بارے میں جب تصریحات فقہاء مطلع غبار آلود ہونے کی صورت میں صرف ایک ثقہ اور معتبر صادق
کی خبر ثبوت کی لئے کافی ہے باقاعدہ شہادت شرعیہ اوراس کی جملہ شرائط ضروری نہیں اس لئے ہلال رمضان کی عام
روئت کی خبر یا کسی باقاعدہ قاضی مفتی کی سامنے شہادت گزرنے اوراس کی فیصلہ دینے کی اطلاع اگر کسی ریڈیو میں
علماء کی فیصلہ کی مطابق ثقہ لوگوں کی انتظام سے نشر کیجائیں جس میں مغالطہ دور ہی احتیاطی کا خطرہ نہ رہے

تو دوسری شہروں میں جہاں یہ خبر سنی جائی اس کا قبول کرنا اور اس خبر ثقہ کی بناء پر اپنی بستی میں روزہ کا اعلان کرنا جائز ہے لیکن اس پر عمل کرنی اور قبول کرنی سی پہلی اس کی تحقیق ضروری ہے کہ جن نشرگاہوں سی یہ خبر نشر ہوئی تھی وہاں اس کا معقول انتظام ہے کہ بدون علماء کہ فیصلہ کی کوئی خبر ہلال کی متعلق نشر نہیں کی جاتی اور جبتک اس کی تحقیق نہو ہلال رمضان میں بھی اس کا قبول کرنا درست نہیں (۱)۔

(رویت ہلال میں ریڈیائی خبروں کی شرعی حیثیت) اس کے متعلق جو فتوی میری رسالہ کشف الظنون میں چھپا ہوا ہے وہ ہی صحیح اور معمول بہ ہے ہلال رمضان کی خبر میں چونکہ شہادت شرط نہیں اس لے جس جگہ خبر دینے والی کی آواز پہچانی جائے اور اس کا ثقہ ہونا معلوم ہو یا کسی ریڈیو اسٹیشن کی متعلق یقینی ذرائع سے یہ معلوم ہو کہ اس میں خبر ہلال کی اشاعت علماء کے فتوی او اشرعی ضوابط کے مطابق نشر کی جاتی ہے تو دوشرے شہروں میں اس عمل جائز ہے (۲)۔

امداد المفتین ص۴۷۸ (بحث ریڈیو) ہاں اگر عام رویت ہلال یا کسی قاضی مفتی کے سامنے شہادت گزرنے اور اس کے فیصلہ کی اطلاع مختلف شہروں اور مختلف اطراف کے دس بیس ریڈیو نشرگاہوں سے آجائی تو اصطلاح فقہاء میں یہ خبر مستفیض ہو جائے گی جس میں شرائط شہادت ساقط ہو جاتی ہیں ایسی صورت میں ہلال رمضان وہلال

---

(۱) ترجمہ دروژی دمیاشتی پہ اړه دفقہاء دخر گندونی سره سم کہ پر آسمان گرزوی نو یواځی دیوہ ثقہ او د معتبر صادق خبر دثبوت کفایت کوی باقاعدہ شرعی شہادت او دھغہ ټول شرطونہ ضروری نہ دی خکہ دروژی دمیاشتی دعام رویت خبر یا د کوم باقاعدہ قاضی مفتی ومختہ دشاهدی تیریدو او دهغه دفیصلہ کولو خبر تیاکہ پہ کومہ رادیو کی دعلماء دفیصلی سره سم دثقہ خلکو پہ انتظام خپره شی چی پکی دمغالطی او دبی احتیاطی خطر نہ وی نو پہ نورو ښارو نو کی چیری چي داخبر واوریدل شی ددی قبلول او ددی ثقہ خبر پہ وجہ پخپل کلی کي دروژی اعلان کول جائزدی خولہ عملی کولو او قبلولو مخکی ددی تحقیق ضروری دی چي دخپرونی لہ کومو ځایونو چی داخبر خپور شوی دی هلتہ ددی معقول انتظام شتہ چی بی دعلماءلہ فیصلی هیڅ خبر دمیاشتی پہ اړه نہ خپریږی او ترڅو چی ددی تحقیق نہ وی دروژی دمیاشتی پہ اړه هم ددی قبلول صحیح نہ دی (مرتب)

(۲) (دمیاشتی پہ لیدنہ کی دخبرونو شرعی حیثیت) ددی پہ اړه چي کومہ فتوی زما پہ رسالہ کشف الظنون کی چاپ شوی دہ هغه صحیح او معمول بہ دہ دروژی دمیاشتی پہ خبر کی خو شہادت شرط نہ دی خکہ کوم ځای چی دخبر ورکونکی آواز ور ورسیږی او دهغه ثقہ والی معلوم وی یا دکوم رادیو استیشن پہ اړه پہ یقینی وسیلو دامعلوم وی چی پہ هغه کي دمیاشتی دخبر خپرونہ دعلماء دفتوی او دشرعی دقاعدو سره سم کیږی نو پہ نورو ښارونو کي پہ دی عمل کول جائزدی لیکن داختر پہ بارہ کی دیوی رادیو پہ اعلان سره اکتفاء نہ کیږی ترڅو پوی چی لس شلو یعنی ډیرو ادیوگانو اعلانونہ نہ وي کړي دمختلفو استیشنو خخہ خکہ چې دډیرو رادیوگانو اعلانونہ پہ نیز د دعلماء دیوبند پہ خبر مستفیض کی داخل دی او پہ خبر مستفیض سره ساقطیږی شرائط دشہادت چی هغه شرط دی پہ لیدلو دمیاشتی داختر کی خو پہ دی شرط چی دمملکت یا ښهر مفتی او قاضی دغه خبر مستفیض تسلیم کړی صرف دعوامو فیصلہ نہ وی

عیدین دونوں میں ریڈیو کی خبر پر عمل او اس کے مطابق روزہ رکھنا یا افطار کرنا درست ہوگا بشرطیکہ مفتی قاضی اس چیز پر خبر مستفیض تسلیم کرلیں عوام خود اس کا فیصلہ نہ کری قال شمس الائمة الحلوانی الصحیح من مذهب اصحا بنا ان الخبر اذ استفاض وتحقق فیما بین اهل البلدة الاخری یلزمهم حکم هذه البلدة انتهی آه رسائل ابن عابدین ص۲۰۲ ج۱ (*)

دجنتری دحسابه روژه نیول او ماتول جائز او رواندی جنتری لره هیڅ اعتبار په شرع شریف کی نشته په (الدر المختار ج ۲ ص ۱۰۰ ط رشیدیه) کښی راغلی دی:

ولا عبرة بقول الموقتین ولو عدولا علی المذهب قال فی الوهبانیة وقول اولی التوقیت لیس بموجب وقیل نعم والبعض ان کان یکثر آه په ردالمحتار ج۲ ص۱۰۰ رشیدیه کی دی بل فی المعراج لایعتبر قولهم بالا جماع ولایجوز للمنجم ان یعمل بحساب نفسه وفی النهر فلا یلزم بقول الموقتین انه ای الهلال یکون فی السماء لیلة کذاوان کانوا عدولا فی الصحیح کمافی الایضاح په مجموعة الرسائل لابن عابدین ج۱ ص۲۵۳ کی ذکر دی وانه لایعتمد علی مایخبر به اهل المیقات والحساب والتنجیم لمخالفته شریعة نبیناعلیه افضل الصلوة والتسلیم-

په فتاوی دار العلوم دیوبند کلان ج۶ ص۳۷۹ کی لیکلی دی:

اور جنتری اور تار پر اعتبار نہ کرنا چاہئے (۲) دروژی په باره کی به داووایو چې دشک په ورځ روژه نیول کوم ممانعت نه لری رواده که په قصد او نیت جزما دنفلو سره او بی دتردد څخه او بی دنیت دماسوی دنفلو څخه وی بلکه په بعض اوقاتو کی لا مستحب ګرځی روژه نیول په نیت دخالص نفلو سره چې په دغه ورځ موافق شی دده دعادت سره او مراد دخواصو څخه چې فقهاء رحمهم الله ذکر کړی دی هغه څوک دی چې پوهیږی په کیفیت دیوم الشک باندی او که نه پوهیده هغه دجملی دعوامو څخه دی.

په الفقه علی المذاهب الاربعة ج۱ ص۵۵۳ ط داراحیاء التراث بیروت) کښې لیکلی دی:

وینو ب صومه بنیة التطوع ان وافق الیوم الذی اعتا د صومه ولاباس بصیامه بهذه النیة وان لم

(*) ژباره: (ډیری رادیو ګانی) هو که عام رویت دهلال یادکوم قاضی مفتی ومخته دشهادت تیر یدو او دهغه دفیصلی خبر تیا له مختلفو ښارونو او دبیلا بیلولورو لسو شلو رادیو ګانوله خپرونی خا یو نو څخه راشی نودفقهاء په اصطلاح داخبر مستفیض ګرځی چې پکی دشهادت شرطونه ساقطیږی په داسې صورت کی درمضان او اخترانو په میاشته په دوارو کی درادیو په خبر عمل اوله هغه سره سم روژه نیو ل او ماتول صحیح کیږی په دی شرط چې مفتی قاضی پردی شئ خبر مستفیض تسلیم کړی عوام پخپله ددی فیصله ونکړی (مرتب) (۲) ترجمه: په جنتری او تار باور نه دی کول پکار

يوافق عادته ويكون صومه باطلا إذاصامه متردداً بين الصوم والافطار الخ اوپه الدر المختار على هامش ردالمحتار (ج٢ ص٩٥ ط رشيديه كوټټه) كښې ذكردي (ولايصام يوم الشک)هو يوم الثلاثين من شعبان وان لم يكن علة اى على القول بعدم اعتبار اختلاف المطالع لجواز تحقق الروية فى بلدة اخرى واما على مقابله فليس بشک ولايصام اصلاشرح المجمع للعينى عن الزاهدى (الا نفلا)ويكره غيره.

او په(ج٢ ص٩٧)كښي راغلي دى

و(كل من علم كيفية صوم الشک فهو من الخواص والافمن العوام والنية) المعتبرة هنا ان ينوى التطوع على سبيل الجزم الخ

اوپه فتاوى دارلعلوم ديوبند كلان ج ٦ ص٣٩٧ كښى راغلى دى:

اوراگر محض به نيت نفل رکھے تو درست ہے بہر حال اگرچاند کی خبر آگئی تو وه روزه رمضان شریف کا ہو جاوے گا(*)

او په طحطاوى على مراقى الفلاح ص٥٣٤ ط مكتبه انصاريه هرات افغانستنان كښى ليكلى دى:

(وكره فيه) اى يوم الشک (كل صوم) من فرض وواجب وصوم ردد فيه بين نفل وواجب(الا صوم نفل جزم به بلاترديدبينه وبين صوم آخر الخ)

داچې ديو مملكت او ښار رويت په بل مملكت اوښار كې معتبربږى نژدى وى اوكه ليرى وى بنادى پر مذهب دجمهور علماء چې هغه مذهب مختار او مفتى به دى هغه داچې اختلاف دمطالع لره اعتبارنشته-

په الفقه على المذاهب الاربعة ج١ ص٥٥٠ داراحياء التراث بيروت كښى راغلى دى:

اذاثبت روية الهلال بقطر من الاقطار وجب الصوم على سائر الاقطار لافرق بين القريب من جهة الثبوت والبعيد اذا بلغهم من طريق موجب للصوم ولاعبرة باختلاف مطلع الهلال مطلقا عند ثلاثة من الائمة وخالف الشافعية فانظر مذهبهم تحت الخط

(١) اوپه الفقه الا سلامى ج ٣ ص ١٦٥٧ ط رشيديه كوټټه)كښى رغلى دى:

المطلب الثالث اختلاف المطالع اختلف الفقهاء على رأيين فى وجوب الصوم وعدم وجوبه (١) على جميع المسلمين فى المشارق والمغارب فى وقت واحد بحسب القول باتفاق مطالع القمر اواختلاف المطالع ففى رأى الجمهور يوحد الصوم بين المسلمين ولاعبرة باختلاف المطالع –

(*)ژباړه: اوكه صرف دنفلو په نيت ونيسى نو صحيح دى په هر حال كه دمياشتى خبر راغلى نو داروژه درمضان دمياشتى گرځى-

اوپه ج ۳ ص ۱۲۵۸ کښې دی:

قال الحنفية اختلاف المطالع ورؤية الهلال نهارا قبل الزوال وبعده غير معتبر على ظاهر المذهب وعليه اكثر المشايخ وعليه الفتوى فيلزم اهل المشرق برؤية اهل المغرب اذاثبت عندهم رؤية اولئك بطريق موجب كأن يتحمل اثنان الشهادة اويشهد اعلى حكم القاضي اويستفيض الخبر بخلاف ماااذاخبر اهل بلدة كذا رأوه لانه حكاية۔

اوپه عزيز الفتاوى ص ۳۷۲ کښې ليکلي دی:

اور یہ بھی مسلم ہے کہ صحیح اور مختار مذہب کے موافق اختلاف مطالع صوم وفطر میں معتبر نہیں اہل مغرب کی رؤیت سے اہل مشرق پر حکم ہوجاتا ہے اور جبکہ معتبر وراجح اور ظاہر الروایت ومفتی بہ عدم اعتبار اختلاف مطالع ہے تو پھر اس میں بحث کرنا ھم مقلدین کے لئے بے موقع ہے کیونکہ فقہاء محققین کی توضیح اس کے بارہ میں ہمارے لئے کافی حجت ہے (**) الخ

اوپه اعلاء السنن ج ۷ ص ۲۸۴۲ ط دار الفكر بيروت کښې ذکر دی:

وفي الدر المختار واختلاف المطالع ورؤيته نهار اقبل الزوال وبعده غير معتبر على ظاهر المذهب وعليه اكثر المشايخ وعليه الفتوى بحر عن الخلاصة (۲:۱۵۲ الدر المختار مع ردالمحتار۔

اوپه فتاوى دار العلوم ديوبند کلان ج ۶ ص ۳۸۵ کښې راغلي دی:

عند الحنفیہ اختلاف مطالع کا اعتبار نہیں ہے اہل مشرق کی رؤیت اہل مغرب کے لئے لازم ہو جاتے ہے وبرعکس اگر بطریق معتبر ثابت ہو جاوی (***)

(۲) کذافي الشامي الخ اوپه طحطاوي على مراقي الفلاح ص ۵۴۰ ط مکتبه انصاریه هرات کښې ویلي دي (واذاثبت) الهلال (في) بلدة وى (مطلع قطر) ها(لزم سائر الناس في ظاهر المذهب وعليه الفتوى) وهوقول اكثر المشايخ –والله اعلم وعلمه اتم

(**) او همدغه خبره منل شوی ده چي دصحيح او مختار مذهب سره سم اختلاف دمطلع په صوم او فطر کي معتبر نه دی دغرب والو په رؤيت وشرق والو ته حکم متوجه کيږي او کله چي معتبر او راجح ظاهر الرواية اومفتى به دمطالع داختلاف اعتبار نشته نو بيا په دی کې بحث کول زمونږ مقلد ينو لپاره بې ځا يه دی ځکه چي دمحققينو فقهاؤ څرګندونه ددی په اره زمونږلپاره کافي حجت دی (مرتب)

(***) ژباره: داحنافو په نزدد مطالع داختلاف اعتبار نشته داهل مشرق رؤيت داهل مغرب لپاره لاز ميږي اوددی برعکس که په معتبره طريقه ثابت شي (مرتب)



مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان مولوی محمد اخلاص برکتی، مولوی عبدالحکیم، مولوی نذاحمد اسحاقی

پیلوټانو ته دپرواز پر مهال روژه ماتول څه حکم لري؟

پوښتنه: جناب محترم مولوی صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

صحت مود لوی خدای ﷻ ددربارڅخه غواړم هیله کوم دلاندې موضوع شرعی مسئله راته بیان کړی - څرنګه چې دافغانستان داسلامی حکومت دهوایی قواوو پیلوټان چې دجهاد په صف کښې ولاړدی دپر وازمعین وخت یې نه دي معلوم هردم امکان ددی شته چې ددولت دښمنان د مجاهد ینو پر صفونو باندی حمله وکړ ی اوهوای فوځ باید خپله وظیفه اجراء کړی او د شرعی اولی الامردخواورته دپرواز امر کیږی اودجسمانی امکاناتو او دمسلکی طبی ډ اکترانو دخوادوږی نس پرواز اویادهغه پیلوټ پرواز چې دسګریټو اونسواروعمل ولری اوروژه یې وی امکانات یې ډیر سته چې طیاره سقوط وکړی اوطیاره اوپیلوټ اومسافرین یې دمینځه ولاړشی هیله کوم شرعی مسئله یې راته توضیح کړی والسلام -

(دهوایي قواوو قومندان برید جنرال غلام جیلانی پیلوټ)

بسم الله الرحمن الحیم

الجواب بعون الملک الوهاب

اوسنی حالت جنګی حالت ده مثلا اوس دجدی میاشت سنه ۱۳۷۵ هش ده اوبالفعل او یقینی جنګ اوجهاددمفسدینو سره جاری ده بالخصوص په دوه محاذ ونو کښی چې یو محاذ دکابل شمال اوبل محاذ دباد غیس اوفاریاب سر حدات دی اوجهاد چې بالفعل اویقینی وی دروژي پر ینښودل روادی چې دجهاددپاره قوي وی اوبیائي قضائي راوړی په بل وقت کښی اوبالخصوص دهوائي قوی خوډیرلوی رول ده په جهاد کښی اوهرپرواز

چې کیږي دمخه دپیلوټ ځان مړولو ته او خوراک کولو ته سخت ضرورت ده او که خوراک ونکړي د یر خطر ددي ده چې طیاره سقوط وکړي اوطیاره اوپیلو ټ اوورسره نور- دمینځه ولاړشي اوداشوي هم دی نوهغه پیلو ټان چې هغوي وظیفه داروي یعنی دهغوي دوظیفی نو بت وی په ورځو درمضان کښې باک نشته چې روژه پریږدي اوبیا ئ قضائ راوړي بل وقت خو کوشش داپکارده چې خوراک خفیه(پټه) طریقه سره وکړي:

الغازی اذاعلم انه یقاتل العدو فی رمضان وهو یخاف الضعف فله ان یفطر کذافی محیط السرخسی فان لم یتفق القتال فلاکفارة علیه لان فی القتال یحتاج الی تقدیم الافطار لیتقوی ولاکذلک المرض هکذافی الظهیریة فی المقطعات(الفتاوی الهندیة ج۱ ص۲۰۸ ط دار الاشاعة العربیه قندهار)

وکذاالرجل اذاکان بازاء العدو هو یخاف الضعف علی نفسه فله ان یفطر مقیماکان اومسافرا(فتاوی قاضیخان علی هامش الهندیة ج۱ص۲۰۲ ط دارالاشاعة العربیه قندهار) فالجهاد ولو بدون سفر سبب من اسباب اباحة الفطر للتقوی علی لقاء العدو وعملا بالثابت فی السنة عام فتح مکة (الفقه الاسلامی وادلته ج ۳ ص ۱۶۹۹ ط رشیدیه کوټه)

اوبل دوی مکلف دی دحکومت لخوا په دی کار او حال داچې دروژی سره خشیة دهلاک ده په دی کار کی :

وکذا الذی ذهب به موکل السلطان الی العمارة فی الایام الحارة اذا خشی الهلاک اونقصان العقل کذا فی فتح القدیر الفتاوی الهندیة ج۱ص۲۰۷ ومثله فی البحر الرائق ج ۲ص ۴۹۲ ط رشیدیه کوټه

اوبل دا دچاچې دداسی تکلیف نوبت وی چې دهغه سره روژه پرېښودل ورته رواوی نو که روژه ئ پرېښوده مخکښې دتکلیف دظهور څخه هم رواده نوهغه پیلو ټان چې هغوی وظیفه داردی یعنی دهغوی دوظیفی نوبت وی په رمضان کښې او ددوی ګمان وی دجهاد په بمبارو غیره سره هغوی ته رواده پرېښودل دروژی په داسی طریقه چې دسره یې نیت ونکړي نه داسی چې یواریې نیت وکړي اوبیایې ماته کړي اوهرکله چې داروژه پرېښودله بیابه ئې قضایې راوړي په بل وقت کښې اودابه داسی وی لکه دچا دحمی نوبت وی یاد ښځې دحیض نوبت وی اوروژه پرېږدی مخکښې دراتلو ددی تکلیف څخه

وفی الخلاصة لوکان له نوبة حمی فاکل قبل ان تظهر یعنی فی یوم النوبة لابأس به (فتح القدیر ج۲ ص۲۷۲) ومن له نوبة حمی اوعادة حیض لابأس بفطره علی ظن وجوده۔
(الفقه الاسلامی ج ۳ص ۱۶۹۹ ط رشیدیه)

رجل له حمی غب فافطر علی ظن ان یومه یوم المرض وماحم فیه کان علیه الکفارة وکذا اذاافطرت المراءة علی ظن ان یومها یوم حیض فلم تحض فی ذلک الیوم کان علیها الکفارة لوجود الافطار فی یوم لیس فیه شبهة الاباحة قال مولانا رضی الله تعالی عنه هذااذانوی الصوم ثم افطر بعد طلوع الفجر فان لم ینوی الصوم فی ذلک الیوم کان علیه القضاء دون الکفارة(الفتاوی قاضي خان علی هامش الهندیة ج۱ص۲۰۳)
وفی الخلاصة لو کان له نوبة حمی فاکل قبل ان تظهر یعنی فی یوم النوبة لابأس فان لم یحم فیه کان علیه الکفارة کما لوافطرت علی ظن انه یوم حیضها فلم تحض کان علیها الکفارة لو جود الافطار فی یوم لیس فیه شبهة الاباحة وهذااذاافطر بعد مانوی الصوم وشرع فیه امالو لم ینو کان علیه القضاء دون الکفارة کذافی فتاوی قاضیخان۔
(البحرالرائق ج۲ ص ۴۹۳ ط رشیدیه کوئته) والله اعلم.



مولوی احمد نوری مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

درګ اوغوښي په پیچکاری روژه ماتیږی اوکنه

پوښتنه:محترمینو اساتذؤ ددارالافتاءته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وبعد ددی مسئلی پوښتنه لرم چي په ستن (پیچکاری)روژه ماتیږی کنه اودغو ښی اودرګ تفرقه وکړی چي پوه شو-والسلام

(المستفتی ملاحبیب الله)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

روزه په ستن نه ماتيږي خواه دغوښى اوكه درګ وي چونكى ستن په وقت كښى د مجتهدين اوسابقو مصنفين نه وه نو خود په عباراتو ددوى كى صراحتاًستن نه ده ذكر شوي لكن دعام عباراتو څخه ددوى دامعلوميږي چې په ستن روژه نه ماتيږي لكه علماء دهند اونور عامو مفتيانو چې هم دغه معلوم كړى ده عامه قاعده او قانون په دغه باب كښى چې دعباراتو څخه دمصنفين معلوميږي هغه دادى كچيرى يو شئ وجوف ته ددماغ او يادمعدى ته دطرف دمنا فذ داخل شونو ماته ونكى دروژى دى اوكه دطرف مسام ورداخل شو هغه روژه نه ماته وى لكه چې


په ردالمحتار ج۲ ص۱۰۶ ط رشيديه كوئته كى راغلى:

(قوله وان وجد طعمه فى حلقه) اى طعم الكحل اوالدهن كما فى السراج وكذالو بزق فو جدلونه فى الاصح (بحر) قال فى النهر لان الموجود فى حلقه اثر داخل من المسام الذى هوخلل البدن والمفطر انما هو الداخل من المنافذ للاتفاق على ان من اغتسل فى ماء فوجدبرده فى باطنه انه لايفطر وانماكره الامام الدخول فى الماء والتلفف بالثوب المبلول لمافيه من اظهار الضجر فى اقامة العبادة لالانه مفطر۔

او په طحطاوى ج۱ص۴۵۲ ط دارالمعرفة بيروت كښى راغلى دى لاندى تردغه قول:

الدرالمختار (اواقطر فى احليله ماء اودهناوان وصل الى المثانة على المذهب قوله وان وصل الى المثانة) عند هما لانه ليس بين المثانة والجوف منفذ ووصول البول من المعدة الى المثانة بالترشح وقال ابو يوسف يفطر لوجود المنفذ بينهما۔

نه جوف ددماغ اونه جوف دمعدى درګ اويابدن سره منفذ لرى لكه علماء دديوبند چې ورو سته ترډير تحقيق دغه معلوم كړى ده كچيرى دواء ودماغ يامعدى ته داخل شوه نو هغه دطرف دمسام اوپرطريقه دتر شح داخل شوى ده اودغه قسم دخول روژه نه ماته وى ددغه مسئلى تحقيق په كتاب آ لات جديده ص۱۵۳ كى شوى دى والله اعلم



مولوى عبدالحكيم عفى الله عنه مولوى محمود ميوندوال

كتاب الحج

دسردرختو اوتاکانو پر حاصلاتو حج فرض دی که پرقیمت

پوښتنه: دسردرختو اوتاکانو پر حاصلاتو حج فرض دی اوکه پر قیمت یي؟
(ملا احمد شاه دمرکزی محکمی محرر)


بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک العلی الاعلی

محترم مستفتی صاحب دسردر ختو اوتا کانو حاصلات اوپیداوارچې دسالانه اوکلنی خرج څخه دیو سړي اودکورنی دهغه زيات نه وی حج فرض نه دي اودجائداد پرقیمت باندی هغه وقت فرضیت دحج ثابتیږی چې دخرج شوی حصی څخه دزاداوراحلی کفایت کیږی اوباق یي دومره جائدادپاته شي چې دده اودکوردضروریاتو پوره کفایت کوی:

ولوکان عنده طعام سنه ولواکثر لزمه بیع الزائدان کان فیه وفاء کمافی اللباب وشرحه(ردالمحتار ج۲ ص۱۵۶ ط رشیدیه کوئټه) وهکذا فی فتاوی دارالعلوم دیو بند کلان ج ۶ ص۵۱۵ وهکذافی التاتارخانیة ج۲ص ۳۲۸ ط قدیمی کتب خانه کراچی)

وان کان صاحب ضیاع ان کان له من الضیاع مالو باع مقدار ما یکفی لزاده وراحلته ذاهبا وجائیا ونفقة عیاله واولاده ویبقی له من الضیعة قدرما یعیش بغلة الباقی یفترض علیه الحج والا فلا التاتارخانیة ج۲ ص ۳۲۷ ط قدیمی کتب خانه) وهکذا فی احسن الفتاوی ج ۴ ص۵۴۲ وهکذافی فتاوی دارلعلوم دیوبند کلان ج ۶ ص ۵۳۷ وامداد الفتاوی ج ۶ ص۱۹۱ والله تعالی اعلم



مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی محمود میوندوال مولوی نور محمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی امارت اسلامی افغانستان

دحاجیانو ومعلمینو اوډاکټرانو ته دحاجیانو له پیسو څخه پیسي ورکول څه حکم لري

محترم ددارالافتاء لوی ریاست څرنګه چې دمعمول اوضرورت په منظور دافغانستان داسلامی امارت دحجاجو لپاره څو تنه معلمین اوډاکتران دخدمت دکبله په کاردی چې ورسره ولاړ سی چونکه اسلامی دولت داقتصاددضعف له وجه نشی کولای چې دتیر کال

په شان دبیت المال دلاری ورسره دمعلمینو تعاون وکړی کچیری دحجاجو دمصارفو څخه څه اندازه مبلغ واخستل شی اودغه نوموړی مشکلات په حل کړی دشریعت حکم څرنګه دی که لطفا راته تشریح کړی -والسلام

(له ارشاداوو قافو لخوا)


بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب حامد اومصلیا

ددغه معلمینو اوډاکترانو مصرف دحاجیانو دپیسو څخه ورکول جائز دی ځکه دغه د حوائج عامه څخه دی حوائج عامه چی بیت المال بر داش نه شی کولای دخلقو څخه ئې اخستل جائزدی په ردالمحتارکی راغلی دی ج۲ ص۲۲ :

وقال ابو جعفر البلخی مایضر به السلطان علی الرعية مصلحة لهم يصير دينا واجبا وحقا مستحقا كالخراج وقال مشايخنا وكل ما يضر به الامام عليهم لمصلحة لهم فالجواب هكذا حتى الحرة اجراسين لحفظ الطريق واللصوص ونصب الدروب الخ......

لکن دغه معلمین اوډاکتران به اندازه دضرورت وی (خبرتیا)دغه معلمین اوډاکتران چی خدمت اوتعلیم ته دحاجانو معین شی پرهغوی خدمت فرض عین کیږی داسی نه دی لکه عام علماء چی په حاجیانو کی ولاړشی یاډاکتران ځکه هغو ی دپاره ددغه خدمت معین شوی نه دی باید دغه معلمین اوډاکتران خپله دغه وظیفه کی قصور ونکړی لکه چی په الاحکام السلطا نیة کی دماؤردی ص۲۴۰ کی راغلی دی په فرق کی دمحتسب چی دپاره دامر با لمعروف اونهی عن المنکر متعین شوی وی اودمتطوع چی دغه وظیفه پر محتسب فرض ده او پرمتطوع فرض کفایي ده- (الفرق بين المتطوع والمحتسب من تسعة اوجه احدهما فرضه متعين على المحتسب بحكم الولاية وفرضة على غيره داخل فى فروض الكفاية دغه رنګه په الاحکام السلطانیه کی دابی یعلی ص۲۸۴ کی هم راغلی(والله اعلم)



مولوی محمد اخلاص برکتی العبد الاحقر نذ احمد مولوی نور محمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

کتاب النکاح

په لفظ دمضارع نکاح صحیح کېږي او کنه؟

پوښتنه :که یو سړی چې دلورپلاردی اوبل سړي چی اجنبی دی دغه اجنبی سړي دلور پلارته وايي چې فلانئ سړی وايي چې دی زماخسردی پلارئ لورما ته راکړي ده او دغه فلانئ هم دلته حاضروی دلور پلار ووايي چې درکوم یې په ۱۲ سوه لکه افغانی هغه فلانئ ووايي چې زما قبوله ده نور خلق هم په دغه ځای کی حاضروی اودغه سړي یوه لور لری بله نه لری آیاپه دغه الفاظو سره نکاح وشوه کیا بینوا توجروا -

(المستفتی مولوی عبد السلام)

بسم الله الرحمٰن الرحیم

هوالله تعالی المستعان

امابعد فنقول وبالله التوفیق دانکاح که څه هم په لفظ دمضارع سره ده صحیح کیږي که نوم دلور هم نه وي ذکر شوي په دې لاندې مسئلو سره

—فقوله اتزوجک ینعقد به النکاح ایضاً لانه یحتمل الحال کما فی کلمة الشهادة وقدارادبه التحقیق لاالمساومة بدلالة الخطبة و المقدمات بخلاف البیع کمافی البحر عن المحیط والحاصل انه اذاکان حقیقة فی الحال فلاکلام فی صحة الانعقاد به وکذااذاکان حقیقة فی الا ستقبال لقیام القرینة علی ارادة الحال و مقتضاه انه لوادعی ارادة الاستقبال والوعد لایصدق بعد تمام العقد با لقبول ویاتی قریبا(ردالمحتار ج۲ ص۲۸۷ ط رشیدیه کوئته) مایؤیده رجل له ابنة واحدة فزوجهامن رجل وقال زوجتک ابنتی ولم یذکر اسمهافقال الزوج قبلت جاز (فتاوی قاضي خان بهامش الفتاوی الهندیة کتاب النکاح ج ۱ص ۳۲۴ ط دارالاشاعة العربیة قندهار وقال فی المحیط لوقال زوجت بنتی منک ولم یزد علی هذاوله بنت واحدة جاز (خلاصته الفتاوی ج۲ ص۵ ط رشیدیه کوئته)



مولوی محمود میوندوال مولوی نذاحمد مولوی مفتی نورمحمد ثاقب رئیس عمومی دارالافتاء مرکزی

دیوه سړی اویوي ښځي په ګواهي نکاح منعقدیږی اوکنه

پوښتنه :مدعی شاه ملنګ دادعوه کوی چې حاجی ملا میراجان چې زما ورورد ی زما وزوی ته چې حاجی محمدنعیم نو میږی خپله لور چې دیونیم کال وه وربخښلی ده اوس نوموړی حاجی ملامیرا جان انکار کوی نوزه پرده باندی دوه شاهدان دده دخولی لرم چې یومرجان نو میږی اوبل محمد هاشم دی اودنکاح په وقت کی ئې یوامیر محمد وچې هغه اوس وفات شوی دی اویوه ښځه وه اویوزه حاضروم اونکاح ئې پخپله ملامیرا جان وتړله اودخبر شاهدان نورهم ډیر دی محترمو علماء کرامو زه ددغه دعوی په شریعت مقدس کی حق لرم که یا –

(المستفتی حاجی قاری علی محمد)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الله تعالی

په انعقاد کی دعقد نکاح شهادت شرط دی یعنی عقد دنکاح لره حضورددووکسانو شاهدانو یا یو سړی دو ښځی شرط دی محترم مستفتی وایي چې په وقت دنکاح کی یو امیر محمد ؤو اویوه ښځه وه نو بنا پردغه قولِ دمستفتی نصاب دشهادت پوره نه دي نو شرط دعقد موجو د نه شو نوعقد صحیح نه شو ځکه چې دهلک پلاراوانجلی پلار خو عاقدان دی په نصاب کی دشهادت شمار نه دی هله په شهادت کی شمارل کیږی چې هلک یاانجلی بالغ وعاقل وی په عقد کی دنکاح حاضروی و یشترط العدد فلا ینعقد النکاح بشاهد واحد هکذا فی البدائع ولایشترط وصف الذ کوره حتی ینعقد بحضور رجل وامراتین کذا فی الهدایة (الهندیة ج۱ ص ۲۶۷ ط دارالاشاعة قندهار)

لوزوجت المرأة بنتها البالغة بر ضاها بحضرة رجل وامرأة جاز بحضرتها وان کانت غائبة لم یجز لما قلنا وان کانت البنت صغیرة لم یجز سواء کانت حاضرة اولا لعدم الانتقال کالاب اذا زوج الصغرة بحضرة رجل واحد ا(تبیین الحقائق ج ۲ص ۴۵۷ ط قدیمی کتب خانه کراچی)(ولوزوج بنته البا لغة) العاقلة بمحضر شاهد واحد جاز ان کانت ابنته (حاضرة) لانها تجعل عاقدة (والا لا) الاصل ان الامر متی حضر جعل مباشر ا(الدر المختار علی هامش ردالمحتار)(قوله ولوزوج ابنته الخ)وقید بالبألغة لانها لوکانت صغیرة لایکون الولی شاهدالان العقد لایمکن نقله الیها(ردالمحتار ج ۲ ص۲۹۸ط رشیدیه کوئټه)

هرچې شاهدان دخولی دملاميراجان دی يادخبراوتسامع شاهدان دی هغه هله معتبردی چې انعقادد عقدد نکاح موجود سی ځکه چې دهغوخو اظهار او اثبات په وقت کی د مخاصمی کیږی اظهار اوثبات دعقد د نکاح خوغيرده له انعقاد دعقد دنکاح څخه په شهادت دفاسقين انعقادراځی او اثبات نه راځی:

قوله لوفاسقين الخ اعلم ان النكاح له حكمان حكم الانعقاد وحكم الاظهارفا لاول ماذكره والثاني انما يكون عند التجاحد فلايبقل فی الاظهار الاشهادمن تقبل شهادته فی سائر الاحكام (الخ رد المحتارج۲ ص۲۹۶ ط رشيديه کوئته)

الحاصل چې مدعی په خپله د امنی چی په وقت کی دانعقاد نصاب دشهادت پوره نه وؤنوبه داثبات شاهدان څه فائده وروړ سوی اودعوه به ئې کله معتبر سی والله اعلم وعلمه اتم واحکم

په خط ليږلو نكاح صحيح كيږی كنه اووعده دنكاح اوعين نكاح څه فرق لری

پوښتنه: کله چې يو سړی دانجلی پلار و بل چاته خط وليکی چې ماخپله فلانی لور چې په دی نامه بله لور نه لرم تاته په نکاح درکړه دغه نکاح کله صحيح اومنعقد ه ګرځی اوپه دی مسئله کښی دقضاء اوديانة فرق راځی اوکنه اودوعدی دنکاح اودعين نکاح جدا والی اوفرق به څرنګه معلوميږی- والسلام

(استفتاء خاص امير المؤمنن)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب حامد اومصليا-

که ديو چاله طرفه وبل چاته دخط په ذريعه نکاح وليکل شی دغه نکاح هغه وقت صحيح اومنعقد ه ګرځی چې هغه څوک چې داخط ورته راغلی ده شاهدان راحاضر کړی ا ودغه خط ورته ووايي اويادی خط مضمون ورته ووايي چې داسي ماته ليکل شوی دنکاح په باره کښی اوبيا دوی ته ووائي چې تاسو شاهدان اوسی چې ماقبوله کړه اوشاهدان به دوه سړی اويايو سړی اودوه ښځی وی تنها ښځی نه کافی کيږی او که داسی يي نه وی کړی اګرچې خط راغلی وی خو نکاح نه ده شوی:

قال فی الفتح ومن اشتراط السماع ماقدمناه فی التزوج بالكتاب من انه لابد من سماع الشهود مافی الكتاب المشتمل على الخطبة بان تقرأه المرأة عليهم اوسماعهم العبارة عنه بان تقول ان فلانا كتب

الى يخطبني ثم تشهدهم انها زوجته نفسها آه (ردالمحتار ج ٢ ص ٢٩٦ هكذا ج٢ ص ٢٨٨ ط رشيديه)
وفتاوى دار العلوم ديوبند ج٧ ص٩٩ وج٧ ص ١٠٠ وعزيز الفتاوى ص ٤١٠ والبحر الرائق ج٣ ص ١٥٦ ط رشيديه)
اس صورت کے موافق یہ بھی جائز ہے کہ عورت مرد کو خط لکھے اور مرد دو گواہوں کے سامنے اس کا خط پڑھے اور رکھ دے کہ میں نے اس عورت سے نکاح کیا غرض یہ کہ اگر دو گواہوں کے سامنے شوہر نے اس خط کو پڑھ دیا اور قبول کرلیا تو نکاح ہوگیا(*) عزیز الفتاوی ص۴۱۰)

سوال زید نے اپنی لڑکی بکر کو دیا اور اس سے یہ کہا کہ میں نے اپنی لڑکی تم کو دی اس کے زید نے بکر کو خط لکھا اور تین ادمیوں کے دستخط کرائے تو خط پر نکاح جائز ہوا یا نہیں الجواب - اگر زید نے بکر کو خط اس مضمون کا بھیجد یا کہ میں نے اپنی دختر کا نکاح تم سے کیا اور مکتوب الیہ نے اس کے مضمون کو حاضرین کو سنایا اور قبول کیا تو نکاح منعقد ہوگیا فقط(**) (فتاوى دار العلوم ديو بند ج٧ ص١٠٢)

اوكله چې شاهدان نه وي دايجاب اوقبول پر وقت نود انكاح منعقده نه ده نه قضاء اونه ديانة اودانكاح نه ده نه عند الله اونه عند الناس په عزيز الفتاوى ص٤١٢ كښې ليكلي دي:

درشرح المجله ماده ۵۱ مینویسد: الساقط لايعود كماان المعدوم لايعود ودرماده ۵۲ مینویسد اذابطل الشئ بطل مافی ضمنه که ازمفهوم کلی ماده اولی بنظر میرسد که حق الله تعالی که بموجب حکم قصاص گردیده باطل نگردد وازماده دوهم بنظر میرسد که قصاص که بسبب صلح باطل گردیده پس حق الله تعالی که بموجب حکم قصاص ساقط شد سقوط آن باطل گردید باید عود نماید وکدام مسائل که شما تحریر نموده محل تطبیق آن سقوط قصاص است که قبل ازاصدار حکم قصاص صورت گرفته باشد ومانحن فیه سقوط قصاص است که بعدازاصدار حکم قصاص صورت گرفته باشد لهذا آرزومن که درموضوع مانحن فیه یک جزئیه فقهیه رادریافت شود

(مولوی حمید الله فائز معاون ریاست عالی تمیز)


بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب

دفقهاء دعباراتو دعموم څخه داسی معلومیږی چې قصاص ساقط شی نودتعزیر په باره کی دحاکم اختیا رشته که داسقوط یی مخ کی ترقضا ءوی که وروسته ولی عفو اوصلح هم مخ کی تر قضاء صحیح کیږی هم وروسته اوعام عبارتونه مطلق راغلی دی چې هروقت قصاص په عفو ساقط شی نوتعزیر یي عقوبة بدلية ثابتیږی اوهغه مواد چې مستفتی رانقل کړی دی چې:

الساقط لايعود اذابطل الشی بطل مافی ضمنه هغه موادددی حکم سره هیڅ تنافی نه لری ځکه چې تعزیر یوداسی عقوبة دی چې په بدل کی دقصاص ثابتیږی اوپه عوض کی دهغه راځی نه دقصاص په سقوط سره دده سقوط راځی اونه تعزیر دقصاص په ضمن کی پروت دی ځکه فقهاء چې تعزیر عقوبة بدلیه بولی اومبدل نه دمبدل منه په ضمن کی وی نه ورسره لازم وی اوپه عفویاصلح سره صرف داولیاء حق ساقطیږی دمقتول حق لانه ساقطیږی نوتعزیر چې حق الله تعالی دی هغه خو بیخی نه ساقطیږی:

العقوبة البدلية الثانية للعمد التعزير اذاسقط القصاص فی القتل العمد كان التعزير عقوبة بدلية عنه (الفقه الاسلامی ج۶ ص۳۱۲) اذاعفاولی القتيل مطلقا عن القاتل عمدا اصح العفو وبقی عند الحنفية والمالكية حق السلطان فی عقوبته تعزير الان القصاص فيه حقان حق الله الخ وحق المجنی عليه (الفقه الاسلامی ج۶ ص۲۹۱) اذاسقط القصاص بعفوولی القتيل اوبموت الجانی اوبغير همابقی عقوبتان اخريان وهما الديةالخ والتعزير الذی هو بدل حتمی ايضاً عند المالكية وباختيار الحاكم عندالجمهور الفقه الاسلامی ج ۶ ص ۲۹۸ صلح الاولياء وعفوهم عن القاتل يسقط حقهم فی القصاص والدية لاحق المقتول (كذافی المنية الاشباه والنظائر ص۲۸۹) المالكية والحنفية رحمهم الله تعالى قالوان للحاكم حقاعلى القاتل اذاعفاعنه اولياء الدم وله ان يجلده مائة جلدة ويسجنه سنة كاملة وبه قال اهل المدينة (الفقه على المذاهب الاربعة ج۵ ص۲۶۵)



مولوی محمد اخلاص برکتی

مولوی نذاحمد الحقانی مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب رئیس عمومی دارالافتاء مرکزی

قسامه پرمالک دسرای وی که پرهستوګن

پوښتنه :ددارالافتاء ولور مقام ــ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته یونفر چې عبدالرازق نومیدی په سنه (۱۳۷۰) کی دلوی اختر په ورځ دکور دسامان دپاره بازارته وتلی وو دهغی ورځی څخه لادرکه سوی دی ترشپږ اویاسنی پوری لادرکه ووپس له هغه څخه دګرشک په ولسوالی دفاروق خان په سرای کی مړپیداسو چې اصلی دسرای مالک خپله فاروق خان دی په هغه وقت کی فاروق خان مهاجرؤ ګرشک ته دخلقیانو دلاسه خپل سرای ته نه سوور تلای په ذکر شوی سرای کی دسیدنبی اومحمدنبی په نومانو خلک پراته وه چې هغه خپله زبردسته خلقیان وه نوردوه مړی ئې هم کړی وه اوس دغه دوه نفر په دغه اقرار کوی چې په هغه تاریخ کی چې مقتول درک وسو موږ په دغه سرای کی وواوپه دی اقرار نه کوي چې موږ وژلی دی اوبې غیر ددوي اقرار څخه نور شاهدان هم سته چې په هغه وخت کی دوي په دي سرای کی وه اوس چې موږ دوي راګیر کړه حکومت بندیان کړه نودګرشک دمحکمی قاضیانوویل چې پنځوس قسمونه اودیت دسرای اصلی مالک ته کیږی چې فاروق خان دي اوبعض علماء وایی چې ددوي وجود په دغه سرای کي داقرینه قاطعه بلل کیږی ایادغه نه راتګ دفاروق خان وخپل سرای ته دهغه دپاره عذرنه بلل کیږی چې دانور باره راګیر سی داجریان موتاسي ته عرض کړڅنګه چې تاسی ته شرعی معلومات وسی

(المستفتی الحاج ملاحبیب الله اخند ولسوال سنګین)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب حامد او مصلیا

دقسامة دپاره خپل شرائط سته چې ټول په کتابونوکښی دفقهی حنفی ذکرشوی دي دمحترم مستفتی سوال یوازی دادی چې قسامت پر مالک دهغه سرای دي چې مقتول پکښی پیداشوی دي اوکه پرساکن دهغه سرای دی په دغه مسئله دامام صاحب رحمه الله تعالی اوامام ابویوسف رح په مابین کښی اختلاف دي امام ابوحنیفه رحمه الله تعالی یي پرمالک بولی اوامام ابویوسف رحمه الله تعالی ئې پر ساکن بولی لکن داکثر فقهاء عبارات دلالت کوی پرترجیح دقول دامـ . ابوحنیفه رح او حضرت علامه تهانوی رحمه الله تعالی په اعلاء السنن کښی وائي چې . مه اختلاف دعصراوزماني دی:

قال ابوحنیفة اذا وقع القتل فی ملک احدوالساکن غیره فالقسامة علی المالک وقال ابویوسف

القسامة على السكان (اعلاء السنن ج۱۸ ص۲۸۱) وان كان العسكر فی ارض رجل فالقسامة والدية عليه كذا فی محيط السرخسی (الهنديه ج۶ص۸۲ وهكذافی الدر المختار علی هامش الطحطاوی ج۴ ص۳۱۱) قال ولاتدخل السكان فی القسامة مع الملاک عند ابی حنيفة وهو قول محمد وقال ابويوسف وهو عليهم جميعا الخ(الهداية ج۴ ص۶۳۵)

دعادت څخه دهداية هم ترجيح دقول دامام ابوحنيفه رح معلوميږی ځکه چې دليل ئې ددغه قول آخر کړی دی:

وبخلاف مااذاكانت الدار فی يده وديعة لان هذاالضمان ضمان ترک الحفظ وهو انما يجب علی من كان قادرا علی الحفظ وهو يد اصالة لايد نيابة ويد المودع يد نيابة وكذاالمستعير والمرتهن وكذاالغاصب لايده يد امانة لا ن العقار لايضمن بالغصب عندنا تبيين الحقائق ج۶ ص۱۸۴ وكذافی تكملة البحر الرائق ج۸ ص۳۹۶ قوله دون السكان كالمستأجرين والمستعرين فالقسامة علی اربابها وان كانو اغيبا (تاتارخانيه) (ردالمحتار ج۵ ص۴۴۷)قال العبد الضعيف وظنی ان الخلاف خلاف العصر والزمان فلعل الدار كانت تعرف بربها وتنسب اليه فی عصر الامام لتعهد لهاواختلافه اليها لحفظها وكانت تعرف بالساكن فی عصره الخ (اعلاء السنن ج۱۸ ص۲۸۳)

اوکچیری دغه ساکنان دسرای اهل دحکومت وه اوخلقیان وه مالک دسرای ددوي دلاسه مهاجر وه لکه چې مستفتی ذکر کړی دي نوبیا دغه قتیل هدر کیږی لکه چې الدرالمختار په لفظ دینبغی ذکر کړی دی:

واماالاراضی التی لها مالک اخذها وال ظلما فينبغی ان يكون القتيل فيها هدرالانه ليس علی الغاصب دية الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۵ ص۴۴۶)

هرچې داخبره دقرینی قاطعی ده دغه قرینه قاطعه نه بلل کیږي ځکه چې قرینه قاطعه دی نه وایي چې هغه یقین اوجزم فائده کوی لکه چې په (مجلة الاحكام المادة ۱۷۴۱)کښی ذکرشوی دی :

القرينة القاطعة هی الامارة البالغة حداليقين مثلا اذاخرج احد من دار خالية خائفامدهو شاوفی يده سكين ملوثة بالدم فدخل فی الدار فی الحال وشوهد فيهارجل مذبوح فی ذالک الوقت فلايشتبه فی ان قاتله هوذالک الرجل ولايلتفت الی الاحتمالات التی هی امحض اتوهم كالقول ان الرجل انما قتل نفسه والله تعالی اعلم ـ

په قرائنو سره اثبات دقتل کیږی

اوکنه اواهل محله که یوخوک متهم کړی قسامه ساقطیږی اوکنه

پوښتنه : دمحکمه ابتدائیه اولسوالی پشنهاد ومقام ته دمحترم رئیس صاحب دارالافتاء محترم یونفرپه نامه دملاقیوم یوځو میاشتی دمخه اولسوالی ته راغلی اواولسوال ته ئې وویل چې زمازوجه بنجمونامه دفضل محمد لور پر ماطلاقه ده په ثلاثه وکلما طلاق سره اولسوال قهر ورته وکړی چې داځه وايي هغه ملاقیوم واولسوال ته وویل چې وابه ئې وری چې ملاقیوم مړی کړی دی نوبیااولسوال ومحکمی ته ملاقیوم راوستوی او خپله ښځه ئې په محکمه کی په ثلاثه کلما طلاق سره طلاق کړه نوماقاضی دمحکمی ملاقیوم ته وویل چې ولی ښځه طلاقه وی ملاقیوم وویل چې زماداکازوی سید محمد نام باندي زماشک دي چې زما دښځی سره کارلری اوقاضی ورته وویل چې تاولیدی ملاقیوم وویل چې یوه شپه زه راغلم نودغه سید محمد نام زماپه سرای کی پروت وه اویده وه اوزما ښځه څلوریاپنځه گزه اندازه جداییده وه نوزمادبدکاری گمان دي پرښځه اوپرسید محمدنام باندی ماقاضی وملاقیوم ته وویل چې داقصه څه وخت وه ملاقیوم وویل چې څلویښت شپی دمخه داقصه وه نوماورته وویل چې ته ولی اطلاع نه کوي اوددغه سید محمد کور چیری دی چې ستاسرای ته راغلی وه ملاقیوم راته وویل چې دغه سید محمد زماداکازوی دي اوزماسره په کورکی وه اوماسترنه څنی کاوی نوماقاضی دمحکمی طلاقنامه دده ولیکل اوښځه می پلارته پلاس ورکړه کورته پلار بوتله پس ددوو میاشتو څخه دغه سید محمد نام په قتل ورسیدي دماخستن داذانو پروخت وروړ دمقتول اولسوالی ته اطلاع راکړه چې زماورور په قتل ورسیدی اولسوالی چې کوشش وکړی قاتل معلوم نسواو ملاقیوم هم دوطنه څخه فراره سوی وه پس دیوځومودی څخه ملاقیوم په فرست کی پیداسونوداولسوالی په ذریعه پنجوایٔ ته حاضر سو چې دتوله وطن اوزموږ ولسوالی گمان دقتل پرملاقیوم وه ملاقیوم اوس منکر سو چې ماداقتل نه دی کړی بیاموږ دوطن (۵۰) یا (۶۰) نفره جمع کړه بطور دقسامی اورته وموویل چې موږ قاتل غواړو ستاسی دقریي څخه اوتاسوته قسم درکو واهل قریه وویل چې موږ قسم نه اخلو یقین مودادي چې قاتل ملاقیوم دی ولی چې دغه مقتول دبل چاسره عداوت نه درلودی نوزماقاضی دپنجوایٔ دمحکمی نظرپه ویناداهل قریي اوداولسوال صاحب په وینا سره چې اولسوال صاحب ته ملاقیوم چې واللّه چې واوری چې ملاقیوم قتل کړی دي په وخت کی دطلاق دغه وینا ملاقیوم کړي ده اوبل اهل قریه چې موږ راجمع کړل دهغوهم یقین چې داقتل ملاقیوم کړی دی نوموږ ستاسو دحضور څخه

په دغه موضوع کی فتواء غواړو چې خداناخواسته موږ غلط نه سواودغه پشنهاد موستاسی حضورته وړاندي کړی چې لطفا فتوای راکړی والسلام

(مستفتي مولوی دادمحمد قاضی محکمه پنجوايي)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

دغه مذکوره قرائن په استفتاء کښی قرائن قاطعه نه دي چې حکم په ثابت سی ځکه قرينه قاطعه هغه ده چې ده يقين حدته رسيدلی وي نو دغه ملا عبد القيوم په دغه قرائن قاتل نه ثابتيږی:

القرينة القاطعة هی الامارة البالغة حد اليقين مثلا اذاخرج احد من دارخالية خائفا مدهوشا فی يده سكين ملوثة بالدم فدخل فی الدار وروي فيها شخص منبوح فی ذلک الوقت فلايشتبه فی كونه قاتل ذلک الشخص ولايلتفت الی الاحتمالات الوهمية الصرفة كان يكون الشخص المذكور انما قتل نفسه (المجلة المادة ۱۷۴۱)

هرچې قول داهل محلی دی چې موږ قسم نه اخلو يقين امرادي چې قاتل ملا عبد القيوم دی ولی چې دغه مقتول دبل چاسره عداوت نه درلودی اول خو دغه قول شهادت نه دي اوبل دغه اهل محله متهم په دفعه دخصومة لخپلو ځانو څخه دی نو يې قول معتبر نه دي:

ولاتقبل شهادتهم اي اهل المحلة به اي بالقتل علی غير هم ای علی غير اهل المحله الذی ادعی الولی القتل عليه هذاعند الامام خلافا لهما ولاتقبل شهادة اهل المحلة علی بعضهم لوادعاه ای الولی اجماعا لان الخصومة قائمة مع الكل لمامر انهم كانو اخصماء فی هذه الحادثة اوبالشهادة تقطع الخصومة عن نفسه فكان متهما فی هذه الشهادة فلاتقبل شهادته (مجمع الانهر ج۲ ص۶۷۹ وص ۶۸۰ وبطل شهادة بعض اهل المحلة بقتل غيرهم خلافا لهما اوبقتل واحد منهم بعينه للتهمة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۵ ص۴۵۰)

هر چې قسامة ده لپاره داولياء دمقتول حق دقسامة پر اهل محلی سته كه ئې چيری اولياء دمقتول دعوه کوي په دعوي سره دقتل پر دغه معين د اهل محلي ئې حق دقسامة نه ساقطيږی:

فان ادعی الولی علی واحد من غير هم كان ابراء منه لاهل المحلة وسقطت القسامة عنهم وان ادعی الولی علی معين منهم لاتسقط وقيل تسقط (الدر المختار علی هامش ردالمحتار)(قوله لاتسقط) ای فی ظاهر الرواية (ردالمحتار ج۵ص۴۴۵)

اهل محلی والاکه چيری قسم نه اخلی وائي چې موږ قسم نه اخلو کچيری دعوي دقتل خطاووی نو قاضی به قضاء په ديت وکړی اوکه دعوي دقتل عمد وی قاضي به ئې بنديان کړی تر هغه پوری

چې قسم اخلی بیا به قضاء په دیت وکړی ومن نکل حبس حتی یحلف کماذکر هذا فی دعوی العمد امافی الخطاء فیقضی بالدیة علی عاقلتهم ولایحبسون کمافی البرهان وغیره (الدر المنتقی علی هامش مجمع الانهرج ۲ ص۶۷۹)

دسحاق حکم

پوښتنه :محترم ددارالافتاء مرکزي رئیس صاحب ته زه ملابخت محمد دشپږمی آمنیتی حوزی مسئول ستاسی له حضور څخه استفتاء کومه دوه ښځی چې په خپل مابین کی درجالوناوړه اعمال ترسره کوی یعنی یوه ښځه دبلی ښځی سره ایلاج کوی اوخپل ځان په یوه ورځ شپږ کرته معذوره کوی په شریعت غراء محمدی کی څه حکم لری شرعی حکم راته واضح کړی والسلام۔

(ملابخت محمد قوماندان حوزه ۶ کندهار)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب والله الموفق للصواب دمستفتی داستفتاء څخه دوه سوالونه صراحة دی اول دادي چې دسحاق حکم څه شئ دی په شریعت غراء محمدی کی دوهم سوال دادی چې دفاعل دمساحقة څه حکم دی دوه سوالونه ضمنی دی اول دسحاق حکم په فساد دروژه او عدم فساد کی څنګه دی دوهم دمضاجعه حکم په جواز او عدم جواز کی څنګه دی جواب دسوال اول دسحاق حکم دادی چې سحاق حرام دی لکه زنا او لواطة چې حرام دی اماحرمة المساحقة بین المراتین جواب دسوال دوهم دفاعل دمساحقة حکم تعزیر دی چې تعزیر به ورکول کیږی:


انقد صح ان المراة المساحقة عاصية فقد اتت منكر افوجب تغيير ذالک بالید کماامر رسول الله صلی الله علیه وسلم من رأی منکر افلغیره الخ والسحاق وهو فعل النساء بعضهن ببعضهن حرام ایضاً ویعزر فاعل المساحقة ولوکان ذالک بین رجل وامرءة اوبین رجلین و روی البیهقی عن ابی موسی الاشعری رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال اذااتی الرجل الرجل فهما زانیان واذااتت المرءة المرأة فهما زانیتان وعن واثلة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم سحاق النساء بینهن زنا (الفقه الاسلامی ج۶ ص۲۴)

جواب ددریم سوال داول جزء دادی چې مساحقة د دوو ښځو روژه فاسده وی په شرط د انزال: وان ساحقت امرءتان ان انزلا اوانزل مجبوب بالسحاق فسد الصوم (الفقه الاسلامی ج ۲ ص ۶۷۳)

ددریم سوال ددوهم جزء جواب دادی چې مضاجعة جائز نه ده

واماالمضاجعة فلایجوزان یجتمع رجل وامرءة غیرزوجته فی مضجع واحد لامتجردین ولاغیر متجردین ولایجوزان یجتمع رجلان ولاامرءتان فی مضجع واحد وقدنهی عن المکامعة او المکاعمة ومعناها

المضاجعة التى لاستر بينهما (الفقه الاسلامى ج ۲ ص ۵۶۹) والله اعلم



مولوى محمد اخلاص بركتى مولوى ندامحمد اسحاقى مولوى احمد نورى عفى عنه مولوى عبدالحكيم عفى عنه

مولوى نورمحمد ثاقب رئيس دارالافتاء مركزى دولت اسلامى افغانستان

دسرقي دحد جاري کولو شرط دادى

چي اصل مالک به دعوى کوى اوده ته به خپل مال تسليم شوى نه وى

پوښتنه : بمقام محترم عالى تميز مقيم ولايت قندهار قابل توجه دارالافتاء مركزى كندهار محترما درولايت زابل يک نفر سارق با استفاده از تاريکى شب ،جينيتر برق راسرقت برده كه درنتيجه از طرف طلاب كرام بالفعل معيت مسروقه دستگير گرديد چون جريان بعد از تحقيق بمحكمه رجعت داده شده باوجوديكه سارق مقر سرقه ميباشد محكمه به نسبت اينكه اصل مسروقه از طرف محكمه بمالک تفويض وتسليم نگرديده سارق راقابل حدندانسته چون درين موضوع ازمولوى عبدالغفور نماينده زابل درشورى قندهار ومولوى محمدعلى كه شخص متدين وعالم فقه بوده معلومات نموده علماء فوق بقضات محكمه تحرير داشته كه درهمه مسائل سرقه به نسبت كثرت كتب وكثرت علماء ازدارالافتاء قندهار معلومات مطالبه شود تادر مورد مسئله سرقه ازجميع وجوه تفصيلات بدهند چه قضات محترم محكمه طلاب كرام ازاعوان محكمه محسوب ميكنند بناء مراتب عرض گرديد البته درمورد سرقت برويت كتب معتبر مفصلاً موضوع راتحت غور ومداقه قرار گرفته واز نتايج آن هرچه زودتر مقام ولايت زابل رامسبوق ومطلع فرمائيد بااحترام۔

(الحاج مولوى عبدالحكيم شرعى والى ولايت زابل)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب دپاره دجاري كولو دحد دسرقي پرنورو شروطو سربيره يو داشرط هم دى چي دغه مسروقه مال به ددعوى څخه داصل مالک ترمخه مالک ته نه وى سپارل شوى اوداشرط هم دى چي مالک به دعوى دمال په محكمه كي كوى او طلب دخپل مال به كوى بيا به يى

اثبات په اقرار یاشاهدانو کوی او که چیری اصل مالک محکمی ته رانسی او دعوی ونکړی دځپل مال یوازی دسارق په اقرار یاپه شاهدی دشاهدانو حدنشی جاری کیدلای حتی که سارق حکومت ونیسی اوشاهدان شاهدی اداء کړی چې دفلانی مال یې غلاکړی دی او فلانی غائب وی حاضرنه وی په دی صورت کی هم حد نشی جاری کیدلای او که چیری مال ومالک ته سپارل شوی وی وروسته حاضري ده دمالک ومحکمي ته او طلب کول دجاری کولو دحد هم صحت نه لری ولی مال چې وده ته وسپارل شونوبیادی دعوی نشی کولای دمال اومراددمالک څخه په دی ځای کی مسروق منه دی

من سرق سرقة وردها على المالک قبل الارتفاع الى الحاکم لم یقطع(الفتاوى الهندیة ج ٢ ص ١٨٤ ط دارالاشاعة قندهار الدر المختار وردالمحتار ج ٣ ص٢٢٩ فتح القدیر ج٥ ص١٦٢ البحر الرائق ج٥ ص٦٣ الفقه الاسلامی ج٦ ص١٢٦)قوله(وطلب المسروق منه شرط القطع) ای وطلبه المال فلاقطع بدونه لان الخصومة شرط لظهورها اطلقه فشمل ماذااقر اواقیمت علیه البینة لاحتمال ان یقر له بالملک فیسقط القطع فلابد من حضوره عند الاداء والقطع لتنتفی تلک الشبهة وبماذکرناه ظهر ان مافی التبیین معزیا الی البدائع من انه اذااقر انه سرق من فلان الغائب قطع استحسانا ولاینتظر حضور الغائب وتصدیقه فانماهورواية عن ابی یوسف ولیست هذه عبارة البدائع فان عبارته قال ابوحنیفة ومحمد الدعوى فی الاقرار شرط حتى لواقر السارق انه سرق مال فلان الغائب لم یقع مالم یحضر المسروق منه ویخاصم عندهما وقال ابویوسف الدعوى فی الاقرار لیست بشرط الى آخره(البحر الرائق ج٥ ص٦٢ الدر المختار على هامش ردالمحتار ج ٣ ص٢٢٧ فتح القدیر ج ٥ ص ١٥٨) ولایقطع السارق الاان یحضر المسروق منه فیطالب بالسرقة وقال ابویوسف رحمه الله تعالى اقطعه والصحیح ظاهر الروایة کذافی زادالفقهاء (الفتاوى الهندیته ج٢ ص١٨٣)وبعضها یخصّ ارباب الاموال والحقوق وهو الخصومة والدعوى ممن له ید صحیحة حتى لوشهد وانه سرق من فلان الغائب لم تقبل شهادتهم مالم یحضر المسروق منه ویخاصم لماذکرنا ان کون المسروق ملکا لغیر السارق شرط لکون الفعل سرقة ولایظهر ذلک الابالخصومة فاذالم توجد الخصومة لم تقبل شهادتهم ولکن یحبس السارق لان اخبارهم اورث تهمة ویجوز الحبس بالتهمة لماروى ان رسول الله صلى الله علیه وسلم حبس رجلا بالتهمة(بدائع الصنائع ج٧ ص٨١) فقدصرح بانه لایملک طلب القطع الاان یقال انه لایملک طلب القطع مجردا عن طلب المال والظاهر ان الشرط انماهو طلب المال ویشترط حضرته عند القطع لاطلبه القطع انهوحق الله تعالى فلایتوقف على طلب العبد(البحر الرائق ج٥ ص٦٣ ردالمحتار ج٣ ص٢٢٨)

نوددی تولوعباراتو څخه دامعلومه شوه چې مسروق منه ته که مال رسیدلی وو تردعوی او طلب دمخه

نو بيا حد نه جاري کيږي او که محکمې ته راغلی او طلب د مال يې وکړی او اثبات د دعوی يې وکړی نو بيا حد جاري کيدلاي سي په دی شرط چې په وقت کی د اجرا د حد به هم مسروق منه حاضر وی.



مولوی محمد اخلاص برکتي مولوی احمد نوري عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

دبې لمانځولپاره څه تعزير دی

پوښتنه : کوم خلق چې لمونځ نه کوی د هغو په شريعت کی څه تعزير دی ؟

(المستفتي مولوی شاکری معاون رياست امر بالمعروف)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب و منه الصدق و الصواب

هغه څوک چې تارک الصلوة وی هغه فاسق دی تعزير ئې حبس دی تر هغه وخت پوری چې تائب کيږي ولمانځه ته منقاد کيږي څوک وايي ودی وهی تر هغو پوری چې وينی ئې وبهيږي په الدر المختار علی هامش رد المحتار (ج۱ ص۲۵۹) کښی راغلی دی وتارکها عمد امجانة اي تکاسلا فاسق يحبس حتی يصلی لانه يحبس لحق العبد فحق الله تعالی احق وقيل يضرب حتی يسيل منه الدم (وهکذا فی الدر المنتقی علی هامش مجمع الانهر ج۱ ص۶۷ ودرر الحکام فی شرح غرر الحکام ج۱ ص۵۰)



مولوی محمد اخلاص برکتي مولوی عبد الحکيم عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

دتارک الجماعت تعزير

پوښتنه : کوم خلق چې تارک الجماعة وی د هغوی په شريعت کې څه تعزير دی؟

(المستفتي مولوی شاکری معاون رياست امر بالمعروف)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

ترک دجماعت ترک دسنت مؤکده یادواجب دی تارک دجماعت مستحق دتعزیر دی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دی:

لقد هممت ان امر اصحابي ان یجمعو احطبا وامر بالصلوة فیؤذن لهاوتقام ثم اخالف الی منازل قوم لایحضرون الصلوة فاحرقها علیهم په (معین القضاة والمفتین ص ۷۰)

(په حواله دبزازیة اوانقرویه) کی راغلی دی من لایحضر الجماعة یجوزتعزیره باخذ المال چونکی تعزیر بالمال په مذهب کی منسوخ دی الاپر طریقه دحبس دمال نوتعزیر ددغه شخص مفوض رأی لره دحاکم دی اویارأی لری دهغه چاچې ودغه کارته معین شوی وی لکه حکم داکثر تعزیراتوچې هم دغه دی په (تاتارخانیه ج۵ ص)۱۳۸ کی راغلی دی:

وفی نصاب الاحتساب الفرق بین الحد والتعزیر من وجوه احدها ان الحد مقدرو التعزیر مفوض الی رأی الامام ... آه

مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی نذ احمد الحقانی مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

دږیرې لنډولو یاخریلو تعزیر

پوښتنه: کوم خلک چې ږیره لنډوی یاږیره خرئ دهغوي په شریعت کي څه تعزیردی ؟

(المستفتي مولوی شاکری معاون ریاست امربالمعروف)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

دږیری پریښوول ترقبضی پوری واجب د خریل اولنډیکول که ترحد دقبضی غیر جائز اومکروه تحریمی دی دوام ئې فسق دی هرچې قبضه کول (ی یعنی پری کول دهغه اندازی چې ترقبضی زائدوی) هغه جائز دی بلکه بعضی علماؤ مستحب بلکه سنة بللی دی چونکه خریل دږیری یاکمول کم ترقبضی غیر جائز کاردی چې دشرع شریف لخوا مقرر معین حد نشته اوهر غیر جائز کارچې دشرع شریف لخواورته معین حدنه وی مقررشوی په

هغه کارکی تعزیر شته نودغه عمل کونکی سړی ته باید محترمین منصوبین دامر بالمعروف ونهی عن المنکر تعزیر موافق دمصلحت سره ورکړی په الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۱ ص۳۲۹ کی راغلی دی:

وقدذکر العلائی فی الدرالمختار من الحظر والاباحة عن المجتبی والبزازیة اذاقطعت شعر رأسها اثمت ولعنت وان باذن الزوج لانه لاطاعة للمخلوق فی معصیة الخالق ولذ ایحرم للرجل قطع لحیته والمعنی المؤثر التشبه بالرجال وقال العلائی فی کتاب الصوم قبیل فصل العوارض ان الاخذ من اللحیة وهی دون القبضة کما یفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم یبحه احد واخذ کلها فعل یهود ومجوس الاعاجم فحیث ادمن علی فعل هذالمحرم یفسق ...آه

په شیخ دمشکوة کی ج۱ ص۲۲۸ راغلی دی:

وحلق کردن لحیه حرام است وروش افرنج وهنود وجوالقان ہست که ایشان راقلندریه گویند وگذاشتن آن به قدر قبضه واجب است وآن که آن راسنت گویند بمعنای طریقه مسلوکه دردین است یابجهت آن که ثبوت آن بسنت است چنانکه نماز عیدراسنت گفته اند آه. په بریقه شرح طریقه محمدیه ج۴ ص۸۳ کی راغلی دی:

واما انکانت اکثر من القبضة فیجوز قص الزائد بل مستحب وفی الاختیار سنة لانه طول فاحش وخلاف زینة وفی الصرة عن النهایة واجب وروی انه صلی الله علیه وسلم کان یأخذ من طول لحیته وعرضها وعن الفتاوی من سعادة المرء خفة لحیته وکان ابن عمر رضی الله تعالی عنهما یقطع الزیادة وبه اخذ ابوحنیفة وابویوسف رحمهما الله تعالی په بل ځای د(بریقه ج۴ ص ۱۸۴)کښی راغلی دی وعن النصاب لایجوز حلق اللحیة الخ په الفقه الاسلامی (ج۳ ص۵۶۹)کښی راغلی دی وقدحرم المالکیة والحنابلة حلقها واعتبر الحنفیة حلقها مکروها تحریما والمسنون فی اللحیة هو القبضة واما الاخذ منها دون ذلک اواخذ کلها فلایجوز... آه په معین الحکام ص۲۳۱ کی راغلی دی:

وقال ابن قیم الجوزیة اتفق العلماء علی ان التعزیر مشروع فی کل معصیة لیس فیها حد بحسب الجنایة فی العظم والصغر وحسب الجانی فی الشر وعدمه وهکذافی معین القضاء والمفتین (ص۷۰)



مولوی نذاحمد الحقانی مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

دکبوترباز تعزیر

پوښتنه: کوم خلک چې کبوترې په هوا کوې دهغوی په شریعت کې څه تعزیر دی؟
(المستفتی مولوی شاکری معاون ریاست امر بالمعروف)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

دکبوترو په هوا کول چې خلقوته ضرر په رسیږي مثلا پریام خیژی دخلقو کورونه معلومیږی یاډبری پسی غورځوی دخلقو سامانونه په ماتیږی یا پرخلقو مو ښلی یانور ضررونه خلقوته په رسیږی غیر جائز کاردی محتسب به دغه عمل کوونکی په اشد منع منع کوی اوتعزیر به ورکوی که چیری ددغه کارڅخه ئې لاس نه اخیستی نو کوتری به ورذبح کړی اونفس آموخته کول دکبوترویادنورو مرغانو جائزدی هرچی په قفص کی اچول دمرغانودی دغه مکروه دی لکن تعزیرنه لری په الدر المختار علی هامش ردالمحتار (ج۵ ص)۲۸۴ کې راغلی دی:

ویکره امساک الحمامات انکان یضر بالناس فانکان یطیرها فوق السطح مطلعا علی عورات المسلمین ویکسر زجاجات الناس برمیه تلک الحمامات عزر ومنع اشدالمنع فان لم یمنع بذلک ذبحها المحتسب و صرح فی الوهبانیة بوجوب التعزیر وذبح الحمامات ولم یقیده بمامر ولعله اعتمد عادتهم واما الاستئناس فمباح الخ...

په ردالمحتار کی راغلی دی:

(قوله ولم یقیده بمامر) من الاطلاع علی العورات وکسر الزجاجات قال شارحه العلامة عبد البرولم ار اطلاق التعزیر لغیره من المتقدمین (قوله واماالاستئناس فمباح) قال فی المجتبی رامزا لاباس بحبس الطیور والدجاج فی بیته ولکن یعلفها وهو خیر من ارسالها فی السکک آه وفی القنیة رامزا حبس بلبلافی القفص وعلفها لایجوز آه اقول لکن فی فتاوی العلامة قاری الهدایة سئل هل یجوز حبس الطیور المفردة وهل یجوز عتقها وهل فی ذلک ثواب وهل یجوز قتل الوطا ویط لتلویثها حصر المسجد بخرءها الفاحش فاجاب یجوز حبسها للا ستئناس بها واما اعتاقها فلیس فیه ثواب وقتل المؤذی منها ومن الدواب جائز آه قلت ولعل الکراهة فی الحبس فی القفص لانه سجن وتعذیب دون غیره کمایؤخذ من مجموع ماذکرناوبه یحصل التوفیق فتأمل.

هم دغه مضمون په بريقه شرح طريقه محمديه ج ۴ ص ۷۹ کي راغلی دی.



مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی نذ احمد احسانی مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

دسروز اوريدونکي تعزير

پوښتنه :کوم خلک چي سروز اوری دهغوی په شريعت کي څه تعزيردی ؟

(المستفتی مولوی شاکری معاون رياست امر بالمعروف)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

اوريدل دالات دلهو معصيت دی اوحرام کاردی البته که له وجهی دضرورت وونوجائزدی لکن دغه جواز هم مشروط دی په دی شرط چي په خپل قصد او اختيار به غوږنه ورته نسی دغه ضرورت عام دی دينی وی لکه ډول دپاره دغزا مثلااوياد نياوی وی لکه ډول دپاره دتجارت مثلادغه اوريدونکي اووهونکي ته بلاضرورت به امام تعزير ورکوی هغه تعزير چي دامام په رأی مفيد وی په الاختيار (ج ۴ ص ۱۶۵)کی راغلی دی:

قال واستماع الملاهی حرام کالضرب بالقضيب والدف والمزماروغير ذلک فان سمعه بغتة يکون معذورا ويجب ان يجتهد ان لايسمعه الخ ثم قال وقال ابويوسف فی دار يسمع منها صوت المزامير والمعازف ادخل عليهم بغير اذنهم لان النهی عن المنکر فرض ولولم يجز الدخول بغير اذن لامتنع الناس عن اقامة هذاالفرض رجل اظهر الفسق فی داره ينبغی للامام ان يتقدم عليه فان کف عنه والاان شاء حبسه اوضربه سياطاً وان شاء ازعجه عن داره الخ....

په بريقه شرح محمديه (ج ۴ ص ۵۱)کی راغلی دی:

ومنها ای من افات الاذن استماع الملاهی بلااضطرار کذلک المذکور قبله دينی اودنيوی کالتجارة مثال للدينوی والغزو والحج مثالان للدينية اذالم يمکن کل واحد منهاالامع استماع الملاهی.

هرچي غزلی دی کچيری ذکر دشراب ياهلکانو يانور غير جائز شيانو پکښی وی نوويل اواوريدل اوجوړيدل ئې ټول ناجائزدی اوکه ذکردمدائحو داسلام اودقرآن يادنورو محترم

شیانو پکښې وی نوجائزدی لکن په دی شرط چې داسې ډیربه نه وی چې دنورو عباداتو ځې مشغول کړی په فتاوی خانیه علی هامش الهندیة ج ۳ ص ۴۰۶ کښې راغلی دی:
واماقراءة اشعار العرب ماكان فيها من ذكر الفسق والخمر والغلام فمكروه لانه ذكر الفواحش.
په بریقه (ج ۴ ص ۲۶) کښې راغلی دی:
والثالث الشعر وهو جائز اذاخلا عن الكذب والرياء وهجوما لايجوز هجوه بل يجب تعظيمه واحترامه وعن ذكر الفسق والتغني وآفات المدح والاسكثار منه والتجرد له حتى يشغله عن بعض الواجبات والسنن وقلمايخلو عن هذه الافات... آه



مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی ندا محمد الحقانی مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان


دچرس څکونکي تعزیر

پوښتنه: کوم خلک چې چرس څکوی دهغوی په شریعت کې څه تعزیردی؟
(المستفتي مولوی شاکری معاون ریاست امربالمعروف)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب
دچرسو څکول غیر جائزدی تعزیرئې مفوض دی رأی دمام لره عدم جوازئې ددیروو جوه څخه دی اول بدن لره مضردی په بریقه ج ۴ ص ۹۳ کې راغلی دی:
اعلم ان اسباب الحرمة امور الاسكار كالخمر اوالنجاسة كالبول والدم او المضرة كالطين والحجر اوالاستقذار كالمني والمخاطة اوالخبث كالخنفساء اوالقاتلية كالسم فمااعتادو امن الدخان فقيل انه مضر بالبدن كمارءيت ان اكثرهم مرضى والحكم في مثله بالنظر الى الجنس لاالى كل فردفرد آه
دويم مفتردی مفترحرام دی لحديث ام سلمة رضى الله تعالى عنها قالت نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن كل مسكر ومفتر.
دریم دچرسو څکول دپاره دلهودی مانع دعبادات دی لکه دغه وجه دحرمت دبعض مشروباتوده که څه هم فی نفسها حلال وی په (ردالمحتارج ۵ ص ۳۲۳) کی راغلی دی:

اقول الظاهر ان مرادهم التحريم مطلقا وسدالباب بالكلية والاّ فالحرمة عند قصد اللّهو ليست محل الخلاف بل متفق عليه آه خلورم دغه يونوى مكروه كاردى په ردالمحتار ج۵ ص۳۲۷ كښي ليكلي دى اقول ظاهر كلام العمادى انه مكروه تحريما ويفسق متعاطيه فانه قال فى فصل الجماعة ويكره الاقتداء بالمعروف باكل الرباوشئ من المحرمات اويد اوم الاسرار على شئ من البدع المكروهات كالدخان المبتدع فى هذاالزمان ولاسيما بعدصدور منع السلطان...آه



مولوى عبدالحكيم عفى عنه، مولوى محمد اخلاص بركتى، مولوى نذاحمد الحقانى مولوى نورمحمد ثاقب رئيس دار الافتاء دولت اسلامى افغانستان

دبنگي كرونكي حكم

پوښتنه: كوم خلك چي بنگى كرى دهغوى په شان كي څه حكم كول پكاردى ؟


(المستفتى مولوى شاكرى معاون رياست امربالمعروف)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

زراعت دچرسو غيرجائز دى بايد حكومت ئې بند كړى بلكه بندول ئې لازم دى ځكه زراعت ئې خاص دپاره دچرسو دى بل هيڅ قصدنه دى پكښي نوپه منزله دهغه الات دلهودى چې بغير لهود بل شئ دپاره نه مستعمليږى په ردالمحتار ج۵ ص۱۴۹ كي راغلي دى:

وهذاالاختلاف اى لاختلاف بين ابى حنيفة وصاحبين رحمهم الله تعالى فى الضمان بكسر الات اللهو فيمايصلح لعمل آخر والالم يضمن اتفاقا ...آه



مولوى عبدالحكيم عفى عنه مولوى محمد اخلاص بركتى مولوى نذاحمد الحقانى مولوى نورمحمد ثاقب رئيس دار الافتاء دولت اسلامى افغانستان

بي محرمه له کوره وتونکي ميرمني تعزير

پوښتنه :کومې ښځې چې بی محرمه له کوره وزی دهغوی څه تعزیردی؟
(المستفتی مولوی شاکری معاون ریاست امربالمعروف)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

ښځه که دکوره وتله که په اندازه دسفروو تله دغه وتل ئې بی محرمه جائز نه دي خامخا یازوج یامحرم قریب به ورسره وی حتی که دپاره دحج وی هم ئې دغه حکم دی په بریقه ج۴ ص۱۷۸ کښې راغلی دی:

ومنهااى من الافات سفر الحرة بلازوج ولامحرم ولوللحج لانه ليس بفرض عليها عندعدم الزوج اوالمحرم.

هرچې دغه روزانه خروج دی هغه درې قسمه دی:

(۱) اول هغه دی چې بی اذن دزوج هم جائزدی لکه دپاره دملاقات دمور اوپلار په هفته کی یانور محرم قریبان په کال کی:

فعلى الصحيح المفتى به تخرج للوالدين فى كل جمعة باذنه وبغير اذنه ولزيارة المحارم فى كل سنة مرة باذنه وبغير اذنه الخ(البحر الرائق ج۴ ص۱۹۵)

که چیری قابله وی یاغساله وی اویائې پریوچا حق باندی وی بی اذن دزوج وتلای شی.

فانكانت قابلة اوغسالة اوكان لها على آخر حق تخرج بالاذن وبغير الاذن الخ البحرالرائق ج۴ ص۱۹۵ وفتح القدير ج۴ ص۲۰۸)

دغه رنگه کچیری یو مسئله ورپیښه شوه اوزوج ددی دپاره سوال دیو عا لم څخه نه کاوه اوبی رضادزوج وتل ددغه مسئلی دپاره جائزدی:

(فان وقعت لها نازلة ان سأل الزوج من العالم واخبر ها بذلک لايسعها الخروج وان امتنع من السوال يسعها ان تخرج من غير رضاه آه (فتح القدير ج۴ ص۲۰۸ والبحرالرائق ج۴ ص۱۹۵)

(۲) هغه دی چې په اذن دزوج وتلائې اوبی اذنه نشی وتلای لکه دپاره دتعلیم دمسائلو غیرله هغه مسئلی څخه چې ورپیښ شوی وی.


(وان لم يكن لهازله ولكن ارادت ان تخرج لتتعلم مسئلة من مسائل الوضوء و الصلوة انكان الزوج يحفظ المسائل ويذكر معها له ان يمنعها وانكان لايحفظ الاولى ان يأذن احيانا وان لم يأذن

فلاشئ علیه ولا یسعها الخروج مالم یقع لها نازلة (فتح القدیر ج۴ ص۲۰۸ والبحر الرائق ج۴ ص۱۹۵)
که چیری خروج دپاره دملاقات دمورا وپلار رووپه کم دهفتی کی یادپاره دملاقاة دنورو محارم قریبانو په کم کی دکال وونو په اذن دزوج جائزدی (واما الخروج للاهل زائد اعلی ذلک فلها ذلک باذنه (البحر الرائق ج۴ ص۱۹۵)

(۳) دریم هغه خروج دی چې مطلقا غیر جائز وی لکه دپاره دملاقات داجانب یاخروج وبازارته یاوودوته یاغیره ددغه قسم څخه وفیما عداذلک من زیارة الاجانب وعیادتهم والولیمة لایأذن لها ولاتخرج ولواذن وخرجت کانا عاصیین (البحر الرائق ج۴ ص۱۹۵)
ددغه دری قسمو دپاره نورامثال هم شته لکن دغه مذکور افراد او امثال دپاره دتوضیح مونږ ذکرکړی دی دیادونږ خبره داده چې هروقت ښځه دکوره خارجیږی که په اذن دزوج وی که بی اذن دزوج وی داشرط دی چې په سترکی به وزی په زینت کی به نه وزی عطربه ئې نه وی لګولی.

(حیث ابحنالها الخروج فانما یباح بشرط عدم الزینت وتغیر الهیئة الی مالایکون داعیة الی نظر الرجال الخ (فتح القدیر ج۴ ص۲۰۸) دزوج دپار حق دتعزیر شته چې ښځه ئې بی اذنه وزی په هغه صورتوکی چې بی اذن ئې وتل غیر جائزوی.

(وکمایجوز ضربها للخروج اذاکان الخروج بغیر حق الخ البحر الرائق ج۵ ص۴۰۹ دسلطان دخوا تعزیر وښځو ته جائزدی (اباح التعزیر للنساء عند الحاجة الی ذلک (الفتاوی التاتارخانیة ج۵ ص۱۴۳)وان رءی المحتسب رجلا مع امرءة فی الطریق یتحدثان فماذایصنع بهما الجواب روی ان عمر رضی الله تعالی عنه رأی رجلا مع امرءة یتحدثان فی الطریق فعلاهما بالدرة فقال الرجل هی امرءة فقال له لوکانت امرء تک فلم لاتدخلها فی بیتک الحدیث (الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص۹۷ ط قدیمي کتب خانه کراچي)والله اعلم



مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی نذ احمد اسحاقی مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

دترافيكي قواعدوپه خلاف کونکي ته تعزير بالمال ورکول

پوښتنه : دتميز رياست عالي مقام ته السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته څرنګه چې ستاسو حضورته معلومه ده په اوسنيو شرايطوکي دنقليه وسائلو اذدحام ډير زيات دی او خصوصاً په داخل دښارکښي ددغو وسائطو تګ اوراتګ خوراډير دی چې اکثره موټروانان ترافيکي قواعد اومقررات نه مراعته وی اودترافيکوله مسئولينو سره جنجال کوی موږپه دغه دوه کاله کښي چې په هررنګ اوطريقه ددوی داصلاح په منظور ځلند ورسره وکړکومه مثبته نيتجه ئې ورنکړه ستاسوله عالي حضور څخه هيله کوم که چيری شرعي موانع نه وی دتنبيه مالی امرراکړی چې دمتخلفينو موټروانانوسره دسرغړونی اودتخلف په وخت کښي ورته رسما دتنبيه پارچې ورکول سی څرنګه چې په نورو ولايتوکښي هم معمول ده اوروپی ددولت په نامه بيت المال ته تحويل سی له يوی خوابه دمتخلفينوداصلاح سبب وګرځي اوله بلې خوابـ دبی وزلو اوغريبو خلکو سره دضرورت په وخت کښي دبيت المال له طرفه ددغوپيسو ورسره مرسته اوکومک وسی څرنګه چې لازمه بولي هدايت راکړی. والسلام.

(المستفتی دترافيکومدير)

محترم قوماندان صاحب ترافيک قندهار هرګاه اين موضوع بعد ازملاحظه والی صاحب قندهار ازطريق ولايت به شورای عالی علماءمرکز راجمع شود بهتر ميګردد تادرين باره شرعا قرار صادرګردد. مولوی عنايت الله (غبرګی)

محترم ددارالافتاء رئيس صاحب مقدم دغه موضع تعقيب کړی ډير آذيت روان دی اميد دی په دی هکله فتوی ورکړه سی.

(ملامحمد حسن رحمانی والی قندهار ۲-۷- ۱۳۷۵)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

نه تعزير بالمال جائز نه دی هرچی په يوقول کی دامام يوسف رحمة الله تعالى عليه د جواز راغلی دی بعض فقهاء وايي چی داضعيف روايت دی لکه په ردالمحتارج۳ ص۱۹۵ کی ليکلی دی:

قال فی الفتح وعن ابی يوسف رح يجوز التعزير للسلطان باخذ المال وعندهما وباقی الائمة

لایجوز آه ومثله فی المعراج وظاهره ان ذالک روایة ضعیفة عن ابی یوسف فی الشر نبلالیة ولایفتی بهذا لما فیه من تسلیط الظلمة علی اخذ مال الناس فیا کلو نه آه مثله فی شرح الوهبانیة عن ابن وهبان انتهی .

بعض فقهاء معنی دتعزیر بالمال داکوی چی امام به مال دجانی څخه بند کړی څه موده چی جانی په لارشی بیادی پریو طریقه وجانی ته ورکړی او معنی دتعزیر بالمال دانه ده چې حاکم به ئې دځان د پاره اویا دبیت المال دپاره اخلی لکه چی ظلمه ئې توهم کوی ځکه چی دپاره دیو مسلمان جائز نه دی چې دبل مال پرته له طریق شرعی و خوری په ردالمحتار کی لیکلی دی (ج۳ص۱۹۵)

ان معنی التعذیر بالمال علی القول به امساک شئ من ماله عنه مدة لینزجر ثم یعیده الحاکم الیه لاان یأخذه الحاکم اولنفسه اولبیت المال کمایتوهمه الظلمة اذلایجوز لاحد من المسلمین اخذمال احدبغیر سبب شرعی انتهی

وهکذافی البحرالرائق ج۵ ص۴۱ الدرالمختارج۱ص۳۲۶ کی لیکلی دی:

لاباخذ مال فی المذهب (بحر) وفیه عن البزازیة وقیل یجوزومعناه یمسکه مدة لینزجر ثم یعیده له فان ائیس من توبته صرفه الی مایری وفی المجتبی انه کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ... آه

په البحرالرائق ج۵ص۴۱ کی لیکلی دی:

وفی المجتبی لم یذکر کیفیة الاخذواری ان یأخذها فیمسکها الیس من توبته یصرفها الی مایری وفه شرح الاثار التعذیر بالمال کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ الحاصل ان المذهب عدم التعزیر بأخذ المال... آه

اوپه فتح القدیرج۵ ص۱۱۲ کي لیکلی دي:

وعن ابی یوسف یجوز التعزیر للسلطان بأخذ المال وعندهما باقی الائمّة الثلاثة لایجوز ومافی الخلاصة سمعت من ثقة ان التعذیر باخذ المال اوره ی القاضی ذالک اوالوالی جاز ومن جملة ذالک رجل لایحضر الجماعة یجوز تعزیره باخذ ان لمال مبنی علی اختیار من قال بذالک من المشایخ کقول ابی یوسف... آه حاصل تعزیر بالمال جائز نه دي لکن په طریقه دامساک جائزدی لکه چې سابق ذکر شوی نوغوره طریقه داده چی ددغو موټروالا چی خلاف قانو ن کوی موټرئې حبس شی اویایوبله طریقه چی ستاسوپه نظر مفیده وی خوپیسی به نه اخیسته کیږی ځکه چی جائز هم نه ده په دغه طریقه چې سوال کنبی ذکرشوی دی اودبی

پرواخلقو لاس هم ازادیږی او بدنامی هم ده والله تعالى اعلم.



مولوی عبدالحکیم عفی عنہ مولوی عبداللہ مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء دولت اسلامی افغانستان

دترافیکي قواعدو په خلاف کونکي ته تعزیر بالمال

پوښتنه: ددارالفتوی محترم رئیس صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته دکندهار ترافیکو مدیریت تاسی محترم حضورته داسی پیشنها دکوو اکثرا دریوران چې قانون دترافیکونه مراعاتوی اودترافیکو دلخراشي واقعي منځ ته راوړی په داخل دښهر کښې دسرعت له امله خطر ناکی پیښې منځ ته راځی نو مخکښې دترافیکو د قانون له مخې تأدیبی جزایعنی نقدی جریمې کیدل ووچې پیسې بیت المال ته تحویلیدی اودغه دریوان بې له جریمې څخه په هیڅ رقم نه اصلاح کیږی نوستاسی له محترم حضور څخه هیله کوو چې په دغه هکله موږته شرعي فتوی راکړی ترڅو دترافیکی پیښو په بنه توګه مخنیوی وشی اومسلمانان به له مرګه خلاص شی والسلام.
(دترافیکو مدیریتؒ مدیر ملاعبد الباری)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الملک الوهاب

محترمه لکه څرنګه چې په دی هکله موږ تاسوته مخکې هم فتوی لیکلی وه په تاریخ ۹-۷-۷۵ دفقه حنفي دکتابو مطابق تعزیر بالمال (جرمانه) ناروا عمل دی تاسوباید ودی ته یوه بله طریقه وسنجوی که دموټر بندی کول وی که موټروان اوکه بله لاروی هغه په تاسو پوری اړه لری دجرمانی اخستل ناروا عمل دی هیڅ لاریې دجواز نشته .والسلام



مولوی عبدالحکیم عفی عنہ مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی احمد نوری عفی عنہ مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء دولت اسلامی افغانستان

دچامال ضبطول

پوښتنه :وحضورته دمحترم مقام عالیه محکمه تمیز مرکزی ولایت کندهار السلام علیکم ورحمة الله څرنگه چې څه وخت مخکښې تاسوته هم معلومات شته چې لس زره نوټونه ددې لخواچاپ شوی وه اودطالبانولخوااعلان وشو چې دغه جعلی نوټونه بندی بناپردی اساس دیو صراف څخه موږ دوه سوه لکه افغانی ضبط کړی مذکور صراف وویل چې ماد هرات څخه په صرافي کي رانیولی دی مانه دی پیژندلی په دغه باب شرعی معلومات راکړي چې موږ دغه مبلغ مذکور صراف ته ورکړو اوکه څرنگه ستاسو دهدایت په انتظار یو. والسلام-

(مولوی محمدسلیم دکندهار ولایت داحتساب ریاست)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

دغه ضبط کول دپیسو تعزیر بالمال دی اوتعزیر بالمال روانه دی اوکه چیری یوڅوموده ئې دغه پیسی بندولی چې ددغه صراف خیال داشي چې نی راکوی دپاره دزجر خوبیرته ئې پریو طریقه ورکړی نوصحیح ده لکن ښه خبره داده چې یوه بله طریقه دتعزیر غوره کړی چې ستاسو په خیال کی مفیده وی دغه عمل دصراف دقبیلی څخه دغش المبیعات اوتدلیس الاثمان دی باید سخت انکار پروسی چې څوک بل وخت دغسی عمل ونکړی عام خلق خطا نکړی په معاملاتوکی گډوډی رامیانځ ته نکړی په(الدرالمختار ج۱ ص۳۲۶)کی لیکلی دی:

لاباخذالمال فی المذهب (بحر)وفیه عن البزازیة وقیل یجوزومعناه ان یمسکه مدة لینزجر ثم یعیده له فان ایس من توبته صرفه الی مایری وفی المجتبی انه کان فی ابتداء الا سلام ثم نسخ... آه

په البحرالرائق ج ۵ ص ۴۱کي لیکلي دی:

وفی المجتبی لم یذکر کیفیة الاخذ وأری ان یأخذ هافیمسکها فان ایس من توبته یصرفها الی مایری وفی شرح الاثار التعزیر بالمال کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ والحاصل ان المذهب عدم التعزیر بأ خذ المال...آه

په (ردالمحتار ج۳ ص۱۹۵)کی لیکلی دی چی روایت دجواز دتعزیر بالمال دامام ابی یوسف رحمه الله روایت ضعیفه دی تعزیر بالمال خوجائز نسو لکن پردغسی اعمالو باید

امام تعزیر ورکړی دغه خلق مستحق دتعزیرـاتو دی په الدر المختار ج۱ ص۳۲۷ کی لیکلی دی وعزر کل مرتکب منکر اومؤذی مسلم بغیر حق بقول اوفعل آه

په (الفقه الاسلامی ج۶ ص۷۶۸) کی لیکلی دی:

المعاملا ت المنکرة کالربا والبیوع الفاسدةومامنع الشرع منه کالغش والتدلیس وبخس الکیل والمیزان وعلی المحتسب انکاره والمنع منه والزجر علیه والتادیب علیه حسب الاحوال اذاکان متفقا علی حظره واماالمختلف فیه بین الفقهاء بالحظر والاباحة فلادخل له فی انکاره... آه

په (الفقه علی المذاهب الاربعة ج۵ ص:۴۰) کی لیکلی دی:

ومن هذه الجنایات ان یختلی بامراة محرمة اویشهد زوراویغش شخصا اویخدعه اویحتال علیه اویقامراویبذرماله فیما یؤذی الناس اویسعی بالنمیمة بین الناس اویطفف الکیل والمیزان اویصرف وقته فی الملاهی اوغیر ذالک مما لایمکن حصره ههنا فکل جنایة لم یضع لها الشارع حداولاکفارة فان للحاکم ان یعاقب علیها بالسجن اوالضرب بحسب مایراه زاجر اللمجرم ...آه

په احکام سلطانیة لابی الحسن الماوردی ص۲۵۳ کښی لیکلی دی:

ومما یتعلق بالمعاملات غش المبیعات وتدلیس الاثمان فینکره ویمنع منه ویؤدب علیه بحسب الحال فیه روی عن النبی صلی الله علیه وسلم لیس منامن غش فان کان هذاالغش تدلیساعلی المشتری ویخفی علیه فهو اغلظ الغش تحریما واعظمها مأثما فالانکار علیه اغلظ والتادیب علیه اشد وانکان لایخفی علی المشتری کان اضعف مأثما والین انکارا ویتظرفی مشتریه فان اشتراه لیبعه من غیره توجه الانکار علی البائع لغشه والمشتری بابتیاعه لانه قدیبعه لمن لایعلم بغشه فانکان یشتریه لیستعمله خرج المشتری من جملة الانکار وتفرد البائع وحده وکذالک القول فی تدلیس الاثمان آه والله تعالی اعلم

مولوی محمد اخلاص برکتی

مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء دولت اسلامی افغانستان

دتلیفون پرمحصول نه تحویلولو تعزیر مالي څه حکم لري

پوښتنه :الی حضرت مفتی صاحب رئیس دارالافتاء کندهار السلام علیکم ورحمة الله څرنګه چې په تیروحکومتوکی چاچې به محصو ل دتلیفون پروقت اوزمان تحویل نکړی

پرهغه نفرياندى جريمه راوتله دولت به څنى اخستل څنګه چې اوس حكومت دطلباى كرامودى دشريعت دنګاه څخه موږ جريمه واخلو يانه هيله كوو په دى حصه كى معلومات اوهدايت راكړى ډيره مهربانى به مووى ومن الله التوفيق.

(مولوى عبد العزيز رئيس مخابرات ۲۹ - ۱۰ - ۱۳۷۶)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب

مسئله داده چې په تيروحكومتوكى چاچې به محصول دتليفون پروخت اوزمان تحويل نكړى پرهغه نفرباندى به جريمه راوتله نودغه جريمه داتعزير بالمال دى اوتعزير بالمال جائزنه دى هرچې په يوقول كى دامام ابويوسف رحمه الله تعالى جوازراغلى دى بعض فقهاء وايي چې داضعيف روايت دى لكه ردالمحتار ج۳ ص۱۹۵ كى ليكلى دى:

قال في الفتح وعن ابى يوسف رحمه الله يجوز التعزير للسلطان باخذ المال وعند هما وباقى الائمة لايجوز آه ومثله فى المعراج وظاهره ان ذلک رواية ضعيفة عن ابى يوسف قال فى الشرنبلالية ولايفتى بهذالمافيه من تسليط الظلمة على اخذ مال الناس فيا كلونه آه ومثله فى شرح الوهبانية عن ابن وهبان انتهى.

اوبعضى فقهاء معنى دتعزير بالمال داكوى چې امام به مال دجانى څخه بندكړى څه موده چې جانى په زجرشى بيادى پريوطريقه وجانى ته وركړى اومعنى دتعزير بالمال دانه ده چې حاكم به ئې دځان دپاره اويادبيت المال دپاره اخلى لكه چې ظلمه ئې توهم كوى ځكه چې دپاره ديومسلمان جائزنه دى چې دبل مال پرته له طريق شرعى وخورى په (ردالمحتار ج۳ ص۱۹۵) كى ليكلى دى:

ان معنى التعزير بالمال على القول به امساک شئ من ماله عنه مدة لينزجر ثم يعيده الحاكم اليه لاان يأخذه الحاكم لنفسه اولبيت المال كما يتوهمه الظلمة اذلايجوز لاحد من المسلمين اخذ مال احد بغير سبب شرعى انتهى وهكذافى البحر الرائق ج۵ ص۴۱

اوپه الدرالمختار ج۱ ص۳۲۶ كى ليكلى دى:

لاباخذمال فى المذهب (بحر) وفيه عن البزازية وقيل يجوز ومعناه ان يمسكه مدة لينزجر ثم يعيده له فان ايس من توبته صرفه الى مايرى وفى المجتبى انه كان فى ابتداء الاسلام ثم نسخه...آه

اوپه البحرالرائق ج ۵ ص ۴۱ كى ليكلى دى:

وفی المجتبی لم یذکر کیفیة الاخذ واری ان یاخذ ها فیمسکها فان ایس من توبته یصرفها الی مایری وفی شرح الاثار التعزیر بالمال کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ والحاصل ان المذ هب عدم التعزیر باخذ المال... آه

او په فتح القدیر ج۵ ص۱۱۲ کښې لیکلی دی:

وعن ابی یوسف رحمه الله یجوز التعزیر للسلطان باخذالمال وعندهما وباقی الائمة الثلاثة لایجوزو مافی الخلاصة سمعت من ثقة ان التعزیر باخذ المال ان رءی القاضی ذلک اوالوالی جاز ومن جملة ذلک رجل لایحضر الجماعة یجوز تعزیر ه باخذ المال مبنی علی اختیارمن قال بذلک من المشایخ کقول ابی یوسف رحمه الله تعالی.

الحاصل تعزیر بالمال جائز نه دي لکن په طریقه دامساک جائز دی لکه چې سابق ذکرشو نوغوره طریقه داده چې ددغو تلیفون والاچې خلاف دقانون کوی تلیفون ئې قطعه شی اویایو بله طریقه چې ستاسو په نظر مفیده وی خوپیسی به نه اخیسته کیږی ځکه چې جائز نه دی په دغه طریقه چې په سوال کښې ذکرشوی والله تعالی اعلم بالصواب

جزاء دهغه خائنا نو چي په تجارتي اسنادوکي جعلکار کوی

پوښتنه: بریاست محترم دارالافتاء السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته به تعقیب فیصله تاریخ ۱۷-۴-۱۳۷۵ شورای عالی طلباء ذیلا عرض میکردد درباره کسانیکه تقلب یا جعلکاری دراسناد تجارتی یاغره نموده وبه خساره دولت تام می شوود تقریبا ازهزارلک الی ده هزار لک افغانی خیانت بادولت کرده درباره جزااین گونه اشخاص شرعا حکم چه می باشد درحکومت های سابق قانون موجود است که اگر کسی جعلکاری می نمود وجعل سازی آن ثابت می شد درآن وقت به علاوه اصل مبلغ به عوض مثلاده افغانی مبلغ ۲۰ بیست افغانی دوچندی اخذ می شد ازمقام محترم درزمینه توضیحات فرمایند که شرعا این اجرات چه طور بوده. والسلام.

(مولوی عبدالولی رئیس اتاق تجارت)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب: برای مرتکبین چنین جنایت تعزیر داده میشود که برانواع مختلف میباشد مثل ضرب وحبس وگوش مالی وسخن زشت ونظر به پیشانی ترش ودشنام بغیر از قذف وغیره که برای قاضی مفوض است اما اگر ضرب باشد درآن از

۳۹ دهٔ زیارات جائز نیست وکم ازان درست است وهرچه تعزیر باخذ المال است مثل دوچند محصول وغیره نزد امام ابوحنیفه ومحمد رحمهما الله تعالی وباقی ائمه رحمهم الله جائز نیست وکدام روایه ضعیفه که از امام ابی یوسف رحمه الله آمده فتوی بران داده نمیشود ونیز درین زمان مراعات نمیشود آن طریقه وکیفیه که در مذهب امام ابی یوسف ذکر شده لهذا تعزیر باخذ المال درست نیست

ويكون به اى بالضرب وبالحبس وبالصفع على العنق وفرك الا ذن وبالكلا م العنيف وبنظر القاضى له بوجه عبوس وشتم غير القذف مجتبى وفيه عن السرخسى لايباح با لصفع لانه من اعلى مايكون فى المتانه ص ٥٥٢ فى نصاب الاحتساب ومن موجبات التعزير كتابة الصكوك والخطوط بالتزوير آه من الاستخفاف فيصان عنه اهل القبلة (لاباخذالمال فى المذهب) بحر وفيه عن البزازية وقيل يجوز ومعناه آن يمسكه مدة لينزجر ثم يعيده له فان ايس من توبته صرفه الى مايرى وفى المجتبى انه كان فى ابتداء الاسلام ثم نسخ و التعزير ليس فيه تقدير بل هو مفوض الى راى القاضى وعليه مشايخنا زيلعى لان المقصود منه الزجر واحوال الناس فيه مختلفة بحر (قوله لاباخذ المال فى المذهب) قال فى الفتح وعن ابى يوسف يجوز التعزير للسطان باخذالمال وعند هما وباق الائمة لا يجوز اه ومثله فى المعراج وظاهره ان ذالک رواية ضعيفة عن ابى يوسف قال فى الشرنبلالية ولايفتى بهذالمافيه من تسليط الظلمة على اخذ مال الناس فيا كلونه اه ومثله فى شرح الو هبانية من ابن وهبان (قوله وفيه الخ) اى فى البحر حيث قا ل وافاد فى البزازية ان معنى التعزير باخذ المال على القول به امساک شئ من ماله عند مدة لينز جر ثم يعيده الحاكم اليه لاان يأخذه الحاكم لنفسه اولبيت المال كما يتوهمه الظلمة اذلايجوز لاحد من المسلمين اخذ مال احد بغير سبب شرعى وفى المجتبى لم يذكر كيفية الاخذ وارى ان يأخذ هافيمسكها فان ايس من توبته يصر فها الى مايرى وفى شرح الاثار التعزير بالمال كان فى ابتداء الاسلام ثم نسخ اه والحاصل ان المذهب عدم التعزير باخذ المال الدر المختار وردالمحتار ج ۳ ص۱۹۵ ص ۱۹۶

معلوی محمد اخلاص برکتی


مولانا محمد مسلم حقانی مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولانا عبدالله مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

اسيران چي په محبس کي سرکبني کوی څه جزاء لري

پوښتنه : بنديان چي په محبس کی سرکبنی کوی مسئول دمحبس ته جوازشته چي جزاء ورکړی کنه که جوازوی هيله کوم چي اندازه يي راته معلومه شی ؟
(دامنيی قوماندانی لخوا)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله تعالى
بنديان په محبس کی چې څرنګه سرکشي کوي که چيغي اوناري وهي يادروازي ټکوي کوټه قلفه دی شی نورنوڅه جزاء ورکوی اوکه دنوروبنديانو سره جنګ کوی اوپوچ وايي نوياهغه قسم جزاء ګانی پرسته لکه دمحبس دباندی چې خلکوسره جنګونه وکړی ياپوچ روايي.



مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی نذیر احمد احقانی مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب رئیس دارالافتاء دولت اسلامی افغانستان

دمتمر دځه تعزيردی

پوښتنه : هغه شخص چي متمردوی حبس يي جوازلری کنه که وی ترکومی اندازی به وی؟
(دامنيی قوماندانی لخوا)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله تعالى دمتمرد شخص حبس جائزدی اندازه ئې مفوض رای ته دحاکم وقاضی ده لکن په شرط دثبوت دتمرد مثلا مديون شخص دی پورددائن نه ورکوی وخت دپورپوره وی اومديون قدرت هم پرلری اودائن هم طلب کوی دحبس په بدائع الصنائع ج۷ ص۱۷۳ کی راغلی دی:

واماشرائط الوجوب ای وجوب الحبس فانواع منها بعضها يرجع الى الدين وبعضها يرجع الى المديون وبعضها يرجع الى صاحب الدين اماالذى يرجع الى الدين فهو ان يكون حالا الخ واماالذى يرجع الى المديون فمنها القدرة ومنها المطل ومنها ان يكون من عليه الدين ممن سوای الوالدين لصاحب الدين الخ

واماالذی یرجع الی صاحب الدین فطلب الحبس من القاضی... الخ

مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی زهیم احمد الحقانی مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء دولت اسلامی افغانستان

په قانوني توګه ممنوع مالونه که اهل عدل ته په لاس ورشي

پوښتنه :ددارالافتاء محترم مقام ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته څه موده مخکی یوه اندازه چرس تریاک اوهیروئین دهرات دګمرک څخه وقندهارته راانتقال شوی دی څرنګه چې مالکان ئې اوس دامارت لوړ مقام ته عارض شوي دی اودخپل ذکرشوی موادو غوښتنه کوی نوپورته موضوع ستاسو حضورته عرض شول څرنګه دشرعی فیصلی په اساس لازمه بولی موږ ته به لارښوونه وکړی. والسلام.

(ملامحمد عثمان معاون دګمرک)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الله تعالی


حکم دهغه مالو چې قطاع الطریق اوبغاة اوغاصبانو دخلقو څخه په ظلم اوغصب اخستی وی وروسته دهل عدلو په لاس ورشی دادی کچیری مالکان ددغه مالو معلوم شی په شاهدانو یاقسم سره په وخت دعدم دشاهدانو مالکانوته به تسلیمیږی اوکه ئې مالکان معلوم نشی نوبیت المال ته به داخلیږی لکه په کتاب الخراج ص۱۸۳ دامام ابویو سف رحمه الله تعالی کښې ویلی دی:

واماما سألت عنه یاأمیر المؤمنین مماتصیبه ولاتک فی الامصار مع اللصوص اذااخذوامن الامانة والمتاع والسلاح وغیر ذلک فمااصبت معهم من شئ فتقدم الی ولاتک فی ان یصیر الی رجل من اهل الامانة والصلاح فیصیره فی موضع حریز فان جاءله طالب واقام بذلک بینة شهودالابأس بهم قومامن اهل التجارة معروفین ردعلیه متاعه واشهد علیه وضمنه المتاع اوقیمته جاءمستحق له وان لم یأت له طالب بیع المتاع والسلاح وصیر ثمنه والمال الذی اصیب معهم الی بیت المال...آه

لکن دغه نیول شوی شیان په خپل مابین کی فرق لری هرچې تاریاک دی هغه مال متقوم دی

بیع اوشرایي صحیح ده لکه په الدر المختار علی هامش رد المحتار ج ۵ ص ۳۲۳ کی وایي اوماهران ډاکټران وایي چې دواکې ئې هم استعمال ډیردی اوکه ئې یوسړی عادي شی داسې عادي که ئې ونه خوری هلاکیږی یقینا هلاکت معلوم وی نوئي خوراک ورته حلال بلکه واجب دی خوپه دی شرط چې تدریجا به ئې کموی چې عادت ئې ختم شی لکه په ردالمحتار ص ۳۲۸ کی وایي دغه ټول دلائل دتاریاک دتقوم دی نودغه تاریاک چې دتورن څخه نیول شوی دی چې مالکان ئې شاهدان تیرکړی اویاقسم واخلی هغوته دی تسلیم شي اوهرچې چرس دی هغه خاص دلهو دپاره مستعمليږی هغه دی مالکانوته نه تسلیمیږی بلکه ودی سیځل شی په نیت داحتساب هر چې هیروئین دی غالب داده چې هغه بلاشي بله فائده نه لری نوچرس اوهیروئین چې په نیت داحتساب وسیځل شئ مناسب کاردی لکه هغه الات دلهو اولعب چې بلالهو اولعب په بل شي کی نه مستعملیږی په تبیین الحقائق ج ۵ ص ۲۳۷ کی راغلی دی:

ومن کسر معزفا اوراق سکرا اومنصفا ضمن وصح بیع هذه الاشیاء وهذاعند ابی حنیفة رحمة الله تعالی وقالالایضمنها ولایجوز بیعها لانها معدة للمعصیة فیسقط تقومها کالخمر ولانه فعله باذن الشرع لقوله علیه الصلوة و السلام بعثت بکسر المزامیر وقتل الخنازیر و لقوله صلی الله علیه وسلم اذارأی احد کم منکر افلینکر بیده الحدیث والکسر هو الانکار بالید و لهذالوفعل بامر اولی الامر کالامام لایضمن فبامر الشرع اولی الخ وروسته تر خوسطر ئې ویلی دی والفتوی فی زماننا علی قولهما لکثرة الفساد فیمابین الناس والله اعلم.



مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

خوک چې په خبرواقرارنه کوی

پوښتنه: یو نفرچې سلاح فروش وی یامخ کې یا اوس بیارا وستل شی دتحقیق په وخت کې د خبرودلاری اقرار ونکړی نو دشریعت په چوکاټ کې څنګه عمل ورسره وشی؟

(دتحقیق مدیریت داستخبارا تو څانګه)

بسم الله الرحمن الرحيم


الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

سلاح فروش چې سلاح دبيت المال خرڅوي يعنى دبيت المال سلاح ئې وړى وى اوبيائې خرڅوى كچيرى اقرار كوى اوياشاهدان عادلان ورباندى وى خوجوړه خبره ده اوكه نه شاهدان عادلان وى اونه اقرار كوى اوتهمت ئې په دغه كارهم ثابت وى هم ئې بند هم وهل روادى بناپرړى دامام تهمت په دوو۲ مستورينو شاهدينو اويايو شاهد عادل سره ثابتيږى اويادغه سړى مشهور په دغه عمل وى اوياعلامات ددغه عمل پربنكاره شى په دغه وقتوكى ئې بندياوهل جائزدى په اندازه درأى دامام.

قلت وفيه من الكفاية معزيا للبحروغيره للقاضى تعزير المتهم الخ الدر المختار(قوله للقاضى تعزير المتهم) ذكروا فى كتاب الكفالة ان التهمة تثبت بشهادة مستورين اوواحد عدل فظاهره انه لوشهد عند الحاكم واحد مستور وفاسق بفساد شخص ليس للحاكم حبسه بخلاف مااذاكان عدلا اومستورين فان له حبسه (بحر) الخ ردالمحتار ج۳ ص۲۰۵ وعن الحسن يحل ضربه حتى يقرمالم يظهر العظم الخ الدر المختار.

وروسته ئې دپاره دتائيد ويلى دى:

ثم نقل عن الزيلعى فى آخر باب قطع الطريق جواز ذلک سياسة واقره المصنف تبعا للبحر وابن الكمال زاد فى النهر وينبغى التحويل عليه فى زماننا لغلبة الفساد الخ الدر المختار(قوله ثم نقل)المصنف وقوله جواز ذلک اى جواز ضرب المتهم حيث قال نقلاعن الزيلعى ومنها اي من السياسة ماحكى عن الفقيه ابى بكر الاعمش ان المدعى عليه اذا انكر فللا مام ان يعمل باكبر رأيه فان غلب على ظنه انه سارق وان المسروق عنده عاقبه ويجوزذلک كمالورآه الامام مع الفساق فى مجلس الشرب وكمالورأه يمشى مع السراق الخ ردالمحتار ج۳ ص۲۱۴



مولوى عبدالحكيم عفى عنه مولوى محمد اخلاص بركتى مولوى نذ احمد الحقانى مولوى نورمحمد ثاقب رئيس دار الافتاء دولت اسلامى افغانستان

دخائن لپاره شفاعت کول څه حکم لري

پوښتنه: دهر مجرم بندی په باب واسطه دشریعت په چوکاټ کې څنګه ده ؟
(دتحقیق مدیریت داستخباراتو څانګه)


بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

شفاعت اوواسطه کول په باب دحدود کې وروسته تر اثبات په نزدد حاکم جائز نه دي مخکې له اثبات په نزدد حاکم بیا جائزده لکه عفوچې جائز ده هرچې شفاعت دی په باب دقصاص کې هغه جائزدی په هروقت کې څکه عفو په کښې جائزده هرچې شفاعت دی په باب دتعزیر کې یعنې چې یوسړی داسې عمل کړی وی چې تعزیر پر وی یوبل کس ددغه سړی واسطه شی اوشفاعت ئې کوی کچیری په داسې شي کې وی چې نظام ته دعام ملت مخل وی نوشفاعت اوسفارش پکښې جائز نه دي اوکه په دغه شان نه وی نوجائزدی په هغومواضع کښې چې شفاعت جائزوی دحاکم دپاره ئې قبلول هم جائزوالافلاپه غیر کې ددغه مذکور امور وشفاعت کول جائز دی بلکه ثواب پر مرتب کیږی که په صحیح نیت وو.

الحد عقوبة مقدرة وجبت حقا لله تعالى زجر افلاتجوز الشفاعة فيه بعد الوصول للحاكم آه الدر المختار (قوله فلاتجوز الشفاعة فيه) تفريع على قوله تجب الخ قال فى الفتح فانه طلب ترک الواجب ولذا انكر صلى الله عليه وسلم على اسامة بن زيد حين شفع فى المخزومية التى سرقت فقال اتشفع فى الحد من حدود الله قوله بعد الوصول للحاكم واماقبل الوصول اليه والثبوت عنده فتجوز الشفاعة عند الرافع له الى الحاكم ليطلقه لان وجوب الحد قبل ذلک لم يثبت فالوجوب لايثبت بمجرد الفعل بل على الامام عند الثبوت عنده كذافى الفتح وظاهره جواز الشفاعة بعد الوصول للحاكم قبل الثبوت عنده وبه صرح عن الحموى ردالمحتار ج۳ ص۱۵۴ وهكذافى البحر الرائق ج۵ ص۲ـ

په الفقه على المذاهب الاربعه ج۵ ص۵ په بیان کې دحدیث دشفاعت داسامة بن زید راغلی دی: ويوخذ من هذا الحديث انه لايحل لحاكم ان يقبل الشفاعة فى حد من حدودالله تعالى الاتى بيانها كما لايحل لاحد ان يشفع فى حدوصل الى الحاكم وهذاممالاخلاف فيه بين العلماء واماقبل الوصول الى الحاكم فان الشفاعة تصح كمايصح العفو بشرط ان يكون مستحق العقوبة غير معروف بالجرائم هذافى الحدود واما فى القصاص فان الشفاعة فيه تجوز لانه حق العبد وله ان يعفوا



مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی ندا محمد الحقانی مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان


که دیوه بندی جرم ثابت نه وی نو بایدخه وشي

پوښتنه: که چیری دیو بندی جرم ثابت نه وی څنګه باید وکړو ؟

(دتحقیق مدیریت داستخباراتو څانګه)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب دغه بندی چي جرم يي ثابت نه دی متهم دی په جرم سره بیان دمتهم په تفصیل سره مخکی (دڅوک چي په خبرواقرارنه کوی ترعنوان لاندی) ذکرشو اعادی ته ضرورت نشته والله تعالی اعلم



مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی ندا محمد الحقانی مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

پرسړک باندی له شیان خرڅولوڅخه نه منع کیدونکي تعزیر

پوښتنه: ددارالافتاء محترم مقام ته دښاروالی ریاست دهغه خلګوپه باب استفتاء غواړی کوم چې پرسړک شیان خرڅوی اویاپرپیاده رو شیان خرڅوی څرنګه عمل کولاشی ایاددوی شیان ضبط کولای شی کنه په هغه وقت کښی کوم چی دوی دښاروالی خبره ونه منی اود خلګوسخت مزاحم واقع سی؟

(المستفتی ملا هدایت الله رئیس ښاروالی قندهار)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب

په لاره کی دشیانو خرڅول حلال نه دی که یی خلقوته ضرررساوه اوحکومت ته دالازمه ده چې منع یی کړی لکن نه په ضبط کولو سره ددوی دمال ځکه چې ضبط کول دمال تعزیر مالی دی اوتعزیر مالی حرام دی:

رجل یبیع علی الطریق ان کان لایضر بالمارة لسعة الطریق یحل الشراء منه وان اضربالمارة لا یحل الشراء منه (الفتاوی البزازیة بهامش الهندیة ج۴ ص۵۲۳) وفی شرح الاثار التعزیر بالمال کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ والحاصل ان المذهب عدم التعزیر باخذ المال (البحرالرائق ج۵ ص۴۱) وعزر کل مرتکب منکر اومؤذی مسلم بغیر حق بقول اوفعل آه (الدر المختار بهامش ردالمحتار ج۳ ص۱۹۹) لایجوز التعزیر باخذالمال فی الراجح عند الایمة (الفقه الاسلامی ج۶ ص۲۰۱)

که چیري دغه بائعین نه منع کیدل اوحکومت ئې مصلحت په هلاکیدلو کښی ولیدی نو حکومت ته هلاکیدل جائزدی په (فتاوی هندیة ج۵ ص۳۵۴) کی راغلی دی:

المحتسب اذانهی قطانا وضع القطن علی طریق العامة فلم یمتنع فاوقد المحتسب النار فی قطنه واحرقه یضمن الااذا علم فسادافی ذلک ورأی المصلحة فی احراقه فلایضمن کذافی الخلاصة ۱۲

مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی احمد نوری عفی عنه

ضرب اوحبس بیله قاضي نور مسئولین کولای شي کنه

پوښتنه: ضرب وزدن وحبس بدون امرواجازه قاضی برای قوماندان آمنیه وجنائی وولسوال جوازدارد یانه اگر نداشته باشد باید برای تمام ولایات ازمرکز مکتوب باصادر میشود واشان فهمیده شود (المستفتی مولوی حمد الله فائز)


بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب حامدا ومصلیا

تعزیر برای غیرقاضی نیز جائز است مثل زوج ومولی ومعلم وغیران بشرط مصلحة وفکر دقیق وفهم عمیق وتفصیل آن درکتب فقه

مذکوراست لکن مصلحت آنست که تعزیربان کس حواله شود که صاحب رای وفکر باشد وغیران منع شود.

وزاد بعض المتاخرين ان الحد مختص بالامام والتعزير يفعله الزوج والمولى وكل من رای احد ایباشر المعصية ردالمحتارج ۳ ص ۱۹۴



مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی عبدالله مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

دلوطي، زاني، سارق اوقطاع الطريق دزجراندازاه

پوښتنه : مرکزي دار الافتاء ته په لاندي مجرمینوکی دامیر دزجرحد اوصلاحیت راته معلوم کړی ۱ لوطی ۲ زانی ۳ قطاع الطريق ۴ غل.

بسم الله الحمن الرحيم

الجواب بعنون الله الوهاب

دلته ۲ خبری دی یو خوددی مجرمینو خپلی اصلی جزاګانی دی اوبل دامیر لخواصلاحیت دزجرده ددوی دپاره هر چې ددوی اصلی جزاګانی دی هغه خولکه عامو کتابونو چې لیکلی چې دزانی جزاء رجم اوسنګساره ده که محصن (شادی شده) وه اوسل دُری دی که غیر محصن وه اودسارق (غل) جزاء قطع دید (لاس) ده اود قطاع الطريق جزاء داده کله چې ونیول اوتېنګ شی په داسی حال کښې چې هغوی قتل نه وی کړی اومال ئې هم نه وی وړی نو حبس کیږی به پس له تعزیر څخه تر څوچې توبه وکړی اویامړه شی اوکه تېنګ شول په داسی حال کښې چې هغوی مالونه دخلکو وړی وی نوښی لاس اوچپه پښه به ئې پریکیږی اوکه تېنګ شول په داسی حال کی چې تنها قتل ئې کړی وه نوبه دوی هم قتل کړل شی اوکه تېنګ شول په داسی حال کښې چې هم ئې قتل کړی وی اوهم ئې مالونه وړی وی نو جزاء ئې قطع اوقتل اوزړه ول دی تر دری ۳ ورځوپوری اودلوطی په جزاء کښې دصحابه کرامو اختلاف ده لکه په تبیین الحقائق وغیره کی لیکلی چې بعضی وایي چې په اوردی وسوزول شی اوبعضی وایي چې دجګ ځای (کمر) څخه دی راغوزارکړل شی اوبعضی

وايي چې په يوبدبويه ځاى كښى دى واچول شى چې هلته دبدبويي څخه مړشى اوبعضي وايي چې ديوال دى ورباندى ونړيږى اوترينه دى لاندى كړل شى اوبعضى بياداواى چې حكم ئې حكم دزانى دى چې يارجم اويا جلدده اوهرچې دامير اوسلطان لخوا صلاحيت اواندازه دزجرده ددى مجرمينو دپاره نوهغه داده چې امام اواميرلره صلاحيت شته ده دقتلولوددوى آن په شمول دسارق اودلوطى چې دوى معتادوى ددى فعل سره اومكرر ورځنى صادروى كله چې امام لره معلوم شى مصلحت په قتل ددوى كښى نوقتل به ئې كړى سياسة بلكه هرمفسد اوساعى بالفساد فى الارض چې وى نوامام لره جائز دى چې دفع دشرددده وكړى په قتل دده سره په ردالمحتارج ۳ ص ۱۹۶ كى ليكلى دى:

ان من اصول الحنفية ان مالاقتل فيه عندهم مثل القتل بالمثقل والجماع فى غير القبل اذاتكرر فللامام ان يقتل فاعله وكذلک له ان يزيد على الحد المقدر اذارءى المصلحة فى ذالک ويحملون ماجاء عن النبى صلى الله عليه وسلم واصحابه من القتل فى مثل هذه الجرائم على انه رءى المصلحة فى ذالک ويسمونه القتل سياسة ومن ذالک ماسيذكره المصنف من ان للامام قتل السارق سياسة اى ان تكرر منه الخ اوپه الدر المختار بهامش ردالمحتار ج۳ ص۱۷۱ كښى ليكلى دى ولواعتاد اللواطة قتله الامام سياسة...الخ

اوپه البحرالرائق ج۵ص ۱۶ كى ليكلى:

ولو اعتاداللواطة قتله الامام محصنا كان اوغير محصن سياسة الخ اوپه الفتاوى الهندية ج۳ ص۱۵۰ كښى هم دغه مضمون ليكل شوى ده اوپه تبيين الحقائق ج۳ ص۱۸۱ كښى ليكلى دى حتى لورءى الامام فى قتل من اعتاده مصلحة جاز له قتله.

اوپه الدر المختار بهامش ردالمحتارج۳ ص۲۲۵ كښى ليكلى دى:

(للامام قتل السارق سياسة) لسعيه فى الارض با لفساد دررو هذاان عادو اماقتله ابتداء فليس من السياسة فى شئ نهر... الخ

اوپه الدر المختار وردالمحتارج ۳ ص۱۹۷ كى ليكى دى:

(وعلى هذا) القياس (المكابر بالظلم وقطاع الطريق وصاحب المكس وجميع الظلمة بادنى شئ له قيمة) وجميع الكبائر والاعونة والسعاة يباح قتل الكل ويثاب قاتلهم انتهى وافتى الناصحى بوجوب قتل كل مؤذ (قوله وجميع الكبائر) فيشمل كل من كان من اهل الفساد كالساحر وقاطع الطريق واللص واللوطى والخناق ونحوهم ممن عم ضرره ولاينز جر بغير القتل اوپه الدر المختار

وردالمحتار ج۳ ص۲۳۶ کښی لیکلی دی (قتل به) سیاسة لسعیه فی الارض بالفساد وکل من کان کذالک یدفع شره بالقتل (قوله وکل من کان کذلک) کاللوطی والساحر والعوانی والزندیق والسارق کما قدمناه فی اوائل باب التعزیر .... الخ



مولوی احمد نوری عفی عنہ مولوی نذاحمد الحقانی مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

مجسمه اودسروز آلات که حکومت ونیسي

پوښتنه :دقندهار دمرکزی دارالافتاء ومحترم رئیس صاحب اواعضاءته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته زموږ اندیوالان دخلقوڅخه داسی شیان تینګوی چې قیمت ئې ډیری روپی وی خوپه شریعت کی ناروا وی لکه مجسمی چې قیمت ئی ۵ لکه ۶لکه وی یالکه تیپونه چې قیمت ئې ۲۰ لکه ۳۰ لکه وی خودسروز په حالت کی ئې تینګ کړی یالکه ویډیو چې قیمت ئې ۳۰ لکه وی یالکه پنج بکس چې قیمت ئې ډیری روپی وی یانورشیان چې دسروز سامان وی یادقتل آله وی هیله کوو چې په دغه حصه کی فتوی راکړی چې موږ دغه شیان مات کړو اوکه ئې بیت المال ته تسلیم کړو اوکه ئې مالکانوته بیرته ورردکړو؟

(الحاج مولوی بهاء الدین حقانی)

معاون ریاست امربالمعروف

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب باسم ملهم الصواب

دویډیو اومجسمی استعمال اورانیول اوخرڅول شرعا حرام دی ځکه چې دادواړه دمال متقوم د جملی څخه نه دی مال متقوم وهغه شی ته وایي چې وهغه شی ته دانسان طبیعت میلان کوی اودوقت حاجت لپاره ذخیره کیدلای شي اوشرعا مباح اونفع پري اخستل جائز وی نوویډیو اومجسمه اګرچې مال دی لیکن متقوم نه دي نواستعمال ئې حرام دی اوبیع ئي باطله ده نوداسی شیان باید دخپلو مالکانو څخه زجرا ضبط اوددوی په حضورکی ضائع شی په مذکورعمل به ودوی اوټولو مسلمانانوته عبرت حاصل شی.

المادة ۲۱۱ بیع غیر المتقوم من المال باطل وکون غیر المتقوم من المال له معنی عرفی ومعنی

شرعی نقله فی ردالمحتار عن ابن کمال حیث قال المتقوم علی ماذکرفی التلویح ضربان عرفی وهو بالاحراز.... وشرعی و هو اباحة الانتفاع به وهو المراد بالمتقوم المنفی ههنا شرح المجلة للاتاسی ج ۲ ص۱۰۴ والمال مایمیل الیه الطبع ویمکن ادخاره لوقت الحاجة والمتقوم مایمکن ادخاره مع اباحة شرعا(الفقه الاسلامی ج۴ ص۳۵۷)

دسروز اله که یوچادبل چاورماته اوضائع کړه امام ابوحنیفه رحمه الله وايي ماتونکی دهغه دقیمت ضامن دی اوحضرات صاحبین رحمهما الله وايي ضامن نه دي اوفتوای پرقول دصاحبین دی اوکه دامام په اجازه دسروز اله ماته سی بالاتفاق ئې ضمان نشته نوحاصل دادی چې طالبانو اعلانونه کړی دی چې په افغانستان کی سروز بندیدی بیاهم چې څوک تجاوزکوی دامیر المومنین په اجازه دی دداسی کسانو سره دماتیدوعمل وشی اوتیپ دی ورمات سی:

ومن کسر لمسلم بربطا(وهوآلة الطرب عنایة طرب آلة موسیقی فرهنگ نوی ص ۴۰۱) فهو ضامن وبیع هذه الاشیاء جائز وهذا عند ابی حنیفة رحمه الله وقال ابویوسف ومحمد رحمهما الله لایضمن ولایجوز بیعها و قیل الفتوی فی الضمان علی قولهما (فتح القدیر ج۸ ص۲۹۳) اذ اکسر بربط انسان اوطنبوره اودفه او ماشبه ذلک من آلات الملاهی فعلی قولهما لاضمان وعلی قول ابی حنیفة رحمه الله یجب الضمان وذکرفی الجامع الصغیر ان علی قول ابی حنیفة رحمه الله یضمن الااذافعل باذن الامام قال القاضی الامام صدر الاسلام الفتوی علی قولهما لکثرة الفساد فیمابین الناس(الهندیة ج۵ ص۱۳۱)-

پنجه بُکس یابله آله دقتل دی ورڅخه ضبط شی په خاطر دتهنګیدلو دأمنیت دخلیفه دوظائف سیاسیو څخه یوه وظیفه داده چې خلیفه بهآمن راولی نوکه داسی شیان ازادوی بیابه امن نشي راتلای الوظائف الساسیة.... اولاالمحافظة علی الامن والنظام العام فی الدولة (الفقه الاسلامی ج۶ ص۷۰۰) بیابه کتل کیږي چې آیاداد بیت المال دی که ده دوی شخصی دی دهغی مطابق دی معامله ورسره وشی.

مولوی ندا احمد الحقانی مولوی محمود میوندوال مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

كتاب البيوع

په لاره کي بيع اوشراء څه حكم لري

پوښتنه :محترموعلماء كرامو السلام عليكم ورحمة الله وبركاته لوی څښتن تعالی موپرموږاوټولو نږی باندی سایه دائم قائم ولره څه وايي علماء دين متين په دغه لاندی مسئله کښی چې یوسړی دسړک پرغاړه ددکان په مخکی یوشئ خرڅوی اوهغه دکاندارنه وی په خوشحاله (اول) داګټه څنګه ده حلاله ده اوکنه (دوهم) دغه دکاندارپردغه سړی چې ددکان ومخ ته ناست دی حق پرلری چې ولاړئې کړی کنه؟ ددغه مسئلی حل که دشریعت په رڼا کړی راته روښانه کي ستاسی به ډیر شفقت وی فقط والسلام.

(المستفتی طیب محمد شهر کندهار)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

داول سوال جواب که چیری یوسړی (رجل) چې بیع کوی په یولارباندی که چیر ضرر نه رساوه په تیریدونکی باندی دوجه څخه دلوی والی دلاری نواوس روادی رانیول (شراء) ددغه سړی څخه اوکچیر ی ضرررساوی په تیریدونکی باندی نواوس روانه ده شراء ددغه سړی څخه که څه هم لارلویه وی اویوچاویلی دی چې داشراء ددغه سړی څخه مکروه ده.

رجل يبيع على الطريق انكان لايضر بالمارة لسعة الطريق يحل الشراء منه وان اضر بالمارة لايحل الشراء منه وانكان الطريق واسعا وقيل يكره(الفتاوى البزازية بهامش الهندية)

ددویم سوال جواب هیڅ څوک نشی منع کیدای له تصرف څخه په خپل ملک کښي همیشه او هغه وقت بیامنع کیداشی که چیري ضررساوه وغیرته اوهغه ضررضرر فاحش وی او ضررفاحش هغه شئ دی چې منع کوی حوائج اصلیه یعنی منفعة اصلیه مقصوده دبناء لکه سکناء اویاضرررسول دی بناءته چې هغه سبب دانهدام دبناءشی چونکه دا ضرر د دکان دار فاحش نه ده نومنع نشی کیدای:

لايمنع احد من التصرف فى ملكه ابدا الااذا اضر بغيره ضررافاحشا كماياًتى تفصيله فى الفصل الثانى الضرر الفاحش هوكل مايمنع الحوائج الا صلية يعنى المنفعة الاصلية المقصودة من البناء كالسكنى اويضر البناء بان يجلب عليه وهنا ويكون سبب انهدامه المادة (۱۱۹۷) والمادة (۱۱۹۹) من مجلة الاحكام والله اعلم بالصواب



مولوی نذاحمد الحقانی مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء دولت اسلامی افغانستان

بولي يابيع دمن يزيد خه حكم لري

پوښتنه :وحضورته د محترمو علماء كرامو السلام عليكم ورحمة الله وبركاته بعدا عرض دادى دغه څلور نفرولكه حاجي باران حاجي عبد الباقي اكبرخا ن بلوڅ او على سعيد پاكستاني بولي ياليلام كښي حاضر اود ټولو څخه موامضاوي اخستي دي چي كه هرڅا بولي وكتل بيا حق ده شكايت نه لري اوس بياهغه كسان ترقيمت يوسل اوپنځه ويشت لكه كالداري زيادت وركوي اوس تاسي فيصله وكړي چي موږ څه وكړو اوبل موداوعده د بولي مغ كښي وشوه چي ددي كان څخه به څوك هيڅ يوشئ نه وړي اوبل پر حاجي عبد الباقي بولي ختمه سوه اوپه دوه لكه اوپنځويشت زره كالداري موټر بيعه سو بااحترام.

(ملاحيدرشاه مسئول معدن وصنائع)

جناب محترم ملاحيدرشاه اخند السلام عليكم وبعدد ډبرى د خرڅ موضوع ته دارالافتاء ته حواله كړه چي ګناه موپه غاړه نسي والسلام-١٧-٦-١٣٧٥

وكتل سووحضورته دمحترمو علماء كرام السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وبعد محترمو دغه دډبرى موضوع بايد ترجدى نظر لاندى ونيول شي بااحترام.

(ملاحيد رشاه)

محترم د علماء كراموشورى د دار الافتاء رياست د معادن او صنائع رئيس د ډبرى په باب دملاحيدرشاه اخند معلوماتى ليک درته درولېږل شو هيله ده شرعى معلومات راكړى رسما ورسره لاتراوسه پروتوكول هم نه دي لاسليک سوى اوبل داچي داچارى خود ملاحيدرشاه اخند اړونددى مګرموږورته د دومره مودى يعنى يوكال خبره نه وه كړي تاسى ليكلى راكړى والسلام.

(د اسلامى تحريک امير محترم امير الؤ منين ملامحمدعمر اخند) ٢٠-- ٦-- ١٣٧٠

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب

دهلمند ددبرى دمعاملى په باره كى چى محترم امير المؤمنين يوه داپو ښتنه كړى چى تر اوسه پروتو كول رسمانه دى لاسليك شوى اوبله ئې داپوښتنه كړى چى رئيس د معادن اوصنائع ته ددومره مودى نه ؤ ويل شوى د دى حكم په شريعت كښى څه ده نود اولى پوښتنى په جواب كښى ويل كيږى چى عقد يوواري وشى اگركه زبانى وى په شريعت كښى داعقدپوره دى اوترلاس ليک پورى موقوف نه گرځى لكه په عاموكتابونود فقه كى ذكر شوى دى اود دويمى پوښتنى په جواب كښى ويل كيږى چى رئيس د معادن اوصنائع كه مطلق وكيل اونائب د امير المؤمنين وى اووكالت اونيابت د ده مقيدنه وى نوبياد ده له خواكه هرقسم بيع وشى اوترهرى مودى پورى چي وى بياصحيح ده لكه دامعلوميږى د تحفة الفقهاء ج۳ ص۲۳۴ الفتاوى الهندية ج۳ ص۵۸۸ اوكه وكالت د ده مقيدوى مثلاد امير المؤ منين له خواورته يوه خاصه موده ښودل سوى وى اوبيا هغه وكيل ترى خلاف ورزى كړى وى نوبياد ده وكالت اونيابت ختميږى اودى برطرف كيږى اوتعين د آمر معتبردى لكه د الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۴ ص۴۵۳ څخه معلوميږى باقى خبره داده چى دابيع د ډبرى په طريقه د بولى سره دابيع د من يزيد ده اوجائزده خوپه دى شوى بيع كى ياد ډبرى د اينده خرڅولود پاره چى كومه لائحه وضع شوى ده په دى كښى بعضى مادى اوبعضى قيوددي چى قابل د ملاحظى دى (اول) داچى د دى كان څخه به طالبان يابل قرار دادى ډبره نه وړى ترڅود دغه قراردادى قراردادنه وى پوره شوى (دوهم) داچى مشترى به پنځوس لكه كالدارى د مخه تسليموى د ضمانت په شكل اوكه قرار دادى ترمعين وقت تيرشى پنځوس لكه ئې ضبط كيږى (دريم) داچى دغه د ډبرى د استخراج ماشين به په اينده كښى د طالبانووى بناء په ضرورت د هغه وقت په قيمت اوداسى نورنوكه دامادى اوقيود محض وعدى وى خوخبره آسانه ده ځكه په شريعت كښى كه پروعده باندى وفاوشوه خوډير ښه ده اوكه وفاونشوه گناه خوده لكن پرعقد باندى كوم اثر نكوى اوكه داشروط وى د مقتضيانو اوملايماتود عقد څخه نه دي اوپه دي كي نفع ده يود بائع اود مشترى د پار اوبعضى ددى شرطو خلاف د عرف دى نوداشروط شروط فاسده دى په دى سره عقد فاسد گرځى اوعقد فاسد واجب الفسخ دى نوبيابايد داعقد

فسخ شي اونوى بولى وشى اود اينده د پاره داتول شرطونه د لاتحى څخه ليرى شى:
وخلوه عن شرط مفسد وهو كل شرط لايقتضيه العقد ولايلايمه ولم يجر العرف به وفيه نفع لاحد المتعاقدين الخ(شرح المجله للاتاسي ج٢ ص٣٤٧)اوهمداسى په(الفتاوى الهندية ج٣ ص١٣٣)كښې هم ذكردى لكل من المتعاقدين فسخ البيع الفاسد المادة (- ٣٧٢)اللام بمعنى على مثلها فى قوله تعالى وان اسأتم فلها كمافى الزيلعى والنهر اى يجب عليهما فسخه وقدتبع فى هذه العبارة الهداية والكنز لكن ان كان قبله (اى القبض) فلكل الفسخ بعلم صاحبه لابرضاه وانكان بعده فانكان الفساد فى صلب العقد بانكان راجعا الى البدلين المبيع والثمن كبيع درهم بدرهمين وكا لبيع بالخمر والخنزير فكذلک وانكان بشرط زائد كالبيع الى اجل مجهول اوبشرط فيه نفع لاحد هما فكذلک عندهما لعدم اللزوم وعند محمد لمن له منفعة الشرط واقتصر فى الهداية على قول محمد ولم يذكر خلافا (بحر) وافادان من عليه منفعة الشرط يفسخ بالقضاء والرضاء على ماقال محمد ردالمحتار عن القهستانى (شرح المجله للاتاسى ج٢ ص٣٦٣)
اوپه كفايت المفتى كى په ج٨ ص٤٣ باندى صريح ليكلى چى په نيلام (بيع من يزيد) بولى كښى چى د بيعانى د ضبط كولو خبره وشى داشرط فاسد مفسد د عقدده نود دى وجې څخه عقد فاسد ګرځى اود دى فسخ پرعاقد ينو واجب ده شرعا البته په فتاوى دارالعلوم ديوبنديعنى امداد المفتين ج٢ ص٨٤٣ كى بعد د دى څخه چى بيعانه ضبط كول ئې ممنوع ښودلى ذكركړى دى چى كه په صورت دعدم ضبط كى بائع د پاره قوى انديښنه د نقصاناتو نه وى بيايو تدبير شته هغه داچى څه وخت لپاره دى دابيعانه ځان سره وساتى چى هغه وركونكى د بيعانى پوه شى چى بيعانه ضبط شوه خوبيادى په كومه طريقه لكه هدية وغيره شوه وررسوى اوبل په لائحه كى داذكردى چى د پنځويشتو موټرانو قيمت به دمخ اداءكيږى دا پيشكى قرض دى او اخستل ئې مكروه دى لكه په امداد الفتاوى ج٣ ص٢٠ كښى ذكرشوى دى. والله اعلم بالصواب.

مولوى محمد اخلاص بركتى

مولوى عبدالحكيم عفى عنه مولانامحمد مسلم حقانى مولوى حمدالله مولوى عبدالله مولوى محمود ميوندوال مولوى نورمحمد ثاقب رئيس دارالافتاء دولت اسلامى افغانستان

دبیع مواضعه (تلجئه) حکم

پوښتنه : استفتاء از ریاست دارالافتاء افغانستان مقیم قندهار محترم بتاریخ ۹ - ۱۲ - ۱۳۵۸ در بین ورثه حاجی محمد قاسم اخندزاده یک خط بطور بخشش حقوق بعض ورثه برای بعض آنها از حصص میراث مال متروکه شان ترتیب شده گرچه دظاهر شروط آن بطور الفاظ وشواهد تکمیل شده اما در اصل مواضعه بود درباره دفع قانون حکومت تره کی فلهذا واقعه در تاریخ ۹ - ۱۲ - ۱۳۵۸ بود اما تاریخ تحریر خط ۹ - ۱۲ - ۱۳۵۵ گرفته شده فلهذا بعض ورثه که اولاد عبد الرزاق اخندزاده که پسر مورث مذکور است مواضعه مذکور را قناعت ندارند وانکار میکنند علاوه برآن مواضعه که بیان شده شاهدان هم وجود براقرار عبد الرزاق اخندزاده موجود است که بعد ازان خط مواضعه بر حقوق باقی ورثه قناعت داشت وبعض آثار قناعت شان مثل اضحیه ویادیگر حقوق اشتراک هم اثباتات موجود بود در وقت حیات عبدالرزاق اخندزاده ویا بعد از موت مذکور خود وارثان عبد الرزاق اخندزاده معترف بود اما فعلا قناعت ندارند واز مواضعه مذکور انکار مینمایند فلهذا از حضور ریاست دارالافتاء استفتاء میخواهم اگر حقوق مایان از طریق شریعت دارند برای مایان فتوی عنایت فرمائید والسلام ـ

(محمد اسلم ۲۰ - ۲ - ۱۳۷۶)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب

مواضعه (تلجئه) حکم دهزل لری او تصرفات او عقود دهازل لغودی سوی له ۵ خایه څخه چې هغه عبارت دی دزواج طلاق رجعة اعتاق یمین څخه او سوی له دی پنځو څخه هرڅه عقود او تصرفات چې محل اوځای دوقوع یې مال وی دهازل دطرفه صحت نه لری نوددي وجهی بیع دهازل او اقرار دده او هبه ودیعة عاریة اوداسی نور صحت نه لری او نه دده پر عبارت کوم اثر مرتب کیږی.

والاظهر ان جميع التلجئة والهزل سواء فى الاصطلاح (شرح المجلة للاتاسى ج۲ ص۴۳۰) تمة التلجئة كالهزل الاانه اعم منها لمافى المغرب التلجئة ان يأتى امرا باطنه خلاف ظاهره فهى انماتكون عن اضطرار ولايكون مقارناوالهزل قديكون مضطر اليه وقدلا يكون وقديكون سابقا ومقارنا قال فى التقرير والاظهرسواء (طحطاوى على الدرالمختار ج۳ ص۵)وفصل الحنفية والحنابلة واكثر المالكية بين عقود المبادلات المالية وغيرها فعقودالمبادلات المالية كالبيع

اوالتى محلها المال كالهبة والوديعة والعارية لايترتب على عبارة الهازل بها اي اثر لعدم تحقق الرضا اوالقصد الذى تقوم عليه واماالتصرفات الخمسة التى سوى الشارع فيها بين الجد والهزل وهى الزواج والطلاق والاعتاق واليمين فصححوا عبارة الهازل فيها ورتبواعليها اثارها الفقه الاسلامى التلجئة اوالمواضعة هى ان يتظاهر اويتواطأ شخصان على ابرام عقد صورى بينهما اما بقصد التخلص من اعتداء ظالم على بعض الملكية اوباظهار مقدار بدل اكثر من البدل الحقيقى ابتغاء الشهرة الخ(الفقه الاسلامى ج۴ ص۱۹۳) فقال الحنفية والحنابلة انه (اى بيع التلجئة عقد فاسد غير صحيح كحالة الهزل تماما (الفقه الاسلامى ج۴ ص ۱۹۴) وهكذافى شرح المجلة للاتاسى ج۲ ص۴۳۰ وردالمحتار ج ۴ ص۸ وكذالايصح اقرار التلجئة شرح المجلة لسليم باز ص۸۶۳ وللاتاسى ج۴ ص۶۰۷-

اوکه ددووکسانو ترمابيين اختلاف راغلى يوه ويل چې دااقراراقرار دتلجئة وواوبل ويل چې دااقرار جدي اوحقيقي وونواول ته مدعى ويل کيږی شاهدان پرده دی اودوهم ته مدعى عليه ويل کيږی:

وان ادعى احدهما ان هذاالاقرار هزل وتلجئة وادعى الاخرانه جد فالقول لمدعى الجد وعلى الاخر البينة كمافى التتارخانية شرح المجلة لسليم باز ص۸۶۳ وللاتاسى ج۴ ص ۶۰۷(تنبيه) دهزل دپاره شرط دادی چې صراحة به په ژبه داوای چې زه دابيع دهزل کوم صرف تقاضا دحال کفاية نکوی اوداويل ئې په وقت کی دعقد شرط نه دی بلکه ترمخه چې ووايي هم صحت لری لکه ردالمحتارج۴ ص۸ کښی چې وايي:

وشرط اى شرط تحقيق الهزل واعتباره فى التصرفات انيكون صريحا باللسان مثل ان يقول انى ابيع هازلا ولايكتفى بدلالة الحال الاانه لايشترط ذكره فى العقد فيكفى انتكون المواضعة سابقة على العقدالخ والله اعلم بالصواب



مولوی احمدنوری عفی عنه مولوی نذاحمد الحقانی مولوی نورمحمد ثاقب رئيس دارالافتاء دولت اسلامی افغانستان

مفصل احكام دسر قلفي

پوښتنه : په باره دخلو الحو انيت (سرقلفی) کی چی دمختلفو ځايونو څخه دافغانستان داسلامی دولت مرکزی دارالافتاء ته ډيری استفتاء ګانی راغلی بالخصوص دتميز دعالی رياست دديوان تجارت لخوامکرره استفتاء شوی ده.

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

دډيری مودی راپه دی خواد مختلفو ځايو څخه دافغانستان داسلامی دولت مرکزی دارالافتاء ته دسرقلفي په باره کښی استفتاءګانی راغلی دی اوهم دتميز دعالی رياست دديوان تجارت لخوا مکرره استفتاء شوی ده لهذادمرکزی دارالافتاء دعلماء دډير محنت اوتتبع څخه وروسته دغه يوه فتوی دخلوالحوانيت (سرقلفی) په باره کښی ترتيب کړی ده چې په لاندی ډول ده اصل دخلوالحوانيت (سرقلفی) چې بناء پرعرف اوعادة باندی دډيرو معتبروکتابونو دعباراتوڅخه ثابتيږی اودخلوالحوانيت ډير اقسام اوډيری طريقی په کتابونوکی ذکرشوی خوموږبه دلته شپږ۶ قسمونه اوطريقی بيان کړواوداخلو (سرقلفی) خرڅيږی اوهبه کيږی اوپه ميراث وړل کيږی اوهم ګرو (رهن) کيږی وغير ذلک ځکه چې دملک حکم لری اودسرقلفی دوکان چې هدم (ونړيږی) دسرقلفی والادپاره حق دابقاء اواعادی شته ده چې دی په ورکولواجرة دمثل دمځکی قائم اوثابت وی -

(تفصيل) موږ چې داوويل چې اصل دسرقلفی دډيرومعتبرو کتابونو دعباراتو څخه ثابتيږی دنمونی په طريقه به ووايو چې په ردالمحتار ج ۵ ص۱۸ کتاب الاجارة کی ليکلی:

نعم يفتی به فيمادعت اليه الحاجة وجرت به فی المدة المديدة العادة وتعارفه الاعيان بلانكير كالخلو المتعارف فی الحوانيت الخ اوبيائي ويلی فيفتی بجوازذلک قياسا علی بيع الوفاالذی تعارفه المتأخرون احتيالاعلی الربا الخ اوبيائي ويلی ومن القواعد الكلية اذاضاق الامر اتسع حكمه فيندرج تحتها امثال ذالک مما دعت اليه الضرورة والله اعلم آه ملخصا-

اودی ردالمحتارڅخه دغه عبارة په شرح المجلة دسليم باز ص۲۴۸ کښی هم نقل شوی ده اوپه الاشباه والنظائردابن نجيم کښی ليکلی دی:

المذهب عدم اعتبار العرف الخاص لكن افتی كثير باعتباره وعليه فيفتی بجوازالنزول عن الوظائف وبلزوم خلوالحوانيت...الخ

اوددی الاشباه والنظائر څخه دغه عبارة په الدرالمختار اوردالمحتار ج۴ ص۱۷ کتاب البیوع کی هم نقل کړی ده اوپه الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۳ ص۲۷۷ قبیل کتاب الکفالة کښی هم نقل شوی ده اوپه الطحطاوی علیٰ الدرالمختار ج ۴ ص۱۰ لیکلی:

(قوله وبلزوم خلوالحوانیت الخ ممایستدل به علی جوازذالک مافی واقعات الضریری الخ اوپه ردالمحتار ج۴ ص۱۹ کتاب البیوع کښی لیکلی دی وممن افتی بلزوم الخلو الذی یکون بمقابلة دراهم یدفعها للمتولی اوالمالک العلامة المحقق عبد الرحمن آفندی العمادی صاحب هدیة ابن العماداوبیائي ویلی فیفتی بجوازذلک للضرورة قیاساعلی بیع الوفا۔

اوداچی موږوویل چې دخلو الحوانیت شپږ قسمونه اوطریقی به بیان کړونو ه(۱)طریقه داده چې مالک دکان یوچاته دکان ورکړی اویومقدار پیسی ورڅخه واخلی غیردکرایه یاکرایه په قدردمثل داجرة اداء کړی شی اوکه قدردمثل اداء نشی داعین ربا ګرځی اومالک ددکان دغه صاحب دخلونشی ویستلی ددکان څخه اونه دا دکان بل چاته په اجاره ورکولای شی ترڅوچی هغه مقدارپیسی بیرته نه وی ورکړی او په دی قسم کښی فرق نشته په مابین دشخصی اووقفی اودولتی زمکه کښی په رد المحتار ج۴ ص۱۹ کتاب البیوع کی لیکلی دی:

وممن افتی بلزوم الخلو الذی یکون بمقابلة دراهم یدفعها للمتولی اوالمالک العلامة المحقق عبدالرحمن آفندی العمادی صاحب هدیة ابن العمادوقال فلایملک صاحب الحانوت اخراجه ولااجارتها لغیره ما لم یدفع له المبلغ المرقوم فیفتی بجوازذلک للضرورة قیاسا علی بیع الوفاالذی تعارفه المتا خرون احتیالا علی الربا الخ قلت وهو مقید ایضاً بماقلنا بمااذاکان یدفع اجر المثل والاکانت مسکناه بمقابلة مادفعه من الدراهم عین الرباکما قالوا فیمن دفع للمعترض دارا اولیسکنها اوحمارالیرکبه الی ان یستوفی قرضه انه یلزمه اجرة الدار اوالحمار الخ اوپه الطحطاوی علی الدرالمختار ج۳ ص۱۰ کښی لیکلی واعلم ان الخلو یثبت فی الارض المملوکة لماذکره المؤلف فی کتاب الوقف ان وقف البناء بدون الارض صحیح وان الخلو یتحقق ولوالارض مملوکة علی ماعلیه الفتوی انتهی اوپه ردالمحتار ج۵ ص۱۸ کتاب الاجارة کښی لیکلی نعم یفتی به فیمادعت الیه الحاجة وجرت به فی المدة المدیدة العادة وتعارفه الاعیان بلانکیر کالخلو المتعارف فی الحوانیت وهوان یجعل الواقف اوالمتولی اوالمالک علی الحانوت قدرامعینا یؤ خذمن الساکن ویعطیه به تمسکا شرعیا فلایملک صاحب الحانوت بعدذالک اخراج الساکن الذی ثبت له

الخلو ولا اجارتها لغیره مالم یدفع المبلغ المرقوم فیفتی بجواز ذلک قیاسا علی بیع الوفاالذی تعارفه المتاخرون احتیالا علی الربا حتی قال فی مجموع النوازل اتفق مشایخنا فی هذاالزمان علی صحته بیعا لاضطرار الناس الی ذالک ومن القواعد الکلیة اذاضاق الامر اتسع حکمه فیندرج تحتها امثال ذلک مما دعت الیه الضرورة والله اعلم.. آه ملخصا۔

اوپه شرح المجلة دسلیم باز ص۲۴۸ کښی هم داراز نقل شوی دی دویمه طریقه داده چې مستأجر په دکان دمؤجر کښی جدک جوړکړی لکه الماری یانور الات دصناعة نوپه دی سره دمستأ جر دپاره حق دقرارثابتیږی چې داکارپه اذن دمؤجروکړی اوهم اداء داجرة دمثل ددکان کوی غیرله جدک څخه په الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص۱۹۹ باب مشد المسکة کښی لیکلی دی:

وهذا الکردار یوجد فی زماننا ایضاً فی الحوانیت ویسمی جدکا وهو مایبنیه المستأجر فی الحانوت من ماله لنفسه ومایضعه فیها من الات الصناعة ونحو ذالک من الاعیان القائمة فیها باذن المتولین له بذالک اولمن باعه ذالک ویثبت له بذالک حق القرار مادام یدفع اجرة مثل الحانوت خالیة عن جدکه... آه

اوپه الفتاوی المهدیة فی الوقائع المصریة ج۵ ص۴۳ کتاب الاجارة کی لیکلی دی:

سئل فی رجل یملک جدکافی حانوت بحجة شرعیة والحانوت المذکور ملک لاخر وصاحب الجدک ساکن فی الحانوت المذکور ویدفع اجرة الحانوت لمالکها وهی اجرة مثلها فهل اذالراد المالک للحانوت اخراجه منها لایکون له ولیس له زیادتها عن اجرة المثل بدون رضاه (اجاب) لیس لمالک اجر المثل اذاثبت ماذکر بطریق شرعی و الله تعالی اعلم.

اوهمدارنګه په الفتاوی المهدیة ج۲ ص۴۵۷ کتاب الوقف کښی هم مضمون ذکرده په عنوان دسوال اوجواب سره دریم قسم اوطریقه داده چې ځمکه مملوکه یاموقوفه اویا سلطانیه کي مستأجر تعمیر بناء کړی په اذن دمالک یادناظر په شرط دقرارنوبانی لره حق دقرارشته په دي شرط چې اجرة مثل دځمکي قطع نظر دبناءڅخه اداکوی په ردالمحتارکښی لیکلی دی:

قال فی جامع الفصولین وغیره بنی المستأجر اوغرس فی ارض الوقف صارله حق القرار وهو المسمی بالکردارله الاستبقاء باجرالمثل آه اوپه الفتاوی المهدیة ج۵ ص۴۹ کښی لیکلی دی:

سئل فی جماعة یملکون مکاناستأجره منهم رجل بازیدمن اجر المثل واذنوه بالبناء فیه لیکون له

خلوابحق البقاء والقرار فبنى وعمر حسب الاذن منهم وجعله معداللصباغة ووضع يده عليه مدة نحواربع سنوات ثم باع ذلک الخلولرجل آخروضع يده عليه مدة تزيدعلى خمس عشرة سنة وهويدفع اجرة المثل وزيادة للمالكين ثم بعد تلک المدة قام المالكون الان يريدون ابطال ذالک الخلوو اجارة المكان لغيره ويزيدون عليه الاجرة تعنتا فهل اذاكان ذالک الخلوثابتا باعترافهم واطلاعهم وأخذ هم الاجرة تلک المدة لايجابون لماذكر ولايواجرونه لغيره حيث كان يدفع صاحب الخلواجرة المثل وزيادة (اجاب) اذاثبت الخلوالمذكور مستوفيا شرائط الصحة وواضع اليد قائم بدفع اجرمثل ذلک المكان بقطع النظر عماحد ثه فيه لايكون لمالكى المكان المذكور ابطال الخلوبدون وجه شرعى ولااجارة المكان من غير صاحب الخلو والله تعالى اعلم.

اوپه الفقه الاسلامي وادلته ج۸ ص۲۲۳ کی هم دامضمون ليکل شوی ده او کچيرته صاحب دخلوبعض عمارة کړی وی نودی شريک ده په دی مکان کی په اندازه دخپل عمارت بياکه عمارت ته په اينده کښی حاجت وودی به په خپله اندازه مصرف برداشت کوی لکه په غمزعيون البصائر على الاشباه والنظائر دامام حموی کښی په ج۱ ص۳۲۱ کي ليکلی دی:

اماكن ايلة الى الخراب فيكريها ناظر الوقف لمن يعمر ها ويكون ماصرفه خلو اله ويصير شريكا للواقف بمازادته عمارته مثلا لوكانت الاماكن قبل العمارة بنصف كل يوم وصارت بعدها تكترى بثلاثة انصاف فيكون صاحب الخلو شريكا بالثلث والثلثين فاذااحتاجت تلک المحلات الى عمارة كان على الواقف فى تلک الصورة مثلا الثلث وعلى صاحب الخلو الثلثان...آه

(۴) څلورم قسم او طريقه داده چې يوشخص اراده وکړی چې دکانونه ياسرايونه جوړ کړی مخکی دجوړولود خلکو څخه پيسی واخلی ديويو دکان اويادسرای کيفيت او اندازه د دکان يادسرای ورته بيان کړی وروسته ترجوړيدوئ خلکوته تسليم او کرايه پري مقرره کړی په دې صورت کی هم صاحب دخلوپه خپله حصه کی شريک بللی کيږی دخاونددکان سره په غمزعيون البصائرج۱ ص۳۲۱ کی ليکلی دی:

ووجهه ان الواقف لمايريدان يبنى محلا للواقف فيأتى له اناس يد فعون له دراهم على انيكون لكل شخص محل من تلک المواضع اللتى يريد الواقف بناء هافاذاقبل منهم تلک الدراهم فكانه باعهم تلک الحصة بمادفعوه له وكانه لم يقف جزء من تلک الحصة اللتى لكل وغايته انه وظف عليهم كل شهر كذافليس للواقف فيه بعدذلک تصرف الابقبض الحصة المؤظفة فقط وليس له ان يوجهه لغيره وكأن رب الخلو صارشريكا للواقف فى تلک الحصة...آه

(۵) پنځم قسم اوطريقه داده چې مالک ددکان وچاته دکان په خلو (سرقلفی) باندی ورکړی اومالک واخلی دسرقلفی والاخخه یومقدارپیسی چې داجزء معجل دهغه اجرة اوکرایه وی اوهغه پیسی چې میاشت په میاشت یاکال په کال په کرایه کښی ورکوی هغه جزاءآخر مؤجل مکمل داجرة وی یعنی هغه پیسی چې مالک ئې دمخه اخلی په کرایه کښی حساب شی په الفقه الاسلامی وادلته ج۴ ص۷۵۱ کی لیکلی دی:

مقابل الخلوان مايؤخذ اليوم ممايسمى بالفروغ اوخلو الرجل اواليد لامانع منه شرعا فى تقدير نافللمالک المؤجر ان يأخذ من المستأجر مقدارامقطوعا من المال مقابل الخلواوالفروغ ويعد المأخوذ جزء امعجلامن الاجرة المشروطة فى العقد واماما يدفع فى المستقبل شهريا اوسنويا فهوبالا ضافة الى ماتم تعجيله يعد جزء آخر مكملامن الاجرة مؤجل الوفاء ...الخ-

اوپه ردالمحتار ج۴ ص۱۹ کښی هم مثل ددي بيان ذکرشوی ده (۶) شپږم قسم اوطريقه داده چې يوه مځکه وقفی وی اوډپاره دتعميرپه اجاره ورکول شی اوداجاری وقت معين وی مستاجر چې تعمير اوبناء پری وکړی روسته دتيريدو دوقت داجاری څخه دامستأجر کولای شی چې په اجرة مثل باندی راوګرځوی خوپه دی شرط چې وقف ته ضرر ونرسيږی اوداطريقه په دولتی مځکه کی هم کيدای شی ځکه دوقف اودبيت المال يوحکم دی اماپه شخصی مملوکه کښی داطريقه نشی کيدای په مجموعة رسائل ابن عابدين ج۲ ص۱۴۸ کښی په رسالة مسماة تحرير العبارة فيمن هواحق بالاجارة کښی ليکلی دی:

وقال فى متن الملتقى وصح استيجار الارض للزرع ان بين مايزرع اوقال على ان يزرع ماشاء وللبناء والغرس واذاانقضت المدة لزمه ان يقلعها ويسلمهما فارغة الخ (ثم قال) وهكذافى عامة المتون والشروح والفتاوى فلا حاجة الى التطويل والاطناب الخ ثم قال لكن ذكر فى البحر عن القنية مانصه استاجر ارضا وقفاوغرس فيها وبنى ثم مضت مدة الاجارة فللمستأجر ان يستبقيها باجر المثل اذالم يكن فى ذلک ضرر ولوابى الموقوف عليهم الاالقلع ليس لهم ذلک انتهى (ثم قال) قلت وحاصله ان كلام المتون والشروح وانكان شاملاللوقف والملک لكن كلام القنية حيث اعتضد بماذكره الخصاف صار مخصصا لكلام المتون والشروح بالملک ويكون الوقف خارجا عن ذلک فللمستأجر الاستبقاء باجر المثل بشرط عدم الضرر على الوقف اصلا....آه-

اوهمدارنګه دغه مضمون په منحة الخالق على البحر الرائق ج۷ ص۳۰۵ کښی هم ذکرشوی ده داوي يوڅوطريقی اواقسام دخلو (سرقلفی) اوداچې موږ وويل چې داخلو

(سرقلفی) خرڅيږی اوهبه کيږی اوپه ميراث ورل کيږی وغيره ځکه چې غمز عيون البصائر على الاشباه والنظائر د حموی ج ١ ص٣٢٢ کښې ليکلی دی:

وفائدة الخلو انه كالملك فتجرى عليه احكامه من بيع واجارة وهبة ورهن ووفاء دين وارث ووقف على الخلاف فى الاخير وهذه الامور تؤخذ من فتوى الناصر اللقانى حيث جعله كالملك ومنه يعلم انه لامانع من تعد دالخلوات اذالملك يتعدد...آه

اوپه الفقه الاسلامی ج ۴ ص٧٥٢ کی ليکلی دی: ونقل فتوى الفارسيين بجواز بيع الخلو وقال الشيخ محمد بيرم وماشبه الخلو بالمغارسة غير ان الخلو لاتحصل به ملكية الرقبة لتعلقه بالمنفعة... الخ

اوهمدارنګه دنورودیرو عباراتو دفقهاء څخه هم معلوميږی اوداچی موږ وويل چې دسرقلفي دکان ونړيږی دسرقلفی والادپاره حق دابقاء اوداعاده کولو شته چې اجرة دمثل دمځکی اداء کوی په الفتاوی المهدية ج٢ ص٤٨٧ کښې ليکلی دی:

سئل فى بناء فى ارض موقوفة مستحق للبقاء والقرار تهدم ذلك البناء وصارت الارض خالية فهل لربه اعادته ثانيا كماكان اولا اجاب للمحتكر حق الابقاء والاعادة حيث كان قائما بدفع اجرة مثل الارض خالية عن البناء على ما عليه العمل والله تعالى اعلم

اوپه همدي الفتاوی المهدية ج٢ ص٤٩٥ کی هم ليکلی دی:

(سئل)فى دكان موقوفة آلت الى السقوط فجاء رجل واخذ ها من ناظر الوقف وبنا ها واصلحها وكتب له الناظر حجة بان البانى صارله فى الدكان خلووانتفع وهو البناء الذى بناه وبقيت ارض الدكان وحيطا نها القديمة وقفا عليها الحكر كل سنة يؤخذ من البانى ثم باع الرجل ذالك الخلو لرجل آخر وصارناظر الوقف يأخذ الحكر من المشترى ايضاً ثم هدمت تلك الد كان هى وغير هافى طريق امر الحاكم بتوسعتها وتلف من ارصها مقدار الثلثين فى توسعة الطريق المأ موربها واخذ ذلك الرجل المشترى للخلوبدل ماكان يملكه من الحاكم الهادم للدكان فيما كان هدمه من الدكان وامره ناظر الوقف بعدم البناء فيما بقى من ارض الدكان ثم ان الناظر توجه للحج ورجع فوجده بانيا فى تلك محلافهل يكون متعديا ببنائه لزوال معظم ماكان يملكه واخذ بدله وهل له قيمة مابناه منقوضا لتعديه ويرجع المحل وقفا خالصا لاشائبة ملك فيه (اجاب) للمحتكر حق الاعادة فيما من الارض اللتى كانت بيده مادام يدفع اجرة مثل الارض خالية عن بنائه وليس لنا ظر الارض معارضته ولاتكليفه القلع والحال هذه والله تعالى اعلم.



مولانا احمد نوری عفی عنہ مولانا عبداللہ مولانا محمد خواص مولوی محمد اسحاقی مولوی عبدالحکیم عفی عنہ مولانا نعمان شاہ مولوی نور محمد

ثاقب رئیس دار افتاء دولت افغانستان

یوازې بائع بیع فسخ کولای شي اوکنه

پوښتنه : یوشخص چې دبل شخص څخه زمکه په بیع قطعي رانسی بائع ودغه مشتری ته زمکه تسلیم کړی او اندازه اوحدودئې معین کړی بیادغه بائع ومشتری ته ووائې چې دغه زمکه ترهغه اندازی ډیره ده چې بیع پرسوی وه راسه چې دوهم وارپیا زمکه بیرته اندازه کړونو کچیری مشتری دپاره ددفع دجنجال دوباره زمکه ورسره اندازه کوی په دغه وخت کی داندازي بائع کوه لاي سی چې بیع ماته کړی بیله رضاء دمشتری که یا شرعی فتوای غوارم اجرموروزی سه.

(مستفتی ملافضل کرم اخند)

باسمه تعالی

الجواب حامد اومصليا

کچیري مشتری دبائع سره دوهم وارزمکه اندازه کړی ددفع دجنجال دپاره بائع نسی کولای چې په دغه وخت کښی داندازی بیع نقض کړی بی اختیار دمشتری ځکه چې بیع خو په ایجاب اوقبول سره تامیږي وروسته ترایجاب اوقبول بیایوحق دفسخ بی رضادهغه بل نه لري اوفسخ چې ده رضاء ددوارو عاقدین غواړي:

واذاحصل الايجاب والقبول لزم البيع ولاخيار لواحد منهما الامن عيب اوعدم رؤية (الهداية ج۳ ص۲۵)للعاقدين ان يتقايلا البيع برضاهما بعدانعقاده المجله المادة (۱۹۰) فالرضاء شرط الا قالة كما فى سائر العقود(شرح المجلة لسليم باز ص۹۲)والله اعلم بالصواب

مشتری چي مبیع پردریم سړی خرڅه کړی نواول بائع حق درجوع پرمبیع لری اوکنه

پوښتنه : اول سعید احمد ۶۸ زره ریاله دعبدالرحمن نامی قرض داره وودوهم دغه قرضداره چې سید احمدنومیږی خپل ۲ دکانه ئې په ۲نیم سوه لکه په بیعه دسرقلفی ورکړل

دريم عبدالرحمن خپل ۶۸ زره ريال په كالداروئې تسعيركړی سيداحمد نامي خپلی افغانی په كالدارووارولی په دی وخت كی دسيد احمد تقريبا ۱۴ زره كالداری ورغلی چې عبدالرحمن وركړی څلورم عبدالرحمن نامی خپل دكانونه دتسليمی دخط سره واخيستل تقريبا ۳ مياشتی بعددكانونه ئې پربل چاخرڅ كړل په هرعلة چې وه هغه سړی دكانونه بيرته عبدالرحمن ته پرېښودل پسله دی عبدالرحمن دكانونه وخپل اول مالک سيد احمد ته په رضادجانبين مستردكړه عبدالرحمن ادعاء دخپلو پيسووكړل اوس تقريبا دوه دری كاله تيرسوی دی اوس عبدالرحمن نامی داته شپيته زره رياله مستحق دی اوكه دكالدارو چې ريال په تبادله سوي دی اوكه دهغه افغانيو چې ۲نيم سوه لكه دی چې هغه دكانونه ئې په رانيولی وه والسلام-

(مستفتي اغامحمد ۱۲ سرطان ۱۳۷۶)

بسم الله الرحمن الرحيم


الجواب بعون ملهم الصواب

عبدالرحمن نامي نه د۶۸ زره رياله مستحق دی نه دكالدارونه دافغانيو بلكه هغه دكانونه دده كيږی اوپه هغوكړی ده ته خپل قرض رسيدلی دی دی نشی كولای چې دكانونه سيد احمدته ورمستردكي البته كه بيع وكی ددغه دكانودسيداحمد سره (نوی بيع) نوصحت لری اودااقالة ځكه صحت نه لری چې عبدالرحمن دادكانونه پردريم سړی خرڅ كړي دی اوده دملک څخه وتلی دی نوددي وروسته حق داقالی قطعا نه لری لكه خيارعيب چې په بيع سره دمبيعی باطليږی اوداقانون دفقهاء دی چې هرشئ چې خيارعيب باطلوی نواقاله هم باطلوی خيارعيب په بيع سره دمبيعی باطليدی نواقاله هم په بيع دمبيعی باطليږی:

وزادصاحب المنح انا باع المشتری المبيع من آخر ثم تقايلا ثم اطلع علی عيب كان فی يد البائع فاراد ان يرده علی البايع ليس له ذلک لانه بيع فی حقه كانه اشتراه من المشتری منه (مجمع الانهر ج۲ ص ۲۷) وهكذافی (شرح المجلة للاتاسی ج۲ ص ۷۲) مايمنع الرد بالعيب يمنع الاقالة(فتح القدير ج ۵ ص۲۵۱ ط دارصادربيروت) وهكذافی ردالمحتار ج۴ ص۱۶۷ (ويمنع صحتها هلاک المبيع) ولوحكما كاباق الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج۴ ص۱۶۷ وهكذافی مجمع الانهرج۲ ص۷۳)

اوبيع دمبيعی په هلاک حكمی كی داخل دی لكه چې وايي:

فلاتصح بعد هلاكه ولوحكما على الظاهر بان باعه ثم شراه (الدر المختار) قوله (بان باعه ثم شراه) من صور الهلاک حكما لان تبدل الملک کتبدل العين ولذايمتنع بذلک رده بالعيب والرجوع فى الهبة(ردالمحتار ج۴ ص۱۸۶) والله اعلم بالصواب



مولوي عبدالحكيم مجمي عنه مولوي بدالاحق مولوي باحمدوزري مجمي عنه مولانا محمود مهيرو دال مولوي نورمحمد ثاقب رئيس دارالافتاء دولت اسلامي افغانستان

حکومت یوخوک پرخپل ملک خرخولومجبورولای شي کنه؟

دغائب ملک په عمومي لاره کښول څه حکم لری؟

که جائزوی نوغائب ته به د کوم وخت قیمت ورکول کیږی؟

اودغه اجباری رانیول شوی ملک بیرته حکومت خرخولای شي کنه؟

اوخلک یااصلي مالک قبضه پرکولای شي اوکنه ؟

پوښتنه :دافغانستان دعلماء دمرکزی شوری ددارالافتاء عالی مقام ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته محترما دکمونستي انقلاب په دوران کي دوخت حاکمانو دکندهاربښار ۴ ناحیوکی دخلگو کورونه او دکانونه تخریب شرقا اوغربا شمالااوجنوبا سرکان وایستل چې د۱۳۵۷ کال څخه دمخه دترتیب شوی ماستر پلان سره ئې داولی ناحیه شرقی اوغربی طرف سړک اودڅلورمی ناحیه شمالي اوجنوبی طرف سړک څه ناڅه مطابق دی چې دد ی ۴ ناحیودسړکانوپه ایستلوکی لاندنی مشکلات منځ ته راغلی چې په لاندی ډول ئې په عرض رسوو (۱) یوتعدادخلگ چې کورونه یادکانونه ئې تخریب اوتعین سوی قیمت ئې دښاروالی څخه اخستی اوقبالی ئې دولت ته ورکړی اویو تعداد خلق چې اصلا په هغه وقت کی نه وه اوس حاضر اودهغه وقت په تعین سوی قیمت قناعت نه لری داسی وایي چې یادی داوسنی وخت قیمت راکول سی یادی زموږ دملکیت باقی حصه چې په استملاک کی راغلی اوترسړک اضافه ده موږته پاته سی که څه هم تیرکال مرافعی محکمی دیواستعلام په جواب کی سابقه تعین سوی قیمت تائید کړی ووپه دی هکله لازم هدایت وکړی که څه هم په سلوکی پنځه نوی خلگو تعین سوی قیمت اخستی دیرکم خلق پاته دی (۲) دیو

تعداد خلگوچې کورونه یادکانونه ئې په سړک کې تخریب اوقیمت ئې نه دي اخستی په هغه وقت کې دښاروالی لخوادسړک څخه اضافه حصه په نوروخلکودقانونی مراحلو دصحی کیدووروسته خرڅه سوی اوشرعی قباله ورکړه سوي ده آیالومړی نفرچې کورئې تخریب اوقیمت ئې نه دي اخستی اوپه استملاک کې راغلی مستحق دی اوکه دوهم نفر چې ښاروالی همدغه ځا ی چې دلومړی نفر ووتخریب سوی اوقیمت ئې نه دي اخستی وریاندی خرڅ کړی اوشرعی قباله ئې ورکړی مستحق دی (۳) ښاروالی په نظرکی لری چې دنوموړو سړکانوپه توسعه کی اقدام وکړی دنوموړو سړکانوبرچې (۲۰) متره دی اوبعضی اضافه حصی ښاروالی په هغه وخت دقانون مطابق خرڅی کړی اوزیاته برخه ئې یوتعداد خلگوپه خپل سر قبضه کړی چې دسړک ماهیت اوکیفیت ئې له منځه وړی چې په دی حصه کی دهغوخلکو ملکیت هم شامل دی چې قیمت ئې نه دي اخستی دشرعی احکامو مطابق ښاروالی څنګه اقدام دسړکانوپه توسعه کی وکړی اودنوموړو سړکانو دپلان تطبیق پاته کیدونکی نه دی والسلام.

(ریاست ښاروالی قندهار مدیریت املاک)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون ملهم الصواب

څرنګه چې دمستفتی پوښتنه پرڅو جزئیاتومشتمله ده نودپاره دتوضیح دمطلب باید دلاندی جزئیاتو لپاره جلاجلا جواب ووایو ترڅوچې شافی جواب داصل استفتاء ښه واضح سی اول سوال آیادسړکانوجوړولودپاره یوڅوک مجبوروول دخپل سرای یادکان خرڅولو ته جائزدی کنه؟ جواب جائزدی که چیری مصلحت دعامو خلقوپه نظرکی نیول سوی وو لکه په الفقه الاسلامی ج۵ ص۵۱۸ کی چې راغلی دی:

وکذلک یحق للدولة التدخل فی الملکیات الخاصة الشروعة التحقیق العدل والمصلحة العامة-

خوپه دی شرط چې دهغه وقت مناسب قیمت به ورکول کیږی اوباید قیمت دقبض څخه دملک مخ ته ورکول سی:

لدی الحاجة یؤخذ ملک کائن من کان بالقیمة بامر السلطان ویلحق بالطریق لکن لا یؤ خذ من یده مالم یؤ دله الثمن انظر الی مادتی ۲۵۱ انتهی (المجلة المادة ۱۲۱۶ وهکذافی شرح المجلة لسلیم باز ص۴۳ والاتاسی ج۴ ص۱۵۸ والفتاوی الخانیة بهامش الهندیة ج۱ ص۲۷۹ والفقه الاسلامی ج۵ ص۵۹۰)

دوهم سوال آیا ملک دغائب ګډول په لاریاندی جائزدی کنه؟
جواب که چیری قریب دغائب یاوکیل دده حاضرو و دهغه سره به بیع وشی او که هغه نه وونود ضرورة په خاطر جائزدی کچیری ضرورة شدیده وولکه الاشباه والنظائر ص۸۵ کی وایي:
الضرورات تبیح المحظورات ومن ثم جاز الخ وکذااتلاف المال واخذ مال الممتنع من اداءالدین بغیر اذنه اویه جامع الفصولین ج۱ ص۴۳ کی وایي اقول قداضطربت اراء هم وبیانهم فی مسائل الحکم علی الغائب و له ولم یصف ولم ینقل عنهم اصل قوی ظاهر تبتنی علیه الفروع بلااضطراب ولااشکال فالظاهر عندی ان یتأمل فی الوقائع ویلاحظ الحرج والضرورات فیفتی بحسبها جوازا وفسادا۔

دریم سوال آیا دغه غائب که یووقت حاضرشی آیاده ته به دکوم وقت قیمت ورکول کیږی دهغه وقت چې دده مال تلف شوی دی اوکه دهغه وقت چې دی حاضرشوی دی؟جواب دهغه وقت قیمت معتبریږی چې اتلاف دده دمال شوی دی اوداځکه چې حکم داتلاف دضمان په باره کی حکم دغصب دی اوپه غصب کی قیمت دورځی دغصب معتبریږی لکه په الفقه الاسلامی ج۵ ص۷۵۰ کی چې وایی:
الواجب بالاتلافات المالیة هوالواجب بالغصب وهو ضمان المثل انکان المتلف مثلیا وضمان القیمة یوم الاتلاف فیمالامثل له الخ (وهکذافی بدائع الصنائع ج۷ص۱۶۸) وان کان المغصوب من القیمیات وتلف فالواجب القیمة الخ وانکانت زیادة القیمة لتفسیر الاسعار لم تضمن الزیادة لان نقصان القیمة لهذا السبب لایضمن اذاردت العین المغصوبة بذاتها فلا یضمن عندتلفها (الفقه الاسلامی ج۵ص۷۲۲)واماالعقار کالارض والدار فلا یتصوروجود الغصب فیه لعدم امکان نقله وتحویله فمن غصب عقار افهلک فی یده بآفة سماویة کغلبة سیل لم یضمنه عندهما لعدم تحقق الغصب بازالة الید لان العقار فی محله لم ینقل فصار کمالوحال بین المالک وبین متاعه فتلف المتاع امالوکان الهلاک بفعل الغاصب کان هدمه فیضمنه لان الغصب اذالم یتحقق فی العقار فیعتبر الاتلاف (الفقه الاسلامی وادلته ج۶ ص۴۷۹۱ ط رشیدیه کوئته)

څلورم سوال: آیادغه غائب سړی چې دسرای یوڅه حصه ئې په سړک کی تللی اویوڅه حصه ئې پاته ده ددغه باقی حصی حق لری کنه؟ جواب غاصب یامتلف چې یوځای قبض کړی اوضمان پری لازم شی نوهغه ځای پس دضمان دده ملکیت ګرځی مغصوب منه حق ددعوی بیانه لری لکن غاصب یامتلف ته حق دتصرف په دغه شئ کي هغه وقت شته چې ضمان

ورکړی لکه الفقه الاسلامی ج۵ ص۷۲۳ کی وایی:
قال الحنفیة یملک الغاصب الشئ المغصوب بعدضمانه من وقت وجود الغصب حتی لایجتمع البدل والمبدل فی ملک المالک الخ ولکن فی رأی ابی حنیفة ومحمد رحمهما الله تعالی لایحل للغاصب الانتفاع بالمغصوب بان یاکله بنفسه اویطعمه غیره قبل اداء الضمان الخ (هکذافی بدائع الصنائع ج۷ ص۱۵۲ وتبیین الحقائق ج۵ ص۲۳۰)
پنځم سوال: هغه حصه چې دلارى څخه اضافه وى اوضرورة ورته نه وى آیاخرڅول یى پرغیر جائزدی کنه؟جواب جائزدی لکه المجلة المادة ۱۲۱۷ کښې چې وایي:
یجوزان یعطی رجل مازاد عن حاجة الطریق من جانب المیری بثمن مثله ویلحقه بداره اذالم یضرذلک بالمارین (سلیم باز ص۶۶۷ وهکذا ص۴۳ والفتاوی الخانیة بهامش الهندیة ج۱ص۲۷۹)
شپږم سوال: هغه حصه چې دلارى څخه اضافه وى قبضه کول یى دخلقودپاره جائزدی کنه؟
جواب قبضه کول یى دخلقودپاره یى اذنه دحکومت حرام دی والله اعلم



مولوی ندا محمد الحقانی مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

دلارى جوړولوپاره دچاځمکه په زوررانیول څه حکم لري

پوښتنه: ومحترم دکندهارددارالافتاء رئیس صاحب ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته محترمه څرنګه چې په کلیواودهاتوکى لارى بندى دى غټ غټ کلى دى چې خلک ئې طلب کوى چې لاروړته جوړى سى طالبان چې لارى جوړوى دخلګو په شخصى ځمکوکښى تیرېږى حتی دیتیمانو په ځمکوکى تیرېږى اودلار تیرول هم ضرورى وى ځکه چې دیوغله اوقاتل وغیره مجرم نه کیږى چې لارى نه وى ځکه چې ۲ ساعته مزل لاره وى اوهغه کارپه یوه یا ۲ کسانوهم نه کیږى چې ډیر نفرنه وى ځکه چې مجرمین دکمزورى په صورت کى مقابله کوى نوبناپردى ضرورت هیله لرم چې شرعى فیصله راکړى چې دخلګود اکثریت

رضاوی یونفرمانع وی یایتیم یائې وارث مانع وی په داسی صورت کې لاره جوړول جائزدی که یا هیله ده چې یوه شرعی فیصله راکړی موږ کوشش کوو پرهغه لاره لاری باسوچې ډیر نقصان پکښې نه وی مثلاً پریوه طرف ډیر درختی اودیوالونه وی موږ بله داسی لاره لټوو چې درختی اودیوالونه پکښې وی نه یاخولږوی نسبت وهغه بلی لاری ته نوهیله ده چې دامشکل دیو شرعی فیصلی په اساس راحل کړی والسلام.

(ملامحمد حسن رحمانی والی قندهار)

جواب للاستفتاء بعون الله تعالی

مځکه چې په ملک کې دخلګووي تصرف دهیچا پکښې روانه دی بیله اجازی اوبیله رضادخاوند دمځکی:

کماقال فی تحفة الفقهاء ج۳ ص۳۲۱ ارض مملوکة عامرة لایجوز لاحد التصرف فیها والانتفاع بها الابرضا صاحبها۔

په وقت دضرورت کې امام لره تصرف په مځکه کې دبل سته اوچې دلاس داصلی مالک یې وباسی داهم رواده:

هکذافی الفقه الاسلامی ج۵ ص۵۲۳ فان لولی الامر عند الضرورة ان ینتزع الارض من ایدی واضعی الید علیها ویعوضهم عنها اذاقتضت المصلحة العامة نزعها۔

نومعلومه سوه چې په عوض سره رواده په وقت دضرورت کې مځکه دیتیم په حکم کې دوقف ده اومځکه دبیت المال هم په حکم کې دوقف ده.

هکذافی ردالمحتار علی الدر المختار ج۳ص ۴۳۵ ثم ان ارض الیتیم فی حکم ارض الوقف کما ذکره فی الجوهرة وافتی به صاحب البحر والمصنف کذاارض بیت المال وهکذافی شرح المجلة سلیم باز مادة۵۸ ص۴۲ التصرف علی الرعیة منوط بالمصلحة آه وکذافی ص۴۳ وقدقالو ایضاً للسلطان ان یجعل ملک الرجل طریقا عند الحاجة وکذاتصرف القاضی فیماله فعله فی اموال الیتامی والترکات والاوقاف فانه مقید بالمصلحة آه هکذافی شرح المجلة لسلیم باز م ۱۲۱۶ ص۶۶۷ لدی الحاجة یؤخذ ملک کائن من کان بالقیمة بامر السلطان ویلحق بالطریق آه هکذافی الخانیة ج۱ ص۲۷۹ علی هامش الهندیة قالواوللسلطان ان یجعل ملک الرجل طریقا عند الحاجة هکذافی(الفقه الاسلامی ج۵ ص۵۰۹- ب- الاستملاک للمصالح العام وهو استملاک الارض بسعرها العادل جبراعن صاحبها للضرورة اوالمصلحة العامة کتوسیع مسجد او طریق ونحوهما

وایضاً الفقه الاسلامی ج۵ ص۵۱۸)وکذلک یحق للدولة التدخل فی الملکیات الخاصة المشروعة لتحقیق العدل والمصلحة العامة -خوشرط داد ی چې دهغه وقت مناسب قیمت به ورکوی اوباید قیمت دقبض څخه دملک ترمخه ورکول شی: لدی الحاجة یؤخذ ملک کائن من کان بالقیمة بامر السلطان ویلحق بالطریق لکن لایؤخذ من یده مالم یؤ دله الثمن انظر الی مادتی ۲۵۱ - ۲۶۲ انتهی المجلة المادة ۱۲۱۶ -والله اعلم بالصواب



مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نذاحمد الحقانی مولوی محمود میوندوال

مشتری که بې دثمن له اداکولو مبیع خرڅه کړی اومړشي نوبائع به څه کوی ؟

پوښتنه : غوارم ستاسو دمحترم حضور څخه مسئله یوسړی موټر خرڅ کړی پر بل چاباند نواوس هغه سړی هلاک اومړسو نواوس به فعلا رجوع پرچاکوی چې ثمن ئې نه وی تسلیم سوی بایع ته آیاپر ورثه دمشتری به رجوع کوی اوکه به پرمبیعه باندی حال داچې مبیعه خرڅه سوی ده پر بل دریم چاباندی والسلام. (المستفتی محمد هاشم)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

که چیری مشتری مبیعه قبض کړه اودی په حالت دافلاس کی وفات سوترمخه داداکولو دثمن په دغه صورت کې بائع حق نه لري چی طلب د ردوالی وکړی دمیت له ورثه څخه بلکه دغه بائع دمبیعی دثمن په باره کې دنورو غرماء سره برابردی نوپه صورت مسئوله کی بائع اول پرمبیعه باندی چې دمشتری ثانی په لاس کی ده په طریق اولی رجوع نسی کولای:

اذاقبض المشتری المبیع ثم مات مفلسا قبل اداء الثمن لیس للبائع استرداد المبیع بل یکون مثل الغرماء (معین القضاة والمفتین م۶۶۷ ص۱۰۹)وقال الحنابلة والحنفیة والمالکیة صاحب المتاع اسوة الغرماء بدلیل روایة ابی بکر بن عبد الرحمن عن ابی هریرة ومعناها ایمارجل مات اوافلس فوجد بعض غرمائه ماله بعینه فصاحب المتاع اسوة الغراماء(الفقه الاسلامی ج۵ ص۴۸۰)والله اعلم.

مولوی نذاحمد الحقانی مولوی احمد نوری عفی عنه

دشریکانوبي اجازی مشترکه ځمکه

خرخول حال دا چي په شریکا نوکي صغیران هم وی څه حکم لری

پوښتنه : وحضورته دافغانستان داسلامی دولت ومقام ته دکندهار ددارالافتاء جناب محترم رئیس صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته محترمه! زه مولوی امین الله دمحمد روستم زوی دشاه ولیکوټ دولسوالی مربوط عرض ستاسو مقام ته کوم چي یوورور مشترکه ځمکه بیله مصلحت خرڅه کړی په دغه وقت کی صغیران هم وی ددغی ځمکی بیع صحت لری اوکه به باطله وی دشریعت دنګاه څخه نوزه ستاسو دمحترم مقام څخه امید کوم چي وماته ددغی ځمکی دشریعت په حکم معلومات راکړی دابه ستاسو دشفقت څخه بعید نه وی بااحترام.

(المستفتی مولوی امین الله)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب باسم ملهم الصواب

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

کوم ورور چي دورثه ووبی له اجازی څخه مشترکه ځمکه خرڅه کړی ده د هغه بیع دده په خپله حصه کی صحیح ده اوپه ورثه ووکی چي کوم کسان بالغان دی دهغو په حصه کی بیع دهغو پر اجازه موقوفه ده که ئې اجازه کړی وی ددوی په حصه کی بیع صحیح ده که اجازه نه وی بیع صحیح نه ده اودصغیرانو په حصه کی ئې بیع باطله ده ځکه چي دغه دمځکی خرڅوونکی دصغیرانو نه ولی دی نه وصی دی :

باع نصف البناء مع نصف الارض جازسواء باعه من اجنبی اومن شریکه(الفتاوی الهندیة ج۳ ص۱۵۶)اذاباع الرجل مال الغیر عند نایتوقف البیع علی اجازة...المالک ویشترط لصحة الاجازة قیام العاقدین والمعقودعلیه...واذامات المالک لاینفذ باجازة الوارث(الهندیة ج۳ ص۱۵۲)امالولایة علی مال الصغیر القاصر فتکون لاحد الاولیاء الستة الذین ذکرناهم سابقا وهم الاب ووصیه والجد ووصیه والقاضی ووصیه(الفقه الاسلامی ج۴ ص۱۴۳)

عبدالله ... | مولوی محمد اخلاص برکتی | احمد نوری

مولوی نذاحمد الثانی مولوی احمدنوری عفی عنه

پورور کونکي که په غبن فاحش سره له پوروړي خريداري وکړي حق درجوع لري کنه

پوښتنه زماپريو چاپور باندي دی نودمديون څخه مايوشئ رانيوی مثلاً په ۱۵۰۰ هغه شئ په بازارکی په ۱۰۰۰ ورنوددغه ۵۰۰ دپاره زه رجوع ومديون ته کولای سم کنه؟
(المستفتى ملاشهاب الدين)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب باسم ملهم الصواب

په صورت مذکورکی دغه زيادت د پنځه سوه غبن فاحش بلل کيږی که چيری ترقيمت د قيمت کونکو نه لاندی کيدی په غبن فاحش کی کئ دمبيعی صفت بغيرد هغه د حقيقة څخه کړی ووچې وهغه ته تغريرواي نورجوع کيدلای شی ورنه رجوع نشي کيدلای :
واعلم انه لا ردبغبن فاحش وهوما لايدخل تحت تقويم المتقومين فى ظاهر الرواية وبه افتى بعضهم مطلقا كمافى القنية ثم رقم وقال ويفتي بالرد...ان غره اى غر المشترى البائع اوبالعكس اوغره الدلال فله الرد الخ (الدر المختاربهامش ردالمختار ج۴ ص۱۷۸) وذلک کمالووقع البيع بعشرة مثلا ثم ان البعض المتقومين يقول انه يساوي خمسة وبعضهم ستة وبعضهم سبعة فهذاغبن فاحش لانه لم يدخل تحت تقويم احد(ردالمحتار ج۴ ص۱۷۸)ليس للغبن الفاحش وحده فى ظاهر الرواية اثر على العقد فلايجيز ردالمعقود عليه اوفسخ العقد الااذاانضم اليه تغرير (اى وصف المبيع بغير حقيقته) من احد العاقدين اومن شخص اخر كالدلال ونحوه وهذامااخذت به المجلة (م۳۵۷) لان الغبن المجرد عن كل خديعة يدل على تقصير المغبون وعدم ترويه وسواله اهل الخبرة ولايدل على مكر العاقد الاخر الفقه الاسلامى ج۴ ص۲۲۲)والله اعلم وعلمه اتم واحكم

مولوی نذمحمد الحقانی

ديتيم حصه نوروړتاه خرخولای شي اوکنه

پوښتنه : محترم رئيس صاحب دارالافتاء په ورثه ووکښی يو يتيم د ۹ نيم کالودی آياد دغه يتيم حصه دسرای څخه موريااناياىل قريب خرڅه ولای سی کنه؟ بينواتوجروا
(المستفتى حاجى ميرآغا)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب

موريااناديتيم دمځکی دخرڅ تصرف نسي کولای حاصل دادی که يتيم وصی دپلاردرلود

خو هغه به ئې تصرف کوی که ئې نه درلود یعنی پلار ئې مړ سوی وووصی ئې نه وودرولی نو بیا حق د تصرف وصی لره د نیکه دی او که ئې وصي د نیکه هم نو و نو بیا حق د تصرف قاضی لره او یا وصی لره د قاضی دی نو د غه مذکور اشخاص مځکه دیتیم خرڅو لای سی فقط لکن دغه خرڅ هم په هغه وقت کښې دی چې دغه لاندی اعذار موجود شي:

(۱) په ضعف د قیمت ئې خرڅه کړه

(۲) دپاره د نفقی دیتیم ئې خرڅه کړه

(۳) دپاره د پور پر میت ئې خرڅه کړه

(۴) دپاره دوصیت دمیت ئې خرڅه کړه

(۵) حاصلات ئې پر مؤنت نه زائد کیدل نو ئې خرڅه کړه

(۶) دبیری دخرابیدلو ئې خرڅه کړه

(۷) دبیری د نقصان ئې خرڅه کړه

(۸) پلاس کښې د متغلب وه وصی بیری دی چې متغلب ئې قبضه کوي نو ئې خرڅه کړه

او که دغه اعذار موجود نه وه دغه مذکور اشخاص هم مځکه دیتیم نسی خرڅولای او هرچې نور منقوله اموال دی په هغو کښې مصلحانه تصرف کولاسی:

وجاز بیعه عقار صغیر من اجنبی لامن نفسه بضعف قیمته اولنفقة الصغیر اودین المیت اووصیة مرسلة لانفاذلها الامنه اولکون غلاته لاتزید علی مؤنته اوخوف خرابه اونقصانه اوکونه فی یدمتغلب درر ولشبا ملخصا قلت وهذالوالبائع وصیالامن قبل ام واخ فانهما لایملکان بیع العقار مطلقا ولاشراء غیر طعام وکسوة الخ(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۵ ص۵۰۲)قوله لا من قبل ام اواخ ای اونحوهما من الاقارب غیر الاب والجد والقاضی(ردالمحتار ج۵ ص۵۰۲)وولیه ابوه ثم وصیه بعدموته ثم وصی وصیه کمافی القهستانی عن العمادیة ثم بعدهم جده الصحیح وان علا ثم وصیه ثم وصی وصیه قهستانی ثم القاضی اووصیه ایهما تصرف یصح آه(طحطاوی علی الدرالمختار ج ۴ ص ۳۴۳)

مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نذاحمد الحقانی مولوی محمود میوندوال

په دري کاله کي دآبادولوپه شرط چي بناروالي ځمکي خرڅوي جواز لري کنه

پوښتنه : بریاست دارالافتاء به علمای محترم شرع مبین السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته به مسئله ذیل شریعت چه میفرمایند زمینیکه ازطرف دولت ازملکیت شخصی خریداری واستملاک شده وبعدا طبق نقشه شهری به فروش رسیده باد نظرداشت قانون : ساروالی خریدارباید درظرف سه سال به آبادی آن اقدام کند ولی اقدام نکرده : ساروالی طبق قانون خود بعدازمیعاد سه سال ویامشترطبق ماده ۳۷ و ۳۸ به ستردی آن اقدام وبه نفردوم به فروش رسانیده نفردوم به آبادی آن اقدام نکرده توانسته که اباد نماید خودش زمین رابه : ساروالی واگزارشده و : ساروالی به نفرسوم به فروش رسانیده که نفرسوم طبق نقشه شهری آباد نموده وازطرف : ساروالی سندملکیت وازریاست محکمه قباله شرعی اخذکرده است اکنون نفراول ادعاء ملکیت دارد و : ساروالی نفرسوم راکه قباله شرعی بدست دارد مستحق میداند دین باره چه میفرمایند تاباد نظرداشت شریعه غراء محمد صلی الله علیه وسلم به قناعت مراجعین پردازیم ومن الله التوفيق

بسم الله الرحمن الرحيم

بعون الله الملک العلی الاعلی

زمینیکه ازطرف دولت به فروش رسیده باد نظرداشت قانون : ساروالی که آن درذیل استفتاء مذکور است که خریدار باید درظرف سه سال به آبادی آن اقدام نماید چون این قانون : ساروالی هایک شرط متعارف آنان است وشرط متعارف درشریعت مطهرة صحیح ومعتبراست ولازم الوفااست اگرچه ازمقتضیات عقد نباشد وملایم باونباشد خواه عام باشد خواه خاص اگرچه که حادث باشدکه درکتب فقهاء کرام یافته نمیشود بعدازآن که مخالف نص شرعی یعنی کتاب وسنت واجماع نباشدپس بناء براین شرط مذکور اقدام : ساروالی به ستردی آن زمین طبق ماده مذکوردراستفتاء ازمشتری اول صحیح وبجااست وهم واگذاشتن مشتری دوم زمین رابسبب نتوانستن بجا آوردن شرط مذکورواخذ نمودن : ساروالی ازو جائز ومعتبراست پس اکنون مشتری سوم که : ساروالی اورامستحق میداند مستحق است چراکه ایفاء وعمل نمودن شرط متعارف کرده : (المادة ۱۸۸)البيع بشرط متعارف وهو الشرط المرعي في عرف البلدة صحيح والشرط معتبر مثلا لوباع فرواً على ان يخيط بها الظهارة اوالقفل على ان يسمره في الباب اوالثوب على ان يرقعه يصح البيع ويلزم على البائع الوفاء بهذه الشروط وهذااذاكان الشرط متعارفا في عرف البلدة والافالشرط مفسد والبيع فاسد راجع شرح المادة ۳۶ ولوباع الثمر على

الشجر وكان بعضه قدادرک والبعض الاخر لم يدرک فشرط بقاءه على الشجر حتى ينضج صح على قول محمد وبه يفتى(ردمحتار) شرح المجلة سليم باز ص۸۸ العادة محكمة يعني ان العادة عامة كانت اوخاصة تجعل حكما لاثبات حكم شرعي مجلة الاحكام(المادة ۳۶) وایضافی شرح المجلة الاتاسی ج۲ ص۶۴ ج۲ ص۶۵ ورسائل ابن عابدين ج۲ ص۱۱۴ الی اخر رسالة نشر العرف فی بناء بعض الاحكام على العرف والله تعالى اعلم

مولوی احمد نوری عفی عنہ مولوی نذ احمد الحقانی

له نورو دکانونو څخه مخالف جنس په یوه دکان کي خرڅول

پوښتنه : دغه خلقو په باب چې په خپل دکان کی داسی اجناس خرڅوی چې دهمسایګانو ددکانونو سره ډیر توپیرولری مثلادبزازانوددکانو په مابین کی دپتاتو یاپیازو خرڅول اوهمسایګان شکایت څنی ولری والسلام.

(مستفتی ملاهدایت الله رئیس بناروالی قندهار)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب

هر سړی کولای سی چې په خپل دکان کی دخپلی خوښی اورضا مطابق شئ خرڅ کړی اوهیڅ چا لرو داحق نسته چې دی منع کړی ترڅو چې بل چاته یی ضررفاحش نه وی رسولی اوضررفاحش دی ته ویل کیږی چې یامنع دمنفعة اصلیه مقصوده څخه راولی یاسبب دنړید لودهمسایګانو دبناء سی:

لايمنع احد من التصرف فی ملکه ابد االااذاضر بغيره ضررافاحشا (المادة ۱۱۹۷) الضرر الفاحش هوكل مايمنع الحوائج الاصلية يعني المنفعة الاصلية المقصودة من البناء كالسكنى اويضر البناء بان يجلب عليه وهنا ويكون سبب انهدامه (المادة ۱۱۹۹) والله تعالى اعلم

مولوی عبدالحکیم عفی عنہ مولوی نذ احمد الحقانی

یوچاته په بیع اواجاره کي اختیارورکول

پوښتنه:یوتجارکه یوه کرایه کس ته رخت ورکړی اودرخت ګزیه پنځوس روپۍ یی اونوموړی تجارکرایه کس ته ووایی چې دغه رخت کوټېه ته ورسوه هرکله چې دورساوه

نو ته اختيار من يي که ماته رخت راکوی يو گز په پنځوس روپي تاته زه په گز ه ۵ روپۍ کرايه درکوم او که تا بل ځاي خرڅاوه ماته بيا خپلې روپي راکړه ستا خو بنه ده بينوا توجروا جزاکم الله خيراويو فقکم الله د دارالافتاء محترم رئيس صاحب استفتاء درته راجع شوه د مستفتي مشکل به حل کړي.

(الحاج مولوی خليل الله فيروزی)

(رئيس رياست عالی تميز)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله الوهاب

تجارچي دغه رخت گز په پنځوس روپي پر کرايه کش خرڅ کړي که په عقد کښې دغه مذکور شرط ورسره کړی وی بيع فاسد جوړيږی او که ئې وروسته تر عقد دغه شرط ذکر کړی وی نوبيا عقد صحيح دی دغه شرط محض وعده ده او په الدر المختار کښې راغلی دی:

(ولا بيع بشرط) عطف على الى النيروز يعنى الاصل الجامع فى فساد العقد بسبب شرط ...الخ

او په ردالمحتار ج ۴ ص ۱۳۵ کی راغلی دی:

قوله ولا بيع بشرط شروع فى الفساد الواقع فى العقد بسبب الشرط لنهيه صلى الله عليه سلم عن بيع وشرط لكن ليس كل شرط يفسد البيع (نهر) واشار بقوله بشرط الى انه لابد من كونه مقارنا للعقد لان الشرط الفاسد لو التحق بعد العقد قيل يلتحق عند ابى حنفية رحمه الله تعالى وقيل لا وهو الاصح كما فى جامع الفصولين والله تعالى اعلم

مولوی نذاحمد الحقانی مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب رئيس دارالافتاء دولت اسلامی افغانستان

د خريداری په ځمکه کي حدود اعتبار لري که جريبونه

پوښتنه: وحضورته د دارالافتاء محترم رئيس صاحب السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته زه ملادرياشاه د صدوخان زوی د اجيرستان د ولسوالي او سيدونکی يم وروسته زه پوښتنه لرم هغه دا چې ما (۱۰) جريبه ځمکه په گلوجان نامی باندی خرڅه کړی ده تقريبا ۲۸ کاله کيږی

دسابقه انقلاب په دورکی تدریجا تدریجا ده یوڅه نوره ځمکه لاندی کړه اوس موږ ورته وایو چې جریب راسره وکړه ځکه چې تاله موږه څخه خریداری کړي ده ګلوجان نامی وارثان وایي چې موږ ئې نه جریبه وو ځکه چې زماحدود معلوم دی اوس موږ ته دشریعت له نظره داراته معلومه کړی چې دخریداری په زمکه کی حدود معتبردی که جریب کوم دلائل چې دشریعت دی په دی باره کی چې کومه یوه ددی څخه آیاجریبی که حدودات معتبردی دشریعت غراء په رڼاکی ئې واضح کړی اوکوم دلائل چې دحدودو په باب وی هغه راته واضح ولیکی اوکه دجریبي په باب وی هغه راته واضح کړی اوپه کوم یوچې حکم سوی وی هغه راته لطفا ولیکی. (والسلام المستفتی ملاعبدالقدوس)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون ملهم الصواب

په دی باره کی چې دخریداری په مځکه کی حدود معتبردی که جریبونه بایدووایو چې داپه عقد پوری اړه لری که عقدپرحدودو شوی ووحدود اعتبار لری اوکه عقد پرجریبونو شوی ووجریبونه اعتبارلری مثلاکه دعقد په وقت کی ویل شوی وه چې دغه مځکه چې دغه یی حدوددی او۱۰۰ ګزه کیږی یا۱۰۰ جریبه کیږی په دونه قیمت یی درکوم نوداعقد پرحدودودی وروسته که دامځکه کمه سوه یابالاسوه قیمت تغیرنه پیداکوی لکن مشتری لره اختیار دقبول اوردد‌عقد شته په صورت دکمبودکی اوکه ویل شوی وی چې دغه مځکه چې ۱۰۰ جریبه کیږی جریب په زر افغانی مثلادرکوم نوداعقد پرجریب شوی دی آینده جریب اعتبارلری که مځکه هرڅو جریبه شوله دفی جریب قیمت به ورکوی اوعقدپردواړو (یعنی حدود اوجریبونه) صحت لری:

کما یصح بیع العقار المحدود بالذراع والجریب یصح بیعه بتعیین حدوده المجلة المادة ۲۲۱ انمایعتبر القدرالذی یقع علیه عقد البیع لاغیره(المجلة المادة ۲۲۲)وکمایصح بیع العقار بالکیل اوبالحد ود یصح بیعه ایضاً بکلیهما فلو باع ارضا ذکر حدود ها وقال ان مساحتها کذاذراعا کل نراع بکذاصح وکانت العبرة للکیل لانه بتفصیل الثمن اصبح العقد واردا علیه امالوباع ارضا بالف وذکر حدودها وزرعها فالعبرة للحدود وفی الحالین اذاوجد الارض ازید اوانقص من القدرالذی ذکر فی العقد فتجری علیه احکام المادة ۲۲۶ شرح المجلة سلیم باز م۲۲۲ ص۱۰۷ وجاء فی المجلة المادة ۲۲۶ اذابیع مجموع من المذروعات سواء کان من الاراضی اومن الامتعة وسائر

الاشياء وبين مقداره وجملة ثمنه فقط اوفصل اثمان ذرعانه ففى هاتين الصورتين يجرى الحكم على مقتضى حكم الموزونات التى فى تبعيضها ضرر واماالامتعة والاشياء التى ليس فى تبعيضها ضرر كالجوخ والكرباس فالحكم فيها كالحكم فى المكيلات مثلا لوبيعت عرصة على انها مائة ذارع بالف غرش المكيلات فظهر انها خمسة وتسعون ذراعا فالمشترى مخير ان شاء تركها وان شاء اخذ تلك العرصة بالف غرش واذاظهرت زائد اخذ ها المشترى ايضاً بالف غرش فقط الخ كذلک لوبيعت عرصة على انها مئة ذراع كل ذراع بعشرة غروش فظهرت خمسة وتسعين ذراعا اومائة وخمسة اذرع خير المشترى ان شاء تركها وان شاء اخذها اذاكانت خمسة وتسعين ذراعا بتسعمائة وخمسين قرشا واذاكانت مئة وخمسة اذرع بالف وخمسين قرشا الخ(المجلة المادة ۲۲۶ وهكذافى شرح المجلة للاتاسى فى تشريح المواد المذكورة) والله اعلم وعلمه اتم



مولوی نذ احمد الحقانی مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

په مخکني حکومتو کي چي چادولتي شيان رانيولي وي

پوښتنه :دقندهاردمرکزی دارالافتاء ومحترم رئیس صاحب اواعضاء ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته زموږ په منطقه کی یوتعداد خلق دی چي دولتی شیان ئې رانیولی دی دکمونستانو دحکومت په وخت کی یادربانی دحکومت په وخت کی چي هغوی لیلام وی اولیلام ئې تثبیت وی اودوی یاټولی روپی ورکړی یائې بعضی قسطونه ورکړی وی بعضی ئې پاته وی لکه موټران یادکانونه یاژرندی یاځمکی هیله کووچې په دغه حصه کی فتوی راکړی چې ذکرسوی شیان دولتی دی اوکه دمشتریانود ی اوکه دولتی وی هغه روپی ئې دولت ورکوی کیااوکه مشتریانووی پاته قسطونه دولت په هغه قیمت ځنی اخلی اوکه په اوسنی قیمت والله اعلم

(الحاج مولوی بهاء الدین حقانی)
(معاون ریاست امر بالمعروف)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب باسم ملهم الصواب

دبيع دانعقادلپاره یوشرط دادی چې مبیعه به مملوک فی نفسه وی که چیری مبیعه مملوک فی نفسه نه وی دبیع دانعقاد شرط فوت شو وداسی بیع ته بیع باطله ویل کیږی دبیع باطلی حکم دادی چې په قبض باندی هم ملک دمبیعی ومشتری ته نه نقل کیږی نوحاصل دادی چې کمونستان یاربانیان یاتوپکیانو چې دولتی ځمکی یادکانونه یاژرندی یاموټران پرخلقو خرڅ کړي دی هغه ددوی بیع بیع باطله ده ځکه چې دغه شیان چې ذکرشول ټول دبیت المال دی ومذکورو کسانوته ملک فی نفسه نه دي ثابت بیع چې باطله سوه ملکیت ومشتریانوته نه دي نقل سوی دهغه وجه داده چې په مذکوروکسانوکی هرچاچې دبیت المال شئ خرڅاوه هغه شخص نه خلیفه نه امام نه قاضی نه وکیل د امامؤ نوپه دغه وجه ددوی بیع صحیح نه ده زموږ په نظر دحل مناسبه لارئ داده چې کوم خلق ددولت له خوا څخه دمال مشتری سند په لاس کی لری دامیرالمومنین په اجازه دی دموجوده وقت په قیمت دمذکور اشیاؤ دمشتریانو سره بیع تجدید سی که چیری دامیر المومنین رضا ثیت وورنه نوداکار به نه کیږی په دی صورت کی دوی لوی فایدی شته اول داچې کله بالکل ورڅخه ضبط اوقبض شی درعیت ډیر غټ نقصان دی اوحال داچې پررعیت باندی ډیرزیاد شفقت په کاردی خصوصا په موجوده اضطراری حالت کی دوهمه فایده داده چې رعیت به په نفرتکی نه واقع کیږی اوکوم خلق چې سند ددولت لخوانه لری دهغو څخه دی بیله چون وچرا ضبط شی.

الشرط الخامس وهو كون الملک للبائع فیمایبیعه لنفسه فیبطل بیع مالیس مملوکاله اذاباع لنفسه وان ملکه بعده شرح المجلة للاتاسی ج۲ ص۸۸ ومنها (ای من شرائط الانعقاد) فی المبیع وهو ان یکون موجود وان یکون مملوکا فی نفسه وان یکون ملک البائع فیمایبیعه لنفس فلا ینعقد بیع الکلاء ولوفی ارض مملوکة له (الهندیة ج۳ ص۲)الشرط الثالث للمعقود علیه ان یکون مملوکافی نفسه ای محرزاوهو مادخل تحت حیازة مالک خاص فلاینعقد بیع ما بمملوک لاحد من اناس (الفقه الاسلامی ج۴ ص۳۵۸)واماانواعه (ای البیع) فبالنظر الی مطلق البیع اربعة نافذ وموقوف وفاسد وباطل فالنا فذ مالفاده الحکم للحال والموقوف مالفاده عند الاجازة والفاسد مالفاده عند القبض والباطل مالم یفده اصلا(الهندیة ج۳ ص۳)والله اعلم بالصواب



مولوی نذاحمد الحقانی مولوی محمود میوندوال مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

باب الربا


ډوډۍ په قرض ورکول

پوښتنه: دارغستان له اولسوالي علماء کرامو فتوی ورکړی ده چي ډوډۍ قرض ورکول او اخيستل روادي شرعي منع پکی نشته هيله لروچي دامسئله تصويب ياترديد کړی.
(المستفتي حاجي ملامحمد آخند دارغستان اولسوال)

بسم الله الرحمن الرحيم

دمرکزی دارالافتاء نظر

ذکرت فی ردالمحتار ج۴ ص۱۹۷ وج۴ص۲۰۸ وطحطاوی علی الدر ج۳ ص۱۱۲ والهندية ج۳ ص۲۰۱ والفقه الاسلامی ج۴ ص۶۱۸ وفتح القدير ج۶ ص۱۷۷ وتحفة الفقهاء ج۲ ص۱۷ فتوی الدر المختار وردالمحتار علی جواز استقراض الخبز وزناو عددا وهو قول محمد رحمه الله ورجحه فی فتح القدير وفتوی الهندية علی جوازا ستقراضه وزنا لاعددا وهو قول ابی يوسف رحمه الله تعالی عليه والمختار قول محمد رحمه الله تعالی لان فتوی اکثر الکتب عليه وعللوه بالتعامل وحاجة الناس کمافی تحفة الفقهاء وغيره والله اعلم.



مولوی عبدالحکیم عفی عنہ مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی احمد نوری عفی عنہ مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

دغنمو تبادله په اوړوسره څه حکم لری

پوښتنه : محترمینو اساتذو ددارالافتاء ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وبعد پوښتنه لرو چي تبادله دغنمو په اوړو چي مقداریواندازه وی صحیح دی کنه ؟

(المستفتی ملاعبدالحبیب)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

تبادله اوبیع دغنمو په اوړو مطلقا غیر جائز که په یوه اندازه وی او که نه وی :

وفی شرح دررالبحارومنع اتفاقا ان یباع البر باجزائه کدقیق وسویق ونخالة الخ ردالمحتار ج۴ ص۲۰۸

اوپه الدر المختار علی هامش ردالمحتارج۴ ص۲۰۸ کښی راغلی دی:

لایجوز بیع البر بدقیق اوسویق وهو المجروش ولابیع دقیق بسویق مطلقا ولو متساویا لعدم المسوی فیحرم لشبهةالرباه والله اعلم.

صح والله اعلم
مولانامحمود میوندوال مولوی عبدالحکیم عفی عنه

له مشترک مال څخه په دی شرط قرض

اخستل چي راتلونکي گټه به ټوله دیوروکونکي وی

پوښتنه : محترم مسئول دارالافتاء قندهار محترمو موږ دوه شریکان یوهغه مال مشترک موپه (۵۰) زره نقدواو ۲۰۰۰۰۰ پور دڅلورو میاشتومو ورکړی اوس یوشریک دغه (۵۰ زره) نقدی اخلی اودابل شریک ورته وایي چي صحیح ده دغه دمال مشترک گټه چي ټوله په دی معامله کښی شوی ده څکه اصل سرمایه ۲۰۰۰۰۰ وه اوس ئې پنځوس زره گټلی څلور میاشتي بعدزمادی په دغه شرط ئې درکوم دغه ۵۰ زره نقدی اوس دغه زموږ طریقه صحیح ده او که نه اوبل صورت دغه دمال مشترک گټه په تقسیم سره وویشو هغه ۵۰ زره چي ده وړي دی هغه گټه نه لری داصحیح ده کنه بینوابالصواب توجرواعند الوهاب.

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

محترم ورور مستفتی صاحب چونکه ستاسوداشریک مال ربح اوگټه کړي ده نواوس به

تقسیم کیږي په وفق دشرط ستاسو کله چې په رأس المال اوربح کی یوڅه مقدار نقدی روپی وی اونورپوروپه نقداوپور دواړوکی تاسو دواړه حق لري نواوس چې دایوشریک وایي چې دانقدی ټول ماته راکړی ځکه چې زماضروری پکاردی دالکه دي دهغه بل شریک دحصی په دغه نقدي مال کی دهغه څخه مطالبه کوی په طریقه ددین اوقرض سره اوس چې دابل شریک ورته وایي چې صحیح ده خوګټه به ټوله زماوی اوزیاته حصه ترهغه چې په عقد کی شرط شوي وی دربح څخه په هر تقدیردادواړه صورته اعتیاض اوعوض اختتل بلل کیږی پرقرض اودین باندی دامعامله ناروا اوسوددی لکه په اعلاء السنن ج ۱۴ ص۵۱۲ کی لیکل شوي دی ۴۸۵۸ :

عن علی امیرالمؤمنین مرفوعا (کل قرض جر منفعة فهو ربا) وقال الموفق فی المغنی وکل قرض شرط فیه الزیادة فهو حرام بلاخلاف قال ابن المنذر اجمعو اعلی ان المسلف اذاشرط علی المستلف زیادة اوهدیة فأسلف علی ذالک أن أخذ الزیادة علی ذالک ربا وقد روی عن ابی بن کعب وابن عباس وابن مسعود انه نهو اعن قرض جر منفعة ولانه عقدارفاق وقربة فاذاشرط فیه الزیادة اخرجه عن موضوعه ولافرق بین الزیادة فی القدر اوفی الصفة (اعلاء السنن ج۱۴ ص۵۱۳) والله اعلم بالصواب



مولوی نذاحمد الحقانی مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

کومه مؤسسه چې دتجارت په غرض خلکوته قرض ورکوی

پوښتنه: دکندهار ومحترم المقام دارالافتاء ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته محترمو اول موصحت وعافیت دخداوند متعال څخه مطلوب لرم اوبل عرض اومطلوب دادی چې دلته یو مؤسسه غواړی چې وبی روزګاره خلکوته پیسی ورکړی چې هغه خلک کاروبار په وکړی خومؤسسه غواړی چې یومعلوم شئ پرخلکو مقررکړی مثلا یوه نفرته سل ډالر ورکوی خوماهانه پنځه ډالره غواړی آیاداسی صورت به جائزوی که یا که جوازونه لری بل داسی صورت به وی چې هم دلته وخلکوته دکار دپاره پیسی پیداسی اوهم جوازولری محترمو هیله ده چې په دی ارتباط یوه مفیده لاره راته معلومه کړی والسلام.

(المستفتی والی کندهار ملامحمد حسن رحمانی ۷ - ۵ - ۱۳۷۵)

بسم الله الرحمن الرحيم


الجواب ومنه الصدق والصواب

داپیسی به یاپه طریقه دقرض ورکوی اویاپه طریقه دمضاربة اویاپه بله طریقه که چیری په طریقه دقرض وی اوبیاهم مؤسسه یومعلوم شئ مقررکړی پرخلکوماهانه اوپه اخیرکښی خپلې پوره پیسی هم غواړی نوداپرقرض نفع شرط کول اواخستل دی داناجائز ده اوکه چیری په طریقه دمضاربة وی اوداماهانه نفع درب المال دپاره پکښی شرط وی که خلکو یعنی مضاربینوګټه کړی وی اوکه تاوان نودامضاربة هم فاسد اوناجائز ده اوکه چیری بل صورت وی دهغی نوتعین پکار ده چې بیاوکتل شی چې صحیح ده اوکه نه نوزموږ مشوره خوداده چې یادی قرض ورکړی خونفع دی نه شرط کوی اویادی مضاربة صحیح وکړی چې ربح جزء شائع وی لکه نصف یاثلث وغیره اودیوطرف لپاره به تعین دیوقدر معین نکوی اوکه مضارب نفع و نکړی اویائې نقصان وکړونورب المال به نفع نه غواړی:

واماالذی یرجع الی نفس القرض فهوان لایکون فیه جر منفعة فان کان لم یجز نحو مااذااقرضه دراهم غلة علی ان یردعلیه صحاحا اواقرضه وشرط شرطا له فیه منفعة لماروی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه نهی عن قرض جر نفعا ولان الزیادة المشروطة تشبه الربا لانها فضل لایقابله عوض والتحرزعن حقیقة الربا وعن شبهة الربا واجب هذااذاکانت الزیادة مشروطة فی القرض فامااذاکانت غیر مشروطة فیه ولکن المستقرض اعطاه اجودهما فلاباس بذالک الخ بدائع الصنائع ج۷ ص۳۹۵)

وفی الاشباه کل قرض جر نفعا حرام (قوله کل قرض جر نفعاحرام) ای ذاکان مشروطا کما علم مما نقله عن البحروعن الخلاصة وفی الذخیرة وان لم یکن النفع مشروطا فی القرض فعلی قول الکرخی لابأس به ویأتی تمامه ردالمحتار ج۴ ص۱۹۴ المضاربة تفسد باشیاء منها اذاشرط لاحدهما من الربح مایقطع الشرکة نحوان یجعل له دراهم مسماة مائة اواقل اواکثر فسدت المضاربة الفتاوی قاضیخان علی هامش الهندیة ج ۳ ص۱۶۱ ویشترط ایضا ان یکون جزء اشائعا کالنصف اوالثلث لتحقق المشارکة بینهما فی الربح قل اوکثر فلوشرط لاحد هما قدرمعین کمائة مثلافسدت المضاربة لقطع الشرکة فی الربح ولاحتمال ان لایحصل من الربح الا مقدار ماشرط له راجع المادة ۱۳۳۷ وشرحها شرح المجلة لسلم باز ج۲ ص۷۴۷

اودغه مضمون په شرح المجلة للاتاسی ج ۴ ص ۳۳۳ کښې هم ذکرشوی ده ۱۲



مولانامحمد مسلم حقانی مولاناعبدالله مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

کتاب الاجارة

دمشاع اجاره ابتداءً صحیح کیږي کنه ؟

پوښتنه :-محترم مولوی صاحب ثاقب عزتمنده څرنګه چې څه اندازه افواهي معلومات موږ تاسو محترم ته درکړی دی ستاسو هدایت سره سم مواوس تحریري معلومات درولیږل ستاسو حضورته یوه قطعه مځکه دولتي موږ په اجاره ورکړی تیر کال زموږ په فکرتوله دولتي وه بالاخرپه دغه مځکه کښې یوه قطعه مځکه رعیتي شوه داسناددمخې اوس دغه مالک دمځکې زموږ څخه دخپل مځکې په اندازه غنم غواړی اوهم بل کال دغه شخصي مځکه حکومت په اجاره ورکړی اوحال دادی چې دغه شخصي مځکه اوبه نه لری زموږ په اوبو اویږی اوهم دغه شخصي مځکه کښې اجاره دارپالیز کرلی اوزموږ په مځکه ئې غنم اوپیاز کرلی اوموږ دغه توله مځکه په ۳۰ خرواره ورکړی آیا دغه سړی په دغه خپل پالیز کښې حق لری اویازموږ په غنمو کی هم ؟

(المستفتي دمځکو مسئول جمعه خان اوغلام رسول)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

محترمو اجاره دمشاع که تقسیم قبلوی اوکه ئې نه قبلوی غیر لخپله شریکه څخه ابتداء نه صحیح کیږی په قوله دامام ابو حنیفة رحمه الله تعالى اوپه قول دصاحبینو رحمهما الله تعالى په شرط دبیان دنصیبی صحیح کیږی اواجاره ورکول خپل شریک ته دخپلی نصیبی روادی که قسمة قبلوی یائې نه قبلوی که ګرده خپله حصه ورکی یابعضی اوشیوع عارضي اجاره نه فاسده وی په اتفاق سره داماما نورحمهم الله تعالى - په سبب داو بیدو دشخصي مځکې په اوبو ددولتي مځکې که په اذن سره وی که بی اذنه وی هیڅ ضرر

یاتاوان دشخصي مځکی وخاوندته نه رسوی.

اجارة المشاع فیمایقسم وفیمالایقسم فاسدة فی قول ابی حنیفة رحمه الله تعالی وعلیه الفتوی کذا فی فتاوی قاضیخان وعندهمایجوز بشرط بیان نصیبه الخ واجمعوا انه لو آجر من شریکه یجوز سواء کان مشاعا یحتمل القسمة اولا یحتمل وسواء آجرکل نصیبه اوبعضه کذا فی الخلاصة والشیوع الطاری لایفسدها اجماعًا کمالوآجرکلهاثم تفاسخا فی نصفها اومات احدهما او استحق بعضهایبقی فی الباقی فی النصاب والصغری الفتاوی الهندیة کتاب الاجارة الباب السادس عشر فی مسائل الشیوع فی الاجارة (ج۴ صفحه ۴۴۷ و ج۴ صفحه ۴۴۸) ولایضمن من سقی ارضه اوزرعه من شرب غیره بغیر اذنه فی روایة الاصل وعلیه الفتوی شرح وهبانیة وابن الکمال عن الخلاصة لما مر انه غیرمتقوم الدرالمختار بهامش ردالمحتار (ج۵ صفحه ۳۱۷) واماضمانه بالاتلاف بان یسقی ارضه بشرب غیره فهو احدی الروایتین والفتوی علی عدمه کمافی الذخیرة وهوالاصح کمافی الظهیریة وتمامه فی النهر ردالمحتار(ج۴صفحه ۱۳۲)

نوچې اجاره صحیح سوه په سبب دشیوع عارضی نودی هغه دشخصي مځکی خاوندته پرقدردمځکی دی غنم ورکړی یعنی دغه خرواره غنم دی پرسرکاری مځکه اوشخصی مځکی باندی تقسیم سی هرڅه چې وررورسیده هغه دی ورکی که دولتی مځکه اوشخصی مځکه په قیمت کی سره برابره وه یعنی څلور ګزه دشخصي مځکی په یولک افغانی اودولت دمځکی څلورګزه هم په یولک افغانی وو تفاوت ئې نه درلود اوپه مقدارکی هم سره برابر ي وی یعنی دولتی مځکه سل (۱۰۰) جریبه وه اوشخصی مځکه هم سل (۱۰۰) جریبه وه نودی داغنم سره نیمائ کی اوکه یي تفاوت سره درلود یعنی دولتی مځکه (۱۰۰) جریبه وه اوشخصی (۲۰) جریبه وه نودی پنځمه حصه وصاحب ته دشخصي مځکی ورکړه سی اودشخصی اودولتی دپاره ئې غنم مذکور مقررکړي دی نومستأ جرلره اختیاردی چې هرقسم تصرف پکښی کوی که په دواړه کی غنم کری یاپه دواړو کی پالیزکری یاپه یوه کی یوشئ کری په بله کی بل شئ کري:

وتصح اجارة ارض المزراعة مع بیان مایزرع فیها اوقال علی ان ازرع فیها ماشاء(الدرالمختار بهامش رد المحتار ج۵ ص۲۰) والله اعلم بالصواب.

مولوی نذاحمد الحقانی مولوی محمود میونډوال

دریگواودبرواجاره څه حکم لري

پوښتنه ومحترم مولوی صاحب نور محمد ثاقب وحضورته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته (۱) ددغه ریګواو دبرو اجاره صحت لری چې حکومت یې پریوچا اجاره کړی اوکه یې نه لری ځکه چې دغه خویونامعلومه شئ دی ځکه خلګ ئې په غلاخپلو کوروته وړی نودجنایي مدیریت ددغه مشکلاتوسره مخامخ دی ترڅوددغه اجاری په باره کښې دصحت درلودلو اونه درلودلو په باره کښې پوره معلومات راکړی ځکه چې دغه ریګ خویوکال دباران اوبه پریوه خواوړی اوبل کال ئې پربله خواوړی یوکال دیو سړی مځکه لاندی کړی اوبل کال ئې دبل چا مځکه لاندی کړی وی نوځکه دغه نامعلو مه شئ ددغه اجاره صحت لری اوکیا ځکه چې نامعلومه شئ دی والسلام.

(المستفتی مولوی صاحب محمد سلیم مدیر جنایي)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

مسئله داده چې ددغه ریګواودبرو اجاره صحت نه لری ځکه چې داتملیک دعین دی اواجاره چې واقع شی پرعین باندی هغه جائزه اوصحیح نه ده لکه په الفتاوی البزازیة بهامش الفتاوی الهندیة ج۵ ص۴۷ کی لیکلی دی:

الاجارة اذاوقعت علی العین لایجوز فلایصح استجار الاجام والحیاض لصید السمک اورفع القصب وقطع الحطب او یسقی ارضه اوغنمه منها وکذااجارة المراعی.

اوهمدارنګه په تبیین الحقائق ج۵ ص۱۰۵ کی لیکلی دی:

وقال الامام الاسبیجابی فی شرح الطحاوی التملیک علی ضربین تملیک منفعة وتملیک عین وکل وجه علی وجهین امان یکون ببدل اوغیر بدل فتملیک العین ببدل هو البیع وتملیک العین بغیر البدل هی الهبة والصدقة والوصیة ومااشبه ذلک واماتملیک المنفعة ببدل فهی الاجارة وتملیک المنفعة بغیر بدل هی العاریة اوهمدارنګه په ردالمحتار علی الدرالمحتار ج۵ ص۴۳ کښی لیکلی دی وذکرهنا الاجارة اذاوقعت علی العین لاتصح الخ وهکذافی الاختیار لتعلیل المختار ج۲ ص۵۰ وایضاً فی البدائع ج۴ ص۱۷۴ (و ج۴ ص۱۷۵) والله سبحانه وتعالی اعلم

مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نذ احمد الحقانی

ددلالي اواجرت ددلالي څه حکم دی

پوښتنه : دکندهار ولایت دامنیی محترم قومندان صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته زه عبدالظاهر دپیر محمد زوی ددمان ولسوالی اوسیدونکی محترمه! موږدکشمشو په سرایکی ددلالی وظیفه اجراء کوولکن بعض تجاران زموږ څخه دلالی په یوه نامه په بل نامه ګرځوی کچیری دغه دلالی دشریعت مطابق ددی حق لری چې زموږ څخه وګرځوی موږ څه نه وایو کچیری حقیقت نه لری باید په آینده کی زموږ څخه دلالی ونګر ځول شی په احترام.

(المستفتی عبدالظاهر ۲۸ - ۷ - ۱۳۷۶)

وکتل سو امریت جنائ دشرعی احکامو مطابق اجراءات وکړئ.

(حافظ عبدالمجید قوماندان امنیه کندهار)

دابتدائیه محکمی محترم مقام ته دعارض عارضه من حیث الارتباط تاسوته راجع سوه څرنګه چې پوهیږی اجراءات یی وکړی والسلام.

(مولوی محمد سلیم مدیرجنایي)

محترم ددارالافتاء رئیس صاحب ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته بعد دمستفتی عارضه درته راجع سوه امید دی چې مشکل ئې ورحل کړئ. ومن الله التوفیق

(دکندهارولایت ابتدائیه محکمه)

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین وصلی الله علی سید نا محمد وعلی اله وصحبه وسلم الجواب باسم ملهم الصواب ددلال اجرت اومزدوری اخستل رواو جائز ده لیکن دغه دد لالی اجرت اومزدوری به معلومه وی دلته غلبا ۳ صورته سته اول ۲ صورته دجوازدی دریم صورت دنه جوازدی (۱) دلال چی کوم شی وکوم شخص ته ورخرڅوی یائې ورته رانسي داسي به ورته وائ چې فلان شئ درته خرڅوم یائې درته رانیسم مثلا ۲۰ زره افغاني غوارم ۲ که ئې مزدوری معلومه نکړه دعرف له وجهی حق د مزدوری لری مګر تراجر مثل به اضافه نه ور څخه اخلي دغه ۲ صور ته جائزدی ۳ که دلال وچاته وویل چې فلان شئ چې په کوم مقدار مبلغ مي درته خرڅ کړی مثلا ۵۰۰۰۰ افغانی ستادی هغه باقی زمادی دغه دریم صورت یی ناجائزدی مفتی رشید احمد صاحب دامت برکاته په احسن الفتاوی ج ۷ ص۲۷۲ کی لیکلی:

سوال: دلال کی اجرت جانبین سے شرعا جائز ہے یا نہیں الجواب ومنہ الصدق والصواب جائز ہے بشرطیکہ صاف طور پر اجرت معلوم کرلی جائے(*) قال فی الشامية عن البزازية اجارة السمسار والمنادى والحمامى والصكاك ومالايقدرفيه الوقت ولا العمل تجوز لما كان للناس به حجة ويطيب الاجر المأخوذ لو قدرأ جر المثل ردالمحتار ج۵ ص۳۴ وايضاً فى بيوع الشرح واماالدلال فان باع العين بنفسه باذن ربها فاجرته على البائع وان سعى بينهما وباع المالك بنفسه يعتبر العرف وفى الشامية فتجب الدلالة على البائع اوالمشترى اوعليهما بحسب العرف جامع الفصولين ردالمحتار ج۴ ص۴۶)

سوال: زید نے بکر سے کہا کہ میں تمہاری بھینس عمر کے ہاتھ فروخت کرادیتا ہوں مگر اس شرط سے کہ مبلغ تین سو پچاس روپے تمہیں دونگا اور اس سے زائد جتا بھی وصول ہوگا وہ میں لے لونگا...... الخ جواب یہ معاملہ نا جائز ہے آہ احسن الفتاوی(**) ج۷ ص۲۷۳ واللہ تعالی اعلم-

دیوچاسره ترا جاره کولو وروسته بیاهغه شئ وبل ته په اجاره ورکول

پوښتنه :محترم ریاست دارالافتاء السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته چې دووکسانوته ښاروالی دزمکی اجاره وکړی چې دکان کی جوړکړه خودیوه تاریخ مخ ته وی دبل مؤخروی لکن دمؤخر تاریخ سړی تصرف مخ ته وکړی یعنی خاوره راوړی اوهغه بل نفرچې تاریخ یي مخته وو هغه تصرف وروسته وکړی دمخ کی خاوری څخه دیو الونه جوړ کړی په دی کی شریعت څه حکم کوی چې دادکان دچادی دجواب په انتظار.

(ازطرف رئیس استئیناف مولوی محمدداد گل صاحب)

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين وصلى الله على سيد نامحمد وعلى اله وصحبه وسلم الجواب باسم ملهم الصواب په مذ کور صورت کی که اول شخص ته مځکه تسلیم سوی وی نو بیا اجاره ثانیه صحت نه لری:

رجل اجرداره من رجل وسلمها اليه ثم بعد ذلک اجرها من اخر لايجوز ولاينعقد الاجارة الثانية فى حق الاخر حتى لوانفسخت الا جارة الاولى وسقط حق المستاجر الاولى لايلزم ان يسلم الى الثانى(خلاصة الفتاوى ج۳ ص۱۱۹) وتسليم الدار والارض يتم بان يقف المشترى فى داخلها اوقريبا منها بحيث يرى جانب الارض او يقدر على اغلاق باب الدار فورا (الفقه الاسلامى ج۴ ص۴۱۹) والقبض عندالحنفية يتم بالتخلية بان يخلى المالک بين المعقود عليه والطرف الاخر برفع الحائل بينهما على وجه يتمكن الاخرمن الحيازة والتصرف فى الشئ الفقه الاسلامى ج۴

(*) ترجمه: پوښتنه: ددلال اجرت له جانبینو شرعا جائزدی اوکنه ځواب جائزدی په دی شرط چې په څرګنده توګه اجرت معلوم کړل شی

ص ۲۴۶ والله اعلم وعلمه اتم واحكم

مولانا محمد نوري عفي عنه مولانا محمود ميوندوال

که دی تردومره په زياتوخرڅ کړی نوزياتي ستادی

پوښتنه ومقام ته دمحترم رئيس صاحب ددارالافتاء السلام عليكم ورحمة الله وبركاته محترمه! وماته عبد العظيم وويل چې زماپه انذ ازه --۱۹۶۰ ميتره مځکه في ميتر په ۲۳۰۰۰ افغا ني ته خرڅه کړه اوکه دی اضافه زماتر پورته قيمت دغه مځکه زما خرڅه کړه هغه اضافه پيسی ئې ستادی مافعلادغه مځکه په ۲۴۰۰۰۰ افغانی خرڅه کړي ده چې زماپه اندازه ۱۹۶۰۰۰۰ لکه افغاني وعبدالعظيم ته ورځی نوزه ستادمقام څه هيله کوم چې درويه دشريعت وماته معلومات راکړی چې زه دغه ذکرشوی پيسی دده څخه واخلم اوما ته درويه دشريعت روايبنت لری که يا چې زه ستادمقام دهدايت سره سم هغه کاروکړم اوزما غاړی دخدای اورسول پوری خلاصی وی

(المستفتی محمد ظاهر ولد محمد اسماعيل)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

کچيری په وکالة کی اجرة شرط شوی وی نو وکيل مستحق داجرة دی اوکچيری په وکالة کی اجرة نه وو شرط سوی اوداوکيل هم هغه څوک ووچې خدمت ئې په اجرة سره نه کاوه نو بيادی متبرع دی نودده لپاره مطالبه نسته داجرة اوکچيری داوکيل هغه څوک وو چې خدمت ئې په اجرة سره کاوه نوبيادغه وکيل لپاره اجر مثل دی:

اذااشترطت الاجرة فی الوكالة واوفاها الوكيل استحق الاجرة اطلاقه يدل على انه لافرق فيما اذاوقت وقتا معلوما لايفاء الوكالة اولا وان لم تشترط ولم يكن الوكيل ممن يخدم بالاجرة كان متبرعا فليس له ان يطالب بالاجر واما اذاكان ممن يخدم بالاجرة فله اجر مثله لان المعروف عرفا كالمشروط شرطا المادة (۱۴۶۷) من مجله الاحكام مع شرحه لسليم باز ۷۸۹ الوكالة باجر تصح الوكاله باجرو بغير

(**) زياره: پوښتنه زيد وبکرته وويل چې زه ستاګا ميښه پر عمر خرڅوم خوپه دی شرط چې دری نيم سوه روپۍ وتاته درکوم اوتردی زياتی که می هرڅومره خرڅ کړه نو هغه زه اخلم څواب دامعامله نا جائزده (مرتب)

اجر لان النبی صلی اللّٰه علیه وسلم کان یبعث عماله لقبض الصد قات ویجعل لهم عمو لة فاذاتمت الوکالة باجر لزم العقدو یکون للو کیل حکم الاجیر ای انه یلزم الوکیل تنفیذ العمل ولیس له التخلی عنه بدون عذر یبیح له ذلک واذالم یذکر الاجر صراحة حکم العرف فانکانت مأجورة عادة کتوکیل المحامین وسما سرة البیع والشراء لزم اجر المثل ویدفعه احد العاقدین بحسب العرف ولن کانت غیر مأجورة عرفا کانت مجانا اوتبرعا عملا بالاصل فی الوکالات وهو ان تکون بغیر اجر علی سبیل التعاون فی الخیر الخ (الفقه الاسلامی ج۴ ص۱۵۱) واللّٰه اعلم بالصواب

مولانا احمد نوری عفی عنہ مولانا نذیر احمد الحقانی مولانا محمود میوندوال

که دی تردومره په زیاتو خرڅه کړه نوزیاتي روپۍ ستادي

پوښتنه چې یو سړی بل چاته ووایي زمافلانی قطعه مځکه په لس لکه افغانی راخرڅه کړه بالابود ترلسولکوځ ستادی هغه سړی ئې په ۱۵ لکه افغانی خرڅه کړی دغه پنځه لکه افغانی د چادي اودغه دلال ته څه شی شته؟

(ملا احمد شاه دمرکزی محکمی محرر)

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

بعون الملک العلی الاعلی

محترم مستفسر صاحب دغه مذکوره معامله جائز نه ده فاسده ده اود مځکی تول قیمت اوبدل دمالک دی ددلال دپاره اجرمثل دی یعنی دهغه دکار په مثل مزدوری کیږی:

سوال: زید نے بکر سے کہا کہ میں تمہاری بھینس عمر کے ہاتھ فروخت کرا دیتا ہوں مگر اس شرط سے کہ مبلغ تین سو پچاس روپے تمہیں دونگا اور اس سے زائد جتنا بھی وصول ہو وہ میں لے لونگا...... الخ جواب یہ معاملہ نا جائز ہے (*) الخ احسن الفتاوی من ج ۷ ص ۲۷۳ الی ج ۷ ص ۲۷۴

لماکانت الاجارة نوعا من البیع فتفسد بکلما یفسد البیع کجهالة مأجور اواجرة اوعمل اومدة (درمختار) الخ شرح المجلة لسلیم باز البنانی ص۲۵۷

په دغه مذکور شرح ص۲۵۹ کی راغلی دی:

الاجارة الفاسدة نافذة –حتی ان المستأجر فاسدا لوآجر اجارة صحیحة جاز لو بعد القبض انظر الی

(*) ژباړه: پوښتنه زید وبکرته وویل چې زه ستاګامیښه پرعمر خرڅوم خو په دی شرط چې دری نیم سوه روپۍ وتاته درکوم تردی زیاتی که هرڅومره وی هغه زه اخلم الخ ځواب دا معامله نا جائزده الخ (مرتب)

مادة ۵۸۸ لکن الاجر یملک فیها اجر المثل ولایملک الاجر المسمی هکذافی الا ختیار لتعلیل المختار من ج۲ ص ۵۷ الی ج۲ ص۵۸ والله تعالی اعلم وعلمه اتم



مولانا احمد نوری عفی عنه مولانا محمود میوندوال مولوی نورمحمد ثاقب رئیس عمومی دارالافتاء مرکزی امارت اسلامی افغانستان

دبائیسکلانو په اجرت ساتلو حکم

پوښتنه : جناب محترم رئیس صاحب دارالافتاء راجع به موضوع بائسکل های که پیش روی دامن قومندانی ازمراجعین میباشد قومندانی ازجیب خودش مبلغ ۳۰۰۰۰ معاش میدهند بمبلغ فوق الذکر کسی این وظیفه رااجراء نمیکند به هر شخص که این وظیفه سفرده شود اجراء آن نمیکند حالا این استفتاء میکنم که بمبلغ مذکوره اوراضی نشو فلهذا نفرخاص ملاکه فی بائسکل مبلغ ۵۰ افغانی اخذ نماید درین موضوع برای من هدایت شرعی عطاء فرمایید واگرازان کسی بائسکل ها و موترسیکل ها سرقه گردیده جواب آن به کدام مقام میرسد.

(المستفتی ملاتاج محمد آخند)

بسم الله الرحمن الرحیم

بعون الملک العلی الاعلی

محترم مستفتی صاحب نوموړی شخص چې دقومندانی لخوا اجیر او ملازم مقررشوی ود دعامو خلقو دبائیسکلانو دحفاظت لپاره په مقابل د ۳۰۰۰۰ افغانی معاش نو په دغه وقت کی د ده اخستل دروپو دنورو عامو خلقو څخه جائزاو روانه دی ځکه چې دی اجیر بلل کیږی او داجیر خاص عمل دیو خاص مرجع لپاره وی لکه په الفقه الاسلامی (ج۴ ص۷۶۶) کی لیکل شوي دی:

والاجير نوعان اجير خاص وأجير مشترک فالاجير الخاص اواجير الوحد هوالذی یعمل لشخص واحد مدة معلومة وحکمه انه لایجوزله العمل لغیر مستأجره۔

اوکله چې ده بی کفایتی د معاش په وجه د قومندانی سره خپل عقد د ملازمت فسخ اوختم کړی نواوس په دغه وقت کی ده لره جائزدی چې دعامو خلقو لپاره خپل ځان اجیر جوړ کړی په مناسب اجرة سره هغه که ۵۰۰ وی اوکه زیات وی اوکه کم وی نودی په دغه وقت کی اجیر مشترک بلل کیږی اود ده عمل اوکار دعامو خلقو لپاره وی اود ده څخه که بایسکل ورک کړی شو ضامن دقیمت به دی وی اوپرده تاوان دی بنا پرقول مختار اومفتی به داقوالو څخه دعلماء اومجتهد ینو رحمهم الله تعالی لکن که ورک کیدل او هلاک کیدل دبایسکل په داسی آفت سره وی چې دهغه څخه حفاظت ممکن نه وی نوبیادی ضامن نه دی لکه اورلګیدل یاسیلاب عام:

والاجیر المشترک هوالذی یعمل لعامة الناس کا لصباغ والحدادو الکواء ونحوهم وحکمه انه یجوزله العمل لکافة الناس ولیس لمن استاجره ان یمنعه عن العمل لغیره (الفقه الاسلامی ج۴ ص۷۶۶)وقال الصاحبان واحمد فی روایة اخری ید الاجیر المشترک ید ضمان فهو ضامن لایهلک فی یده ولو بغیر تعد اوتقصیر منه الا اذاحصل الهلاک بحریق غالب عام اوغرق غالب ونحوهما و استدلو ابفعل عمرو علی الاتی بیا نه قال البغدادی عن بعض کتب الحنفیة وبقول الصاحبین یفتی الیوم لتغیر احوال النا س وبه یحصل صیانت اموالهم (الفقه الاسلامی ج۴ ص۷۶۸ وهکذا فی شرح المجلة لسلیم باز اللبنانی ص۳۳۲) والله اعلم بالصواب

مولوی محمد اخلاص برکتی

مولوی احمد نوری عضو مولوی محمود مومند وال مولوی ندمحمد اسحاق مولوی مفتی نور محمد ثاقب رئیس عمومی دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

په شرطو لودضمان اجاره فاسدیږی اوکنه

پوښتنه: یوسړی تجارراو لاړشی کرایه ته مال ورکړی په کرایه چې لس روپی درکوم په یوه ګزه کرایه خو په دې شرط چې دغه مال که ورک یاهلاک سوته به ئې ضامن یی اوماته به یې ضمان راکوی.

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله الوهاب

دغه تجار چې کرایه کش ته مال په دغه مذکور شرط ورکړي کچیرې ئې دغه شرط دضمان په داسې هلاکت کښې لګولی وو چې حفظ ئې ددغه هلاکت څخه ممکن نه وي نو شرط فاسد اجاره اتفاقا په فاسدیږي داجاره فاسد حکم دادې چې دآجیر اجرت مثل لازمیږي که مال هلاک شو په اجیر ضمان نشته اتفاقا کچیرې ئې دغه شرط دضمان په داسې هلاکت کښې لګولی وو چې حفظ ددغسې هلاکت څخه ممکن وو نو پرقول دامام ابوحنیفه رحمه الله تعالی اجاره فاسده ده او پر قول دصاحبان رحمهما الله تعالی اجاره صحیح ده ځکه چې دغه شرط دمقتضی دعقد څخه مخالف نه دی که چیرې دغه شرط دضمان نه وي هم پر اجیر باندې په دغه قسم هلاکت کښې ضمان شته پر رایه دصاحبان رحمهما الله تعالی دغه رایه دپاره دفتوی راجح ده په تبیین الحقائق کښې راغلي دي:

وبقولهما يفتى اليوم لتغير احوال الناس وبه تحصل صيانة اموالهم وان شرط الضمان على الاجير المشترك فى العقد فان شرط عليه فيما لا يمكن الاحتراز عنه لا يجوز بالاجماع لانه شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لاحد العاقدين ففسدت وان شرط عليه فيما يمكن الاحتراز عنه فعلى الخلاف فعندهما يجوز لانه يقتضيه العقد عندهما وعنده يفسد لان العقد لا يقتضيه فيكون اشتراطه فيه مفسدا (تبيين الحقائق ج۵ ص۱۳۵)

او په حاشية الطحطاوي على الدر المختار (ج۴ ص۳۵) کي راغلي دي:

وفى المحيط والخلاف فيما اذا كانت الاجارة صحيحة فان كانت فاسدة فلا ضمان بالاتفاق لان العين حينئذ تكون امانة لكون المعقود عليه وهو المنفعة مضمونة باجر المثل ابوالسعود عن شرح المجمع لابن الملك (قوله وان شرط عليه الضمان) قال فى التبيين وان شرط الضمان على الاجير المشترك فى العقد فان شرط عليه فيما لا يمكن الخ قوله (خلافا للاشباه) اى من انه ان شرط ضمانه ضمن اجماعا آه حلبى وهو منقول عن الخلاصة قال الفقيه ابو الليث الشرط وعدمه سواء لانه امين واشتراط الضمان على الامين باطل وبه يفتى آه وفى البزازية والفتوى على انه لا اثر له واشتراطه وعدمه سواء.

مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی محمد اسحاقی مولوی نور محمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

په مرگ دمؤجر يامستاجر اجاره باطليږی اوكنه

پوښتنه زماداكالور مځكه وركړي وه ددرو كالو په اجاره اوس مى داكالور مړه شوي ده نوموړ مځكه راگرځوودمځكى ددووكلو حاصلات ئې دوى خوړليدلى ددي په مرگ سره اجاره باطليږی كه يا ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

اجاره په مرگ دهر چاچې عقد داجارى دده دپاره شوي وى كه مؤجر يا مستأجر فسخ كيږى چې ضرورت نه وي لكه مرگ دمستأ جر په لاركى دمكى كي اودلته دغه ضرورت موجودنه دى په سبب ددې لاندى مسئلى:

(وتنفسخ) بلاحاجة الى الفسخ (بموت احد عاقدين)عند نالابجنونه مطبقا (عقدها لنفسه) الالضرورة كموته فى طريق مكة ولاحاكم فى الطريق الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۵ ص۵۷) كل من وقع له عقد الاجار ة اذامات تنفسخ الاجارة بموته ومن لم يقع له العقد لا ينفسخ العقد بموته (الفتاوى الهندية ج۴ ص۴۶۳) والله تعالى اعلم.

مولوی بدمحمد اتحادی فاضل وفاق المدارس مولوی احمد نوری مفتی مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

گوروانى په دوډى اوشپني په وريانو اومرغومانو څه حكم لرى

پوښتنه: دارغستان اولسوالى علماء كرامو دادو ى مسئلى په دى دول بيان كړى دى چى ۱ گوروانى په دودى سره جائزاوروانه ده بايد په پيسو اومثلى شيانو وكړه شى ۲ شپني په وريانو اومرغومانو جائز اوروانه ده بايد په پيسواومثلى شيانوشى ستاسو څخه هيله ده چې دامسئله تصويب ياترديد كړى.

(المستفتى اولسوال ملاحاجى محمد اخند)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب ۱—۲

عندنا صحيحتان لان معلومية الاجرة ضرورية فى شرح المجلة للاتاسى وانكانت اى الاجرة

عروضا اوثیابا یشترط فیه بیان القدر والصنعة والاجل لانها لاتثبت فی الذمة الاسلما فیراعی فیها شرائط السلم وانکانت من العبید والجواری وسائر الحیوانات فلا بد فیها من ان تکون معینة مشار الیها (ج۲ ص۵۴۸)



مولانا عبدالحکیم عفی الله عنه مولانا احمد نوری عفی عنه مولوی محمد اخلاص برکتی مولانا محمد اسحاقی فاضل وفاق المدارس

مولوی نور محمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

داجاری ترمودی پوره کید وروسته که مؤجر غائب وی

پوښتنه: مځکه په اجاره اخستلی شوی دپنځو کالو په مده سره داجاری دبقاپه وقت کښی بیاتر لسو ۱۰ کلو پوری دمځکی مالک ورک دی او وارث ئې هم معلوم نه دی اوس مځکه پرڅه طریقه جوازد کرنی پیداکولای شی دمستأجرسره.


(المستفتی مولوی صاحب احمد الله نانی)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الملک العلام کومه مځکه چې په استفتاء کښی مذکورده هغه وقت جواز دکرنی پیداکولای شی چې قاضی دورک شوی سړی پرمځکه یو محافظ اونګهبان مقررکړی چې دهغه سره به بیا عقد داجاری کیږی داهغه وقت چې دورک شوی سړی دطرف څخه وکیل نه وی اوکه وونود هغه سره به تجدید دعقد کیږی چې مده دعقد پوره شی ځکه چې دهغه وکالت اوس هم باقی دی دهغه په ورک والی سره دی معزول نه شمیرل کیږی اوهغه مده چې دورک شوی داجاری دمدی څخه وروسته پکښی کرهنه شوی ده په هغه کښی اجرمثل د مځکی لازمیږی پرکرونکی باندی که عرف نه وواوکه عرف وونوبیابناء پر عرف ده دهغه ځای (فینصب له القاضی من یحفظ ماله ویستوفی حقه).

ای یقبض غلاته والدین الذی اقر به غرماؤه لانه من باب الحفظ فلایخاصم فی الدین المجحود الذی تولاه المفقود ولافی نصیب له فی عقار اوعروض فی یدرجل لان وکیل القاضی بالقبض لیس وکیل بالخصومة بالاجماع لکن لوقضی به نفذ وتمامه فی البحر (مما) ای من شیئ (لاوکیل له فیه) واما فیماله فیه وکیل فیستوفیه الوکیل لانه لاینعزل بفقد مؤکله (مجمع الانهر ج۱

ص۷۱۲) والبحر الرائق ج۵ ص ۱۶۳ (الجواب) حيث زرع ارض الغير بغير اذنه يعتبر العرف فان اقتسمو االغلة انصافا اوارباعااعتبرو الا فالخارج للزارع وعليه اجر مثل الارض وقال فى جامع الفتاوى ولوسكن دارا معدة للغلة اوزرع ارضا معدة للاستغلال بغير استئجار يجب الاجر (الفتاوى تنقيح الحامدية ج۲ ص۱۱۴)



مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی محمد اخلاص مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

پر اجیر مشترک ضمان شته او کنه

پوښتنه: دکندهار ولایت دارالافتاء ریاست لوړ مقام ته په احترام السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته دملا عبدالعزیز دبازمحمد دزوی دعرض په اساس په لاندی مضمون دی قومندانی ته عارض شوی وائي چې ماپه ضیائي مارکیټ کی دکندهار ښار (۶۶۵۴۹) کالدارو په قیمت مال او ټوکران رانیول اومال می ګاډی وان ته ورکړ چې دګرشک اډی ته ئې انتقال کړی ګاډی له سرایه ووتله زه دڅه وخت دپاره په سرای کی وځنډیدم وروسته چې دګرشک اډی ته ورغلم چې زما مال اوګاډی نه وه ګاډی وان په خپلو اظهاراتو کی وویل څرنګه چې زه دضیائ مارکیټ څخه راغلم دلته دسنګین موټر ته انتظار ووم او ۴۰ دقیقی هلته کښینستم په دی وخت کی طالب راغلی ماته ئې وویل چې لمانځه ته ولاړسه ماورته وویل چې دغه مال په ګاډی کی باردی طالب راته وویل چې ځه ولاړسه اوزه ئ څو شلاقی ووهلم زه لمانځه ته ولاړم کله چې دلمانځه څخه راغلم نه ګاډی وه نه مال اونه هم طالب وومال واله راغلی ماته ئې وویل چې مال څه سو؟ماورته وویل چې زه ئې په زوره لمانځه ته بوتلم چې راغلم نه مال وونه ګاډی اوهم دهغه طالب څخه چې موږ اظهارات واخستل هغه وویل زه دملابخت محمد په امرزه هره ورځ خلق لمانځه ته بیایم وایي ددغه ګاډی اومال څخه خبرنه یم دغه موضوع ستاسوحضورته شرعی احکام دحکم سره سم داجراء تواو فیصلی دپاره چې دعدلي محکمی فیصله هم سوی ستاسی حضورته تقدیم شول په درناوی.

(مدیر جنابیي الحاج عبدالقاهر)

بسم الله الرحمن الرحيم.

بعون الله تعالى الجواب :

هر چی طالب دی هغه محتسب دی حق ددغه ورلره سته چی خلق جماعت ته ولاړکی ځکه جماعت داسی مهم شرعی کاردی چی تارک الجماعة مستحق دتعزیردی په حدیث شریف کی راغلی دی دابو هریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت ده :

قال صلی الله علیه وسلم لقد هممت ان آمر اصحابی ان یجمعو احطبا وآمر بالصلوة فیؤ ذن بهاوتقام ثم اخالف الی منازل قوم لایحضرون الصلوة فاحرقها علیهم په (فتاوی بزازیة علا هامش الهندیة ص۴۲۷ ج ۶) کښی راغلی دی من لا یحضر الجماعة یجوز تعزیره باخذ المال.

محتسب ته چي اجازه د شرعی لخوا پیدا شوه چی خلق جماعة ته ولاړکی نودغه ولاړیدل سبب دضمان نه گرزی ځکه په مجلة مادة ۹۱کی راغلی دی:

الجواز الشرعی ینافی الضمان دغه محتسب داسی متسبب دور کیدونه دی چی ضمان پرلازم شی ځکه پر متسبب چی ضمان لازمیږی په شرط دقصد اوتعدی په مجله مادة ۹۳کی راغلی دی المتسبب لایضمن الابالتعمد اوبالتعدی دریم شرط ئې دادی چی دغه سبب به خامخا مفضی تلف لره وی څلورم ۴شرط یي دادی چې په مابین کی دسبب او تلف به فعل دفاعل مختار نهوي راغلی الحاصل سبب چی مو جب دضمان گرزی په دغه څلورو شرائطو گرزی په دغه محتسب کی ظاهراً معلوم ده چي دغه شرائط نشته مجموعا په شرح المجله للاتاسی ج۳ ص ۴۶۴ کی راغلی دی:

اعلم ان الاتلاف تسببا انمایکون موجبا للضمان بشروط اربعة احدها ان یصدر من فاعله عن عمد کماصرحت به المادة ۹۳ وثانیها ان یکون متعدیا في فعل ذلک السبب کما اعربت عنه المادة ۹۲۴ و ثالثها ان یکون ذلک السبب مفضیا للاتلاف لامحالة ورابعها ان لایتخلل بین السبب والتلف فعل فاعل مختار...الخ

هرچی گادی وان دی هغه تقصیر په محافظة کی دمال کړی دی ځکه دغه گادیوان ولی گادی او مال داوداسه اولما نځه ځای ته دځان سره نه بیوله په مجله مادة ۶۰۹ کښی راغلی دی:

تقصیر الاجیر وهو عدم اعتنائه فی محافظة المسأجر فیه بلاعذر مثلا لوندت شاة من الغنم ولم یذهب الراعی لقبضها تکاسلا اواهمالا یضمن حیث یکون مقصرا الخ.

ددغه تقصير له وجې پرګاډی وان ضمان شته اوکه ئې تقصير ته نظرونه شي هم پرګاډی وان ضمان شته ځکه اجير مشترک دی او په ضمان کی داجير مشترک مفتی به اوراجح قول دادی چی پراجير مشترک ضمان شته په داسی قسم هلاک کی چې احترازورڅخه ممکن وی لکه غلادغه قول دصاحبين دی په ردالمحتارکی راغلی دی ج۵ ص۴۵:

وقولهما قول عمروعلى رضى الله عنهما وبه يفتى احتشا ما لعمر وعلى وصيانة لاموال الناس...آه لانه اذاعلم انه لايضمن ربمايد عى انه سرق اوضاع من يده په شرح المجلة لسليم باز ص۳۳۲ کی راغلی دی و قدافتى بقولهما كثير من الفقهماء لتغير احوال الناس وبه تصان اموالهم لانه اذا علم الاجير انه لايضمن فربمايدعي انه سرق اوضاع في يده والله اعلم وعلمه اتم

مولانامحمد اخلاص برکتی مولانامدمحمد الحقانی مولاناعبدالحکیم عفی الله مولانانورمحمد ثاقب رئيس دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

ترېشر چې دکار په جريان اورواخلي
ضمان يې پر چادی ا وترېشر وال حق دمزدوری لری اوکنه

پوښتنه يوسړی راولړسودبل سړی درمند يی ورترېشين کړی په دی مابين کی يووار ترېشين خراب سوبيادا ترېشين والا بيرته جوړکړی ۹نيم ساعته بعد داناړی اورواخستی ترېشين چې جوړسوی دی ۱۲کاتې کيږی ولاړووباره داخلق لکه خاوند دماشين اوبزګر ان دواړه ولاړه کوچی ناړی وهلی دماپښين پر دړې نيمې بجې چې ناړی اورواخيستی موږ ورغلوترېشين هم اوراخستی وو بيامو ترېشين سم کړی اودلمبې څخه موواېستی ماشين والاطلب دمزدوری ځنې وکړی هغه ورته وويل چې زمادرمن تا وسو آيا دغه درمن تاوان پردغه ماشين والاکيږی اوکه پرخاوند کيږی آيا ماشين والاحق د مزدوری لری که يې نه لری ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

که ماشين والاخپل عمل پای ته رسولی وو اودعمل نتيجه يعنی هغه کار چې په ماشين والاپوری موقوف ووکړی ئې وواوو مستأجر ته ئې ورسپارلی وونو که دغه اورورسته لګيدلی وودماشين والامزدوری حق کيږی اوکه ئې عمل نه وو کړی يا ئې کړي ووخو

مستاجرته ئې نه وو سپارلی دماشین والامزدوری حق نکیږی او اوربیلیدل د اجنبی سړی بې له اذنه څخه دمالک تاوان لری دهغه چاچې بیله بادڅخه اوروررسیدلی وی اوپه خپله طبعه يې اورو سوځی اوکه دونه لیری وی چې اورپه خپل طبعه نسی وررسیدای بیله حرکته دبادد غه تاوان نسته نوچې داجنبی سړی تاوان نه وی نوکه مالک دمځکی اوربل کی اودبل شخص وشی ته ئ تاوان ورساوه په سبب دبادهم تاوان نه لری په طریق اولی سره اذا ستاجر رجلا لیبنی له بناء فی داره اویعمل له ساباطا ....وماالشبه ذلک فی ملکه اوفیما فی یده فعمل بعضه فله ان یطالبه بقدره من الاجر لکنه یجبر علی الباقی حتی لوانهدم .... فله اجرماعمله بحصته ولوکان عین ذلک فی غیر ملکه ویده لیس له ان یطلب شیئا من الاجرة قبل الفراغ من عمله وتسلیمه الیه حتی لوهلک قبل التسلیم لایجب شئ من الاجر ة (الهندیة ج۴ ص۴۳۱)ومن استأ جرأرضا اوا ستعارها فاحرق الحصائد فاحترق شئ فی ارض اخری فلا ضمان علیه لان هذاتسبب لیس بمباشرة وا لضمان فی التسبب لایجب بدون التعدی ولم یوجد لانه تصرف فی ملک نفسه وقال الصدر الشهید رجل احرق شوکا اوتبنا فی ارضه فذهبت الریح بالشرارات الی ارض جاره فاحتر ق زرعه ان کانت النار ببعد من ارض الجار علی وجه لایصل الیه شرار النار فی العادة فلا ضمان علیه لان ذلک بفعل النار وان کانت بقرب ارضه علی وجه یصل شرار النار غالباً فانه یضمن ذلک لان له ان یوقد النار فی ارضه ولکن علی وجه لایتعدی ضرره الی ارض جاره هکذافي غاية البیان (الفتاوی الهندیة ج۴ ص۴۷۲ رشیدیه)

(نوټ)اوعمل کول په ملک یعنی دمستأ جرپه مځکه کی که پای ته ورسیږی اوصراحة یې مزدور ومالک ته دمځکی ورتسلیم نه کی بیاهم حکم دتسلیم لری والله اعلم وعلمه اتم واحکم -

مولوی محمود میوندوال مولوی نذاحمد الحقانی

دکرايي شئ که غلاشي نو

پوښتنه: مانور محمدخپله ریړی اوترازوعبدالقادرته په کرایه ورکړه دیوې میاشته ۵ ورځی وروسته دشپې ریړی غلاسوه آیاز ماپر عبدالقادر باندی حق دضمان کیږي کیا؟ ریړی دسړک پرغاړه ولاړه وه اوقلف کړي يې نه وه چې غلاسوه.

(المستفتی نور محمد)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب

جواب د استفتاء دارنګه دی هغه شی چې څوک ئې په اجاره سره وبل چاته ورکي اوس چې د اجارې وخت نه ئې پوره شوی دغه شی کچیری تاوانی شو په وجه د کوتاهي اولاوبالی دده سره دغه شئ ضمانی اوتاوان لری او کچیري کوتاهي اولاوبالی دده نه وه بیاتاوان نه لري اوس چې دغه ریړی عبدالقادر نه ده قلف کړي دغه د عبدالقادر کوتاهي اولاوبالي ده تاوان به نورمحمد ته ورکوي هکذافی مجمع الضمانات ص۱۲ نزل المستاجرعن الدابة فی سکة ودخل المسجد لیصلی وخلی عنها فضاعت کان ضامنا قالو اهذااذالم یر بطها وان ربطها لایضمن هغه شی چې په اجاره وی هغه لکه امانت داسی دی دامانت حکم په وقت کی دهلاک دادی که په کوتاهي اولاوبالی دده وو تاوان لري اوکنه وو په کوتاهي دده تاوان نه لري.

هکذا فی الفقه الاسلامی ج۴ ص۷۷۵ اماالعین المستأجرة فلاخلاف بین العلماء فی انهاامانة فی یدالمستا جر فلایضمنها ان تلفت بغیر تفریط منه لانه قبض العین آه هکذا فی الکاملیة ص۱۹۶ سئلت عمن استاجر عینا آه. والله اعلم بالصواب

مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب رئیس عمومی دارالافتاء مرکزی امارت اسلامی افغانستان

کرایه دارچې په دکان مصرف وکړی ددی رجوع پرمالک کولائ شي کنه ؟

پوښتنه: احمدالله ولد احمد رسول ۴ ناحیه دارنګه دافغانستان اسلامی دولت ددارالافتاء محترم رئیس صاحب حضورته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته محترم مه! یوباب دکان واقع ۴ ناحیه چې په کوټ باب – علیه الرحمة سره موقعیت لری چې په دری محاکمو شرعی کی فیصله پر جانب مقابل حبیب الله ولدعبدالله چې نوموړی اصلاکرایه کش ووبیایی دقطعی بیع ادعا وکړه اوس په قوماندانی کی عارض دی چې زه ددکان مصارف غوارم نوپه دې باب عارض یم چې نوموړی خوکرایه نشین ووآیادشریعت غراء محمدی اوفقه حنفی دلاری دمصارف حقیت ئې کیږی اوکنه که چیری حقیت نکیږی نوموړته شرعی

مسئله له مخې موضوع حل کړی اوهم باید وویل شی موږ دختو دبندید و خبرورکړو اونوموړی قطعی ادعا شروع کی والسلام.

(المستفتی احمد الله)

بسم الله الرحمن الرحیم

بعون الملک العلی الاعلی

کوم سړی چې کرایه کش وی دیوځای اوبیاپه هغه کی څه بناء وکړی نودغه بناء به یاپه امردمالک وی اویا به دخپل ځان دپاره وی بغیر دحکم دمالک او یابه دابناء دپاره دمالک دځای وی بغیر دامردمالک په اول صورت کی بناء دمالک دپاره ده په دوهم صورت کی بناء دکرایه کش ده دی به ئې کاږی که ضررنه و بناء دمالک ته اوکه ضررو ونومنع به کړای شی دپورته کولو دبناء څخه اودپاره دمالک دځای اجراءات لازم دی په لاندی تفصیل سره خښتی دبناء که ددغه ځای څخه وی یعنی دخاورو څخه ددغه ځای وی که وروسته دپورته کولو دبناء خښتی باقی پاته کیږی نوکرایه کش دی خپله بناء پورته کړی اودخاورو قیمت دی ورکړی مالک ته اوکه خښتی نه پاته کیدی بلکه خښتی خاوری ګرځیدی نوکرایه کش لره بناء پورته کول نشته ځکه فائده نه لری خاوری خوهسی هم دمالک دی اودغه بناء چې کرایه کش کړې ده که ختې وی اوددغه ځای دخاوری څخه وی نوبناء اودغه ختې دی پاته کړایشي اوکه خاوره دکرایه کش وی نوبیادی ددغه خپلی خاوری ختې لری کړی اوپه دریم صورت کی یعنی چې بناء دپاره د مالک دځای وی بغیر دامردمالک څخه نوکرایه کښی متبرع اواحسان کونکی دمالک سره بلل کیږی هیڅ شئ هم نه لازمیږی کرایه کش لره:

والاجر و اللبن ان کان من تراب الدار فان کان بعد النقض یبقی آجرا اولبنا فله قلعه ویضمن قیمة التراب لصاحب الدار وان کان یعودترابا فلیس له قلعه لعدم الفائدة لانه مستحق لصاحب الدار واماالطین فان کان من تراب الدار فحکمه کاللبن اذاعاد ترابا وان کان ملک المستأجر بان اتی به من خارج فله قلعه لانه عین ملکه (شرح المجلة للاتاسی ج۲ ص۶۲۴ وفیه برمز (عده) لکل من بنی فی دار غیره بأمره والبناء لامره ولوبنی لنفسه بلاامره یکون له وله رفعه الاان یضر بالبناء فیمنع ولو بنی لرب الارض بلاامره ینبغی ان یکون متبرعا کمامر شرح المجلة للاتاسی ج۲ ص۶۲۵ :)

اوپه کوم صورت کی چې مال دکرایه کښ وی او بغیر داجازی دمالک څخه ئې مصرف

کړی وی او په پورته کولو ئې نقصان رسیږی بناءته نوپاته به شی اوپرمالک باندی قیمت دورځی ددعوی لازمیږی دپاره دکرایه کښ:

(سئل) فی مستاجر بیت من دار عمل فیه طوانا لسقفه وکتبیتین وقمریتین من الزجاج ومصباحا فی حائطه کل ذلک من مال نفسه بلا اذن المؤجر فاذاخرج فهل له قلع ماعمله حیث لایضر قلعه (الجواب) نعم وفی تجرید البرهانی واذاجصص المستاجر الدار وفرشها بالاجر ورکب فیها بابا اوغلقا اوجعل مسمارا فی بابها واقربه الاجر واراد المستأجر قلعه وذلک لایضر قلعه ومایضر قلعه بالدار لیس له قلعه ولکن یضمن له رب الدار قیمة ذلک وتعتبر قیمته یوم یختصمان عمادیة من احکام العمارة فی ملک الغیر (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص۱۳۵)والله اعلم بالصواب



مولانا ندا محمد الحقانی فاضل وفاق المدارس مولانا نور محمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

دلومړی مستأجرتر تصرف مخکي که په زیات قیمت بل مستاجر پیداشي نولومړی اجاره فسخ کیږی کنه

پوښتنه : که مځکه دبیت المال وی اومتصرف دمځکی دبیت المال یو سړی ته په اجاره ورکړی بل سړی راغلی مخکی تردی چی اول سړی تصرف نه وو پکښی کړی وویل ئې چی زه ئې په زیات أجرت تراول سړی غوارم اوزیادت هم معتبر زیادت ؤ نوآیا اجاره داول سړی فسخ کیږی که یا؟

(المستفتی امیر المؤمنین مجاهد ملامحمد عمر)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون ملهم الصواب دبیت المال مځکی کی واجب داده چی په مناسب اجرة چی هغه اجره مثل دی ورکړه شی او که چیري تراجرة مثل په کم قیمت ورکول شوی وی نودغه اجاره فاسده ده پرمستأجر باندی واجبه ده چي اجرة مثل پوره ورکړی:

(سئل فی مزرعة میریة معلومة اجرها المفوض له امرها من رجل مدة معلومة باجرة معلومة من الدراهم هی دون اجرة مثلها بغبن فاحش ثم زادرجل آخر فی اجرتها زیادة معتبرة نحو نصف

الاجرة المرقومة هى اجرة مثلها ويريد المتكلم عليها ايجارها منه باجر المثل فهل له ذالک الجواب نعم قدتقرران اراضى بيت المال يسلک بها مسالک ارض الوقف خيرية من العشر والخراج وفيها والحاصل انه يجب مراعاة مصلحة بيت المال كما تجب مراعاة مال اليتيم وماوردفيه غير خاف على فقيه وفيها ايضاً نزل الامام الاعظم فى مال بيت المال منزلة والى اليتيم وفيها ايضاً لليتمارى اجارتها شرعا باجرة المثل الخ(تنقيح الحامدية ج٢ ص١٠٢)

اودالازمه نه ده چې پردى اول مستأجردى بيا عرض كړه شي ولى دااجاره فاسده ده بل چاته په اجاره وركول كيدلاشي بى له عرض پراول مستأجرلكه تنقيح كى چى وايي:

(لكن فى هذه الصورة يؤجرها اليتمارى ممن زاد بالزيادة المزبورة من غير عرض على الاول اذالاجارة الاولى فاسدة بغبن فاحش وفى الفا سدة تؤجر من غير عرض (الفتاوى تنقيح الحامدية ج٢ ص١٠٢)

دبيت المال اوديتيم اودوقف دمځكو حكم يودى لكه څنګه چې ديتيم اودوقف مځكه تراجرة مثل په كمه وركول نارواده همدارنګه دبيت المال مځكه په كمه وركول نارواده:

(فى الخير ية ايضاً من الدعوى ان آراضى بيت المال جرت على رقبتها آحكام الوقف الموبدة (الفتاوى تنقيح الحامدية ج٢ ض١٠٢)واجارة الوقف ومال اليتيم لايجوز الاباجر المثل فلو اجربدون اجرة المثل يلزم المستأجر تمام الاجرة وعليه الفتوى البحر الرائق ج٨ ص٤ مجمع الانهر ج٢ ص٣٧٠ الفتاوى الكاملية ص١٩١ ومثله فى مادة ص٤٤١ المجلة) والله اعلم

مولانازمان شاه مولانااحمدنورى مولاناعبدالله مولوى نورمحمد ثاقب سرپرست دارالافتاء مرکزى دولت اسلامى افغانستان

كتاب الوديعة والعارية

دوديع، امين اووكيل حكم يودى چي ضمان ورباندى نشته قسم به وركول كيږى

پوښتنه :ماقولكم رحمكم الله تعالى يوطالب دلوګرولايت دپاره دامير المومنين وفقه الله لاعلاء كلمة الله په امضاء باندى له بانک افغانستان څخه څلورزره لكه افغانى راويستلى كله چې نقد مذكور دلوګر ولايت ته ورسيدى اودهغه ولايت والى ته تسليم شوى زرلكه افغانى ناقصى شوى دلوګروالى په طالب دعوى وكړه چې ته سارق ئې اوطالب دبانک

خزانه دارته خپله امضاء دڅلورزره لکه ورکړي ده نوطالب په دفع کښنی وویل چې خزانه دار ناقصي راکړیدی دخپلی دعوی ثبوت ئې پخپلو انډیوالانو وکړی چې زماسره دوه کسه انډیوالان ملګری وه په وخت درا اخیستو کی یو ترمیدان هوایي پوری ووچې کله موږ په طیاره کی کښینستو نوهغه دموږ څخه پاته شو کله چې طیارئ پرواز وکړی نودکابل پر میدان چې طیاره کښینسته دطیاری دروازی ته زموږ دلوګر ولایت مستوفی او رئیس بانک راغله نودپیسو ګونی هغوواخیستی پخپل موټرکښی کښیښوولی څوچې لوګرته په ګډه ولاړو مستوفی صاحب پیسی پخپله کوټه کښی بندی کړی څوچې صباح ورځ والی صاحب ته تسلیمی دی پیسی کمی شوی خوکله چې زموږدمحکمی مسئولینودده د ملګری ملامحمد هاشم څخه پوښتنه وکړه عین بیان ئې وکړی کله چې دطالب څخه پوښتنه وشوه چې ولی نقصان پرخزانه داردی ولی پرتاندی طالب وویل دائکه چې مادده پر حساب اکتفاء وکړه ولی چې موږدیر دتلوار په حالت کی وو اوخزانه دار موږته پیسی راویستلی چې دغه پیسی ۴۰۰۰۰۰۰ څلورزره لکه دی موږقناعت په وکړی موږنه دی حساب کړی
(دنظامی محکمی ریاست)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون ملهم الصواب
دغه طالب چې پیسی انتقالولی دلوګرولایت ته دی طالب ته آمین ویل کیږی ولی دغه پیسی ده ته دامانت په شکل ورکول شوی دی رسول اوودیع اووکیل ټوله یوحکم لری په امانت کی یعنی دغه ۳ کسانوته چې شئ سپارل شوی وی هغه ددوی سره امانت ګرځی که چیری هلاک شی ضمان نه لری که تقصیر په حفظ اوساتلو کی ددغه شی نه وکړی او په دی مسئله کی چې طالب د زرلکه څخه منکر شوی دی طالب ته قسم ایښوول کیږی که یی قسم واخستی نودی خلاصیږی که چیر دبانک دخزانه دارسره شاهدان نه وه:
فاذاصحت الدعوی سأل المدعی علیه عنها فان اقراو انکرفبرهن المدعی قضی علیه والاحلف بطلبه(کنز الدقائق بهامش البحر الرائق ج۷ ص۲۰۲)(الدعوی) ان کانت مقیدة بسبب بان ادعی انه اقرضه الفا اوغصبه الفا اواودعه الفا وانکر المدعی علیه فقد اختلف ابویوسف ومحمد فی انه یحلف علی السبب اوعلی الحکم قال ابویوسف یحلف علی السبب بالله ما استقرضت منه الفااو ماغصبته الفا اوما اودعنی الفا الخ وقال محمد یحلف علی الحکم من الابتداء با لله ماله علیک هذه

الالف التی ادعی (بدائع الصنائع ج ۶ ص۲۲۸)
وهکذا فی الفقه الاسلامی ج ۶ ص ۵۲۵) وقد اتفق العلماء علی انه لیس فی الاختطاف اوالخیانة فیما ائتمن علیه اوالاختلاس اوالنهب اوالغصب حد (الفقه الاسلامی ج ۶ ص۹۳) وقال الجمهور لایقطع جاحد المستعار ولاجاحد الودیعة (الفقه الاسلامی ج ۶ ص۹۴) وفی تهذیب القلانسی الوکیل من یباشر العقد والرسول من یبلغ المباشرة والسلعة امانة فی ایدهما (البحر الرائق ج ۷ ص۱۴۰) وقبض الامانة هوماکان فیه القابض غیر مسئول عن المقبوض الابالتعدی اوالتقصیر فی الحفظ کالودیعة او العاریة اوالمأجور اومال الشرکة فی ید الودیع اوالمستعیر اوالمستأجر اوالشریک (الفقه الاسلامی ج ۴ ص۴۲۶) الوکیل امین فیما فی یده کالمودع فیضمن بمایضمن به المودع ویبرء به والقول قوله فی دفع الضمان عن نفسه (الفتاوی الهندیة ج ۳ ص۵۶۷)

اوهمدارنګه خزانه دارد بانګ ودیع دی اوامین دی قول دده معتبر دی په حق کی ددفع دضمان دده دځپل ځان څخه نه په حق کی دایجاب دضمان پرطالب باندی بلکه طریقه هغه ده چې ذکر شوه چې که په خزانه دار باندی یوڅوک دعوه وکی اوشاهدان و نه لری نوده ته به قسم ورکول کیږی:

اذاامر صاحب الودیعة المودع بالدفع الی رجل بعینه فقال دفعتها الیه وقال ذالک الرجل لم اقبضها منک وقال رب الودیعة لم تدفع الیه ایها المودع فالقول قول المودع فی حق براءته عن الضمان لافی حق ایجاب الضمان علی المدفوع الیه کذافی الظهیریة (الفتاوی الهندیة ج ۴ ص۳۵۸)

لکن قسم خزانه دار اوطالب دواړته نه ایښوول کیږی بلکه مدعی که دهر یوه تصدیق وکی اودبل تکذیب یی وکی نوقسم به هغه چاته ورکول کیږی چې تکذیب یی شوی دی:

وتجب الیمین علی احدهما لاعلیهما لانه لابد للمؤکل من تصدیق احدهما وتکذیب الاخر فیحلف المکذب منهما دون المصدق (بدائع الصنائع ج ۶ ص۳۴) المامور بالدفع الی فلان اذاادعاه وکذبه فلان فالقول له فی براءة نفسه الااذا کان غاصبا اومدیو ناکمافی منظومة ابن وهبان (مجمع الضمانات ص۲۵۹)

مولانا احمد نوری عفی عنه مولانا عبدالحکیم عفی الله عنه ۱۳۷۵.۱۲.۱۹ مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

مستعیر چي په ځمکه کي درختي کښیږدی

وارث دمعیر رجوع پر درختوهم کولای شي که پرنفس ځمکه ؟

پوښتنه : که یو کس وبل کس ته زمکه په اعاره ورکړی وی مستعیر درختی پر ایښی وی نوایاورث دمعیر دا حق لری چې دغه درختی راوګرځوی کنه؟ بینو اتوجروا.

(المستفتی ملا عبد الستار مجاهد ۱۵-۸-۱۳۷۵)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الوهاب

وارث حق درجوع په نفسی زمکی کی لری لکه په شرح المجلة لسلیم باز ص۴۴۸ المادة ۸۰۷ کی وایي:

تنفسخ الاعارة بموت المعیر اوالمستعیر فلومات المعیر فلورثته الرجوع...آه

هرچې درختی دی هغه دمستعیرډی معیر حق په درختوکی نه لری اونه هم حق داجرة لری ځکه چې منفعت دعارية دمستعیردی لکه چې په دغه نوموړی کتاب م۸۱۲ ص۴۵۰ کی وایي:

المستعیر یملک منفعة العاریة بدون بدل فلیس للمعیر ان یطلب من المستعیر اجرتها بعد الاستعمال لان الاعارة تملیک المنفعة مجاناً ای بلاعوض وشرطها خلوها من شرط العوض لانها تصیر اجارة... آه

په الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۴ ص۵۶۳ کی وایي:

ولواعار ارضا للبناء والغرس صح وله ان یرجع متی شاءلماتقرر انهاغیر لازمة ویکلفه قلعها الااذاکان فیه مضرة بالارض فیترکان بالقیمة مقلوعین لئلاتتلف ارضه آه والله اعلم وعلمه اتم

عفی الله عنه

معلوی محمد اخلاص برکتی

مولانا احمد نوری عفی عنه مولانا عبدالحکیم عفی الله عنه مولانا ندا محمد الحقانی

مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

کتاب الهبه

هبه دمشاع څه حکم لري اويه هبه کي قبل القبض رجوع څنګه ده

پوښتنه : عبدالغني دحاجی صبغت الله زوی د ۴ ناحي اوسيدونکی پوښتنه دافغانستان داسلامی دولت محترم عاليقدر ددارالافتاء رئيس صاحب السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ددارالافتاء عاليقدر رئيس صاحب دوی مسئلی دشرعی شريفی پوښتنه کوم (لومړی) زمامور خپله حصه دبعض حويلی موروثه پدری وخپل وراره ته چې محمدولی نوميږی وباخښنه اويه هبه ئې ورکړی په طور دمشاع بيله کوم امتياز اوبيله قبض اوتسليم پس له هبه ئې رجوع وکړه يعنی وئې ويل چې زه ردکوم آيا دغه رجوع دهبی قبل القبض اوقبل التسليم صحت لري کنه ؟

(المستفتی عبدالغنی ولدحاجی صبغت الله)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله الملک العلی الاعلی

که چير ی دغه حصه هبه کړي سوی دحويلی چې مشاع غير مقسوم ده قابل دقسمت وی يعنی پس له قسمت څخه منتفع به پاته کيږی په هغه قسم دنفع سره چې پخواتر قسمت وی نوداهبه دسره سوی نه ده اونه صحت اوجواز لري څکه چې شرط دجوازدهبی دپاره کيدل دموهوب دی مقسوم غير مشاع (يعنی) قسمت شرط دجوازدهبی دی په هغه موهوب کی چې قابل دقسمت وی اوکه دغه حصه مذکوره قابل دقسمت نه وی نودغه هبه خوصحيح ده لکن دتمام دهبی دپاره خوبياهم قبض شرط دی اوبله داخبره چې رجوع په هبه کی قبل القبض صحت لري اوکنه دواضح او روښانه ده دعباراتو دفقهاو څخه چې صحت لري.

ولکن لاتصح هبة مشاع يحتمل القسمة على وجه ينتفع به بعدالقسمة کما قبلها کالدار والثوب والارض ونحوذلک ولوکانت الهبة لشريک الواهب لان القبض فی الهبة منصوص عليه فيشترط کماله والمشاع لايقبل لقبض الابضم غيره اليه وذلک غير موهوب فلم يوجد القبض الکامل فاکتفی بالقبض القاصر ضرورة (مجمع الانهر) (شرح المجلة لسليم باز اللبنانی ص ۴۷۳) للواهب ان يرجع عن الهبة قبل القبض بدون رضاالموهوب (شرح المجلة المذکور م۸۶۲ ص۴۷۴)وفی الزيلعی واماالقبض فلابدمنه لثبوت الملک اذ الجواز ثابت قبل القبض بالاتفاق انتهی سری الدين وهذ ايفيد ان القبض شرط لثبوت

الملک لا للصحة خلاف مایعطیه کلام المصنف (قوله غیر مشاع) هذا شرط الجواز فی محتمل القسمة لافی غیر کمایأتی حاشیة الطحطاوی علی الدرج٢ص٣٩٢ وایضاًفی تبیین الحقائق ج٥ص٩١ الی ج٥ص٩٣



مولانااحمد نوری عفی عنه مولاناندااحمد الحقانی مولوی مفتی نورمحمد ثاقب رئیس عمومی دارالافتاء مرکزی دولت اسلامی افغانستان

قباله دیو چاپرنامه جوړول معني دهبي لري اوکنه

پوښتنه: وحضورته دفضیلت پناه عالیقدر محترم رئیس صاحب دعلماء کرامودارالافتاء دطالبانو اسلامی تحریک ته احتراما السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته امابعد زه حاجي محمد اسماعیل دحاجی عبد العزیز زوی دعبد الحلیم لمسی ستاسو محترم ته عرض لرم څنګه چې دنجیب دحکومت په دوره کی یوه اندازه ځمکه په څوقبالو شرعی سره خریداری کړي ده په قرار قباله ٦٠ - ٢١٠ - ١٧ - ٥ - ٦٨ اونمبر - ٢٦٥-٧-٥- - ٧٠ اونمبر٣٠-- ٤٩ - ٢٧ - ١٢ - ٧٠ زماپرنامه وکړه اوپه قباله من ٣٢ ٢١٠ - ١٢ - ٤-٢٨ - زمادزوی محمد ظاهر پرنامه اوبله قباله - ١١١ - ٥٥٤ -- ١٥ - ١١ -- ١٣٦٨ زما زوی عبد الحکیم په نامه خریداری کړي ده چونکه زماتوله موروثی اوزرخریده زماپه تصرف اوملکیت جاری دی اودواړه زامن زماسره وجودلری نفقه اوکسوت ورکوم سره له دی خبری چې نوراناث اوذکور اولادونه هم لرم اوټولوته زه محمد اسماعیل نفقه ورکوم وغښانوته می ودونه ورکړي دی اولادونه لری هغوته فعلا نفقه اوکسوت ورکوم نواوس چې دایوه قباله دمحمد ظاهر پرنامه اوبله قباله دعبد الحکیم پرنامه کړي ده آیا معنی دهبه ده اوکه څنګه تراوسه هیڅ نه په عقیده اونه په تصرف اونه په قولی نه فعلی ماوزامنوته هیڅ هبه کړی نه دی البته زمازامن چې محمد ظاهر اوعبد الحکیم به دغه فکر ولری چې قباله زماپرنامه ده نودغه دقبالی دمتن مال زماملک دی زه نه غواړم چې زمانوراولادونه دی ددغه مال اوملک څخه بی بهری شی ستاسو دلوړ حضور څخه استفتاء غواړم چې کوم کتاب اوڅنګه فتوی اوپه کوم مسئله شرعی په کومه صفحه سره څنګه حکم راته وفرمایاست چې دغه شک اوشبهه اومعضله حل وفصل شی.

والسلام مع الاکرام. (محمداسماعیل عارض- ١٤- ١٢ - ١٣٧٥)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله تعالى په نفس قباله سره پرنامه ديوه زوى هبه نه گرزى بل په ور كولو وزوى ته او تصرف كول د زوى لاهم هبه نه ده ترهغه پورى چې دليل دتمليك نه وى موجود شوى هبه كه وبالغ زوى ته وى او كه وغيرته وى سره دتسليم دليل دتمليك غوارى هغه دليل نو كه الفاظ دايجاب اوقبول دهبه وى او كه نورقرائن وى هرچې هبه وصغير ولدته وى هغه تسليم نه غوارى بلكه يوازى دليل دتمليك كافى دى په ردالمحتار ج ۴ ص ۵۶۷ كى راغلى دى:

وفى خزانة الفتاوى اذادفع لابنه مالافتصرف فيه الابن يكون للاب الااذادلت دلالت التمليك (بيرى)قلت فقد افادان التلفظ بالايجاب والقبول لايشترط بل تكفى القرائن الدالة على التمليك كمن دفع لفقير شيئا وقبضه ولم يتلفظ واحد منهما بشئ.

په الدر المختار على هامش ردالمحتار كى راغلى دى ج ۴ ص ۵۶۸:

بخلاف جعلته باسمك فانه ليس بهبة آه په ردالمحتار كى دى قوله بخلاف جعلته باسمك قال فى البحر قيد بقوله لك لانه لوقال جعلته باسمك لايكون هبة... آه

په ردالمحتار همد غه صفحه كى راغلى دى:

اتخذلولده الصغير ثوبا يملكه وكذاالكبير بالتسليم (بزازية) په منحة الخالق على البحر الرائق ج ۷ ص ۲۸۸ كى راغلى دى قال الرملى وفى الحاوى الزاهدى دفع لولده الصغير قرصا فاكل نصفه ثم اخذه منه ودفعه لاخر يضمنه اذاكان دفعه لولده على وجه التمليك واذادفعه على وجه الاباحة لايضمن قال عرف به ان مجرد الدفع من الاب الى الصغير لايكون تمليكا وانه حسن... آه والله اعلم

مولانا محمد اخلاص بركتى مولانا عبدالحكيم عفى الله عنه مولانا محمد نورى عفى عنه مولوى نور محمد ثاقب رئيس دارالافتاء مركزى د دولت اسلامى افغانستان

بله پوښتنه

پوښتنه: محترم رئيس صاحب دارالافتاء لوړ حضورته السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وبعد محترمه! موږ ۵ ورونه يو دد و ميندو اولاده چې ۲ ديوې مور او ۳ دبلې يو پلار ددغه كشرانو ۳ ورونو په نامه قبالى دمځكو كړى وى كله چې پلار مړكيدى په حضورد

شاهدانويې وصيت وکړی چې دغه قبالي چې ددغه کشرانوپه نامه دی ددوی نه دی زماټو
ل زامن اولونې پکښې مشترک دی اوس په دغه ځمکه کی چې قبالی دهغودروپه نامه دی
دپلاردوصيت له رويه موږدغه دقبالو په ځمکه کی ازروی شريعت حق لروکه ئې نه لرو
اوس ازروی شريعت اعتبارو قبالی ته دی اوکه وصيت نامی ته دی.
(المستفتی جمال الدين)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب
مسئله داده چې پلارخپلوزامنوته ځمکه يامال ورکړی دپاره ددی چې هغه زامن تصرف
پکی وکړی په طريقه دهبې اوبيازامن هم تصرف پکښی وکی اوبيا پلارمړسی نوټوله
ځمکه دهغه زامنوده اوکه ئې په طريقه دهبې نه وه ورکړی نوبيا ځمکه يامال پرطريقه
دميراث تقسيم کيږی يوازی قباله دچاپه نامه جوړول دليل دهبی نه ګرځی:
دفع لابنه مالاليتصرف فيه ففعل وكثرذلك فمات الاب ان اعطاه هبة فالكل له والا فميراث
وتمامه فی جواهر الفتاوی(الدر المختار بهامش ردالمحتار ج۴ ص۵۸۲) يملک الموهوب له
الموهوب بالقبض فالقبض شرط لثبوت الملک الخ (شرح المجلة لسليم باز م۸۶۱ ص ۴۷۳)
اب انتقال ملک بغیر کسی عقد صحیح معتبر تام کی نہیں ہوگا ... تاوقتیکہ کوئی عقد صحیح معتبر مفید انتقال ملک واقع نہ ہو حالانکہ
ہمیشہ تصرفات مالکانہ خود کرتا رہا(*) امداد الفتاوی ج ۳ ص۳۱) والله اعلم وعلمه اتم

مولوی نذاحمد الحقانی مولوی محمود میوندوال مولانااحمد نوری عفی عنہ

دهبه خط په ليکلو دهبې څه حکم دی

اودغه هبه خط قبل القبض دملک حجة دی کنه اوپه داسي هبه خط کي رجوع څنګه ده؟

پوښتنه:(۱)يوشوک چې چاته خپل ملک ورهبه کړی اودهبی خط ددومسلمانانوپه
حضورکی ورکړی خوهغه ملک ورته تسليم نکړی اوهغه سړی په دغه هبه شوی ملک کی
تصرف ونکړی نوداهبه صحيح ده کنه خوتقسيم معلوم ده چې هغه ځمکه ده (۲) که دغه هبه

(*)ترجمه :اوس دملک منتقليدل بيله کوم صحيح معتبر اوتام عقدنه کيږی ترڅوچي کوم صحيح اومعتبر عقد دملک دانتقال مفيد واقع نشی حال دادی چي مالکانه تصرفات يي پخپله تل کول...الخ

شوی ملک هغه سړی بیرته راوګرزوی چې زه ئې نه درکوم اودابل ئې ورپرېږدی شفاهی داصحیح ده کنه ملک بیرته دکوم یوکیږی (۳) هغه هبه خط وروسته دوفات څخه شرعاهغه بل سړی چې ملک ورته هبه شوی مداردااعتبارده کنه اوو رڅه دده دغه هبه ګرزولاي شي کنه ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

په دی اجزاکښی په دی هبی سره ثبوت دملک نه ده راغلی ځکه قبض نشته پکښی اوپه هبه کی قبض شرط دی داثبوت دملک دپاره نوپه دغه ۳ أجزاء کښی داستفتاء مال ټوله میراث دی په طریقه د میراث به تقسیم کیږی هبه خط هیڅ فائده نه کوی په شرح المجلة لسليم باز ص۴۷۳ کښی ليکلی:

(المادة۸۶۱) یملک الموهوب له الموهوب با لقبض فا لقبض شرط لثبوت الملک لالصحة الهبة (طحطاوی) لان جواز ها قبل القبض ثابت بالا تفاق (مجمع الانهر)

والله اعلم بالصواب

مولوی نذاحمد الحقانی مولوی محمود میوندوال مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی احمد نوری عفی عنه

مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

موهوب له چې په هبه شوی ځمکه کې تصرف وکړی واهب حق درجوع لری اوکنه

پوښتنه : محترم استاد مولوی صاحب زه عبد الحبیب دمستوفیت مسئول غواړم چې په دی مسئله کښی چی لاندی لیکل کیږی پوره معلومات راکړی څو چې زموږ مشکل رفع شی په هبه شوی ځمکه کښی چې موهوب له تصرف پکښی کړی اعنی سرای ئې پرجوړکړی وی واهب بیرته رجوع کولای شی کنه؟ والسلام.

(عبدالحبیب مسئول مستوفیت)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله الوهاب په هبه شوی شی کی چی موهوب له داسی زیادة وکړی چې دموهوب شئ سره متصل وی نه جداکیږی اودموهوب شئ قیمت په زائد کیږی نوواهب رجوع په دغه موهوب شئ کی نشي کولای نوکه موهوب مځکه وی موهوب له سرای پرجوړکړی وی (لکه چی مستفتی وایي) واهب لره حق درجوع نسته په تبیین الحقائق ج۵ ص۹۸کی لیکلی دی:

(ومنع الرجوع دمع خزقة یعنی الموانع للرجوع فی الهبة اشیاء یجمعها هذه الحروف علی مانبینها فالدال الزیا دة المتصله کالغرس والبناء والسمن) لان الرجوع لایصح الا فی الموهو ب والزیادة فامتنع اصلا وبطل حق الواهب لان له حق التملک فی الاصل دون الزیادة لیست بموهوبة فلارجوع فیها والفصل متعذر لیرجع فی الاصل دون الزیادة وحق الموهوب له حقیقة الملک فیهما فکان مراعاته اولی عند تعذر الفصل ولایمکن ایجاب الضمان علیه لان حق التملک لا یجوز اخذ العوض عنه فبطل اصلا ...آه

په الدر المختار علی هامش الطحطاوی ج۳ ص۴۰۱ کی لیکلی دی:

ویمنع الرجوع الر جوع فیها دمع خزغة یعنی الموانع السبعة الاتیة فالدال الزیادة فی نفس العین الموجبة لزیادة القیمة المتصلة کبناء وغرس ان عدا زیادة فی کل الارض والارجع ولو عدافی قطعة منها امتنع فیها فقط زیلعی...آه

په طحطاوی کی په شرح ددغه عبارت کی لیکلی دی:

وفی الهندیة عن الکافی ان وهب لاخر ارضا بیضاء فانبت الموهوب له فی ناحیة منها نخلا اوبنی بناء او دکانا وکان ذالک زیادة فیها فلیس له ان یرجع فی شئ منها ...آه

دغه مسئله چی زیادة متصله چی دموهوب په قیمت کی زیادة راولی مانع درجوع څخه د واهب ده دمذهب په ډیروکتابونو کی ذکرشوی ده لکه ردالمحتار ج۴ ص۵۷۴ بدائع الصنائع ج۶ ص۱۲۹ مبسوط ج۱۲ ص۸۶

عبدالحکیم عفی الله عنه مولاناعبدالله مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

بې دقبضې له موهوب له دپلار هبه وزوی ته څنګه ده ؟

پوښتنه : که پلار په خپل ژوندکې یوچاته پیسې ورکې په شراکت اوهغه سړی ته ووایي چې دغه پیسې ته چلوه پیسې اوګټه یې ته له زماد مرګ وروسته زماد فلاني زوی دی اویوڅوکاله وروسته پلار مړسي اوپیسې دهغه سړی سره وی آیاوروسته دغه پیسې یوازې دهغه زوی کیږی اوکه داحق مشترک دی دټوله ورثه وو والسلام بااحترم

(المستفتي ملاعبد الباسط)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله العلى الاعلى

دپلار تخصيص يوه زوى لره په هبى دمال خپل سره پس له مرګ څخه داشرعا وصيت بلل كيږى لكه په الفتاوى تنقيح الحامديةج ۲ص ۲۸۰ كښې ليكل شوي دى اذاقال اوصيت ان يوهب لفلان سدس دارى بعد موتى كان ذلك وصية عملا بقوله بعدموتى فالهبة بعد الموت هى الوصية فتصح مع الشيوع ولايشترط قبضه فى حياة الموصى تاتارخانية اول كتاب الوصية نوكله چې زوى وارث دى وارث لره وصيت نه صحيح كيږى بغير داجازت څخه دنورو ورثه ووپس دغه پيسې داحق مشترك دى دټولو ورثا مګركه هغوااجازت وكړى دغه يوه زوى دمړى لره كوم چې هغه ورته وصيت كړى وولكن دغه اجازت به هم وروسته ترمرګ دپلار وى څكه چې په حال دحيات دپلار كى داجازت څخه رجوع صحيح كيږى:

(ولالوارثه) لقوله عليه الصلوة والسلام ان الله اعطى كل ذى حق حقه الالا وصية لوارث ولان بقية الورثة يتاذون بايثاره بعضهم ففى تجويزه قطيعة الرحم (الاباجازة الورثة) استثناء مما تقدم من عدم الصحة بمازاد على الثلث وعدم صحة الوصية لقاتله ووارثه يعنى لاتصح الوصية بمازاد على الثلث ولاللقاتل ولاللوارث فى حال من الاحوال الافى حال التباسها باجازة الورثة مجمع الانهر ج۲ ص۶۹۲ و الفتاوى تنقيح الحامديةج۲ ص ۲۸۶ والدر المختار على هامش ردالمحتار ج۵ ص۴۶۴ والله اعلم.



مولوی نذاحمد الحقانی مولانااحمد نوری عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

دتقیسم پر مهال که پلار خني ورثه پرېږدی نوهغوی دحق دعوی کولای شي اوکنه؟

پوښتنه :یوڅوک چې خپل ملکیت په خپل ژوند خپلوزامنوته ورکړی اوهریوته خپله حصه ورمعلومه کړی اوخپلې منکوحې ته حق ورنه کړی نووروسته دده له وفات څخه دده منکوحه دحق دعوی کولای شي کنه حق لري کنه لري؟

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

چې پلارخپل زوی ته خپل ملکیت اومال ورکړی داورکړه ئې پردوه قسمه ده (۱) دادی چې پلارخپل زوی ته مال ورکی لپاره ددی چې هغه تصرف پکښې وکی اوبیافعلاً دی هغه تصرف وکی اودامال دیر کړی نووروسته بیا پلار مړشي نواوس که داپلار دامال ورکړی وی(هبة) نوداټول مال دپاره ددغه زوی اواولاددی نورڅوک حق نه پکښې لری (۲) پلارخپل زوی ته خپل مال نه وی ورکړی په طریقه دهبې بلکه ورکړی وی په طریقه دقرض اویائې ورکړی وی دپاره ددی چې عمل وکړی دپاره دخپل پلارنو دامال بیا چې ورکړی دی ټوله په طریقه دمیراث دی اصل ئې ټوله میراث دی (ربح) ئې اوګټه ئې ټوله دده ده لکه په الدرالمختار بهامش ردالمحتار کی لیکلی دی ج۴ ص۵۸۲-

دفع لابنه مالا لیتصرف فیه ففعل وکثر ذالک فمات الاب ان اعطاه هبة فالکل له والافمیراث اوهمدارنګه په تکمله درد المحتار کښې لیکلی دی ج۲ ص۳۸۶ دفع لابنه مالا لیتصرف فیه ففعل وکثر ذلک فمات الاب ان اعطاه هبة فالکل له والافمیراث (قوله : والا) ای وان لم یعطه هبة بان اعطاه قرضا اودفع الیه لیعمل للاب (قوله فمیراث) فالاصل میراث والربح له .

مولوی ذاهد احمد الحق مولوی محمود میوندوال مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولانا احمد نوری عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

دپلارواولادته مشترکه یا جلاجلا څمکه هبه کول

پوښتنه :محترم ددارالافتاء رئیس صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته محترمه! زموږ نیکه دپلارپه ژوند کی خپل جایداد په لاندی ډول په خپلواولاده ویشلی دی یوباغ چې ریکه باغ په نامه یادیږی خپلودوولونوته بل باغ چې دترنک دباغ اوڅوجووی نوری

چې دبادام دجوړوپه نامه یادیږی وخپل زوی ته چې زموږ پلار کیږی ورکړي دی چې دغه سند په کورکی لیکل شوی دی اوشاهدان پرنیول شوی دی فعلاًسند موجودنه دی اویوشاهد موجوداوژوندی دی همدارنګه په دی ویش اوسند زموږ دواړه عمه ګانی چې زما دپلار خوندی کیږی اګاهی لری کله چې تقیسم معلوم شوزموږ پلارپخپل باغ کی تصرف کړي دی اودهغه باغ سرپرستی ئې ترمرګ ترساعته پوری کړي ده اوهم زموږ دپلار ترمرګ وروسته بیا زموږ نیکه په شفاهی ډول وصیت کړي دی چې هغه زمادزوی حق زمادلمسیانودی اوبل زما دلوښودی زموږ دپلارترمرګ وروسته دباغ تصرف زموږ وروښوپه لاس کی شوي دی څرنګه چې دپنځلس کاله راپدی خواتراوسه پوری زموږ عمه ګانی دهجرت په ډول په پاکستان کی ژوندکوی اودخپل باغ تصرف ئې تراوسه ندی کړی دوه کاله کیږی موږ دعمه ګانوباغ دپنځوکالودپاره وغلام جان ته ورکړی دی نوموړی شخص به پنځه کاله په باغ کی کارکوی حصول به ئې خوری پس له پنځه کاله بیرته موږته راتسلیمیږی موضوع مومحترم مقام ته عرض کړی په دی حصه کی دشرعی احکامو مطابق فتوای غواړم چې زموږ قناعت پوری حاصل شی والسلام .- ۲۵ - ۱۰ - ۱۳۷۵

بسم الله الرحمن الرحيم

بعون الله الكريم پلاروخپل اولادته مخکی ورو ویشی په طوردهبه دغه هبه صحیح ده په دې شرط چې دهریوه حصه به ئې هغه ته ورجلاکړي وي هغه به په مالکانه طور قبض کړی وی دوه اولادونه به ئې په یوحصه نه وی شریک که شریکان وه هبه دمشاع نه صحیح کیږی په استفتاء کښی مستفتی وایي چې یوباغ چې دریکه باغ په نامه یادیږی وخپلولوښوته ورکړ دی که ئې باغ چیری تقسیم کړی وی دهرلورحصه ئې معلوم کړی صحی دی که ئې مشترک ورکړی وی نو دغه هبه نه صحیح کیږی لکن که چیری دغه لوڼې فقیراني وی نو هبه صدقه ګرزی صحي کیږی که څه هم مشاع وي هرچې وصیة دنیکه دی ددغه باغ هبه که صحی نشی دوجه دشیوع څخه نودثلث مال څخه هم نه نافذ کیږی ځکه چې وصیت ووارث ته نه صحیح کیږی هرچې مستفتی وایي چې یو شاهد ژوندی اوموجوددی نورشاهدان مړه دی اوسندهم ورک دی دغه شواهد اوسندونه په وخت کی ددعوی په مخکی دقاضی پکاردی که موجودنه وه نوقسم دی هرچې دیانةً ده دخولی ورکړی اوتسلیم ته اعتباردی ځکه عقد دهبه په ایجاب وقبول په شرط دقبض تامیږی په شرح المجلة للاتاسی کی راغلی دی ج۳ ص۳۶۲ :

مادة ٨٥٠ (اذاوهب احد لابنه الكبير البالغ العاقل شيئا يلزم التسليم وبدون قبضه لاتتم الهبة اذلافرق بينه وبين الاجنبى حينئذ په الدرالمختاركى راغلي دى وهب اثنان دار الواحد صح لعدم الشيوع وبقلبه لكبيرين لاعنده للشيوع فيما يحتمل القسمة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۴ص۵۷۳)

په ردالمحتارج۴ص۵۷۳ كى راغلي دى:

قوله لكبيرين اى غير فقيرين والاكانت صدقة فتصح په البحرالرائق ج۷ ص۲۹۰ كى راغلي دى قوله وصح تصدق عشرة وهبتها لفقيرين لاللغنيين) اى لايجوز التصدق بهما على غنيين ولاهبتهما لهما والفرق ان الصدقة يرادبها وجه الله وهوواحد فلاشيوع والهبة يرادبها وجه الغنى وهمااثنان و الصدقة على الغنى مجاز عن الهبة كالهبة من الفقير مجاز عن الصدقة.... الخ

په تبيين الحقائق ج۶ص۱۸۲ كښى راغلي دى:

ولاتصح بمازاد على الثلاث ولا لقاتله ووارثه ان لم تجز الورثة اماالثالث فلقوله صلى الله عليه وسلم ان الله تعالى اعطى كل ذى حق حقه فلاوصية لوارث الخ والله اعلم

مولانامحمودنوري عفي عنه مولوي عبدالحكيم عفي الله عنه مولوي محمداخلاص بركتي مولوي نورمحمد ثاقب دافغانستان دمركزي دارالافتاء رئيس

دځيني ژامنوپه نوم رانيول شوي ځمكه دچاده

پوښتنه :يوسړي مځكى رانيولي اوقباله ئې ديوه زوى په نامه اوبله مځكه ئې رانيولى قباله ئې دنورو زامنو په نامه ليكله دغه دقبالو داخلي مځكى مشتركى دورونوترمنځ دى اوكنه دپلاردمرګه وروسته ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب

كچيرى ئې دغه مځكه هبه كړى وى اوزامنو مالكانه تصرف پكښى كړى وويعنى دغه جائداد ئې ځان ته دپلاردلاسه تسليم كړى وونوداجائداد خاص دى په زامنو پورى مشترك نه ګرځى اوكه ئې هبه نوه كړى يازامنو دپلارپه ژوندكى قبض دمځكو نه ووكړى بيانو مشترك ګرځى يوازى قباله ديوچاپه نامه جوړول معنى دهبى نه لرى اونه انتقال

دملک په کیدای سی:
دفع لابنه مالاليتصرف فيه ففعل وكثر ذلک فمات الاب ان اعطاه هبة فالكل له والا فميراث (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج۴ ص۵۸۲) یملک الموهوب له الموهوب بالقبض فالقبض شرط لثبوت الملک الخ (شرح المجله نسلیم باز م ۸۶۱ ص۴۷۳)
اب انتقال ملک بغیر کسی عقد صحیح معتبر تام کی نہیں ہوگا ۔۔۔ تاوقتیکہ کوئی عقد صحیح معتبر مفید انتقال ملک واقع نہ ہو حالانکہ ہمیشہ تصرفات مالکانہ خود کرتا رہا(۱) الخ امداد الفتاوی ج۳ ص۳۱ هکذا فی امداد المفتیین ۸۴۴)

کتاب الغصب

دعقار دغصب حکم

پوښتنه ددارالافتاء فضیلت مآب رئیس صاحب لاندی عرض کوم یوقطعه مځکه چې تقریبا دوه جریبه دیار لس بسوی کیږی دکابل جادی ته نژدي ددوراهی په حدود کی په تاریخ ۱۵ – ۲ – ۱۳۵۴ په بیع قطعی دحاجی رحمت الله څخه رانیولی وه چې سندئې په لاس لرو اوپه ۲۰ – ۵ – ۱۳۵۶ کال رسمی عریضه دشرعي قبالی لپاره دوخت حکومت ته ورکړی وه تراوسه ذو الیده یوواوس خودسرانه دبره پرلوید لي ده چې معلومات موو کړی عبد الولی دحاجی رحمت الله زوی په زبردستی داکارکړي دي موږ دقانون برابر ی داخله شعبی ته عاریضه ورکړي ده دامنیی قوماندانی دعبد الولی خودسرانه کاربند کړي دي په دي هکله ستاسو دمقدس مقام څخه هیله لرم چې موږ ته شرعی معتمده مسئله راکړی که موږ حق په جانب یو متجاوزدی مربوط شعبی ته معرفی اولازمه جزاء دي ورکړه سی والسلام.

(حاجی محمد اکبر عارض)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب
کومه دبره چې عبدالولي دحاجی رحمت الله زوی په زبردستی پراچولی ده پردغه مځکه باندي داصورة دغصب دعقار دي اودعقار په غصب کی اختلاف دی په مینځ کی دامامینو

---

(۱) ترجمه: اوس انتقال دملک بیله کوم صحیح اومعتبر عقدنه تامیږی ترڅوکوم صحیح معتبر اود ملک دانتقال لپاره مفید عقد واقع نشی حال دادی چي تل بي دمالک په توګه تصرفات پخپله کول ...الخ

اوامام محمد رحمه الله امامين رحمة الله عليهما وايي چې په عقار کی غصب نه متحقق کیږی اوامام محمد رحمه الله وايي چې په عقارکی غصب متحقق کیږي اوحکم دغصب داده: که مغصوب موجودوي ډده دعين مغصوب بل شی نشته په صورة مذکوره کي فقط دمځکی تسليمی ده چې مځکه وخپل خاوند ته تسليم شی ځکه چې مځکې ته کوم تاوان نه دی رسيدلی لکن خلاصه داده چې امامين رح چې وائې چې غصب په عقارکي نه متحقق کیږی داهغه (۱) وخت چې غصب دعقار په حکم دضمان کښی داخلی او(۲) هر چې په ماورا څخه دضمان چې واخلی نوبيا امامين رح هم قول کوی په غصب دعقار سره ځکه چې متحقق کیږي داغصب دعقار په وجوب سره درد (المغصوب الى مالکه) که چیري غصب متحقق په نز ددامامينو رح په ماعد الضمان کي نواي نو نه به واى متحقق شوی وجوب د رد ثم ان غصب العقار انما لايتحقق عند هما فى حكم الضمان امافيما وراء ذلک يتحقق الاترى انه يتحقق فى وجوب رد المغصوب الى مالكه فلولم يتحقق الغصب عندهما فيما عد الضمان لمايتحقق وجوب الرد (شرح المجلة لسليم رستم ص٥٠١)وفى اجارة الفيض انمالايتحقق الغصب عندهما فى العقار فى حكم الضمان اما فيما وراء ذلک فيتحقق الاترى انه يتحقق فى الردالخ(الدر المختار على هامش ردالمحتار ج ٥ ص ١٣١ اي فى وجوب رده على مالكه فلولم يتحقق الغصب عند هما ايضاً فيما عدالضمان لمايتحقق وجوبالرد (ردالمحتار ج٥ ص ١٣١) والله تعالى اعلم بالصواب.

عبد الحق عفى الله عنه   دار الافتاء   مولوي محمد اخلاص برکتی

مولوی نذاحمد الحقانی مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

دبيت المال کوم اجناس چې غصب شي

پوښتنه : دبيت المال اجناس لکه آهنی گاډران اوتختی چې يو نفر پر خونه ايښی وی اوخونی يي پری جوړی کړی وی په ده گاډران راوړل شی اوکه په عوض کي پيسی ځنی واخستل شی په دی باب شرعی فتوی او فیصله غواړو.

(دتحقیق مدیریت داستخبار اتو ځانگه)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

دغه دبيت المال اجناس چې خلقو وړی وی اوبناء يې پرجوړه کړی وی کچيری دبناء قيمت پرقيمت ددغه اجناس ډير وی نودهغه وړونکی نفر څخه قيمت ددغه اجنا س اخستل کيږی او که ددغه اجناس قيمت پرقيمت دبناء ډير وونو اجناس اخستل کيږی:

والبناء على ساجة وقيمته اى البناء اكثر منها اى من قيمة الساجة يملكها البانى بالقيمة (الدر المختار) (قوله وقيمته اى البناء اكثر منها) جملة حالية قال فى المنح واما اذا كان قيمة الساجة اكثر من قيمة البناء فلم ينقطع حق المالک عنها كما فى النهاية عن الذخيرة وبه قيد الزيلعى كلام الكنز آه (ردالمحتار ج۵ ص۱۳۵ كتاب الغصب)

او کچيری قيمت دبناء او داجناسو برابر وونو که دغه وړونکی او متصرف داجناس پريوشئ صلح وکړه رواده او که يې صلح نکول نودغه بناء سره داجناس خرڅيږی ثمن ئې په اندازه ددوی دمالو تقسيمږی:

لوكانت قيمته الساجة والبناء سواء فان اصطلحا على شئ جاز وان تنازعا يباع البناء عليهما ويقسم الثمن بينهما على قدر مالهما شرنبلالية عن البزازية (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۵ ص۱۳۵)

مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی نذاحمد الحقانی مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان ومرکزی دارالافتاء رئیس

دتوپکيانو په کورونوکي په اثبات رسيدلي دولتي اجناس

پوښتنه: هرهغه شئ چې دبيت المال وی دتوپکيانو په وقت کی په ځينو کوروکی موجود وی هغه په اثبات او شواهد رسيد لی وی لکه داو بو پيپونه چپر کټان او تيليفون خادی او داسی نور څکنه اجناس؟

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

دغه اشياء چې په اثبات رسيدلی وی که اوس هم دهغو خلقو سره موجودوی عين دغه شيان اخستل کيږی او کچيری دغه خلق دعوی کوی چې هلاک شوی دی اوس زموږ سره وجود نه لری حاکم به ئې بنديان کړی ترهغه وقت پوری چې حاکم ته معلوم شی کچيری دغه شيان

ددغه خلقو سره موجود وای اقرار به ئې په کړی وای که ئې اقرار وکړی نو دغه شيان اخستل کيږی او که ئې اقرار ونه کړی نو مثل ددغه شيان که چيری مثلی وی يا قيمت کچيری قيمی وی اخستل کيږی:

يلزم ردالمغصوب عينا وتسليمه الى صاحبه فی مكان الغصب ان كان موجودا(المجلة م۸۹۰) وهكذافی الدر المختار على هامش رد المحتار ج۵ ص۱۲۸ فان ادعى هلاكه حبس حتى يعلم الحاكم انه لوبقی لظهر ای لاظهره ثم قضى الحاكم عليه بالبدل من مثل اوقيمة اه(الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۵ ص ۱۳۰

مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی نذاحمد الحقانی مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

چاچي سلاح وړی وی

پوښتنه :هغه سلاح چې دتوپکيانو په وخت کی وړل شوی وی يائې خرڅه کړی وی د توپکيانو ياد تحريک اسلامی حکومت کی دغه نفر سره څنګه وکړو ؟

(دتحقيق مديريت داستخباراتو څانګه)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

اسلحی دبيت المال چې توپکيانو په وقت يا تحريک اسلامی په وخت کی خلقو خپل پرسروړی وی يائې خرڅ کړی وی که دغه اسلحی ددغه خلقو سره موجودوی دغه اسلحی اخستل کيږی که موجودنه وی قيمت ددغه اسلحو اخستل کيږی لکه چې دپورتنی پوښتنی په جواب کې چې ذکرشول سره د حوالو والله تعالى اعلم.

مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی نذاحمد الحقانی مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

مغصوب عنه كه دغاصب پرنور مال قدرت ومومي نو

پوښتنه : دافغانستان داسلامی دولت محترم رئیس صاحب دار الافتاء وعالی مقام ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته عالیقدره زموږ څخه یوه رمه چې ۲۶۱ میږې وی دغور په منطقه کښی ددوستم نفروه چې ارباب عبد الصمد اوارباب رحیم په زوره راڅخه بوتلل نواوس دارباب عبدالصمد نامی چې زمامال ئې بیولی دی دده نورپسونه دهلمند په ولایت کښی دآغا بادار پلاس کښی دی چې هغه هم کوچی دی نودمهربانی دمخی وماته داسی فتوی راکړی چې زما لاس په دغه مالو چې داغابادار پلاس کی دی لګیږی اوکنه؟
(المستفتی ادم اکا ولد نیک محمد کوچی)

بسم الله الرحمن الرحيم

هوالله تعالى المستعان

امابعد فنقول ومن الله تعالى التوفيق محترمو خاوند لره دحق په اوس زمانه کی چې قدرة ئې پرهغه چا چې مال ئې ځنی اخستی وی که بعینه هغه مال چې له ده څخه ئې اخستی وی په زبردستی سره یابل چې هغه قدرقیمت لری واخلی روادی لکن په دی شرط چې یقینی معلوم شی چې دامال دعبدالصمد دی:

ليس لذى الحق ان ياخذ غير جنس حقه وجوزه الشافعى رحمه الله قد منافى كتاب الحجران عدم الجواز كان فى زمانهم اماالیوم فالفتوى على الجواز وهو الاوسع لتعينه طريقا لا ستيفاء حقه فينتقل حقه من الصورة الى المالية كمافى الغضب والاتلاف(ردالمحتارج۵ص ۳۰۰)

(تنبيه) :قال الحموى فى شرح الكنزنقلاً عن العلامة المقدسى عن جده الا شقر عن شرح القدورى للاخصب ان عدم جوازه من خلاف الجنس كان فى زمانهم لمطاوعتهم فى الحقوق والفتوى اليوم على جواز عند القدر ة من اى مال كان لاسيما فى ديارنا لمداومتهم العقوق ردالمحتار ج۵ ص۱۰۵ كتاب الحجر والقاضى يحبس الحر المديون لبيع ماله لدينه وقضى دراهم دينه من دراهمه يعنى بلاامره وكذالوكان دنانير (وباع دنانير بدراهم دينه وبا لعكس استحسانا) لاتحادهما فى الثمنية (لا) يبيع القاضى (عرضه ولاعقاره) للدين (خلافا لهماوبه) اى بقولهما ببيعهما للدين (يفتى) اختيار وصححه فى تصحيح القدورى ويبيع كل مالايحتاجه فى الحال (الدر المختار) قوله ويبيع كل مالايحتاجه الخ قال فى التبيين ثم عندهما يبدء القاضى ببيع النقود ثم العروض ثم العقار الخ (ردالمحتار ج۵ ص۱۰۵ كتاب الحجر والله تعالى اعلم :

مولانا ندامحمد الحقانی

دغصب په ځمکه تصرف کونکي حق دتصرف لري کنه؟

پوښتنه : دمحترم ددارالافتاء وریاست ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته محترم ځرنگه چې دمشکل په صورت کې ددغه مسئلې په ذکرکې معلومات مفصل راکی (۱) ددولت مځکه یونفر غصب کړې ده اوبل نفرته په اجاره ورکړې ده اجاره دار په هغه مځکه مصرف کړې دی اوس دولت بیرته هغه مځکه دمعلومات په صورت، کې ضبط کړل اوس اجاره دار وایي چې زمامصرف په سوی دی چې ۱۲ سوه گزه جرپکښې ویستل شوی اوبل په تکمراړول شوی اوخاوره ورګول شوی نودغه مصرف په کوم طرف پوری مربوطیت لری دامکان په صورت کې مورته ددغې مسئلې په باره کې معلومات راکړی والسلام.

(المستفتی حاجی خیر محمد معاون زراعت)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب

محترم مستفتی صاحب نوموړی اجاره دار چې کوم په استفتاء کې ذکرسوی مصارف په مځکه دغصب کړې دی هیڅ حق دعوض دمصارفو نه لری پرهیڅ چاباندی ځکه چې دی په حکم دعین غاصب کې شمیرل کیږی اودغاصب حکم دادی چې دی متبرع (یعنی بنه ځوانی کوونکی اواحسان کوونکی) بلل کیږی په هغه مصارفوکی چې مال متقوم نه وی لکه کوم مصارف چې په استفتاء کې مذکوردی:

(المادة ۹۰۸) اذاكرب ارضا غصبها ثم استردهاصاحبها فليس للغاصب ان يطالب باجرة الكراب لكونه متبرعا وليس الكراب مالا متقوما ليسترده الغاصب قال في الهندية وان كان الغاصب زاد في الارض من عنده ان لم تكن الزيادة مالا متقوما بان كرب الارض وحفر النهر اوالقى في الارض سرقينا واختلط بالتراب وصار بمنزلة المستهلک فان للقيم ليسترد الارض بغير شئ آه وفي الخانية ولو غصب نخلا اوزرعا فسقاه وانفق عليه حتى انتهى فلاشئ له وكنالوقصر الثوب المغصوب آه (المادة ۹۱۰) غاصب الغاصب في حكم عين الغاصب وكنامودع الغا صب والمرتهن منه والمتهب والمستعير والمستأجر من الغاصب ردالمحتار وكذا من اخذ المغصوب من الغاصب ليرده الى مالكه(هندية) شرح المجلة لسليم باز اللبناني من ص ۵۰۶ الى ص ۵۰۷ والله اعلم وعلمه اكمل واتم.

مولوی نذاحمد الحقانی مولوی احمد نوری عفی عنہ

باب الضمان

په ضياع سره دبل دمال ضمان لازميږي

پوښتنه : محترم دتميز عالی رياست رئيس محترم مولوی صاحب السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ملاعبد القيو م اخند وايي چی ما دهرات مربوط دزنده جان په ولسوالی کی يوه عراده لند کروزر موټر په آويا خلتو ترياکو چی وزن دهری خلتی يومن ۲۳ سيره رانيولی چی دخپل ددغه سوداشاهدان دشخصيت تير کړی امادمخه تردی چی دی موټر راولی په هرات کی طالبانوداشتباه په خاطر موټر بيولی چی اخير موټرپه کابل کی سوی اوس مونږته شر عامعلومات نه کيږی ددغه موټر تاوان ورکړو که يا اوکه ټي ورکوبايد په څه ترتيب ټي ورکړو دوی مو درواستول تاسوبه معلومات راکړی والسلام.

(المستفتي ملاصاحب الحاج محمد حسن)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب

چاکه دبل چامال ضائع کړو اگر چې داٹې گمان ؤ چی داځما مال ده نوضمان پری لازميږی په شرح المجلة للاتاسی ج۳ ص۴۵۶ کښی ليکلی دی:

لواتلف احد مال غيره على زعمه انه ماله يضمن) لان هذاحق العبد فلايتوقف على عمله وقصده کمافی مجمع الانهر نعم لايتعلق به اثم کما تقدم فی شرح المادة ۸۸۷ والثانی لايتعلق به المأثم وهوماوقع على الجهل کمن اتلف مال غيره وهوليضمن انه له فانه يضمن ويأثم لقوله عليه الصلوة والسلام رفع عن امتی الخطاء والنسيان معناه رفع مأثم الخطاآفاده الشلبی (شرح المجلة للاتاسی ج۳ ص۴۱۱.

او کله داخليږی په حکم دغصب کښی غير غصب هم چي په دوارو کي ازالة دتصرف دمالک وی دخپل ملک څخه-

بينت هذه المادة انه قد يدخل فی حکم الغصب ماليس بغصب ان ساواه فی ازالة تصرف المالک عن ملکه الخ شرح المجلة للا تاسی ج۳ ص۴۳۲)

نوبيابه ضمان په شان دضمان دغصب وی اوپه غصب کي که مال مغصوب دمثلياتو څخه وی نوبيابه اداء دمثل وی اوکه دقيمياتو څخه وی نو اداد قيمة به کيږی په زمان د غصب اوهم په مکان دغصب کښی اوکه مثلی شئ وی خودمثل برابر ل او اداءکول مشکل وی چی

دامثل نه پيداكيږي نوبيابه ددي مثلي هم قيمة آداءكيږي خوزمونږ ددري امامانوپکښې اختلاف دی امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چې قيمة ديوم الخصومة عند القاضي واجب دی اوامام محمد رحمه الله وايي چې قيمة دورځې دانقطاع دمثل واجب ده اوامام ابويوسف رحمه الله وايي چې قيمة ديوم الغصب واجب ده دری واړه اقوال ترجيحات لری خوقول دامام ابويوسف رحمه الله اعدل الاقوال بلل شوی دی:

ويجب رد مثله ان هلک وهو مثلی وان انقطع المثل بان لايوجد فی السوق الذی يباع فيه وان كان يوجد فی البيوت ابن كمال (فقيمته يوم الخصومة)ای وقت القضاء وعند ابی يوسف يوم الغصب وعند محمد يوم الا نقطاع ورجحا قهستانی (وتجب القيمة فی القيمی يوم غصبه) اجماعا قوله(ورجحا) ای قول ابی يوسف وقول محمد وكان الاولی ان يقول ايضا ای كمارجح قول الامام ضمنا لمشی المتون عليه وصريحا قال القهستانی وهو الاصح كمافی الخزانة وهو الصحيح كمافی التحفة و عند ابی يوسف يوم الغصب وهو اعدل الاقوال كما قال المصنف وهو المختار علی ماقال صاحب النهاية وعند محمد يوم الا نقطاع وعليه الفتوی كمافی ذخيرة الفتاوی وبه افتی كثيرمن المشايخ (قوله يوم غصبه اجماعا) هذافی الهلاک كما هو فرض المسئلة قال القهستانی اما اذا استهلكت فكذالک عنده وعندهما يوم الاستهلاک اه وفی جامع الفصولين غصب شاة فسمنت ثم ذبحها ضمن قيمتها يوم غصب لايوم ذبحه عنده وعندهما يوم ذبحه ولوتلفت بلااهلاكه ضمن قيمتها يوم غصب.... آه (الدرورد المحتار ج٥ ص١٢٨)

ان انصرم المثلی فقيمته يوم الخصومة يعنی اذاانقطع المثلی عن ايدی الناس يجب علی الغاصب منه يوم الخصومة وهذاقول الامام وقال الثانی يوم الغصب وقال محمد يوم الانقطاع لان المثل هوالواجب والقيمة انمايصار اليها للعجز عنه والعجز فی يوم الانقطاع فيعتبر فيه وللثانی ان المثل لما انقطع التحق با لقيمی وفيه يعتبر القيمة يوم الغصب وللامام ان المثل هوا لواجب بالغصب وهو باق فی ذمته مالم يقض القاضی با لقيمة ولهذالوصبر الی ان يعود لمثل كان له ذالک وحد الانقطاع ان لايوجد فی السوق الذی يباع فيه وان كان يوجد فی البيوت ذكره فی النهاية وقال فی النها ية فان قلت ولم قدم قول ابی يوسف فی التعليل لم يوسطه كما هوحقه قلت لعله ان يكون هو المختار لانه اعدل الاقوال (تكملة البحر الرائق ج٨ ص ١١٠)

تجب قيمة يوم الخصومة المعتبرة وهی ماتكون عند القاضی وهذاعند ابی حنيفة رحمه الله تعالی وعليه مشت المتون وهو الاصح كما فی الخزانة وهو الصحيح كمافی التحفة وعند ابی يوسف

يوم الغصب وهو اعدل الاقوال كما قال فى المنح وهو المختار على ماقال صاحب النهاية وعند محمد يوم الانقطاع وعليه الفتوى كما فى ذخيرة الفتاوى وبه افتى كثير من المشائخ (كذافى الدر وحواشيه (شرح المجلة للاتاسى ج ۳ ص ۴۱۶)

مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولانا محمد مسلم حقانی مولانا محمد الله مولانا عبدالله مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان د مرکزی دارالافتاء رئیس

دبل دمال پر اتلاف مجبور کړل شوی ضمان لازمیږی او کنه

پوښتنه: چه میفرمایند علماء دین ومفتیان شرع مبین اندرین مسئله که درسال ۱۳۷۱ بامر تورن علاء الدین خان بسلطه ولسوالی شهرک ولایت غور یکمقدار تریاک از صاحبان تریاک اخذ شده وبعداً بحضر عام مردم همان تریاک ها سوختانده شده است وعکس گیری شده از سوختانده آنها ایا بمامورین وعسکرهای تحت امر علاء الدین خان ضمان توان است یا خیر میوا بسند الکتاب دار الافتاء درباره حکم شرعی بدهید.

رئیس شوری مرکزی علماء محترم اخندزاده صاحب عبد الغفور سینانی

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون ملهم الصواب این صورت صورت اکراه است واکراه بردو قسم است اکراه تام واکراه ناقص اکراه تام آنست که مکره بالفتح راقدرت واختیار باقی نباشد زیراکه باوتهدید قتل یا اتلاف بعض اعضاء یا اتلاف جمیع مال داده شده باشد واکراه ناقص آنست که قدرت واختیار مکره بالفتح راباقی باشد زیراکه اوراتهدیدی آسان داده شده باشد مثل تهدید بضرب یسیر یاقید کردن یا اتلاف بعض مال یا الحاق ظلم مثل منع ترقی در کار یا اخذ نمودن وظیفه ازویس اکراه بر اتلاف مال غیر اگر اکراه تام بود ضمان بر مکره بالکسر بود واگر اکراه ناقص بود ضمان بر مکره بود بالفتح وشروط اکراه قرار ذیل میباشد (۱) مکره بالکسر باید که قادر باشد بر تعذیب وتهدید مکره بالفتح سلطان باشد یا غیر سلطان (۲) مکره بالفتح اگر غالب ظن او وقوع وعید از جانب مکره بود اکراه صحیح باشد (۳) وعیدی که از جانب مکره صادرشده قابل تحمل نباشد مثل قتل واتلاف عضو (۴) وعید مکره باید که عاجل بودنه آجل (۵) اکراه باید که بر غیر حق باشد واگر اکراه بر حق باشد اکراه نبود وباید تذکر داده شود که اکراه در حضور مکره میباشد واگر مکره غائب بود اکراه نمیباشد پس اگر در اتلاف این

افون شروط مذکوره موجوده باشد وعلاء الدین در وقت اخذ مال مذکور موجود باشد ضمان بر مکره ست بالکسر والضمان بر آخذین مال ومباشرین

ان اتلاف میباشد الاکراه نوعان ملجئ اوکامل وغیر ملجئ او ناقص (الفقه الاسلامی ج۴ ص ۲۱۳)

ومثله فی بدائع الصنائع ج۷ ص۱۷۵ اوشرطه قدرة المکره علی ایقاع ماهددبه سلطانا او لصاوخوف المکره ایقاعه فی الحال وکون الشئ المکره به متلفا نفسا اوعضوا الخ وکون المکره ممتنعا عمااکره علیه قبله لحقه اولحق آخر اولحق الشرع متن الدر المختارعلی هامش ردالمحتار ج۵ ص۸۹ ویدل علیه مافی بدائع الصنائع ج۷ ص۱۷۶ ومثله فی الفتاوی الهندیة ج۵ ص۳۵ واماشرطه فان یکون الاکراه من السلطان عندابی حنیفة رحمه اللّٰه تعالی وعندهما اذاجاء من غیر السلطان مایجئ من السلطان فهواکراه صحیح شرعا کذافی النهایة وعلیه الفتوی فان غاب المکره عن بصر المکره یزول الاکراه (الفتاوی الهندیة ج۵ ص۳۵) ومثله فی بدائع الصنائع ج۷ ص۱۷۶ الاکراه یثبت حکمه اذاحصل ممن یقدر علی ایقاع ماتوعدبه سلطانا کان اوغیره وان غاب المکره عن نظر من اکرهه یزول الاکراه ذکره قاضی خان (مجمع الضمانات ص ۲۰۴)(وفیه المکره علی الا خذ والدفع انما یبیعه مادام حاضرا عنده المکره والالم یحل لزوال القدرة والالجاء بالبعد منه وبهذا تبین انه لاعذر لاحد من اعوان الظلمة فی الاخذ عند غیبة الامیر اورسوله فلیحفظ قوله مادام حاضر اعنده المکره قال فی الهندیة عن المبسوط فان کان ارسله لیفعل فخاف اویقتله ان ظفر به ان لم یفعل لم یحل الاان یکون رسول الامر معه علی ان یرده علیه ان لم یفعل ولولم یفعل حتی قتل کان فی سعة انشاء اللّٰه تعالی ولوهدده بالحبس اوالقید لم یسعه الاقدام آه قوله لزوال القدرة والالجاء بالبعد لکن یخاف عوده وبه لایتحقق الاکراه بزازیة (الدرالمختار وردالمحتار ج۵ ص۹۸ ومثله فی شرح المجلة للاتاسی ج۳ ص۵۶۲) واللّٰه اعلم

مولانا عبداللّٰه مولانا عبدالحکیم عفی اللّٰه عنه مولانا احمد نوری مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان ومرکزی دارالافتاء رئیس

دباغیانوسره دجنګ پرمهال تلف شوی مالونه ضمان لری اوکنه

پوښتنه:نورمحمد دداد مولی زوی دترینکوټ دچارچینودولسوالی دیخدان د اوسیدونکی غوښتنی لیک دافغانستان داسلامی دولت محترم عالیقدرمشر مجاهد امیر المؤمنین السلام علیکم ورحمة الله عالیقدره موږدوه موټرسیکلان هونداد تجارت لپاره کجران ته بیولی وه په ولسوالی باندی تکان وسول اوپه نتیجه کښی زموږډکرسوی موټرسیکلان وسوځل سول اوس هغه قاتلان اومجرمان نیول سوی دی دحکومت په لاس کښی دی یادی زموږ خساره دولت راکړی اویادی دکجران ولسوال امرراکړی ترڅوزموږ حق دشریعت مطابق ددغوباغیانوڅخه راواخلی چې اوس ورسره بندیان دی وکتل سو ددارالافتاء محترم رئیس دپورته موټر سیکلانو دضمان په هکله به معلومات راکړی چې پرچاکیږی .والسلام

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب

دافغانستان داسلامی دولت محترم عالیقدر مشرمجاهد امیر المؤ منین السلام علیکم ودام ظلکم العالی کوم موټر سایکلان چې په استفتاء کښی بیان شوی دی دهغودضمان په باره کښی به داووایو چې ددغه موټرسیکلانو پرهیچاضمان لازم نه دی نه پردولت لازم دی اونه هم پر باغیانو لازمیږی اودامفت تلف دی یعنی هدردی ځکه چې داپه حین اووقت دقتال اوجنګ دب غیانوکی تلف شوي دی اوکوم شئ چې تلف شی دلاس څخه د باغیانو په حال دجنګ کښی هغه ضمان نه لری پرهیچا خودعدم ضمان دپاره یو څوشرطونه دی چې لږوروسته به ئې په حواله دردالمحتار سره ولیکو :

واذاانجلت الحرب ومع اهل العدل اموال ردت عليهم ومايتلف منها فى غير القتال فهو مضمون على متلفه وماتلف عليهم فى نائرة الحرب من نفس ومال فهو هدر ا(لاحكام السلطانية للقاضى ابى يعلى محمد بن الحسين الفراء ص۵۴ (ب) ضمان ما اتلفوه من الانفس والاموال قال الحنفية والمالكية والحنابلة والشافعية فى اظهر القولين عندهم لايضمن البغاة المشأولون بين الناس وفيهم البدريون فاجمعواليفى وقائعهم كوقعة الجمل وصفين على الايقام حد على رجل استحل فرجا حراما بتاويل القرآن ولايغرم ما ل اتلفه بتا ويل القران ولان البغاة طائفة ممتنعة با لحرب بتاويل سائغ فلم تضمن ماتلفت على الاخرى كاهل العدل ولان تضمينهم يفضى الى تنفيرهم

عن الرجوع الى الطاعة فلايشرع كتضمين اهل الحرب (الفقه الاسلامی ج۶ ص۱۴۴)-
لکن دغه عدم دضمان پرتلف دباغیانو مالونو دخلقولره په وقت دجنګ ددوی کښې بناء دی پریوڅو شرطونو باندی چې هغه په دی ډول دی (۱) دغه باغیان به ډیروی چې لښکرولری (۲) چې دوی به په جمع واری سره راجمع شوی وی جنګ داهل عدل لره (۳) چې دوی به په تأویل سره عقیده لری دحلال والی دجنګ داهل عدل سره اوکه دغه شرطونه نه وه موجود نوبیاپه دغه صورت کښې ضمان پر باغیانو لازمیږی په (ردالمحتار ج۳ ص۳۴۲ باب البغاة) کښې لیکلی دی:
قلت فتحصل من ذالک کله ان اهل البغی اذاکانو اکثیرین ذوی منعة وتحیز والتقا لنا معتقدین حله بتأ ویل سقط عنهم ضمان ماتلفوامن دم اومال دون ماکان قائما ویضمنون کل ذالک اذاکانوا اقلیلین لامنعة لهم اوقبل تحیزهم اوبعد تفرق جمعهم ....الخ والله اعلم بالصواب



مولوی نذاحمد الحقانی مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

حکم دآلاتو دسروز

پوښتنه : محترم رئیس صاحب ددارالافتاء السلام علیکم ورحمة الله محترمه! الات دسروز لکه ټیپ اوریډیو ټلویژون وغیره ماتول څه حکم لری اوپورته شیان چې ګیرشی خلق هم ددغو شیانو څخه ناوړه استفاده کوی بهترینه لارئې کومه ده څه په کوی په دغه شیانو والسلام.

(نورمحمد پوښتنه کوونکی)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الملک الوهاب الات دلهو که داسی وی چې یوازی په لهو لعب کی مستعملیږی پرماتونکی ئې په اتفاق ضمان نشته اوکه په غیرکی دلهوهم مستعملیږی که ماتول په اذن دامام وه هم په اتفاق ضمان نشته اوکه په اذن دامام نه وه امام ابو حنیفة رحمه الله تعالی وایی ضمان شته اوصاحبان رحمهما الله تعالی وایی ضمان نشته ترجیح قول لره دصاحبانو ده دوجهی دفسادد زمان هرچی الات دی چې په مباح ځایوکی مستعملیږی

لکه طبل دغزایاتیپ رادیو دمتدین شخص چې په لهو کی نه مستعملوی په اتفاق ضمان پرماتونکی شته هرچې تیپ یارادیو دفاسقانوده دهغه حکم دالات دلهو دی چې سابق ذکر شو پرماتوونکی ئې پرقول مفتی به ضمان نشته که څه هم بلااذن دامام وی دغه مسائل اوحکمونه دلاندی عباراتومدلول دی

(تنبیه)امام ابوحنیفة رحمه الله تعالی چې ضمان وایي هغه داسی ضمان چې کاردغیر دلهوور څخه اخسته کیږی مثلاپه ډول کی ضمان دقیمت دداسی ډول شته چې پنبه پکی ساتی په (فتاوی هندیة ج۵ ص۱۳۱)کی راغلی دی:

اذاکسر بربط انسان اوطنبوره اودفه اوما اشبه ذلک من الات الملاهی فعلی قولهما لاضمان وعلی قول ابی حنیفة رحمه الله تعالی یجب الضمان وذکر فی الجامع الصغیر ان علی قول ابی حنیفة رحمه الله تعالی یضمن الااذافعل باذن الامام قال القاضی الامام صدر الاسلام الفتوی علی قولهما لکثرة الفساد فیما بین الناس وذکر الشیخ فخر الاسلام فی شرح الجامع الصغیر ان قول ابی حنیفة رحمه الله تعالی قیاس وقولهما استحسان وقال صدر الاسلام ثم عند ابی حنیفة اذاوجب الضمان یجب علی وجه الصلاح لغیر التلهی علی ادنی وجه یمکن الا نتفاع بذلک وعلی هذاالاختلاف النردو الشطرنج لانه یمکن ان یجعل هذه الاشیاء سنجات الوزن وفی القدوری فی مسئله الطنبور والبربط انه یضمن قیمته خشبا منحوتا وفی المنتقی یضمن قیمته خشبا الواحا کذافی المحیط والذ خیرة والطبل الذی یضرب للصبیان یضمن بالاتلاف من غیر خلاف کذافی التاتار خانیة آه په الدر المختار کی راغلی دی (وضمن بکسر معزف) بکسر المیم آلة اللهو ولو لکافر ابن کمال قیمته خشبا منحوتا صالحا لغیر اللهو وضمن القیمة لاالمثل وباراقة سکر ومنصف سیجیئ بیانه فی الاشربة وصح بیعها کلها وقالالا یضمن ولایصح بیعها وعلیه الفتوی ملتقی ودرروزیلعی وغیرها واقره المصنف واماطبل الغزاة زاد فی حظر الخلاصة والصیادین والدف الذی یباح ضربه فی العرس فمضمون اتفاقا (الدر المختار بهامش ردالمحتار ج۵ ص۱۴۹)په ردالمحتار کی راغلی دی قوله وقالا الخ هذاالاختلاف فی الضمان دون اباحة اتلاف المعازف وفیما یصلح لعمل آخر والالم یضمن شیئا اتفاقا وفیما اذافعل بلااذن الامام والالم یضمن اتفاقا..الخ

په تبیین الحقائق ج۵ ص۲۳۷ کی راغلی دی:

ومن کسر معزفا اوراق سکر اومنصفا ضمن وصح بیع هذه الاشیاء وهذاعند ابی حنیفة رحمه الله تعالی وقالالا یضمنها ولایجوز بیعها لانها معدة للمعصیة فیسقط تقومها کالخمر ولانه فعله باذن

الشرع لقوله صلى الله عليه وسلم بعثت بكسر المزامير وقتل الخنازير ولقوله صلى الله عليه وسلم اذا ر اى احدكم منكر افلينكر بيده فان لم يسنطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه وذلك اضعف الايمان والكسر هو الانكار باليد ولهذالوفعله بامر اولى الامر كالامام لايضمن فبامر الشرع اولى...الخ

(وروسته ترڅو سطر وايي)

والفتوى فى زماننا على قولهما لكثرة الفسادفيما بين الناس

په مجمع الضمانات ص۱۳۲ کی هم فتوی پرقول دصاحبين ذکر شوی ده په طحطاوی على الدرج۴ ص۱۱۴ کی راغلی دی:

(قوله صاحالغير اللهو) ففى الدف قيمته دفا يوضع فيه القطن والبربط يضمن قيمته قصعة يجعل فيه الشربة ونحو ذلک ذکره قاضيخان۔

په مجمع الانهر اوالدر المنتقى بهامش مجمع الانهرج۲ ص۴۶۹ کښی ذکرد فتوی پرقول دصاحبين رحمه الله تعالى راغلی دی

(نوټ) الات دلهو چې ګيرشی مؤظفين به ئې ماتوی خپله به ئې نه مستعملوی ځکه مال دغيردی استعمال دمال غير بلا اذن جائزنه دی هرچې ماتول دی هغه په اذن دشرعی دی لکن مؤظفين حضراتو ته ډير احتياط پکاردی د موټرانو هنداری به نه ماتوی که ئې ماتيکی ضمان پرشته اواذى به مسلمانانو ته نه رسوی چې دثواب پرځای ګناه زياته نسی هرامير اومشر مجبور دی چې خپل افراد به اصلاح کوی ځکه چې په حديث شريف کی دی کلکم راع وکلکم مسئول عن رعيته والله اعلم

مولوی عبدالحکيم عفی الله عنه مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئيس

كتاب الدعوى

دمدعي په قول كې كه تناقض راشي نوتوفيق ته آيااړتياشته؟

پوښتنه : الحمد لله الذى هدانا للاسلام وصيرنا من امة خير الانام صلى عليه وسلم امابعد څه وايي علماء د دين مبين او مفتيان دشرع متين په دى مسئله كى چې دوى قطعى مځكى وى يوه په بله پورى متصله پردى

شــــكل باندى ________

شمالي قطعه	زيد مشترى
شرق	غرب
جنوبى قطعه	عمرو مشترى

كه دغه دوى قطعى مځكه دوه نفره رانسى مثلا شمالى قطعه زيد رانسى اوجنوبى قطعه عمرو رانسى لكن په دى مځكه كى يو بل شريک هم وى دبائع سره چې هغه په وقت دعقد كى غائب وى كله چې دغه شريک راحاضرشي نودخپل حق دعوى وكړى كله چې مدعى دواړو قطعو حدود بيانه وى نودشمالى قطعى اضافة وزيد ته وكړى اودجنوبى قطعى وعمرو ته وكړى يعنى په بيان كه حدوددشمالى قطعى داسى وليكى چې جنوبا متصله ده په مځكه پورى دعمرو داسى ئې نه وى ليكلى چې متصله ده په مځكه مملوكه ياپه ملک پورى دعمرواوپه بيان دحدودد جنوبى قطعى دارنگه وليكى چې شمالامتصله ده په مځكه پورى دزيد اضافة دمځكى وزيدته وكړى مدعى عليه په خپل دفع كى وليكى چې مدعى اقرار كړى دى يعنى مثلا عمروليكى چې مدعى اقرار كړى دى چې دغه مځكه زمامدعى عليه ده څكه چې دغه مدعى په خپل صورت دعوى كى دشمالى قطعى دحدود په بيانولو كى اضافة دمځكى ومامدعى عليه ته كړى ده يعنى داسى يي ليكلى چې جنوبا متصله ده په مځكه پورى دعمرو نوبيادى څرنگه دعوى كوى چې په دى مځكه كى زه شريک يم اوحق لرم مدعى په جواب كى داسى ووايى چې مادمځكى اضافت ومدعى

علیه ته کړی په اعتبار دتصرف اوذوالیدی یعنی چې مدعی علیه ئې متصرف اوذوالیدی
فی الحاله چې دی اضافی ته دعلم نحوی علماء اضافة دادنی ملابسة وایي نه په دی
اعتبار چې مدعی علیه یي مالک دټولی مځکی اومځکه ئې مملوکه ده ځکه که چیری
مادی مالک بوللای دټولی مځکی نومایياولی دعوی کوله اوبل جواب داسی وکی چې
ماددغی قطعی دنصف دعوی کړی ده په حقیت سره اودهغه بل نصف دعوی چې کوم
نوهغه په شفع سره لکن دغه نصف خود مشتری گرځیدلی په شراءسره نوزه مدعی اودی
مدعی علیه دواړه په دي مځکه کي سره شریکان شووکله چې اصحاب دیوحد متعددشی
نویوچې ذکرشی هم جوازلری آیادغه اضافة سره ددغه جوا بینو اقرار بلل کیږی اوکنه
بینوا بالبرهان واجرکم علی الرحمن.

(المستفتی عبدالله حقانی)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب حامداومصلیا

ددغه مدعی چې شریک دبائع سره ځان بولی په دغه دوقطعو دمځکی کی چې هغه په
سوال کښی په تفصیل سره بیان شوي دی نودده دغه اضافة سره دجوابینو اقرارنه بلل کیږی
ځکه چې ده توفیق راو ستلی دی بالفعل په جوابینو سره اودغه توفیق بالفعل دمدعی
اعتبارلری په دفع دتناقض کښی -المادة۱۶۵۷-

لوامکن توفیق الکلام الذی یری متناقضا ووفقه المدعی ایضا یرتفع التناقض مفاد قولهم ووفقه المدعی ایضا انه لایکتفی بامکان التوفیق بل لابدمن التوفیق بالفعل وهذاالقول مختار من اربعة اقوال الخ(شرح المجلة لسلیم باز اللبنانی ص۹۷۵)-

اوپه داسی محل کی چې هلته توفیق ظاهر غیرخفی وی لکه په استفتاء مذکور کښی چې
اضافة مدعی کړي دی مدعی علیه ته دمدعی به په اعتبار دتصرف سره دامجاز متعارف
دی صرف امکان دتوفیق هم کفایت کوی بغیر دتوفیق بالفعل:

وقد ذکرو االقولین فی مسائل التناقض والذی اختاره فی جامع الفصولین وقال انه الاصوب عندی واقره فی نورالعین انه ان کان التناقض ظاهرا والتوفیق خفیا لایکفی امکان التوفیق والایکفی الامکان الخ (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج ۲ ص۳۸)-

اودغه شان که چیری صادرشی دمدعی څخه داسی یوشئ چې هغه محتمل داحتمالین وی

هم د اقرار اوهم دعدم اقرار ترجیح به په هغه صورت کښی قرائنو او علماتو لره وی په صورت د استفتاء کی قرینه دعدم داقرار ده چې هغه دعوی دمدعی ده:
ولوصدر عنه مایحتمل الاقرار وعدمه فالترجیح بالقرائن والافلایکون اقرار اللشک (جامع الفصولین ج۱ ص۱۰۱) والسلام والله اعلم بالصواب

مولانا احمد نوری عفی عنه مولوی نذاحمد الحقانی مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

کوم څوک چې پخپل ژوندکې دعوی ونکړی ورثاء یې حق ددعوی لری کنه؟

پوښتنه: نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد څه فرمایی علماء ددین مبین او مفتیان دشرع متین په دې مسئله کې چې یو سړی وفات سی نروارث ئې پاته نسی بلکه یوه ماشومه لورئې پاته سی او نور زنانه ورثه ئې پاته سی او میراث ئې اجنبیان خلق سره تقسیم کړی کله چې دغه ماشومه لویه سی نو ۷ یا ۸ کاله ژوند وکی بیا وفات سی مطلب دا چې دخپل حق دعوی ونکی په خپل ژوند کې وروسته ددغه ښځی اولاد ددی دحق دعوی وکی مرور الزمان هم نه وی راغلی صرف داخبره نه وی چې والدی ئې دعوی نه وی کړی دخپل لوی والی په ژوند کی آیا دغه دعوی په شریعت کی مسموع ده او کنه؟ بینوا توجروا۔
(المستفتی محمدعیسی)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب والله الموفق للصواب
چې یورجل تصرف وکی یوه زمانه چې هغه زمانه هم دمرور زمان نه وی په یوه مځکه کی او بل رجل ئې وینی هغه مځکه او هغه تصرف ددغه رجل او بیا هم دعوه ونکی او مړسی نو ددغه مذکور سړی دولد دعوی نه اوریدل کیږی او پاته کیږی په لاس کی دهغه متصرف څکه چې حال شاهددی نورنو الله هادی دی او پرهغه زموږ اعتماددی لکن مشروط په دی شرط چې موانع به دمدعی دپاره نه وی موجود په دغه وقت کی دترک ددعوی لکه صغر دمدعی یادا چې مدعی علیه متغلب او جابروی یاداسی نور او هرهغه وقت چې مدعی ناظر او مطلع وی پرتصرف دمدعی علیه ترهغه وقته چې مړشی مدعی علیه نونه اوریده کیږی

دعوی پروړثه دهغه باندی او همدارنگه که مړسی مدعی نه اوریده کیږی دعوی دوړثه د دغه مدعی چې دغه صورة په استفتاء کی هم دی:

قال فی فتاوی الولوالجیة رجل تصرف زمانا فی ارض ورجل آخر رای الارض والتصرف ولم یدع ومات علی ذلک لم تسمع بعد ذلک دعوی ولده فترک علی ید المتصرف (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص۳)

وایضا فی مجموعة الفتاوی علی هامش خلاصة الفتاوی (ج۴ ص۸۷) رجل تصرف زمانا فی ارض ورجل آخر یری الارض والتصرف ولم یدع ومات علی ذلک لم تسمع بعدذالک دعوی ولده فتترک علی ید المتصرف والظاهر ان الموت غیر قید بدلیل انهم لم یقید وابه هنا وبه علم ان مجرد السکوت عند الاطلاع علی التصرف مانع (ردالمحتار علی الدر المختار ج۵ ص۵۲۴) سئل عن رجل له بیت فی دار سکنه مدة تزید علی ثلاث سنوات وله جار بجانبه والرجل المذکوریتصرف فی البیت المذکور هدما وعمارة مع اطلاع جاره علی تصرفه فی المدة المذکورة فحصل اذاادعی البیت اوبعضه بعد ماذکر من تصرف الرجل المذکور فی البیت هدما وبناء فی المدة المذکورة تسمع دعواه ام لا اجاب لاتسمع دعواه علی ماعلیه الفتوی آه فانظر کیف افتی بمنع سماعها من غیر القریب بمجرد التصرف مع عدم سبق البیع وبدون مضی خمس عشرة سنة اواکثر الخ (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص۴) والله اعلم وعلمه اتم

مولوی نذاحمد الحقانی مولانا احمد نوری عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب د افغانستان د مرکزی دارالافتاء رئیس

دارث په دعوی کي مرور دزمان نه اعتبار شته او کنه

پوښتنه: په حضور د محترم د دارالافتاء رئیس صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته محترموستاسو په حضورکی د میراث په باره کی پوښتنه لرم عبد الحمید د محمد ایوب زوی د محمد انور لمسی د شاه ولی کوټ د ولسوالی اوسیدونکی چې د دغه عبد الحمید نامی خپله موروثي ځمکه زماد اکادزامنو سره ده اوډیره زمانه وتلی ده چې دا ځمکه موروثه گرځید لی او تقسیم نه دی شوی زه غواړم چې زماد شریعت غراء د احکامو سره سم خپل تقسیم راکړی والسلام س ۱۵ - ۱۲ - ۱۳۷۵

(المستفتی غلام محمد)

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب حکم ددعوی دارث په باب دمروردزمان کښی حکم دعامودعاوی ده یعنی کچیری امام قضاة منع کړی وه دسماع او اورید لودعوی څخه پس له پنځلس کلونونودغه قضاة دمیراث په دعوی کښی هم منع دی داوریدو څخه اوپس له دیر شو کلونو یادری دیرش کلونو یاشپږدیرش کلونو بناء پر اختلاف دفقهاء رحمهم اللّٰه کله مدعی دعوی ونکړه نوقاضی به ئي دعوی نه اوری که څه هم امام ورته امرکړی وی راجح قول دشپږدیرش کلونوده هادعوی اوریدل کیږی که دایوڅو عذرونه وی چې مدعی غائب وی په دی زمانه کښی اویاصبی اویامجنون وی اوولی نه لری اویا مدعی علیه امیر جا بر ظالم وی په مجلة الاحکام مادة ۱۶۶۰ کی لیکلی:

لاتسمع دعوی الدین والودیعة وملک العقاروالمیراث ومالایعودمن الدعاوی الی العامة ولاالی اصل الوقف کدعوی المقاطعة اوالتصرف بالاجارتین والتولیة المشروطة والغلة فی العقارات الموقوفة بعدان ترکت خمس عشرة سنة ...آه

اوپه شرح المجلة للاتاسی ج۵ ص۱۶۸ کی په شرح ددی ماده کښی وایي: دغه ماده صریح ده چې دعوی دارث مستثنی نه ده دحکم څخه دنورودعاوی اوپه فتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص۵ کښی لیکلی:

سئل فی رجل یرید الدعوی علی زید بمیراث امّه المتوفاة من اکثر من خمس عشرة سنة وزید یجحد ومضت هذه المدة من بلوغه رشید اولم یدعی بذالک ولامنع مانع شرعی وهما مقیمان فی بلدة واحدة فهل تکون دعواه بذلک غیر مسموعة للمنع السلطانی) الجواب نعم)۔

اوپه ردالمحتار ج۴ ص۳۸۲ کی لیکلی:

وفی جامع الفتوی عن فتاوی العتابی قال المتأخرون من اهل الفتوی لاتسمع الدعوی بعد ست و ثلاثین سنة الاان یکون المدعی غائبا اوصبیا اومجنونا ولیس لهما ولی اوالمدعی علیه امیرآجائرا ...آه

اوهرچې په الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۴ ص۳۸۲ کښی فتوی دابوسعود لیکلی په داسی شان:

لوامر السلطان بعدم سماع الدعوی بعد خمس عشرة سنة فسمعها لم ینفذ. قلت فلاتسمع الان بعدها الابامر الافی الوقف والارث ووجود عذ رشرعی وبه افتی المفتی ابوالسعود فلیحفظ

نوعلامه شامی په متعلق ددي فتوی کښی په الفتاوی تنقیح الحامدیة کښی په ج۲ ص ۶ باندی لیکلی دی:

واماما افتی به العلامة ابوالسعود افندی وصاحب البیت کما قیل ادری فهذه صورته (میراثه متعلق اللی الخ) تعریب ددغه ترکی لفظ داده (الدعوی المتعلقة بالمیراث اذاترکت بعذر شرعی خمسین سنة فهل تسمع بلاامر عال الجواب تسمع اذاکان العذر (قویا...آه) اوپه ردالمحتار ج۴ ص۳۸۱ کښی لیکلی ویخالفه (اي استثناء الارث) مافی الخیریة حیث ذکران المستثنی ثلاثة مال الیتیم والوقف والغائب ومقتضاه ان الارث غیر مستثنی فلا تسمع دعواه بعدهذه المدة وقد نقل فی الحامدیة من المهمنداری ایضاًانه کتب علی سوال آخر فیمن ترکت دعواها الارث بعد بلوغها خمس عشرة سنة بلاعذر ان الدعوی لاتسمع الابامر سلطانی ونقل ایضاً مثله فتوی ترکیة عن المولی الی السعود وتعریبها اذاترکت دعوی الارث بلاعذر شرعی خمس عشرة سنة فهل لاتسمع الجواب لاتسمع الااذااعترف الخصم بالحق ونقل مثله شیخ مشایخنا الترکمانی عن فتاوی علی افندی مفتی الروم ونقل مثله ایضاً شیخ مشایخنا لسائحانی عن فتاوی عبد الله افندی مفتی الروم وهذاللذی راینا علیه عمل من قبلنا فالظاهر انه وردنهی جد ید بعدم سماع دعوی الارث والله سبحانه اعلم...آه

مولوی احمد نوری مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

پرمورث که دعوی ونشي پروارث دعوی صحیح کیږی اوکنه ؟

پوښتنه :زه عبدالله دعبدالودود زوی دمعروف دولسوالی اوسیدونکی یم ددارالافتاء ومحترم رئیس صاحب حضور ښخه دلاندی موضوع په هکله دشرعی فتوی پوښتونکی یم هیله کوم چي دشریعت په منورواحکامومنی ممنون وگرزوی په مورث چي دعوی نه وي شوی په وارث دعوی صحت لری که نه ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب

زید مثلا تصرف مالکانه په مځکه کي یاسرای کی کوی عمر مثلا دغه تصرف وینی هیڅ دعوی یا انکارنه پرکوی دغه متصرف زید مړسی وروسته عمر پرورثه دزید دعوی وکی دغه دعوی ئې مسموع نه ده دغه رنګه چی عمر مړسی ورثه ئې دعوه وکی پرزید باندی دعوی مسموع نه ده: فی جامع الفتاوی اول کتاب الدعوی عن الخلاصة رجل تصرف فی ارض زمانا ورجل آخر یری تصرفه فیها ثم مات المتصرف ولم یدع الرجل حال حیاته لاتسمع دعواه بعدوفاته وفی الحامدیة عن الولوالجیة رجل تصرف زمانافی لرض ورجل آخر یری الارض والتصرف ولم یدع ومات علی ذلک لم تسمع بعدذلک دعوی ولده فتترک علی ید المتصرف... آه والظاهر ان الموت غیر قیدآه(ردالمحتار ج۵ ص۵۲۴)هکذا فی الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ص۳ (وفیه واذاکان المدعی ناظر اومطلعا علی تصرف المدعی علیه لاتسمع الدعوی علی ورثته کما مر عن الخلاصة وکذالومات المدعی لاتسمع دعوی ورثته کمامر عن الولوالجیة والظاهر ان الموت لیس بقید وانه لاتقدیر بالمدة مع الاطلاع علی التصرف...آه(ص۳ج۲) که چیری ئې اطلاع پرتصرف نوه نه وئې دعوی ترهغه وخت صحی کیږی چی وخت دسماع ددعوی پرتیریږی چي هغه وخت دیرش یادرودیریش یاشپږدیرش کاله بناء پرمنع فقهي یاپنځلس کاله بناء پرمنع سلطان ده

و الظاهر ان عدم سما عها بعد هذه المدة اعم من کونه مع الاطلاع علی التصرف اوبدونه لان عدم سماعها مع الاطلاع علی التصرف لم یقید و هنا بمدة فلا منافاة بین کلامهم تأمل آه ردالمحتارج۵ ص۵۲۴ ط رشیدیه)

مولانازمان شاه مولاناعبدالحکیم عفی الله عنه مولانااحمدنوری مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

دمالکانه تصرفاتوکولوسره بیله عذره

دمشتری په ژوندکي سکوت اودمشتری پراولا دودعوی

پوښتنه :یو څوک چی مځکه خرڅه کړی او مشتری په هغه مځکه کښی دبایع په حضورکی تصرفات په ملکانه طورکوی او بایع ته شرعی عذر موجودنه وی او مشتری وفات شی

دمشتری په اولاد باندی دبایع دعوی صحت لری کنه؟
(المستفتی عبدالله ولد عبدالودود معروف ولسوالی)

الجواب بعون الملک الوهاب
بائع چی دمشتری سره بیع صحی شرعی قطعی وکړه وروسته حق ددعوی پردغه مشتری نه لری په وخت دحیات دمشتری وروسته ترمرګه دمشتری حق ددعوی پرورثه وودمشتری په طریق اولی نه لری ځکه دغه بائع نقض دهغه شئ کوی چې دده دجانب تام سوی دی من سعی فی نقض ماتم من جهته فیکون سعیه مردودا علیه (المجلة المادة ۱۰۰) دغه بیعه صحی قطعی په اقرار یاشاهدانو سره ثابت وه اوکه ددغه بائع نه اقرارئې په بیعه صحي قطعی ثابت وواونه هم شاهدان پربیع صحی قطعی وه بیائې دعوه دبیع فاسد اویا بیع وفاوکړه دعوی ئې صحي ده ځکه چی په بیع فاسد کی په مرګ دیوه دعا قدین حق دفسخ نه ساقطیږی:
ولایبطل حق الفسخ بموت احدهما فیخلفه الوارث به یفتی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۴ ص۱۴۳ البحرالرائق ج۶ ص۹۴ اذااقر احد بصدور عقدباب صحیح منه وربط اقراره هذابسند ثم ادعی بان ذلک العقد کان وفاء اوفاسدا فلاتسمع دعواه راجع (المادة ۱۰۰)مثلالوباع احدداره لاخرفی مقابلة ثمن معلوم وسلمها ثم ذهب الی حضور الحاکم واقربقوله انی بعت داری المحدودة بهذه الحدود لفلان فی مقابلة هذاالثمن بیعا باتا صحیحا وربط اقراره هذابوثیقة شرعیة وبعد ذلک ادعی ان بیعی المذکور کان عقدابطریق الوفاء اوبشرط فاسد اه وکذافلاتسمع دعواه... آه(مجلة المادة ۱۶۵۸)۔
والظاهر ان قوله وربط اقراره بسند لیس قیدا احترازیا انماهو مماشاة مع العادة الغالبة من ان المتعاقدین یربطان عقدهما بسندویصرحان فیه بان العقدالمربوط فیه وقع صحیحاًباتا خالیاً من الشروط المفسدة والقیود المطلقة ونحوذلک حتی لولم یربط عقدهمابسند لکن ثبت اقرار هما بما ذکر بالبینة الشرعیة یکون الحکم کذلک لماصرحو ابه من ان الثابت بالبرهان کا لثابت با لعیان ولوذکر فی السند مجرد الایجاب والقبول ولم یذکر فیه الاقرار بوقوع العقد صحیح باتا فالظاهر انه تسمع دعوی الوفاء والفساد ونحوهما لان مجردذکر الایجاب والقبو ل لاینافی ان العقد وقع فاسداو موقو فافلایکون مدعی الفساد ونحوه متناقضا ولایکون ساعیا فی نقض ماتم من جهته بل هوساع فی نقض مالم یتم من جهته علی زعمه فتسمع دعواه هذامایقتضیه مفهوم هذه المادة وهو

الذى يظهر فتدبر آه شرح المجلة للاتاسي ج ۵ ص ۱۵۶

مولوی زمان شاه مولوی عبدالحکیم مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

دغه مدعي بهاماستاپرپلار خرڅه کړې وه

پوښتنه :مدعی دعوی کوی چې دغه مدعی بهاپه بیع الوفاموستا (مدعی علیه) پرپلار خرڅه کړی ده اومدعی علیه په مورث ئې دعوی نه وی کړی په وارث ئې دعوی صحت لری اوکه دنوموړی وارث لپاره نوموړی بیع قطعی ګرزی ؟

ستاسومحترم حضورڅخه هیله کوم چې مشکل مودشریعت په رڼاکی راحل کړی.

(په احترام عبدالله ۳ - ۹ - ۱۳۷۵)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الملک الوهاب

که بیع صحی بات ثابت وه په اقراردبائع اویاپه شاهد انونویي بیادعوی دبیع الوفانه صحی کیږی لکه تفصیل ئې په جواب کی دپورتنی پوښتنی ذکر سوی دی اوکه دبائع اقرار ثابت نه وی نوئې دعوی صحی کیږی یابه دغه مدعی خپله دعوه په شاهدانو ثابتوی یابه وارث ته قسم دعلم ورکوی مطابق دحدیث:

البینة علی المدعی والیمین علی من انکر وعلی العلم لوورث عبدافادعاه آخر لانه لاعلم له بما صنع المورث فلایحلف علی البتات البحر الرائق ج ۷ ص ۲۱۷ (والله تعالی اعلم وعلمه اتم) ۱۰ - ۹ - ۱۳۷۵

مولانازمان شاه مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولاناعبدالله مولانااحمد نوری مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

دمالكانه تصرفاتوليدلوسره بې له عذرسكوت دعوى باطلوى

پوښتنه :وحضورته دمحترمو علماءكرامو ددارالافتاءالسلام عليكم ورحمة الله وبركاته اما بعد دلاندې موضوع په باب پوښتنه لرم اميد لرم چې شرعي فتوى راكړى هغه دادى چې مونږ دسنګين په ولسوالى كې مځكه په بيع قطعى رانيوله اول څه وخت مو روپې ورنكړى كچيرى يوكس دعوى كول دشفعي ياغيره خوڅوك پيدا نه سوبيا مو روپې وركړى او څه موده نورهم موكار معطل كړى بيا هم څوك پيدانسو اخرموكارپه هسته هسته شروع كړى سراى پرتكميل سو په دغه جريان كې تريو كال ډير وخت تيرسو اوټول خلک په دغه رانيو لواوكاركولوخبروو كچيرى اوس يوڅوک ددغه مځكي اويادشراكت دعوى وكى او په دغه جريان هم خبروى آياشرعاً ئې دعوه صحي كيږى كه يا ؟فقط په احترام

(المستفى داكترملاعبدالرحمن)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب

كچيرى يوكس مځكه ياغيره رانيول اومالكانه تصرف ئې پكښې وكى لكه كښت يابناء مدعى په دغه بيع اوتصرف خبر وواوشرعى عذر دترک ددعوى ورته متوجه نه ووخوبيا هم ساكت وو روسته ئې دعوى وكړه ددغه مبيعى ياد شراكت په دغه مبيعه كې دعوى ئې شرعا نه صحي كيږى كه قريب دبائع وى اوكه اجنبى وى ځكه دغه سكوت ئې په منزلة داقراردى نودغه مدعى كچيرى اقرار وكى چې دغه خرڅ سوى شئ دبائع دى وروسته دعوه په وكې دعوى نه صحى كيږى دغه رنګه دسكوت حكم هم دى سكوت چې مانع دسماع څخه ددعوى وى هغه درى ۳ قسم دى اول سكوت دقريب دبائع دى لكه زوى اوزوجة دغه سكوت مانع ددعوى څخه بشرط نفس اطلاع پربيع اوتسليم دمبيعى دى دوهم سكوت داجنبى كه څه هم جاروى په وخت كى دبيع اوتصرف دمشترى په مبيعه كى ددغه اجنبى سكوت وروسته ترعلم پربيع اوتصرف دمشترى مانع دسماع څخه ددعوى دى دريم سكوت دى په معنى دترک ددعوى طويل مدة چې هغه ديرش كاله يادرو ديرش كاله ياشپږ ديرش بناءپرمنع فقهى اوياپنځلس كاله بناءپرمنع سلطانى نودغه اندازه مده چې مدعى دعوى ونكړى اوعذرى شرعى هم نه وى نودعوى ددغه مدعى مسموع نه ده :

باع عقارا اوحيوانا اوثوبا وابنه اوامراته اوغيرهما من اقاربه حاضر يعلم به ثم ادعى الابن مثلا انه

ملکه لاتسمع دعوی وکذا اطلقه فی الکنز والملتقی وجعل سکوته کالافصاح قطعا للتزویر والحیل بخلاف الاجنبی فان سکوته ولوجارا لایکون رضا الااذاسکت الجار وقت البیع والتسلیم وتصرف المشتری فیه زرعا وبناء فحینئذ لاتسمع دعواه علی ماعلیه الفتوی قطعا للاطماع الفاسدة آه(الدر المختار علی هامش ردالمحتار)

(قوله حاضر) المراد من الحضور الاطلاع (رملی)(قوله وجعل سکوته کالافصاح)ای بانه ملک البا ئع(قوله بخلاف الاجنبی) قال الرملی اقول الذی ظهر لی فی الفرق ان الاطماع الفاسدة فی القریب اغلب فمظنة التلبیس فیه ارجح وکذالک غلب فی الاقرار خصوصا فی دعوی الارث لسهولة اثباته بخلاف الاجنبی فان طمعه فی مال من هو اجنبی عنه نادر فلابد من مرجح یرجح جهة التزویروهی ان یتصرف فیه المشتری زمانا(قوله الااذاسکت الجار) وغیره من الاجانب بالاولی فتخصیص الجار بالذکر لانه مظنة انه فی حکم القریب والزوجة (قوله وقت البیع والتسلیم) ای وقت علمه بهما کما افاده کلام الرملی السابق وقد علمت ان البیع غیر قید بل مجرد سکوت عندالاطلاع علی التصرف مانع من الدعوی (قوله زرعا وبناء) المراد به کل تصرف لایطلق الا للمالک فهما من قبیل التمثیل آه(ردالمحتار ج۵ ص۵۲۴ هکذافي موضع آخر من ردالمحتار ج۴ ص ۳۸۲) وهکذافی الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص۳ وفی شرح المجله للاتاسی ج ۵ ص۱۵۸)(سئلت) فیمن باع عقار اوسلمه للمشتری وتصرف فیه زمانا وجاره اوغیره حاضریری البیع والتسیلم والتصرف وهو ساکت بلامانع ثم یقوم ویدعی انه کله اوبعضه له هل لاتسمع دعواه هذه ؟الجواب لاتسمع لماتقرر ان من یری غیره یبیع ارضا اودارا فتصرف فیه المشتری زماناو الرائي ساکت تسقط دعواه کما فی جامع الفصولین والاشباه افاده فی الخیریة اقول ولایشترط حضوره مجلس البیع بل علمه کاف کمافی بهجة الفتاوی واللّٰه تعالی اعلم آه(الفتاوی الکاملیة ص۱۱۴)ان باع احدما لاعلی انه ملکه فی حضوراخرلشخص وسلمه ثم ادعی الحاضر بانه ملکه مع انه کان حاضرآفی مجلس البیع وسکت بلاعذر ینظر الی ان الحا ظر هل کان من اقا رب البائع ام لا فان کان من اقاربه اوزوجها اوزوجه لاتسمع دعواه هذه مطلقا وان کان من الاجانب فلایکون حضوره وسکوته فی مجلس البیع فقط مانعا لدعواه بل بعد حضوره وسکوته فی مجلس البیع بلاعذران تصرف المشتری فی ذالک الملک تصرف الملاک بناء اوهدما اوغرساور آه الحاضر ثم بعد ذلک ادعی بقوله هذاملکی اولی فیه حصة لاتسمع دعواه(المجلة المادة ۱۶۵۹)۔

په شرح المجلة للاتاسی کی وروسته ترزیات تحقیق څخه راغلی دی:
والحاصل ان المصرح به عند السکوت المانع من سماع الدعوى على ماعليه الفتوى ثلاثة انواع سکوت القریب والزوجة عند مجرد اطلاعهما على البیع والتسلیم وعللو اذالک کمافی ردالمحتار عن الرملی بان الا طماع الفاسدة فی القریب اغلب فمظنة التلبیس فیه ارجح فجعل سکوتهماعند مجر د البیع والتسلیم کالاقرار الصریح بان لاحق لهما فی المبیع النوع الثانی سکوت الاجنبی ولوجاراً عند کل من البیع والتسلیم مع تصرف المشتری بعد الشراء وعللو اذالک بان طمع الانسان فی من هو اجنبی عنه نادر فلابد من مرجح یرجح جهةالتزویر وهی ان یتصرف فیه المشتری زماناوالنوع الثالث السکوت بمعنی ترک الدعوى مدة طویلة هی خمس عشرة سنة علی ماورد به الامر سلطانی وثلاثون سنة اوثلاث وثلاثون اوست وثلاثون علی ماذکره الفقهاء وقیل ثلاث سنوات فقط وهو قول مهجور ولایعمل به وعللوا ذالک بان ترک الدعوى جمیع هذه المدة مع التمکن منها یدل علی عدم الحق ظاهر آه شرح المجلة للاتاسی ج۵ ص۱۶۴)

مولانامان شاه مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولانامحمدنوری عفی عنه مولاناعبدالله مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

پس له اویاکاله دعوى دمیراث څه حکم لری

پوښتنه محترم رئیس صاحب دارالافتاء چه میفرمایند علماء شرع بین درباره شخص که دعوى مدت تقریبا هفتادسال در میراث نکرده باشد فعلا از کسی دعوى برای میراث برایش میشود یاخیر برای الله معلومات کنید

(المستفتی مولوی عبد الوهاب هلمندی)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون ملهم الصواب
حکم د دعوى دارث په باب کی دمرور زمان حکم دعامودعاوی وی یعنی کچیری امام قضاة منع کړی وه دسماع څخه ددعوى پسله پنځلسو کلونو
نودغه قضاه په دعوى کی دارث هم منع دی دسماع څخه پسله دیرشو کلونو یادرودیر شو کلو یاشپږدیرشو کلو بناپر اختلاف دعلماء رحمهم الله که دعوى مدعی ونکره قاضی به ئې

دعوى نه اوري كه څه هم امام امرورته وكړي په مجلة المادة ص ١٦٦٠-
لاتسمع دعوى الدين والوديعة وملك العقار والمير اث ومالايعود من الدعاوى الى العامة ولاالى اصل الوقف كدعوى المقاطعة اوالتصرف بالجار تين والتولية المشروطة والغلة فى العقار الموقوفة بعدان تركت خمس عشرة سنة ...آه-
علامة اتاسي رحمه الله تعالى وايي په شرح كى ددغى مادى چى دغه ماده صريح ده چى دعوى دارث مستثنى نه ده يعنى دحكم څخه دنورو دعاوى ونه ده وتلى(شرح المجلة للاتاسي ج٥ ص١٦٨)په فتاوى حامديه كي ليكلى دى:
سئل فى رجل يريد الدعوى على زيد بميراث امه المتوفاة من اكثر من خمس عشرة سنة وزيد يجحد ومضت هذه المدة من بلوغه رشيدا ولم يدعى بذالک ولا منعه مانع شرعى وهما مقيمان فى بلدة واحدة فهل تكون دعواه بذالک غير مسموعة للمنع السلطانى الجواب نعم (الفتاوى تنقيح الحامدية ج٢ ص٥)اوپه ردالمحتار كى ليكلى دى (ج٤ ص٣٨٢) ذكره فى البحر فى كتاب الدعوى عن ابن الغرس عن المبسوط اذاترک الدعوى ثلاثا وثلاثين سنة الخ ثم قال وفى جامع الفتوى عن الفتاوى العتابى قال المتأخرون من اهل الفتوى لاتسمع الدعوى بعد ست وثلاثين سنة الا ان يكون المدعى غائبا اوصبيا اومجنونا وليس لهما ولى اوالمدعى عليه امير اجائرآه ونقل عن الخلاصة لاتسمع بعد ثلاثين سنة آه ثم لايخفى ان هذاليس مبنيا على المنع السلطانى بل هو منع من الفقهاء فلاتسمع الدعوى بعده و ان امر السلطان بسماعها...آه
اوهرچى فتوى دابوسعود ده لكه چى په الدرالمختار على هامش ردالمحتار(ج٤ ص٣٨٠) كى ليكلى ده:
لوامر السلطان بعدم سماع الدعوى بعد خمسة عشرة سنة فسمعها لم ينفد قلت فلاتسمع الان بعدها الابامر الافى الوقف والارث ووجودعذر شرعى وبه افتى المفتى ابوسعود فليحفظ...آه
علامة ابن عابدين په متعلق ددغى فتوى په الفتاوى تنقيح الحامدية (ج٢ص٦) كى ليكلى ويلى دى:
واماما افتى به العلامة ابوسعود آفندى وصاحب البيت كماقيل ادرى فهذه صورته (ميراثه متعلق اللى الخ) تعريب ددغه تركى لفظ دادى (الدعوى المتعلقة بالميراث اذاتر كت بعذر شرعى خمسين سنة فهل تسمع بلاامر عال الجواب تسمع اذاكان العذر قويا...آه
اوپه ردالمحتار كى ليكلى دى (ج٤ ص٣٨١):

ويخالفه (اى استثناء الارث) مافى الخيرية حيث ذكران المستثنى ثلاثة مال اليتيم والوقف والغائب ومقتضاه او الارث غير مستثنى فلاتسمع دعواه بعد هذه المدة وقد نقل فى الحامدية عن المهمندارى ايضاً انه كتب على سوال اخر فيمن ترک دعوى الارث بعد بلوغها خمس عشرة سنة بلاعذر ان الدعوى لاتسمع الابامر سلطانى ونقل ايضاً مثله فتوى تركية عن المولى ابى السعود وتعريبها اذا تركت دعوى الارث بلاعذر شرعى خمس عشرة سنة فهل لاتسمع الجواب لاتسمع الااذااعترف الخصم بالحق... الخ



مولوى عبدالحكيم عفى الله عنه مولانا زمان شاه مولانا عبدالله مولوى نور محمد ثاقب دافغانستان دمركزى دارالافتاء رئيس

پس دمرورله زمانه اوبي وقاضي ته له حاضريدودعوى كول

پوښتنه : درخواستى عبدالواجد ولد حاجى محمدنبى مسكونه ارغنداب حضورته د محترم رئيس صاحب دارالافتاء السلام عليكم ورحمة الله وبركاته يونفر ملک عبدالله زماعارض ماما دى اوپه خپل قضائي مرګ سره مړشوي دى ماته ئې په خپل ژوندکى چې زماموږهم ژوندى وه زمادمورحق راكاوه اوكله چې زمامور مړه شوه بيائې هم حق راكاوه اوزه په دغه باندى حاجى عبدالنبئ اوحاجى محمدكريم عبدالعلى شاهدان هم لرم نوځكه چې وماته دمور دحق ميراث نه دى راكړل شوى هيله كيږى چې وماته اوومه برخه دمور حق رامعلومه كړى چې خپل حصه ميراث يوسم او دغه ملک عبدالله چې مړشو درى لونې اودرى داكازامن اويوزه خوريي په ميراث پاته يو اويوه زمادماما ښځه باته ده نورو تولوخپل ميراث وړى دى يوازى ماعارض دخپلى مورحصه نه ده وړ ى هيله كيږي كه چيرى زماحق كيږى ماته مسئله راكړى په درناوى.

(عبدالواجد)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله تعالى حكم ددعوى دارث په باب دمرور الزمان كښى حكم دعامو دعاوى ودى يعنى كه چيري امام قضاة منع كړى وه دسماع ددعوى ځخه پس له پنځلس كلونونودغه قضاة دميراث په دعوى كښى هم منع دى داوريدو ځخه اوپس له ديرشو كلونو

یادری دیرش کلونو یاشپږدیرش کلونوبناء پر اختلاف دفقهاؤ رحمهم الله تعالی که مدعی دعوی ونکړی نوقاضی به ئې دعوی نه اوری که څه هم امام امرورته وکی راجع قول دشپږدیرش کلونودی هادعوی اوریدل کیږی که چیری مدعی علیه اقرار په حق کاوه که څه هم دغه مذکوره مدة تیرشوی وی یادغه یوڅوعذرونه موجودوی هغه داچې مدعی غائب وی یاصبی وی یامجنون وی اوولی نه لری اویامدعی علیه امیر جائروی په فتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص۵ ط بیروت کی لیکلی دی:

سئل فی رجل یرید الدعوی علی زید بمیراث امه المتوفاة من اکثر من خمس عشرة سنة فزید یجحد ومضت هذه المدة من بلوغه رشیدا ولم یدع بذالک ولامنعه مانع شرعی وهمامقیمان فی بلدة واحدة فهل تکون دعواه بذالک غیر مسموعة للمنع السلطانی؟ الجواب نعم په مجلة الاحکام مادة ۱۶۶۰ کښی لیکلی دی لاتسمع دعوی الدین والودیعة وملک العقار والمیراث ومالایعود من الدعاوی الی العامة ولاالی اصل الوقف کدعوی المقاطعة اوالتصرف بالاجارتین والتولیة المشروطة والغلة فی العقارات الموقوفة بعدان ترکت خمس عشرة سنة-

په شرح المجلة للاتاسی (ج۵ ص ۱۶۶) کښی لیکلی دی:

والنوع الثالث السکوت بمعنی ترک الدعوی مدة طویلة بغیر عذروهذاهوالمذکور فی مواد هذاالباب وقد اختلف الفقهاء فی تحدید هذه المدة فقیل هی ثلث سنوات وهو قول مهجور لاینفذ القضاء به کمافی تنقیح الحامدیة وردالمحتار والخیریة وقیل هی ثلاثون سنة وقیل ثلاث وثلاثون سنة وقیل ست وثلاثون سنة ونقل فی التنقیح عن جامع الفتاوی ان المتاخرین من اهل الفتوی قالو الاتسمع بعد ست وثلاثین سنة الاان یکون المدعی غائبا اوصبیا اومجنونا ولیس لهما ولی اوالمدعی علیه امیر اجائر ایخاف منه -

په ردالمحتارج۴ ص۳۸۱ کښی راغلی دی:

الثالث عدم سماع القاضی لها انما هوعند انکار الخصم فلواعترف تسمع کماعلم مماقد مناه من فتوی المولی ابی السعود افندی اذلاتزویرمع الاقرار-

اوهرچې په الدر المختار بهامش ردالمحتار ج ۴ص ۳۸۰ کښی لیکلی دی فتوی دابوسعود په داسی شان:

لوامر السلطان بعدم سماع الدعوی بعد خمس عشرة سنة فسمعها لم ینفذ قلت فلاتسمع الان بعد ها الابامر الافی الوقف والارث ووجود عذر شرعی وبه افتی ابوالسعود فلیحفظ-

نوعلامة شامی په متعلق ددي فتوی پهالفتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص۶ کي لیکلی دی:
واما مافتی به العلامة ابوسعود افندی وصاحب البیت کماقیل ادری فهذه صورته (میر اثه متعلق اللی الخ) تعریب ددغه ترکی لفظ دادی الدعوی المتعلقة بالمیراث اذاترکت بعذر شرعی خمسین سنة فهل تسمع بلاامرعال الجواب تسمع اذاکان العذر قویاآه فقیدها کماتری بالعذر وهذافی سائر الدعاوی وکتب احمد افندی المهمنداری علی سوال آخر انها لاتسمع الخ۔

هرچې داخبره دمستفتی ده چې زماماما په وقت کښې دژوند وماته دمورحق راکوی نواصل خبره داده چې ده په حضورکی دقاضی دعوی نه وه کړی بی حضور دمجلس دقاضی دعوی لره اعتبار نشته په الفتاوی تنقیح الحامدیة کی راغلی دی ج۲ ص۷ :
سئل فیما اذاترک زید دعواه علی عمرو لحق مدة خمس عشرة سنة ولم یدع زید علیه بذالک عند القاضی بل طالبه بذلک مرارافی غیر مجلس القضاء ویرید زید الان الدعوی علیه بذ الک متعللا بانه ماترک الدعوی فی المدة المزبورة فهل تسمع دعواه ام لا؟الجواب قال فی المنح من کتاب الدعوی وشرطها ای شرط جواز الدعوی مجلس القضاء فلاتصح الدعوی فی مجلس غیره حتی لایجب علی المدعی علیه جوابه آه ومثله فی الدرروقال فی البحر ومنها مجلس القضاء فلاتسمع هی والشهادة الابین یدی الحاکم آه ومقتضی هذه النقول المعتبرة ان دعواه غیر مسموعة بتعلله بانه ماترکت فی المدة المزبورة لعدم شرط الدعوی وهو کونها عند القاضی فافهم ....آه والله اعلم

مولوی محمداخلاص برکتی مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولانااحمدنوری عفی عنه مولوی نورمحمدثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

دمرور زمان خومره موده ده اوشرعي قباله اعتبارلری کنه؟

پوښتنه : نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد څه فرمائي علماء ددین په دی مسئله کی چې یوسړی مځکه رانیسی تقریبا ۳۹ کاله ئې دی اودده اولادوخوری بیا بل څوک دعوی باندی وکی چې په دی مځکه کی زه حق لرم سړی په جواب کی ووای چې دغه مځکه ماپرخپل نام رانیولی ده موروثه نه ده شاهدان دشرایي وفات شوی وی لکن شرعی قباله موجوده وی اوددی قبالی مثنی هم په دفترکی دحکومت موجوده وی آیادغه قباله په شریعت کی حجت گرځی اوکنه؟بینواتوجروا - (المستفتی محمدعیسی)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب
اول سوال جواب دمرور الزمان په مدة کی اختلاف دی څوک دیرش څوک دری دیرش څوک شپږدیرش کاله ورته تعینوی اوڅوک نور عددونه ورته تعینوی خود مجله المادة ۱۶۶۱ مطابق مختار قول شپږدیرش دی ددي څخه وروسته قضاء حق ددعوی نه لری اونه یی دعوی اوریده کیږی خوشرط دادی چې ترک ددعوی په دغه مدة کی بغیر عذر شرعی وی أوکه دعذر شرعی په وجه دعوی پریښوول شوی وه مثلامدعی صغیر وویائې مدعی علیه متغلب وویاداسی نورنو مرورالزمان دوقت څخه دزوال دعذر معتبریږی مثلاصغیر چې هروقت کبیر شو نودمرور الزمان مدة شروع کیږی ترڅوچې ۳۶ کاله تیریږی امادیانة اود الله جل جلاله په نزد په مرورالزمان دچاحق نه باطلیږی که څه هم په سل گونو کلونه تیرشی:
ونقل فی التنقیح عن جامع الفتاوی ان المتاخرین من اهل الفتوی قالو الاتسمع بعد ست وثلاثین سنة الاان یکون المدعی غائبا اوصبیاا ومجنوناولیس لهما ولی اوالمدعی علیه امیر جائرا یخاف منه (شرح المجلة للاتاسی ج۵ ص۱۶۷)ولیس هذامبنیا علی بطلان الحق فی ذلک الخ فلایردمافی قضاء الاشباه ان الحق لایسقط بتقادم الزمان (الاتاسی ص مذکورة)-
ددوهم سوال جواب شرعی قباله اعتبار لری که لاندی ۳ شرطه پکښی کی وه اول داچې مثنی به یی موجوده وی دقاضی په کتاب کښی دوهم دقاضی کتاب به داسی ځای کې محفوظ وی چې دخلقو دچمونو اولاس وهلو څخه به محفوظ وی دریم به قباله کی په خلاف دشریعت حکم نه وی لکه حکم په ملکیت دمغصوب او داسی نور...
ان الاعلام والسند الصادرین من حاکم محکمة یجوز بمضمونها الاسلام و المسند الصادرین من حاکم حکمه صور الحکم والعمل بمطلو به بلابینة اذاکاناعار یین وسالمین من شبهة التزویر والتصنیع وموافقین لاصولهما(المجلة المادة ۱۸۲۱) یعمل ایضاً بسجلات المحاکم اذاکانت قد ضبطت سالمة عن الفساد والحیلة علی الوجه الذی یذکر فی باب القضاء (المجلة المادة ۱۷۳۸) وماذکرناه عن الخانیة محله ماذالم یکن للصک وجود فی سجل القضاة امالووجد فیه فانه یعمل به کما فی حواشی الاشباه (ردالمحتار ج۳ ص۴۴۳) لکن اذا کانت الاعلامات والسندات مطابقة للاحکام الشرعیة والا فلایعمل بها وان روعی فیها احکام التعلیمات مثلااذاکان اعلام الحکم

يتضمن الحكم بدين على الميت (شرح المجلة للاتاسي ج۶ ص۱۱۷) والله اعلم وعلمه اتم



مولوی نذاحمد اسحاقی مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزي دارالافتاء رئیس

مدعي که ددعوی وکیل بل څوک جوړ کړي نودمدعي علیه رضاغواړي کنه؟

پوښتنه : ومحترمو علماء کرامو ته ددارالافتاء اولا السلام علیکم ورحمة الله پریوه مدعی علیه دودنفرو دعوی دمیراث کړي ده دخپلو له طرفه څخه یې وکیل بالدعوی مقرر کړي دی دغه مدعی علیه وایي چې دغه وکیل یوفاسق سړی دی زه دده په وکالت رضائیت نه لرمه یوداسي مسئله غوړامه چې زه په وکالت رضائیت نه لرمه ایازمارضائیت شرط دی کنه ؟زه ومدعیانو ته وایمه چې پخپله دعوی وکړی یابل وکیل صالح ودروی فقط والدعاء مع الاحترام .

(المستفتی حاجی محمد شاه)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

توکیل په خصومت کی جائزدی په ټولو حقوقوکی لکن په دي شرط چې رضاء دخصم به وی اوکچیری اعذار په موکل کی موجودوه ۱- مرض - ۲ غائب وی په هغه مدة دسفرسره - ۳ مرید دسفروی نوپه وجودکی ددغواعذارو بیا توکیل جائزدی بی له رضاء دخصم اودرایه دامام ابو حنیفة رحمه الله تعالی ده اوصاحبین وایي چی توکیل جائزدی په خصومة کی بی له رضاء دخصم اوکڅه هم یوعذر داعذاروڅخه نه وی اوداقول دامام شافعی رحمه الله هم دی اومفتی به قول دامام ابوحنیفة رحمه الله دی اودلیل دامام ابو حنیفة رحمه الله مرجع دی اوغالب متون هم پردغه ترجیح دی اولازم دی عمل په هغه سره لوجه څخه ددفع دضرر اوخاص بیاپه دی زمانه کی چې فاسده زمانه ده :

ای یجوز التوکیل بالخصومة فی جمیع الحقوق بشرط ان یرضی الخصم الااذاکان معذورا بعذر من الاعذار التی ذکرها فحینئذ یجوز بغیر رضاء الخصم وهذاعند ابی حنیفة رضی الله عنه وقالا یجوز التوکیل بالخصومة من غیر رضاء الخصم وان لم یکن به عذر وهوقول الشافعی رضی الله

تعالى عنه(تبيين الحقائق ج۴ ص۲۵۵) (خ) التوكيل بالخصومة لا يلزم بلارضاء الخصم عندح رحمه الله خلافا لهما ثم على قوله قيل ارضاه شرط صحته والصحيح انه شرط لزومه فلايلزم بدونه الاان يكون موكله مريضا اوعلى مسيرة سفر والمنحدرة كمريض هوالمختار الخ (جامع الفصولين ج۲ ص۱۷۹)

(سئل) فى الصحيح الجسد المقيم فى البلد اذااراد ان يوكل وكيلا عنه ليدعى بحق على الاخر هل للمدعى عليه ان يأبى حتى يحضر الخصم فيدعى بنفسه (الجواب) قداجاب عن مثل هذاالسوال العلامة الخير الرملى بما صورته صرح علماء ناقاطبة متوناوشروحا بان الوكالة بالخصومة لاتكون الا برضاء الخصم الاان يكون الموكل مريضا اوغائبا مدة السفر اومريداللسفر او منحدرة ووجه ذلک ان الجواب مستحق على الخصم ولهذايستحضره والناس متفاوتون فى الخصومة فلوقلنا بلزومه يتضرربه فيتوقف على رضاءه وهذامذهب ابى حنيفة رحمه الله تعالى واختاره المحبوبى والنسفى وصدر الشريعة وابو الفضل الموصلى ورجح دليله فى كل مصنف وغالب المتون عليه فلزم العمل به لدفع الضرر لاسيما فى هذاالزمان الفاسد والله تعالى اعلم وقال فى الملتقى وغيره وصح اى التوكيل بالخصومة فى كل حق برضاء الخصم للزومها الاان يكون الموكل مريضا لايمكنه حضور مجلس الحكم اوغائبا مسافة السفر اومريد اللسفر اومنحدرة غير معتادة للخروج الى مجلس الحكم (تنقيح الفتاوى الحامدية ج۱ ص۳۴۶)والله اعلم.

مولانا ندا محمد الحقانى مولانا احمد نورى عفى عنه مولوى نور محمد ثاقب دافغانستان دمركزى دارالافتاء رئيس

مروردزمان په دعوى دميراث كي څه حكم لرى

پوښتنه : يک نفر بنام کاکا متوفى محمد ايوب مرحوم محمد عمر نام دعوى دارد که چنينکه پدرم قبلا پنجاه ساله پيش فوت گرديده، همين مرحوم محمد ايوب بصفت وصى يک ثلث جايداد پدرم تسليم کرده اکنون، همين ثلث جايداد پدر خويش ميخواهم وحال آنکه بگفتار محمد عمر که محمد ايوب مرحوم ثلث جايداد پدرم بصفت وصيت قبضه کرده وفعلا طالب هستند تقريبا پنجاه سال ميشد وحالا محمد ايوب مرحوم بيک زوجه وسه بنات ميراث گرديده طالب فتوى، هستم که همين محمد عمر شرعا دسال متروکه محمد ايوب مرحوم از حصه ثلث وصيت پدرش بعد از پنجاه

سال مستحق شده میتواندیانه وهکذا بهمین بنات الاخ و ابناء ابن الاخ شرعا بصفت عصبه مستحق باقی ورثه شده میتواندیانه؟

بسم الله الرحمن الرحیم

بعون ملهم الصدق والصواب

همین یک نفر بچه کاکا متوفی محمد ایوب مرحوم محمد عمر نام اگر ترک دعوی خود در همین مورد که دارد و در همین مدت پنجاه سال بغیر از موانع شرعی دعوی باشد مثل غیبوبت مدعی ویا خورد گک بودن او ویا جنون یا بودن مدعی علیه امیر جائر وظالم که مدعی از او خائف وترسان باشد پس بناء بر این تفصیل مذکور دعوی شان قابل سماع نیست ونه مسموع میشود عند الشرع چراکه مرور الزمان معتبر برای عدم سماع دعوی بنابر مذهب مختار و مفتی به ۳۶ سال است، وهمچنین اگر یک کسی را بیند دیگر کس که یک چند زمان تصرف میکند در زمین وآن ناظر در وقت حیات متصرف در زمین هیچ دعوی نکند پس از وفات او دعوی شان مسموع نیست اگرچه مدت مرور الزمان هم نباشد

(سئل) فیما اذا کان بید زید عقار متصرف فیه تصرف الملاک من مدة تزید علی اربعین سنة بلا معارض ولا منازع وعمرو مطلع علی تصرفه المذکور ولم یدع بذلک علی زید ولا منعه من الدعوی مانع شرعی فهل لا تسمع دعواه بعد ذلک علی زید ولا دعوی وارثه من بعده ویترک فی ید المتصرف لان الحال شاهد (الجواب) نعم قال فی جامع الفتاوی وقال المتأخرون من اهل الفتوی لا تسمع الدعوی بعد ست و ثلاثین سنة الا ان یکون المدعی غائبا اوصبیا او مجنونا ولیس لهما ولی اوالمدعی علیه امیرا جائر ایخاف منه کذافی الفتاوی العتابیة وفی الخلاصة رجل تصرف فی ارض زمانا ورجل آخر یری تصرفه فیها ثم مات المتصرف ولم یدع الرجل حال حیاته لا تسمع دعواه بعد وفاته (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص۳ وهکذافی شرح المجلة للاتاسی ج۵ ص۱۶۷)والله اعلم وعلمه اتم.

عفی عنه [signature] معلوی محمد اخلاص برکتی [signature]

مولوی محمود میوندوال مولوی ندا محمد احمدزی مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

ذواليد طولاني په مقابل كي دسند شرعي اعتبار لري او كنه

پو بنتنه : شخصی سی سال متصرف وذوالید یک قطعه اراضی میباشد دیگر هم مدعی ملکیت اراضی مذکوره وسند شرعی بدست دارد که محلی بحضر محکمه آنوقت وبورق رسمی هم است آیاذوالیدی طولانی معتبر است ویا سند شرعی درحال که شامی درردالمحتار در بحث کتاب القاضی الی القاضی وهم دراول کتاب قضاء اسناد شرعیه که مامون ومحفوظ از تغیر باشد مطلقا معتبر گفته بلکه تقادم زمان رامؤید اعتبار اسناد شرعیه گفته ومرور زمان راهم فقهاء گفته اندکه بعد سی سال مانع سماع دعوی است.

(المستفتی ملا سید صلاح الدین آغا)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الله تعالی

ذوالیدی طولانی که به سی وشش سال رسیده باشد معتبر است هم درمقابل سند شرعی وهم درمقابل شهود باین معنی که دعوی خارج اگرچه صاحب سند شرعی باشد بعد ازین مدة مسموع نیست قضاة از شنیدن اینچنین دعوی ممنوع میباشند لکن مشروط باین شرط که مدعی ترک دعوی دراین مدت از جهت عذر نکرده باشد مثل صغر سن وغیبوبت مدعی وجور وقدرت مدعی علیه وغیر آن وآنکه صاحب ردالمحتار تقادم عهد رامؤید اعتبار اسناد شرعی گفته منافاة باین مسئله ندارد زیراکه تقادم عهد درردالمحتار درمقابل سجل جدید واقع شده پس آن قدر تقادم معتبر است که دراصطلاح برای آن جدید گفته نشود نه انکه بحد مرورالزمان برسد:

قال المتأخرون من اهل الفتوی لاتسمع الدعوی بعد ست وثلاثین سنة الاان یکون المدعی غائبا اوصبیا اومجنونا ولیس لهما ولی اوالمدعی علیه امیرا جائرا (ردالمحتار ج۴ ص ۳۸۲) الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص۱۲ والمجلة المادة ۱۶۶۱ والظاهر ان وجه الا ستحسان ضرورة احیاء الاوقاف ونحوها عند تقادم الزمان بخلاف السجل الجدید لامکان الوقوف علی حقیقة مافیه باقرار الخصم اوالبینة فلذا لایعتمد علیه (الخ ردالمحتار ج۴ ص۳۴۳)

كه مدعي دخپل ملک دعدم اقرار وكړي په خارج دمحكمه كي نو

پو بنتنه : ذوالید اگر اقرار میدهد بعدم مالکیت خود بلکه بمالکیت غیر خود آیا اگر اقرار خارج محکمه باشد وباقرار عملا هم کاری که دال بعدم مالکیت باشد میکند مثلا بناء خود رادر آن اراضی خراب میکند آیا این اقرار برای مدعی سند میگردد دیانة بحیث اینکه همراه با عملی دال بعدم

ملک ذوالید برده است

(المستفتی ملاسید صلاح الدین آغا)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله تعالى

اگرمدعی دعوی اقرار کند یعنی دعوی کند که مدعی علیه خارج از محکمه بدون حضور قاضی اقرار کرده است این دعوی مدعی مسموع وصحیح نیست مگر اینکه اقرار را در خطی ثبت کرده شده باشد بوجهی که شبهه تزویر وحیله را در آن خط گنجائش نباشد وقرینه اگر قاطعه باشد که مستلزم یقین بود حجت میگردد واگر قاطعه نباشد حجت نمیگردد:

واما اذالم يقر المدعى عليه فى حضور الحاكم بل ادعى المدعى انه اقر فى محل آخر فكما لاتسمع دعواه الاصلية كذلك لاتسمع دعواه الاقرار ولكن اذاكان الاقرار المدعى به قدربط بسند حاو الخط المدعى عليه او ختمه المعروفين ولم تمر مدة مرور الزمان من تاريخ السند الى وقت الدعوى فعند ذلك تسمع دعوى الاقرار على هذه الصورة المجلة المادة ۱۶۷۴ احد اسباب الحكم القرينة القاطعة ايضاً(المادة ۱۷۴۰)

القرينة القاطعة هى الامارة البالغة حدا اليقين(المجلة المادة ۱۷۴۱)

پس له پنځه ویشته کلونو یوورور په بل دعوی کولای شي کنه؟

پوښتنه : ومحترم حضورته ددارالافتاء وعلماء کرامو السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته موږدوو ورونو ته خپل پلار په خپل حیات کی یوه توته مځکه راجلاکړی وه زه صغیر وم اوهغه بل بالغ وه مځکه وهغه بالغ ته تسلیم سوي ده بیازما دصغیر په حالت کی زما ورور دپلاردمرګ څخه وروسته لږ حصه ماته جلا کړه ډیره حصه یي خپله ګرزولی ده اوزما د بلوغ تقریبا پنځویشت کاله کیږی اوس پس له پنځویشت کاله څخه شریعت مقدس ماته اجازه راکوی چې په خپل ورور دعوی وکړم چې تقسیم راسره وکړی اوزما پوره حق وماته ورسیږی او کیا ؟

(المستفتی خدای نظر)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب باسم ملهم الصواب

په مذکور صورت کی مستفتی خدای نظر په خپل ورور باندی دعوی کولای شی چې خپل پوره حق ورڅخه واخلی ځکه چې د مدعی د بلوغ څخه وروسته ترشپږ دیرش کاله پوری مدعی کولاسی چې دعوی وکی دخپل حق دطلب لپاره اوتر ۳۶ کاکله وروسته دعوی نسی کولای مګر په هغه صورت کی که مدعی معذور وو:

وفی جامع الفتوی عن فتاوی العتابی قال المتاخرون من اهل الفتوی لاتسمع الدعوی بعد ست وثلاثین سنة الاان یکون المدعی غائبا اوصبیااومجنو ناولیس لهما ولی اوالمدعی علیه امیرا جائرا(ردالمحتار ج۴ ص۳۸۲ اوشرح المجلة لسلیم باز المادة ۹۸۶) لا یعتبر الز مان الذی مرحال صغر المدعی وانما یعتبر من تاریخ وصوله الی حد البلوغ (شرح المجلة لسلیم باز ص۹۹)

دمیراث دعوی پس له ۴۲ کلونوڅخه حکم لری

پوښتنه : ومقام ته دمحترم رئیس صاحب دارالافتاء السلا م علیکم ورحمة الله وبرکاته محترمه! زماپلارچې وفات وکی زه د ۳ کالو اوزماخور دیو کاله پاته شوه اوزموږ موروثه حق دخپل اکاپلاس کی ووکله چې زه لوی شوم و ماته خپل اکا څلورمه حصه حق راکړی ده اوزماڅخه په دغه لږ حق خط راڅخه اخستی ده چې زه ئې په خپل پوره حق رسولی یم اودخور ذکرنه زماپه حصه کی داکاله طرفه سوی دی اونه په خط ورکولوکی زماله طرفه او وهغی ته څه شی ورکول سوی دی اوزما عاجزه زورنه په رسیدی اوس زمادخور دواده ۴۲ کاله کیږی چې واده شوي ده اوس پس له ۴۲ کالوزماڅخه خپل موروثه حق غواړی اوزمادااکادزامنو څخه نه غواړی نوکه چیری پس له ۴۲ کالودغه زماخور په ماکی حق ولری وماته درویه دشریعت هدایت راکړی چې زه ئې ورکړم اوکه په مرور الزمان د۴۲ کالو چې دی دحق غوښتنه کړي نه ده دحق جلاکید ودحق نه لری وماته درویه دشریعت معلومات راکړی چې زه دخپل خور مخنیوی په وکړم چې زمامشکل حل سی دابه ستالویه وسیله وی

(المستفتی امین الله ولد عبدالحق مرحوم ولایت هلمند)

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین والصلوة علی سیدنا محمد وعلی اله وصحبه وسلم

الجواب باسم ملهم الصواب په مذکورصورت کی چې امین الله دعبد الحق زوی دده دپلارپه حصه کی ورته څلورمه حصه دده داکا له طرفه ورته رسیدلی ده دامین الله دخوردعوی په ده باندی پس له ۴۲ کاله صحت نه لری ځکه چې امین الله دخپلی خورپه حق سره اقرارهم نه دی کړی اومرور الزمان هم بیله عذر شرعی ثابت دی؛

وفی جامع الفتوی عن فتاوی العتابی قال المتاخرون من اهل الفتوی لاتسمع الدعوی بعد ست وثلاثین سنة الاان یکون المدعی غائبا اوصبیا اومجنونا ولیس لهما ولی اوالمدعی علیه امیر اجائرا (ردالمحتار ج۴ ص۳۸۲ وشرح المجلة للاتاسی ج۵ ص۱۶۸ والفتاوی تنقیح الحامدیة ج۲ ص۳)لایسقط الحق بتقادم الزمان فاذااقر المدعی علیه واعترف صراحة فی حضور الحاکم بان حق المدعی عنده فی الحال علی الوجه الذی یدعیه وکان قدمر الزمان علی الدعوی فلایعتبر مرور الزمان ویحکم بموجب اقرار المدعی علیه(شرح المجلة لسلیم باز م ۱۶۷۴)

مولانا احمد نوری عفی عنه

په ذوالیدی کي اعتبار ید مقدم لره دی که مؤخرلره

پوښتنه: د شرح المجلہ لبنانی درباب التنازع بالایدی دیک موضع تحریر گردیده که الید الظاهرة لااعتبار لها ودر موضع آخر مینوسد الید المنقضیة لاعبرة لها که یک مسئله همراه دیگر تضاد دارد استفسار ما این است که دراثبات ذوالیدی اعتبار برای مقدم است یا متاخر۔

(المستفتی مولوی حمد الله فائز)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الله الوهاب

اعتبار برای ید متاخر است اگر شهود از جانبین بود: وفی العیون تنازعا فی شئ فاقام احدهما البینة انه کان فی ید منذ شهر واقام الاخر البینة انه فی یده الساعة اقره القاضی فی ید مدعی الساعة لان ید الاخر منقضیة والید المنقضیة لاعبرة بها عند ابی حنیفة ومحمد رحمهما الله آه

(شرح المجلة لسلیم باز مادة ۱۱۱۱) ۔ ومراد عبارة الید الظاهرة لااعتبار لها آن است که بمجرد ید ظاهره اثبات ملکیت

نیست کہ احتمال غصب وغیرہ دارد۔



عبدالحکیم عفی اللہ عنہ

مولوی عبدالحکیم عفی اللہ عنہ مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

قباله حجت گرزي کنه ؟

پوښتنه : چاچې قباله چې مثنی په محفوظ ځای کښې ولرې په چا باندې حجت ده خاص په مقر اودهغې په ورثه وو او که په عامو خلکو.

(المستفتی مولوی حمدالله فائز)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله تعالى

قباله چې په ديوان کې دحکومت محفوظ ځای ولری او اعتماد پروی چې تغير او تبديل نه دی پکښې شوی نو حجت ده :

وبهذا يتأيد ماقاله المحقق هبة الله البعلى فی شرحه على الاشباه بعد مامر عن البيري من ان هذاصريح فی جواز العمل بالحجة وان مات شهودها حيث كان مضمونها ثابتا فی السجل المحفوظ اه (ردالمحتار ج۴ ص۳۴۳)وعلى هذافيعمل بما وجده القاضی فی ايدی القضاة الماضيين وله رسوم فی دواوينهم ای السجلات آه (شرح المجلة للاتاسی ج۱ ص۱۹۲)په قلم دمحترم مولوی محمد رسول هوتکی بغلانی ترسيم شو۱۲



عبدالحکیم عفی اللہ عنہ

مولوی عبدالحکیم عفی اللہ عنہ مولوی عبداللہ مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

آيا اعتبار شرعي حدودوته دی که نقشي ته؟

پوښتنه : ددوونفروپريوه توټه ځمکه دعوی ده چې په املاک کې ديوه نفرپه حدود کې داخله ده اودبل نفرپه نقشه کې داخله ده آيا شرعی حدود معتبردی اوکه نقشه معتبره ده ؟

(المستفتی بهاؤ الدین حقانی ١٣-٢ - ١٣٧٦)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله الوهاب

دفاتر د حکومت حجة دی چې موافق د مقررات سره د حکومت وی سره لدی چې مخالفت به دقوانین سره د شرعی هم نه لری نو که په نامه د حدود وی او که د نقشی وی په هریوه کی چې دغه شرائط وی هغه معتبر دی او مدار د حکم گرځی:

لايعمل بالخط والختم فقط ولكن اذاكان سالما عن شبهة التزوير والتصنيع يكون معمولا به يعنى يكون مدار للحكم لايحتاج الى الثبوت بوجه اخر المجلة المادة ١٧٣٦ البراءة السلطانية وقيود الدفتر الخاقانية لكونها امينة من التزوير معمول بها المادة ١٧٣٧ يجوز العمل والحكم بمضمون الاعلام والسندات الذين اعطيا من طرف حاكم محكمة بلابينة اذاكانا عاريين وسالمين عن شبهة التزوير والتصنيع وموافقين لاصولهما (المجلة المادة ١٨٢١)موافقة الاعلامات والسندات اى الحجج للاصول بان يراعى فيها التعليات التى نظمتها جمعية المجلة وجرى التصديق عليها من الجانب السلطانى بتاريخ ٣ جمادى الاولى سنة ١٢٩٦ وهى تحتوى على ٢٥ مادة فاذااستوفيت الشروط المبنية فى تلک التعليمات يعمل بها ويحكم بلابينة لكن اذاكانت الاعلامات والسندات مطابقة للاحكام الشرعية والافلايعمل بها وان روعى فيها احكام التعليمات آه(شرح المجلة للاتاسى ج ٦ ص ١١٧)

مولوی نذ احمد الحقانی

مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی احمد نوری عفی عنه

مولوی نور محمد ثاقب د افغانستان د مرکزی دارالافتاء رئیس

كتاب القضاء والشهادات

والي يا اولسوال تعين دقاضي كولاى شي اوكنه

پوښتنه: جناب محترم اميرالمؤمنين صاحب دامت حياته السلام عليكم وبعد استفتاء ميدارم اينكه قضاة كه درولسواليها كه از طرف واليان يا روساى محكمه تعين گرديده كه از طرف وزارت عدليه يا مقام امارت صلاحيت براى ايشان داده شده يانه بهر صورت حكم شان نافذ است يانه درين باره شمار شادات وهدايات لازمه مهربانى كردند

(المستفتى قاضي مولوى عبد الرحمن قاضى ولسوالى جوند ولايت بادغيس)

بسم الله الرحمن الرحيم

دقاضيانو مقررى دامام وظيفه ده خاص امام صلاحيت لري چې قاضي معين كړى اوياهغه څوک كولاي سى چې قاضي مقرر كړي چې امام اذن دقاضي دمقررى ورته كړى وي اووالي دولايت ياولسوالي ياقاضي دمرافعي يابل دمنصب دارانو څخه دحكومت بدون اجازي دامام نسى كولاى چې ديوځاى دپاره دى قاضي معين كړى كچيرى ئې معين كړى قضا ئې نافذنه ده ديو وطن خلق خپل په راى هم نسى كولاى چې په اتفاق يو قاضي مقرركړى حتى كه امام ئې هم نوى لاهم قاضي نسي مقرر كولاى بلكه دغه خلق به اتفاق كوى پر تعين اومقررى دامام وروسته به امام ددوى دپاره قاضي معين كوى حاصل دادى چې نصب اوعزل دقاضيانو خاص الخاص دامام اويادهغه كس چې امام اذن ورته كړى وى كاردي امام چې يو قاضي معين كړى ديوى خاصى ولسوالى دپاره اويا ديو خاص ولايت دپاره اويا ديو خاص فيصله دپاره اويا ديو معين زمانى دپاره نو قضاء ددغه قاضي هم خاص په هغه پورى ده چې امام ورته معين كړى وي په غير كښى له هغه ئې قضاء نافذه نه ده ديو محل قاضي ته چې عذر پيښ سى بل عالم هلته پرخپل ځاى خليفه اونائب كولاي سى چې دامام يانائب دامام دخواه اذن په نيابت ورته سوى وى اوكه اذن نه وى ورته سوى نو قضاء دنائب ئې صحيح نه ده:

القضاء ولاية من الولايات المستمدة من الخليفة باعتباره ممثلا للامة فلابد للقاضي من تعين صادر عن الحاكم الاعلى اونائبه سواء كان عادلا ام جائر اولايصح ان يولى نفسه اويوليه جماعة من الرعية (الفقه الاسلامى ج ٦ ص٧٥٢) الامير الذى ولاه السلطان ناحية وجعل له خراجها واطلق له التصرف فى الرعية ومايقتضيه الامارة له ان يقلد ويعزل وكذا حال السلطان مع الخليفة

امالوقال فلان ولايت رابتو دادم لايلى ذلک لانه تفويض المال (البزازية على هامش الهندية ج۵ ص۱۲۹) اجتمع اهل البلدة وقدموارجلا على القضاء لايصح لعدم الضرورة وان مات سلطانهم واجتمعو اعلى سلطنة رجل جاز للضرورة (البزازية على هامش الهندية ج۵ ص ۱۳۰)

ويتخصص بزمان ومكان وخصومة الخ(الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۴ ص۳۸۰) قوله ولايستخلف قاضى الخ اى ولوبعذر بحر عن العناية فدخل فيه مالووقعت له حادثة فلايستخلف بلاتفويض الخ) ردالمحتار ج۴ ص۳۵۹)(ولايستخلف قاضى) اى لاينصب نائبا لان المفوض اليه القضاء لاالتقليد ولايتصرف فى غير مافوض اليه كالوكيل لايوكل بلا اذن الموكل الا اذافوض اى الاستخلاف اليه بان قيل له من قبل السلطان ول من شئت (دررالحكام فى شرح غررالحكام ج۲ ص۳۸)

والي كه داامير المؤ منين خلاف حکم وکړی؟

پوښتنه : چې يوه نفرمړه ځمکه اباده کړې وى او ۲۲ کاله ئې خوړلې وى اصول دد غه ځمکې اوداؤد اظها رنامه ورکړې وى اوخلقيانو خلقى قباله ورکړې اودمجاهدينوپه وخت کې دمجاهدينو محکمې ورکړې وى اودطالبانو په وخت کې ئې داامير المؤ منين دمکتوبې هدايت سزه سم يوکال اجاره ورکړې وى چې دهغه مکتوب مضمون داسې دى هغه دولتى ځمکې چې دحکومت جنګلات نه وى اوفارم نه وي اوصديان نه وى اومجاهدينو ياخلقيانو چاته ورکړې وى اودوى تصرف پکښې کړى وى ترامر ثانى دى طالبانوته اجاره ورکوى په امرثانى کې موږدغه ځمکه دقانون سره برابر دغه خلقوته ورکوو آيادغسې ځمکه دولايت والى کولاى شى چې ددغه شخص څخه ئې واخلى اوبل شخص ته ئې ورکړې کيا؟ والسلام

(المستفتى بهاؤ الدين حقانى)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب حامد اومصليا

چونکه دمستفتى سوال يوازى دغه وو چې تصرف دوالى دولايت پرخلاف دامردامير المؤمنين نافذدى کنه نوددغه په جواب کښې به ووايو چې دغه تصرف نافذنه دى ځکه چې تصرف دوالى هلته نافذدى چې موافق دامرسره د امير وى ځکه دى دجانب دامير وکيل دى:

(الحاکم وکيل من قبل السلطان لاجراء المحاکمة والحکم المجلة المادة ۱۸۰۰ اصل الحکم

وادارة الشئون ان یکون للسلطان لانه صاحب الامامة الکبری وجمیع من یعمل للعموم یکون وکیلاعنه لکن الوکالة قدتکون بلاواسطة کان یقول السلطان لزید وکلتک بالحکم بین الناس ولاخر بجبایة الاموال وحفظها ولاخر بحفظ الثغور ولاخر بادارة الامور السیاسیة ولاخربعقل المجرمین (وهکذافی شرح المجلة للاتاسی ج۶ص۵۰)والله اعلم وعلمه اتم

کشف د موضوعاتوبه قاضي پخپله کوی که څنګه؟

پوښتنه: که لپاره دقاضی دمدعی بها کیفیت مجهول شی دحکم لپاره سازګارنه وي دچاپه ذریعه به داکیفیت ځان ته معلومه وی دهغو کسانونام څه اوعددڅومره دمسافی بعد یاقرب په لیږلوددي کسانوڅه اثرلری که نه مصارف دموتریاخوراک به ئې په چاوی ایادغوکسانوته دمدعی یامدعی علیه په کورکښی روادی اوکه خیر؟ قاضی په خپله دبعضی موضوعاتودکشف لپاره تلای شی اوکه خیر (بینوابالدلائل توجروابالفضائل) (المستفتی رئیس تمیز)

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب ومنه الصدق والصواب

کله چې دپاره دقاضی کیفیت دمدعی به مجهول شی دحکم دپاره سازګارنه وی نودمعلومیة دپاره به هغه ځای ته پخپله قاضی ورځی که داورته اسانه وی والانوبیاکه دي مأذون بالاستخلافوی نوبل څوک به ولیږي چې دهغه څخه تعبیر په خلیفه اوهم نائب اوهم امین سره کیږي اوپه بعضی کتابونوکی ذکرده چې عدد د دوئ به دوه وی اودقرب اوبعد دمسافت دومره خبره ده چې که مسافت دومره بعید وی چې نه احضار دمدعی به ممکن وی اونه هلته ور تلل دقاضی اویادنائب نوبیا په معلومیت کښي ذکردقیمت هم کافی ده اومصارف به دبیت المال څخه کوی ځکه داعمل دقضاده اودمدعی یادمدعی علیه په کورکښی دی خوراک نه کوی ځکه داارفق بالناس اوابعد عن التهمة ده اوبل داچې دلته ولایة شته اوحرام ده هغه هدیه وغیرها چې سبب ئې ولایة وی په شرح المجلة دسلیم باز کښی په بیان دمعلومیة دمدعی به کښی ذکرکړی:

ثم انه اذاتعذر احضار العین مع بقائها کرحی وصبرة طعام وقطیع غنم فا لقاضی بالخیار ان شا حضر ذالک الموضع لوتیسر له ذالک وان لم یتیسر له الحضور وکان مأذونا بالاستخلاف بعث امینه الی ذالک وهو نظیر ماذاکان القاضی یجلس فی داره ووقعت الدعوی فی جمل لایسع باب

داره فانه يخرج الى باب الدار اويأمر نائبه حتى يخرج يشير اليه الشهود بحضرته ولولم تكن العين باقية بل هالكة اوغائبة بحيث لايمكن احضارها ولاحضور القاضى اونائبه لبعد المسافة اومانع اخر فيكتفى بذكر قيمتها (تكملة ملخصا)(شرح المجلة لسيلم باز ص۹۱۵)

قال شمس الائمة الحلوانى رحمه الله تعالى ومن المنقولات مالايمكن احضاره عند القاضى كالصبرة من الطعام والقطيع من الغنم فا لقاضى فيه بالخيار ان شاء حضر ذالک الموضع لو تيسر له ذالک والافان كان مأذونا بالاستخلاف يبعث خليفته الى ذالک الموضع كذافى المحيط (الفتاوى الهندية ج۴ ص۵)

اوذکرشوی ده همداعبارة په درر الحکام شرح غرر الاحکام ج۲ ص۳۳۱ اوددی درر الحکام څخه نقل سوی ده په تکمله درد المحتار کښی ج۱ ص۳۲۰

وان كان التعذرلكونه يحتاج فى احضاره الى مؤنة ومصرف فالقاضى مخير ان شاء حضر الى موضعه يشار اليه فى الدعوى والشهادة ويحكم به هناک والا فان كان مأذونا بالاستخلاف ارسل خليفته فيحكم الخليفة والا بعث امينا ليشار اليه فى الدعوى والشهادة بحضوره فاذاسمع يخبر القاضى بذالک فيقضى باخبار امينه وحده انقروى عن القنية قال وفى الثانى من دعوى التاتارخانية معزيا للينابيع وكان شيوخنا يقولو ن ان شاء حضر عندها وانشاء بعث اليها امينين من امنائه... آه(شرح المجلة للاتاسى ج۵ ص۲۶) وتعليل النبى صلى الله عليه وسلم دليل على تحريم الهدية اللتى سببها الولاية فتح قال فى البحروذكر الهدية ليس احترازيا اذيحرم عليه الاستقراض والاستعارة ممن يحرم عليه قبول هديته كمافى الخانية آه قلت ومقتضاه انه يحرم عليه سائر التبرعات فتحرم المحاباة ايضا الخ (ردالمحتار ج۴ ص۳۴۵)

اوپه هدايه کښی په کتاب القسمة کښی ج۴ ص۴۰۸ - ۴۰۹ باندی ذکردی چې هغه عمل چې دجنس دعمل القضاء څخه وی چې قطع دمنازعة پری راځی اومنفعة عامه وی نوهلته رزق پربيت المال ده اوبل داارفق بالناس اوابعد عن التهمة ده ۱۲

مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولانا محمد مسلم حقانی مولانا عبدالله مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

بیله رسمي محکمې فیصله ملزم ده که نه ؟

پوښتنه : عارض ملافدامحمد ولایت زابل ولسوالی میزانه بحضور جناب علیقدر محترم المقام رئیس صاحب عالی تمیز السلام علیکم ورحمة الله محترم رئیس صاحب عالی تمیززه ملافدامحمد داعرض کوم چې فیصله بی له محکمې رسمي صادره سیي هغه قابل داعتبارده که نه ده ؟

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب بعون الله الوهاب

فیصله قابله داعتباریعنی ملزم ده چې له سلطان اویاقاضی اویامحکم دخواه وی که امیر دبلد فیصله وکړه اودسلطان له خواتفویض ورته سوی ووفیصله ئې ملزم ده که خلیفه دقاضی فیصله وکړه اوقاضی ته دسلطان له خوادغسی تفویض سوی وواوقاضی هم وخلیفه ته دغسی اجازه کړی وه فیصله ئې ملزم ده :

وفی النوازل السلطان اذاحکم بین الاثنین لاینفذوفی ادب القاضی للخصاف ینفذوهو الاصح وبه یفتی کذافی الخلاصة آه (الهندیة ج۳ ص۳۱۸)وقدمنا ان السلطان لوحکم بین اثنین فالصحیح نفا ذه آه (ردالمحتار ج۴ ص۳۷۳) واما الحاکم فهو اماالا مام اوالقاضی اوالمحکم ه (شرح المجلة للاتاسی ج ۶ ص۱۱ ردالمحتار ج ۴ ص۳۳۱ الحاکم هو من عینه و نصبه السلطان لاجل فصل و الدعوی والمخاصمات الواقعة بین الناس وفقا لاحکامها المشروعة (المجلة المادة ۱۷۸۵)

استفید ان السلطان اذارائی الدعوی بین المتخاصمین وحکم بها موافقا لاصولها المشروعة صح بالاولی لان القاضی وکیل عنه (شرح المجلة للاتاسی ج۶ ص۱۲)الحاصل ان السلطان اذانصب في البلدة امیراًوفوّض الیه امرالدین والدنیاصح قضاء ه-

(ردالمحتارص۳۸۳ج ۴) ولایستخلف قاضي نائبا الا اذافوض الیه صریحاکول من شئت اودلالة کجعلتک قاضی القضاءوالدلالة ههنا اقوی لان فی الصریح المذکوریملک الاستخلاف لا العزل وفی الدلالة یملکهما.(الدر المختار علی هامش ردالمحتارص ۳۵۹ج ۴)

واذانهی الامام القاضی عن الاستخلاف لم یکن له ان یستخلف وان اذن له فیه استخلف علی مقتضی الاذن ولایستخلف القاضی اذا مرض اوسافرالاباذن الخلیفة لان الخلیفة انمافوض التصرف الیه برأیه الابرأی غیره فلایملک ان یستخلف الاباذنه وکذلک الخلیفة اذاامر القاضي ان یستخلف خلیفة یحکم فامر رجلایحکم بین الناس جازفان قضی خلیفة ولم یکن امره الامام بذلک لم یجز اه

(معين الحكام ص ۲۶)الباب الرابع والعشرين فى التحكيم تفسير تصير غيره حاكمافيكون الحكم بين الخاصمين كالقاضى فى حق كافة الناس وفى حق غيرهمابمنزلة المصلح كذافى محيط السرخسى اه (الهندية ص۳۹۷ج ۳) كماان حكم الحكام لازم الاجراء على جميع من كان فى ولايتهم كذلک ينفذحكم المحكمين على من حكمهم فى شان الذى حكمهم به ومن ثم ليس لاحدالخصمين ان يمتنع من قبول الحكم الذى صدرمن المحكمين اذاكان موافقا لاصوله المشروعة (المجلة المادة ۱۸۴۸)

(تنبيه) دغه موجوده واليان دولاياتو اوولسوالان دولسواليو فيصلى په مابين كى دخصومو نسى كولاى ځکه چى په ولاياتو اوولسواليو كى قاضيان مقررسوى دى هغه ته تفويض سوى دى داحكامو شرعية والحاصل ان السلطان اذانصب فى البلد اميرا وفوض اليه امر الدين والدنيا صح قضاؤه واما اذا نصب معه قاضيا فلالانه جعل الاحكام الشرعية للقاضى لا للامير وهذاهو الواقع فى زماننا (ردالمحتارج ۴ ص ۳۷۳)

مولوى عبدالحكيم عفى الله عنه مولانا احمد نورى مولانا نازمان شاه مولانا عبدالله مولوى نور محمد ثاقب دافغانستان دمركزى دارالافتاء رئيس

دولايت اومحكمي له خوامامورشوى رسمي بلل كيږى كنه؟

پوښتنه : دولايت اومحكمي لخواچي يوڅوک مامورشي هغه رسمي بلل كيږى كنه ؟
(المستفتى ملافدامحمد ولايت زابل اولسوالى ميزانه)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب

كچير يوڅوک وليږل سى دولايت لخوااوياد محكمى لخوادپاره دمطلق كشف الحال نودغه ليږل جائز دى خواه دسلطان لخوااذن وى اوكه نه كچيرى ليږل دپاره دفيصلى اوحكم دى نوپه دغه صورت كى اذن د سلطان اوتفويض شرط دى:

وان كان التعذر (اى تعذر احضار المدعى به) لكونه يحتاج فى احضاره الى مؤنة ومصرف فالقاضى مخير ان شاء حضرالى موضعه ليشار اليه فى الدعوى والشهادة ويحكم به هناک والاان كان مأذونا بالاستخلاف ارسل خليفة فيحكم الخليفة والابعث امينا ليشار اليه فى الدعوى

والشهادة بحضوره فاذاسمع يخبر القاضى بذالک آه(شرح المجلة للاتاسى ج۵ ص۲۶)



مولوی عبدالحکیم عفی اللہ عنہ مولانا احمد نوری مولانا زمان شاہ مولانا عبداللہ مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

شهودکه دمفتي په مخکي تيرشي اوقاضي فيصله وکړي نو

پوښتنه : شهودچي بيله قاضى ومفتى ته تيرشى اوفيصله قاضى صادره کړى داقابل داعتبارده که نه ؟

(المستفتى ملافدامحمد ولايت زابل ولسوالى ميزانه)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب شهودچى ومفتى ته شاهدى اداکى که مفتى چيرى دقاضى مأذون لخواه څخه نائب وونودغه اداشاهدى معتبرده اوکه نائب نه وونونه ده معتبرځکه چى اداشاهدى وحاکم ته معتبردى خواه سلطان وى ياقاضى وى يامحکم وى مفتى له دروحاکمانوڅخه نه دى:

الشهادة هى الاخبار بلفظ الشهادة يعنى يقول اشهد باثبات حق احد هو فى ذمة الاخر فى حضور الحاكم (المجلة المادة ۱۶۸۴)قوله فى حضور الحاكم المراد منه ان يكون الاخبار فى مجلس الحكم ثم ان كان الحاكم منصوب الامام وجب ان تكون الشهادة فى المجلس الذى عينه له الامام للحكم وفى محل ولايته وان كان محكما من المتداعيين فلايتقيد حكمه فى مجلس دون مجلس بل كل مجلس حكم فيه كان مجلس حكمه فوجب ان تكون الشهادة فيه كمافى التكملة (شرح المجلة للاتاسى ج۵ ص۲۰۰)ويقضى النائب بماشهد وابه عند الاصل وعكسه (الدر المختار على هامش ردالمحتارج۴ ص۳۹۶)للنائب ان يحكم بالبينة التى سمعها الحاكم وللحاكم ايضاان يحكم بالبينة التى استمعها نائب ومن ثم لوسمع الحاكم البينة فى دعوى واخبر بها نائبه كان لنائبه ان يحكم باخبار الحاكم من دون ان يعيد البينة وكذااذاكان النائب مأ ذونا بالحكم فسمع بينة فى دعوى وانهى الامر الى الحاكم كان للحاكم ايضا ان يحكم بدون اعادة البينة امااذالم يكن النائب مأذونا بالحكم بل كان مأمورا باستماع البينة للتدقيق والاستكشاف فقط فليس للحاكم ان يحكم بانهائه بل يلزمه ان يستمع البينة بالذات (المجلة المادة ۱۸۰۶) والله تعالى اعلم-

(تنبیه) کچیری حاکم نائب وه په یوه حادثه کی که دغه نائب مأذون بالحکم وونو هغه شاهدان چی نائب ته تیرسی نائب ئې حاکم ته ورسوی دحاکم دحکم دپاره اعادة دشاهدانو ضروری نه ده اوکه نائب مأذون بالحکم نه وونودحاکم دحکم دپاره اعاده دشاهدانو ضروری ده .



مولانانان شاه مولوی احمدنوری مولوی عبدالله مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

بي دقاضي له حضوره اقرار صحت لري کنه؟

پوښتنه : څه وايي علماء دين ومفتيان شرع متين په دی مسئله کی چې اقرار کول ديو شخص دقاضی بیله حضوره صحیح کیږی که څنګه؟ که زمونږ طرفته يو درحمت نظروکی معلومات راته راکی ډیر مهربانی به مووي والسلام.

(المستفتی علماء محکمه باغران)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله الوهاب

اقرارکول ديو شخص په مال سره دپاره د بل چاپی له حضوره څخه دقاضی داصحیح د ه اوپراقرار کونکی باندی لازم ده چې اداء به کوي ددغه مال لکه په بدائع الصنائع (ج۷ ص۲۲۳) کښی لیکلی دی:

واماحق العبد فهو المال من العين والدين والنسب والقصاص والطلاق والعتاق ونحوها ولا يشرط بصحة الاقرار بها مايشترط لصحة الاقرار بحقوق الله تعالى وهى ماذكرنامن العدد ومجلس القضاء والعبارة حتى ان الاخرس اذاكتب الاقرار بيده اواومأ بما يعرف انه اقرار بهذه الاشياء يجوز الخ اوپه (الفتاوى الكاملية ص۱۵۲) کښی لیکلی دی سئلت عن وصى سمع من اقرار الميت حال حياته ان لفلان عليه كذافهل يجوزله ان يدفع ذالک الدين بدون قضاء قاضى؟ الجواب مافى كتاب آداب الاوصياء وهذانصه وصي علم الدين باقرار الميت اوبالمعاينة له ان يؤ دى وان كان بالشهادة لالان يقضى به... الخ

اوپه الفقه الاسلامى وادلته (ج۶ ص۶۱۹) کښی لیکلی دی:

واماحقوق العباد ای حقوق الافراد فانواع منها حق طلب واستیفاء القصاص اوالدية ومنها الحق فی الاموال النقدية اوالعينية ومنها الحق فی الطلاق وحق الشفعة والنسب ونحوها ولايشترط لصحة الاقرار هذه الحقوق الفردية مايشترط للاقرار بحقوق الله تعالی من التعدد وكونه فی مجلس القضاء النطق بعبارة صريحة وانما يصح الاقرار فيها من الاخرس كما لايشترط لصحة الاقرار بها الصحو فيصح اقرار السكران بها وهذه الحقوق تثبت مع الشبهات بخلاف حقوق الله تعالى. والله اعلم بالصواب

مولوی زمان شاه مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی عبدالله مولوی احمد نوری مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

آیادیوی محکمي فیصله امیر عملي کولای شي؟

پوښتنه : دیوی محکمی فیصله دامیر په امر عملی کیداشی ؟ بیله دی چي دمرافعی اود تمیز حق ورکړای شي.

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله الوهاب


دیوی محکمی فیصله دامیرپه امرعملی کیدای شی اودا بالکل صحیح ده ځکه په قضاء کښی دسلطان اوامیر لخواتقیدات اوتخصیصات په زمان اومکان اوهم بعضی استثناءات صحیح کیږی اوهغه معتبریږی حتی کچیری سلطان امرصادرکړی چې په یوه مسئله کی دی عمل وشی په رای دیوخاص مجتهد دمذهب نوقاضی لره جائزنه ده چې عمل وکړی په دی مسئله کښی په رایه دبل مجتهد باندی په شرح المجله دسلیم باز ص۱۱۶۷ کښی لیکلی دی:

(المادة ۱۸۰۰) القضاء يتقيد ويتخصص بالزمان والمكان واستثناء بعض الخصومات وذلک لان القاضی وكيل عن السلطان والوكيل يستفيد التصرف من موكله فاذاخصص له تخصص واذاعمم تعمم (حامدية)-

اوپه ص۱۱۶۹ کښی لیکلی دی:

وكذلک لوصدرالامر السلطانی بالعمل برأی مجتهد فی مسئلة لان رايه بالناس ارفق ولمصلحة

العصر اوفق فليس للحاكم ان يعمل برءى مجتهدآخر يخالف رأى ذلک المجتهد واذاعمل لاينفذ حکمه وذلک لان امرالسلطان متى صادف فصلامجتهد افيه نفذ امره (درمختار) والله اعلم بالصواب.



مولوی نذ احمد اسحاقی مولانا احمد نوری عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

دوسيي چي له اولسوالي څارنوالي

ته بيا محکمي ته ځي آياداکتاب القاضي الي القاضي دی کنه؟

پوښتنه :ومحترمواعلماء کراموته ددارالافتاء السلام عليکم وايم وبعد محترمو قدرمنو ستاسودلوړ حضورڅخه داهيله کيږی چي ددوسييوپه باب بايد داووايم چې دغه دوسيئي چې دهرات يافراه يانيمروزياد کندهار ولسواليوڅخه وڅارنوالی ته راځی بيا محکموته ځی نودغه دوسيی په طريقه دکتاب القاضی الی القاضی نه دي چې اخری قول دامام ابويوسف صاحب دادي چې شاهدان به شاهدی آداءکوي پردي چې دغه کتاب اومهر دفلان قاضی دي بينوا توجروا –

(المستفتی دمرافعی څارنوالی څارنوال مولوی الله نظر)

بسم الله الرحمن الرحيم

جواب د استفتاء دارنګه دی کتاب اوخط دقاضی يابه ووالی ته اواميرته استه وی يابه وه بل قاضی ته ليږی که چری خط ووالی ته استوي چې ورسيدی ووالی ته شاهدان نه غواړی چې دغه خط دفلان قاضی دی لکن ښه کاردي چې شاهدان شاهدي ادا کی خوضروري نه دي ولی چې تکليف دي هرسړی وه مجلس ته دامير نشی رسيداي نودضرورة په خاطر شاهدان نه غواړی لکن دغه ضرورت هلته دي چې ښارونه دقاضی اودامير جلاجلائې که يوښاروبياضرورت نشته شاهدان غواړی:

هکذافی تبيين الحقائق (ج۴ ص۱۸۵) ولکن استحسنو اذلک للعادة فان القاضی يکتب الی الوالی ويستعين به فيماعجز عن اقامته فی کل وقت ولوشرط ذلک لحرجو الان کل احد لايحضر مجلس الامير فيشهد والامير لايمکنه التفحص لکن هذه الضرورة والعادة فيما اذاکان الامير فی

مصر آخر غير المصر الذي فيه-
او کچیری خط دقاضی و قاضی ته وو ییابه یا خصم اقرار کوي چې داغه خط دفلان قاضی دي په حق دفلان واقعی کښی یابه خصم منکروی کچیری اقرار کوي بیا شاهدان نه غواړی:
(هکذافی طحطاوی ج۳ ص۲۱۰)ولا یقبله الابحضور الخصم وشهوده الااذااقر الخصم فلاحاجة الیهم ای الی الشهود قوله الااذااقر الخصم آه انه کتاب القاضی فحینئذ یستغنی عن الشهادة حموی
(هکذاقی البحرالرائق شرح الکنز الدقائق ج۷ ص۴)
او که چیري خصم اقرارنه کوي بیادوه قسم حال دی یابه خط مستبین مرسوم اوعلامه داره وي یابه نه وي کچیری مستبین اوعلامه داره وو بیا شاهدان نه غواړي :
هکذا فی العقود الدریة ج۲ص۱۹ قالو االکتاب علی ثلاث مراتب ۱ مستبین مرسوم وهوان یکون معنونا اي مصدرا بالعنوان وهوان یکتب فی صدره من فلان الی فلان علی ماجرت به العادة فهذاکا لنطق فلزم الحجة ۲ مستبین غیر مرسوم آه اوعلی الکاغذ لاعلی وجه المعتاد فلاحجة الابانضمام شئ اخر الیه کا لبینة والاشهاد وقیل الاملاء بلااشهاد لایکون حجة والاول اظهر وهکذافی ردالمحتار ج۴ ص۳۹۲ ویستغنی منه ایضاً ماقدمناه وهوما اذاکان علی وجه الرسالة مصدرا معنونا وهو ان یکتب فی صدره من فلان الی فلان وهکذافی ص۳۹۳ قال فی خزانة الاکمل اجاز ابویوسف رح ومحمد رح العمل بالخط فی الشاهد والقاضی والراوي وان لم یکن الصک فی ید الشاهد لان الغلط نادر واثر الغلط یمکن الاطلاع علیه-
او کچیری پر داغه سوابق مذکوره رقم نه وی بیاشاهد غواړي هکذا فی الفقه الاسلامی ج۶ ص۴۹۳ وقداشترط علماء المذاهب

مدعي ته دشاهدانو حاضرولو لپاره باید څومره وخت ورکول شي

پوښتنه : به ریاست محترم دارالافتاء السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته محترما لطفا خواهش میشود که اگر شخصی می خواهد که شاهدان خود راحاضر دارم وقت برایم داده شود بناء ازروی شریعت غراء محمدی چند وقت برایش داده میشود ازروی کتاب برای ما معلومات بدهید تاطبق قانون شریعت برایش اجازه داده شود تاشاهدان خود را حاضر دارند والسلام
(مولوی سید محمد عضو ریاست استیناف)

بسم اللّٰہ الرحمن الرحیم

الجواب حامداو مصلیا

که یو څوک ووایي چې زه پرخپله دعوی شاهدان لرم او هغه دلته په ښار کي دی نودری ۳ ورځی به وخت ورکول کیږی څوچې دی خپل شاهدان حاضره وی او په دغه دری ۳ ورځی کی به مدعی علیه یعنی منکرته قسم نه ایښوول کیږی بلکه دمدعی علیه څخه به یوثقه اوبااعتباره ضامن اخستل کیږی څوچې دی خپل شاهدان حاضروی اوکه یی وویل چې زه شاهدان لرم ولیکن غائب دی یامریضان دی نودی شاهدانو ته اعتبارنشته بلکه منکرته به قسم ایښوول کیږی او اندازه دغیبة اندازه دسفرده یعنی که شاهدان داسی ځای وه چې ترهغه ځایه مسافت دسفرنه وو هغه حاضر بلل کیږی دالازمه نه ده چې په ښارکی به وی :

قوله (ولوقال المدعی لی بینة حاضرة وطلب الیمین لم یستحلف وقیل لخصمه اعطه کفیلا بنفسک ثلاثة ایام) کیلایغیب نفسه فیضیع حقه الخ والتقدیر بثلاثة ایام یروی عن ابی حنیفة رح وهو الصحیح کذافی الکافی وصحح فی الخا نیة انه الی جلوس القاضی مجلسا اخرالخ البحر الرائق ج۷ ص۲۱۰ وهکذافی الفتاوی الهندیة ج۴ ص۱۴)وفتح القدیر ج۷ ص۱۸۰ والاختیار لتعلیل المختار ج۲ ص۱۱۲ وردالمحتار ج۴ ص۴۷۴ وقید بحضور ها لانها لوکانت خارج المصر فانه یحلف اتفاقا وفی المجتبی وقدرت الغیبة بمسیرة السفر البحر الرائق ج۷ ص۲۱۰ وهکذافی الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج۴ ص۴۷۴ –

اوتطبیق په مابین کی ددی دوو قولوچې څوک دری ۳ ورځی وخت ورکوی اوڅوک ترمجلس ثانی پوری دقاضی په دی ډول کیږی چې په هغه وقت کی قاضی دری ۳ ورځی وروسته قضاء ته حاضري دی لکه البحر الرائق چې په بحث د استمهال دمدعی علیه کښی وایی:

ففی البزازیة ویمهله ثلاثة ایام ان قال المطلوب لی دفع وانمایمهله هذه المدة لانهم کانو ایجلسون فی کل ثلاثة ایام اوجمعة فان کان یجلس فی کل یوم ومع هذایمهله ثلاثة ایام جاز فان مضت المدة ولم یأت بالدفع حکم آه البحر الرائق ج۷ ص۲۰۲ واللّٰہ سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتم واحکم

عبدالحکیم عفی اللّٰہ عنه | محمد اخلاص برکتی | دارالافتاء

مولوی عبدالحکیم عفی اللّٰہ عنه مولوی ندا محمد الحقانی مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

شاهدی دتسامع څه حکم لري

پوښتنه محترم رئيس صاحب دارالافتاء څرنګه چې يوسړی په بل سړی دعوی کوی چې تاچپله لورچې لطيفه نوميږی وماته راکړی ده اوهغه مدعی عليه منکردی چې مانه ده درکړی نوموړ محکمه دمدعی څخه شاهدان طلب کړه مدعی وويل چې زموږ په کورکی زماموراوزماخور اوزماورورشاهدان وه چې زماسره ايجاب اوقبول وکړی اوزموږپه کور کی نورخلق هم خبردی چې وريجی اوغوښې زمايې خوړلی دی نوموړ محکمه دغه موراو خور اوورورد مدعی راطلب کړه هغوپه اشهدبالله سره شاهدی اداکړه اودنورو خلقو څخه موپوښتنی وکړی هغوهم وويل چې موږ واوريدل په سماع سره اوپکښی ناست نه وونوموړ محکمه ستاسو څخه فتوی غواړوپه ډير احترام

(محکمه ابتدائيه ولسوالی ډنډ کندهار قاضی مولوی دوست محمد)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الله تعالی

نکاح لره دوه حالته دی يوحالت دانعقاد بل داظهارپه حالت دانعقاد کی شاهدی دفروع اواصول صحيح کيږی اوپه حالت داثبات کی چې انکارراسی بيانه صحيح کيږی:

فيصح فی النکاح شهادة الاصول والفروع ولکن شهادة هولاء وان کان ينعقدبه النکاح الاانه لايثبت بهاعند الانکار فشهادتهم تقع فی حل الزوجة ديانة لاقضاء (الفقة علی المذاهب الاربعة ج۴ ص۱۷)وينعقد بحضور من لاتقبل شهادته له اصلا کماتزوج امرءة بشهادة ابنيه منها وکذااذاتزوج بشهادة ابنيه لامنها اوابنيها لامنه هکذافی البدائع والاصل فی هذا الباب ان کل من يصلح ان يکون وليا فی النکاح بولاية نفسه صلح ان يکون شاهدا ومن لافلاکذافی الخلاصة (هندية ج۱ ص۲۶۷ وهکذافی ردالمحتار ج۲ص ۲۹۷ والاصل عند ناان کل من ملک قبول النکاح انعقد بحضرته ولايظهر عند التجاحد بشهادتهما عند دعوی القريب لانهما لدفع تهمة الزنا لالصيانة العقد عند الجحود کما بسط فی البدائع (الدر المنتقی بهامش مجمع الانهر ج۱ ص۳۲۱ وهکذافی مجمع الانهر ج۱ ص۳۲۱ وهکذافی البحرج۳ ص۸۹)-

اوشاهدی دتسامع په نکاح کی صحيح ده لکن په شرط دشهرة حقيقی ياحکمی اوبل په وقت داداء دشاهدی کی به لفظ داشهد و ايي داسی به نه وايي چې ماله خلقواوريدلی دی اوکه داسی شاهدی اداکی چې موږ نه يوحاضر شوی لکن دامشهورامردی زموږيقين دی

یاهم صحیح دی:
ولایشهدا حد بمالم یعاینه الافی النسب والموت والنکاح والدخول بزوجته وولایة القاضی واصل الوقف وهو کل ماتعلق به صحته وتوقف علیه فله الشهادة بذالک اذااخبره بهامن یثق به من خبر جماعة لایتصور تواطؤهم علی الکذب بلاشرط عدالة اوشهادة عدلین الخ الدرالمختار قوله من یثق آه قال فی الفتوی الصغری الشهادة بالشهرةفی النسب وغیره بطریق الشهرة الحقیقیة اوالحکمیة فالحقیقیة ان یشتمل ویسمع من قوم کثیرین لایتصور تواطؤ هم علی الکذب ولایشترط فی هذاعدالته بل یشترط التواتر والحکمیة ان یشهد عنده عدلان من الرجال اورجل وامرء تان بلفظ الشهادة الخ (طحطاوی ج۳ ص۲۳۷ وهکذا فی ردالمحتار ج۴ ص۴۱۷ وحاشیة علامه ابی الاخلاص علی الدرر ج۲ ص۳۷۵)
وفتح القدیر ج۶ ص۴۶۶)وان فسر الشاهد للقاضی ان شهادته بالتسامع اوبمعاینة الیدردت علی الصحیح الافی الوقف والموت اوقالا فیه اخبرنامن یثق به تقبل علی الاصح خلاصه بل فی العزیمة عن الخانیة معنی التفسیر ان یقولا شهد نا لاناسمعنا من الناس اما لوقالالم نعاین ذلک ولکنه اشتهر عندنا جازت فی الکل وصححه شارح الوهبانیة وغیره (الدرالمختار بهامش ردالمحتارج۴ ص۴۱۸)
(نوټ) هغه اشخاص چې شاهدی یی په وخت دجحودکی نه قبلیږی که په حضور ددوی کی نکاح منعقده شی بیادوی اخبار وهغه چاته وکوی چې شاهدی یی قبلیږی بیاپه تسامع شاهدی هغه چاته رواده چې شروط دتسامع پرځای وی:
وفی البدائع ان الاشهادفی النکاح لدفع تهمة الزنالالصیانة العقد عند الجحودو الانکار والتهمة تندفع بالحضور من غیر قبول علی ان معنی الصیانة تحصل بسبب حضور هما وان کان لاتقبل شهادتهما لان النکاح یظهر ویشتهر بحضورهما فاذاظهر واشتهر تقبل الشهادة فیه با لتسامع فتحصل الصیانة وظاهره ان من لا تقبل شهادته اذاانعقد بحضوره ثم اخبربه من تقبل شهادته جازله الشهادة بالتسامع(البحر الرائق ج۳ ص۸۹ وهکذافی الطحطاوی ج۲ ص۱۱)اوشهرة حکمی هلته معتبردی چی مدعی استشهاد نه کوی اوکه مدعی طلب دشاهدی له شاهدانووکاوه بیانه ده معتبر ولکن هذااذاشهدا عنده من غیر استشهادالذی قال انافلان ابن فلان الفلانی حتی اذالقی رجلین عدلین شهدا عنده علی نسبه من غیر استشهاده وعرفاحاله وسعه ان یشهدوان اقام هذاالرجل شاهدین عنده شهداعلی نسبه لم یسع ان یشهدٰاعلی نسبه نص علیه محمد فی المبسوط لانه لمالم یعتمد قوله فی شهادته لایعتمد قول من اعتمد هذاالرجل علی قوله ۱۲ (معین الحکام

ص۱۳۵)-



مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولانا عبدالله مولانا احمد نوری مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

شرعي قباله حجت ده اوعمل يي پرمقتضا ضروري دى

پوښتنه: دکند هارولايت دعلماء کراموددارالافتاء محترم رئيس صاحب ته السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته زه حاجی راز محمد دمحمد کريم زوی دناحيه ۵ اوسيدونکی ستاسی درانه حضورته دارنګه عرض لرم محترمه زموږ باغ چې ددامان دولسوالی دخوشاب په کلی کښنی موقعيت لری چې په ۱۳۰۷ کال کښنی ئې شرعی قبالی صورت نيولی دی اودهمدغی قبالی په اساس ئې غرباراه عام موجوده ده چې دوهمه قباله ئې په ۱۳۵۳ شمسی کال کښنی موږپه لاس راوړی ده چې هم ئې حدود غربا عامه لاره ده لکن دکلی خلګ موږته اذيت راکوی چې ستاسی حدودغربا دارغستان وياله ده نوستاسی څخه احترامانه هيله کړودقبالی دمشاهدی پراساس زموږحدودتعين اومخالفت قطعه کړی اودوی چې کومی اوبه يادوی هغه اوبه هم نشته ومن الله التوفيق.

(المستفتی حاجی راز محمد)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب

شرعی قبا له حجت ده عمل پرمقتضی دقبالی شرعی ضروری دی لکن په دی شرط قباله حجت ده اوعمل په ضروری دی چې دحيلواوتزوير څخه ساتلی وی په دی طريقه چې مثنی به محفوظ ځای کی ولری او وخت هم پرتير شوی وی هرچې دکلی خلق وائې چې غربا حدئې و ياله ده داوينائې هغه وخت معتبره ده چې په شرعی حجت ثابت وی خصوص په داسی وخت کی چې اوبه دويالی هم نوی نود قاضی دحکم دپاره نفس قول دخصم معتبر نه دی چې شرعی دلائل ورسره نه وی دغه حکمونه دلاندی عباراتودمعتبروکتابو څخه معلوميږی :

وبهذايتأيد ماقاله المحقق هبة الله البعلی فی شرحه علی الاشباه بعدمامرعن البيری من ان هذاصريح فی جوازالعمل بالحجة وان مات شهودهاحيث کان مضمونها ثابتا فی السجل المحفوظ

آه لكن لابد من تقييده بتقادم العهد كما قلنا توفيقا بين كلامهم (ردالمحتار ج۴ ص۳۴۳)لا يعمل با لخط والختم فقط ولكن اذاكان سالما عن شبهة التزويرو التصنيع يكون معمولا به يعني يكون مدار اللحكم لايحتاج الى الثبوت بوجه آخر المادة ۱۷۳۶ من المجلة اعلم اولان طريق القاضى الى الحكم يختلف باختلاف المحكوم به والطريق فيمايرجع الى حقوق العباد المحضة عبارة عن الدعوى والحجة وهى اما البينة اوالاقرار اواليمين اوالنكول عنه اوالقسامة وهى من نوع ماخذ فيه بالقرائن كماسيأتى اوعلم القاضى على خلاف المفتى به فى زماننا اوالقرائن الواضحة كالمثال فى المادة ۱۷۴۱ كذا فى قضاء ردالمحتارعن ابن الفرس شرح المجلة للا تاسى ج۵ ص۳۸۹ المادة ۱۷۴۱ القرينة القاطعة هى الامارة البالغة حد اليقين مثلااذاخرج احد من دار خالية خائفا مدهوشا فى يده سكينة ملوثة بالدم فدخل فى الداروزؤى فيها شخص مذبوح فى ذالک الوقت فلايشتبه فى ان قاتله هو ذلک الشخص ولايلتفت الى الا حتمالات الوهمية الصرفة كان يكون الشخص المذكور ربماقتل نفسه من المجلة ۱۷۴۱ والله اعلم.

مولانا احمد نوری مولانا محمد اخلاص برکتی مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

دمشهودبه معاينه دشاهدلپاره شرط ده

پوښتنه (زيد) پرعمر باندی دعوی کړي ده چې بکرچې دعمر پلاردی پرمايعنی پرزيد مځکه اواوبه په قطعی بيع سره خرڅه کړيده دزيد پلاس کی کوم سند وجود نه لری دوه تنه شاهدان ئې راوستل چې يوخالددی اوبل والددی خالدو ايي چې زه فقط داسی شاهديم چې بکردعمر پلارماته وويل چې دزيد څخه زماپيسی راوړه ماپيسی راوړی په بيع اواجاره علم نه لرم والدوايي چې زه اوبل نفرچې حاجی طور نوميدی بکرته ورغلو چې زيد وايي پرمامځکه اواوبه خرڅی کړه بکروويل چې زه اوبه او مځکه خرڅه وم دبيعی په وخت حاضرنه وم بله ورځ والد وائي چې زه اوحاجی طور بکرته ورغلو بکر حاجی طورته وويل چې زيد هغه باقی پيسی نه دی راکړی ستاسو څخه ددغه شهادت په باب فتوی غواړو چې آياقابل قبول دی اوکه ندی؟ بينوا توجروا۔ (محكمه ابتدائيه ولسوالی دند)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب

دغه یوشاهد چې وائي چې بکردعمر پلارماته وویل چې دزید څخه ځمارویی راوړه (ماوروړی) نودی کی خوډیر احتمالونه دي چې داپیسی دی دبل شئ وی نه دبیع دمځکی اوداوبواودغه بل شاهد چې وایي چې زه اوبل نفر بکرته ورغلوچې زید وائې پرمامځکه اواوبه خرڅی کړه بکروویل چې زه ئې خرڅه وم نوپه دی کښی هم بیع قطع نشته بلکه داوعده دبیع ده دبل په خوله اوداچې وایي چې بکروویل چې زید هغه باقی پیسی نه دی راکړی نوداهم ډیر احتمالونه لری اومعتبر خوهغه شهادت ده چې معاینه دمشهودبه پکښی موجوده شوی وی لکه په فتاوی هندیه کښی وایي ومنه ان یکون التحمل بمعاینة المشهودبه بنفسه لابغیره الخ (ج۳ص۴۵۰)هاکچیرته شاهدمشاهدا ومعاینه دمالک اودملک وکړه اومالک یي پیژنده په چهره اونوم اونسب اوملک ئې پیژنده په حدودو اوحقوقو دملک سره او داملک په یدده کښی وی اوتصرف پکښی کوی تصرف دملاکو اوډشاهدپه زړه کښی هم واقع شی چې دادده ملک ده نوبیا حلال ده مشاهده لره چې شهادت آداکړی په ملکیت سره دپاره دده په(فتاوی هندیة ج۳ ص۴۵۳)کښی لیکلی دي:وان لم یعاین الملک والمالک ولکن سمع من النا س قالو الفلا ن بن فلان فی قریة کذاضیعة حدود هاکذاوهو لم یعرف تلک الضیعة ولایده علیها لایحل له ان یشهد له بالملک وان عاین المالک دون الملک بان عرف الرجل معرفة تامة وسمع ان له فی قریة کذاضیعة وهو لایعرف تلک الضیعة بعینها لایسعه ان یشهد کذافی الکافی وان عاین الشاهد المالک والملک بان عرف المالک بوجهه واسمه ونسبه وعرف الملک بحدوده وحقوقه وراه فی یده یتصرف فیه تصرف الملاک ویدعی انه له ویقع فی قلبه انه له حل ان یشهد له بالملک هکذافی المحیط الخ والله اعلم

مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولوی محمد اخلاص برکتی مولوی احمدنوری مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

كتاب الصلح

په يوه مصلح صلح راتلاى شي كنه؟

پوښتنه : وحضور ته دعاليقدرمحترم رئيس صاحب دارالافتاء مقام عالى تميز السلام عليكم ورحمة الله محترمه داروزگان په ولا يت كې د ۲ كورنى پريوه اندازه مځكه دعوى ده بيادطرفين په مابين كې يوملاصاحب چې ددى صلح دپاره تعين اوراستولى وود دوى صلح وكړه داسى چې نيم مځكه د دى طرف اونيم مځكه ئې دبل طرف موږ هم يعنى مدعى اومدعى عليه قناعت پروكى پرخپله مځكه ودريدلواوس يوملااوقاضى وايي چې ستاسو صلح صحت نه لرى ولى چې مصلح يونفردى په يونفرمصلح صلح نسى كيداى نوستاسو صلح نقض ده فلهذاستاسو محترم لوړ حضورته موضوع عرض سوه موږته دمعتبرو كتابو څخه لطفا ومرحمة فتوى راكى چې دغه مسئله حل سى والسلام.
(المستفتى محمد نعيم)

بسم الله الرحمن الرحيم

بعون الملک العلى الاعلى
محترم مستفتى صاحب اصلادصلح په معاملاتوكى اتمام اوپورد والى متعلق دى تر رضائيت دمدعى اومدعى عليه پورى ځكه چې داصلح هم يوعقددى دعقودودشرع شريفى څخه اوهر عقد شرعى تماميږى په خپلواركانو سره اركان دعقد صلح هغه ايجاب اوقبول دى اوددوى دواړو تعلق دمدعى اومدعى عليه سره دى نودارااومدارادتماميت دصلح صرف پررضائيت دمدعى اومدعى عليه باندى دى داچې دريم گړى ته مصلح ويل كيږى ياخوبه وكيل وى ددوى دطرف څخه اويابه فضولي وى په دغه عقدكى نوخلاصه داده كه مصلح يونفروى اوكه دير خوچې رضائيت دمدعى اومدعى عليه وى نوصلح تامه ده نقض يې راونه دى په دى وجه چې دريم گړى اومصلح يودى؛
(المادة ۱۵۳۱) الصلح عقد يرفع النزاع بالتراضى وينعقد بالايجاب والقبول لكنه يتم بلاقبول من المدعى عليه اذابدء هو بطلب الصلح بعد اقراره بالدين فقال المدعى صالحتک على ذلک فلايشترط قبول المدعى عليه لان ذلک اسقاط من المدعى ويتم بالمسقط وحده (طحطاوى) شرح المجلة لسليم باز اللبنانى ص۸۲۷ وهكذافى الفقه الاسلامى ج۵ ص۲۹۹ والدرالمختار بهامش الطحطاوى ج۳ ص۳۴۹ والله اعلم بالصواب

مولوي احمد نوري عفي عنه مولوي ند احمد الحقاني

صلح چې واقع سي بيا ما تيږی کنه؟

پوښتنه : صلح چي دڅو کسانو تر منځ وشی تر صلح کولو ورسته دا صلح ماتيږی او کنه او که ماتيږی نو په کوموځايوکي ماتيږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

کله چې مابين کی دجانبين صلح وسی نو يوه جانب لره داحق نسته چې رجوع دصلح څخه وکی او صلح پرېږدی مګرپه يوڅو مسا يلوکی چې صورة دمستفتي دهغه اقسامو څخه نه دی:

اذاتم الصلح فليس لواحد فقط من الفريقين الرجوع المجلة الما دة۱۵۵۶ وهکذافی الفقه الاسلامی ج۵ ص۳۲۱ وبدائع الصنا ئع ج۶ ص۵۳ لان الصلح عقد لازم ليس لا حد هما نقضه الافی مسائل الاولی (شرح المجلة لسليم باز ص۸۴۵).

مولانا احمد نوری عفی عنه مولانا ندا محمد الحقانی

پس له صلحي نه يوفريق حق درجوع لری اونه يي وارث اوبيانه بينه قبليږی اونه اقرار

پوښتنه : څه وايي علماء ددين مبين اومفتيان دشرع متين چې زما پلار عبد القادر له حاجی عبدالکريم سره دشيلي پراوبوباند ی په دغه سنه د ۱۴۴۲ کښې دخپل حق آبه دعوی کړی وه چې مدعی عليه په حال دانکارکي ؤ نتيجة الدعوی داشوه چې په هم دغه سنه کی د علماء کرامو اددوطن دمشائخوپه ذريعه دغه منازع فيها موضع داصلاح له لاری منحل اوفيصله شوه اوپه هم دی طريقه فيصله تحريری ترتيب شوه چې همدغه مدعی بهادسر خاوی اوبه ئې ومدعی عليه ته ورکړی اودمدعی جانب ته ئې دمدعی عليه په يوه خرابه قطعه ځمکه کی قنات کاری ورکړه چې همد غه قطعه محدودشوی دی په تيريدود زمان سره دغه قنات نصف پرمخ بيول شوی اونصف ترهغه معلوم ځای پوری دنتوان په خاطر پاته شويدی اود غه نصف په وقت دحيات دمدعی عليه کښی په اجر ارسيدلی دی کله چې يوڅو کلونه بعد مدعی عليه مړشونود غه متباقی قنات کاری دده پروارث ياپرده باندی په وقت دحيات کښی الزام لری اوکه څنګه يعنی ددغه بدل متباقی کارترهغه معلوم ځای

پوری چې په فیصله کښې تعین شوي دی لازم دی او که نه ؟
(مستفتی عبدالصمد دغزنی دولایت دمقردولسوالی دفتح خیلو دکلی اوسیدونکی)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

صلح چې وشی اوتام وګرځی بیانشته دیو دفریقینو دپاره رجوع ددی صلح څخه اوکله چې مړشی یو دفریقینو نشته دوارث دپاره چې فسخ کړی هغه صلح دمورث خپل حتی بعد الصلح نه اقرار معتبرده اونه کومه بینه قبلیږی:

اذاتم الصلح فليس لواحد فقط من الفريقين الرجوع عنه سواء كان الصلح عن اقرار اوانكار اوسكوت حتى لوادعى عليه شئيا فانكر فصالحه على شيئ ثم اقر المدعى عليه لايلزمه مااقربه وكذالوبرهن المدعى بعد صلحه لايقبل (تكملة) الخ ويملك المدعى بالصلح بدله ولايبقى له حق فى الدعوى وليس للمدعى عليه ايضا ان يسترد بدل الصلح منه (المادة ١٥٥٧) اذامات احد الفريقين فليس لورثته فسخ صلحه لان الوارث قائم مقام المورث وحيث لم يكن للمورث ان يفسخ الصلح الواقع بتراضى الطرفين فليس لوارثه فسخه الااذاظهر فساد الصلح اوبطلانه شرح المجلة لسيلم باز ص٨٤٥ وص ٨٤٦ حتى لوانكر فصالح ثم اقربه وكذالوبرهن بعد صلحه لايقبل الخ (تكملة ردالمحتار ج٢ ص١٧٥) سئلت فيمن ادعى على اخر دينا فانكر وصالحه على شئي ثم اقام المدعى عليه البينة على القضاء اوالابراء هل ينتقض الصلح فالجواب لاينتقض بل هوعلى حاله قال فى الخانية ولوان رجلاادعى مالاعلى رجل فانكر وصالحه على شيئ ثم ان المدعى عليه اقام البينة على القضاء اوالابراء لاتقبل ولايبطل الصلح ويكون الصلح فداء عن اليمين اللتى كانت عليه آه (الفتاوى الكاملية ١٦١) والله تعالى اعلم

مولانامحمد سلم حقانی مولوی عبدالحکیم عفی الله عنه مولاناعبدالله مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

دمحکمي جوړشويو ليکونوڅه حکم دی اوپس له صلحې طرفين درجوع حق لري کنه اويه حدودوکي غلطي شبه ده کنه ابراء دمريض څه حکم لري اومرض موت څه ته وائي؟

پوښتنه: يوشخص خيرمحمد ولدميربازخېل ملک ابراء کړي دی عياني وريروته چې هغه حضرت نور احمدنوردی لکن په دی وخت کښي علاتي وروړ ژوندی ووچې محمد باز ولد ميربازووپس له هغه نه خيرمحمد وفات وکړو لکن دهغه ابراء خط غلط ووپه څومادوسره چې هغه دادی (۱) دکومی يوی محکمی په نامه چې داابراء خط جوړشوي ده هلته ثبت محفوظ نشته (۲) محدودونه ئې غلط دی ۷ قطعی مځکه ده ځنی کښې يو محدود اوځنی کښې ۲ محدوده اوځنی کښی دري ۳ محدوده غلط دی (۳) ذکر شوی مځکه په ابراءخط کي يونيم جريب ده اوپه محدودکی ۷ جريبه ده اويونيم جريبه مځکه يي په صلح کښې اخستی ده (۴) څه وقت پس محمد باز دعوی وکړه ا ومصلحين راغله صلحه ئې وکړه په نصف باندی په حضور دشاهدانوکی چې تواطؤ دهغوپه کذب باندی محال ده ښه په رضااورغبت سره لکن محمدبازفوت وکړو ۱۰ کاله دامځکه دهغه زامنو خوړ له اوفی الحاله ذواليدهم دی لکن پس دلس ۱۰ کاله حضرت نوراواحمدنور دمحمد باز په زامنو دعوی کوی آياداعوی صحيح ده اوکه باطله (۵) دغه ابراء خط په حال دمرض کښی ووله دی وجهی نه دي مشهور په ناجوړ پلارسره وو مفتيان دشرعی دفقه حنفی په رڼاکښی په دی باره کښی څه وائی؟

(المستفتی مولوی محب الله حقانی سالابی)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب ومنه الصدق والصواب

ابراء خط ياهبه خط يانور خطونه چې دمحکمي څخه صادرشوی وی قابل داعتبار اودعمل کولودی که لاندی دری ۳ شرطه پکښی وه (۱) ثبت به يی په محکمه کی موجودوی (۲) دقاضی کتاب به داسی ځای محفوظ وی چې دخلقود چم اوتزوير څخه خلاص وی (۳) په دی خط کی به خلاف دشريعت حکم نه وی اوکه داشروط نه وه لکه دمستفتی په سوال کی چې دکوم خط بيان شوي دی نوقابل داعتبارنه دی لکه ردالمحتار چې وائی:

وماذكرناه عن الخانية محله مالم يكن للصك وجود في سجل القضاة امالووجد فيه فانه يعمل به كما في حواشي الاشباه(ردالمحتار ج ۳ ص ۴۴۳)لكن اذاكانت الاعلامات والسند ات مطابقة

للاحكام الشرعية والافلايعمل بها(شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی ج ۶ ص ۱۱۷)
یعمل ایضاً بسجلات الحاکم اذاکانت قدضبطت سالمة عن الفسادو الحیلة علی الوجه الذی یذکر فی باب القضاء (المجلة مادة ۱۷۳۸ (۲)
دصلح په باره کی باید ووایو چې هرکله صلح وشی نوبیاطرفین لره حق ددعوی نه کیږی اونه ددوی ورثه لره داحق شته چې صلح فسخ اویادعوی وکړی که چیری بطلان افساددصلح نه وو راغلی لکه څنګه چې دراتلونکی عباراتوڅخه دفقهاء معلومیږی:
للصلح احکام هی اولا انقطاع الخصومة والمنازعة بین المتداعیین شرعا فلاتسمع دعواهما بعدئذ وهذاحکم ملازم جنس الصلح(الفقه الاسلامی ج۵ ص۳۲۱)وهکذافی (شرح المجلة لسلیم باز م۱۵۵۶ ص)۸۴۶ اذامات احد الفریقین فلیس لورثته فسخ صلحه(المجلة المادة ۱۵۵۷)فلیس لوارثه فسخه الااذاظهر فساد الصلح اوبطلانه (سلیم باز ص۸۴۶ (۳):
غلطی په حدودوکی یاداچې دابراء خط اودمحدود ترمابین په جریبوکی تفاوت کثیروی نوداشبهة ده اوهغه خط چې په هغه کی شبهه موجوده شی نوهغه قابل دقبول نه دی اوحجة نشی ګرځیدلای:
لایعمل بالخط والختم فقط ولکن اذاکان سالما عن شبهة التزویر والتصنیع یکون معمولا به یعنی یکون مدارالحکم لایحتاج الی الثبوت بوجه آخر (المجلة مادة ۱۷۳۶)(۴):
ابراء دداسی مریض چې هغه ته مرض موت پیښ وی دوه ۲ قسمه ده یوه ابراء دوارث ده یوه ابراء داجنبی ده ابراء دوارث موقوفه ده پراجازه دنوروورثه که هغواجازه وکړه نوصحة لری اوکنه نی لری اوابراء داجنبی په ثلث کی دمال صحیح ده بی له توقفه پراجازه دورثه اوپه زائد کی ترثلث موقوفه ده ددوی پراجازه حاصل داچې ابراء اوهبه اوداسی نورتبرعات دمریض دپاره حکم دوصیة لری:
فان ابرء المریض وارثا توقف الابراء علی اجازة الورثة ولوکان الدین اقل من الثلث وان ابرء اجنبیا والدین یجاوز ثلث الترکة توقف الابراء فی الزائد عن الثلث علی اجازة الورثة لان الابراء تبرع له حکم الوصیة (الفقه الاسلامی ج۵ ص۳۳۲ وهکذافی المجلة مادة ۱۵۷۰) -
اومرض موت ودی ته وایي چې انسان هغه افعال چې پخوایی اجراء کول نشی اجراء کولای اومخ کی ترکال پوره کیدو موت وده ته راشي اوکه دده مرض په حال کی دتزاید اوتغیروی نودوخت څخه دشدة دده مرض اعتبارلری که څه هم تریوه کال ډیر وخت وغواړی اوبعض

كسان داسی تعریف کوی چې مرض موت هغه دی چې غالبا موت پرمرتب وی او صحت یابی ئخنی نادره وی که څه هم بسترنه وی:
قیل مرض الموت ان لایخرج لحوائج نفسه وعلیه اعتمد فی التجرید بزازیة(الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج۵ ص۴۶۷ وهکذافی الفقه الاسلامی ج۴ ص۱۳۴ والمجلة المادة ۱۵۹۵ قوله (والمختار انه ماکان الغالب منه الموت) کذااختاره صاحب الهدایة فی کتابه التجنیس.
(ردالمحتار ج۵ ص۴۶۷)والله اعلم وعلمه اتم



مولوی نذاحمد الحقانی مولوی احمد نوری عفی عنه مولوی نور محمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

پرصلح بدل اخستل اودمدعي علیه دانکار سره صلح کول څنګه دی

پو ښتنه چې بعضی مال پرچاثبوت سي او هغوی بیادنورمال څخه انکارسی او س پو ښتنه داده چې ددغه انکاری مال څخه صلح کول جائزدی کیا؟ ② اخستل دبدل دصلح څنګه دی؟
والسلام(المستفتی عبد الغنی)

بسم الله الرحمن الرحیم

بعون الله العلی الاعلی
سره دانکار دمدعی علیه هم جائز او رواده لکه څنګه چې سره داقرار جائز او رواده کله چې صلح دری ۳ قسمه ده صلح سره داقرار صلح سره دانکار صلح سره دسکوت دری قسمه دصلحی جائزاورو ادی نو کله چې صلح صحیح او جائز شوه پس بدل دصلح اخستل مدعی لره جائزدی په دروسره قسمو دصلح کښی:
الصلح بثلاثة اقسام القسم الاول الصلح عن الاقرار وهو الصلح الواقع عن اقرار المدعی علیه القسم الثانی الصلح عن الانکار وهو الصلح الواقع عن انکار المدعی علیه القسم الثالث الصلح عن السکوت وهو الصلح الواقع عن سکوت المدعی علیه بان لایقرولاینکر (مجلة الاحکام المادة ۱۵۳۵) وهو فی اقسامه الثلاثة صحیح شرعا حتی ان المدعی یملک بموجبه بدل الصلح ولا یسترده المدعی علیه ویبطل حق المدعی فی الدعوی

(شرح المجلة لسليم باز اللبنانی ص٨٢٨ وهو جائز باقرار وسکوت وانکار لاطلاق ماتلونا وماروینا ومابینا من المعنی وبقوله علیه ا لصلوة والسلام کل صلح جائز فیما بین المسلمین الاصلحا احل حراما اوحرم حلالا (تبیین الحقائق ج٥ ص٣٠ ایضاً فی الفتاوی الکاملیة ص١٥٨ ومجمع الانهر ج٢ ص٣٠٨)والله اعلم بالصواب



مولوی احمد نوری عفی عنہ مولوی نذاحمد الحقانی مولوی نورمحمد ثاقب دافغانستان دمرکزی دارالافتاء رئیس

دپیسویه مقابل دخپل میراث

له حق څخه ابراء بیله دعوی صحیح ګڼل کیږی که او حکم دبیع لری که؟

پوښتنه : ازطرف ریاست محکمه مرافعه کندهار برای محترم رئیس صاحب دار الافتاء السلام علیکم -المرام اینکه یک زن که از حق وحصه پدری موروثی برای عم خود ابراء وتبراء در مقابل ١٦٦٠٠٠ آفغانی بعد بدون دعوی صحت داردیانه همین حکم بیع داردویانه معلومات برای پایان بدهید حواله کتاب هم تحریر دارید فقط

(ریاست محکمه مرافعه قندهار)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

داول سوال جواب ابراء ددعوی څخه ددغه موروثی مځکی چونکه ابراء بالعوض ده او ابراء بالعوض حکم دصلح لری نوځکه داوایو چې بغیرله دعوی څخه دغه ابراء صحت نه لری ځکه چې صلح موقوفه ده پردعوی:

الابراء بعوض عند الحنفية هوصلح بمال(الفقه الاسلامی ج٥ ص٣٤٦)الصلح علی ثلاثة اضرب صلح مع اقرار وصلح مع انکار وصلح مع سکوت ...... ووجه الانحصار ان المدعی علیه عندعوی المدعی امان یجیب لدعواه اولا یجیب فان اجاب فلایخلو امان یکون الجواب بالاقرار اوبالانکار فهو الضرب الاول والثانی فان لم یجب اصلا فهو السکوت وکل ذلک جائز عندنا (لسان الحکام بهامش معین الحکام ص١٥٣)-

اوکه ترمخه دعوی نه وه شوی اودابراء خط لیکل شوی وی نودا ابراء هبة بالعوض ده لکه

زوجة ښځې ابراء دخپل مهر څخه وکې اوقصد یې عفوکول دزوج وی دمهر څخه نوفقهاء دلته ابراء هبه بولی ځکه چې عوام دمصطلحات فقهیه امتیازنشی کولاي مثلادهبه بالعوض څخه تعبیر په ابراء کوی اوهبة بالعوض چونکه یوتبرع ده هرڅوک یې هرځای کولای شی سق ددعوی نه غواړی:

ففي الوقت الحاضر الذى لايميز فيه الناس بين المصطلحات الفقهية يمكن جعل الابراء تمليكا ويكون حكمه حكم الهبة(الفقه الاسلامى ج۷ ص۲۸۶)

ددوهم سوال جواب لکه په اول جواب کی چې تیرشول چې دغه ابراء خط ۲ احتماله لری که تر مخه دعوی شوی وه وروسته د ابراء خط لیکل شوی وونودا ابراء چونکه حکم دصلح بالمال لری اوصلح بالمال په لاندی دول حکم لری که چیری دغه صلح سره داقراره دمدعی علیه شوی وه نوصلح حکم دبیع لری اوکه سره دانکار یاسکوت شوی وه نوحکم دمعاوضی لری دمدعی لپاره اوخلاصوالی دقسم څخه دی دمدعی علیه لپاره اوکه دعوی نه وه شوی اوابراء خط لیکل شوی وونوداحکم دهبة بالعوض لری اوهبة بالعوض هبه وی په ابتداء کې بیع وی په انتهاء کې:

اذاوقع الصلح عن اقرار على مال عن دعوى مال معين فهوفى حكم البيع (المجلة المادة ۱۵۴۸) الصلح عن انكار اوعن سكوت هوفى حق المدعى معاوضة وفى حق المدعى عليه خلاص من اليمين وقطع للمنازعة المجلة الماد ۱۵۵۰ واذاوقعت الهبة بشرط العوض المعين فهى هبة ابتداء .... بيع انتهاء (الدر المختار بهامش ردالمحتار ج۴ ص۵۷۹ وهكذافى بدائع الصنائع ج۶ ص۱۳۲ و الفقه الاسلامى ج۵ ص۲۹)-

لکن په هبه بالعوض کی یوه خبره ضروری ده هغه داچې دغه مځکه چې ابراء ځنی شوی ده اوهبه شوی ده دابه دنوری مځکی څخه جلاکیږی اوپس دجلاکیدوبه بیاموهوب له ته تسلیمیږی اوهغه به یې قبض کوی ځکه چې هبه دمشاع صحت نه لری چې په وقت کی دقبض هم پرخپل مشاع والی پاته وی:

وهبة المشاع فيما يقسم لاتنفذ الابالقسمة والتسليم (بدائع الصنائع ج۶ ص۱۲۱) فلاتصح عند الحنفية هبة المشاع اذاكان يحتمل القسمة كالدار والبيت الكبير وتكون الهبة فاسدة فان قسم المشاع وسلم جازت الهبة وهذاشرط صحة للهبة (الفقه الاسلامى ج۵ ص۱۴)و الله تعالى اعلم بالصواب

كتاب الوكالة

آياوكالت وركول دمحكمې په حضور شرط دی

پوښتنه : چې موكلين يووكيل ته وكالت وركوی ددوارو حضور محكمی ته ضروری دی اوكياهرځای موكلين كولای سی چې وكيل ته وكالت وركړی يعنی كه يوموكل وكالت وركړی په حضورد شاهدانو بيله محكمی څخه داوكالت صحي دی اوكيا ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

فقهاء په وكالة كی داشرط ندی ذكركړی چې موكل اووكيل به محكمی ته حاضريږی بلكه دفقهاء دعباراتو څخه دامعلوميږی چې داشرط نه غواړی هرځای كولای سی چې يوڅوک بل سړی وكيل كی ولی بناء دوكالة پرفراخي اوسهولة اواساني باندی ده اوله دی وجهی څخه اتحاددمجلس دايجاب وقبول دوكالة شرط نه دی كيدلاي سی چې ايجاب نن وسی قبول دوكالة بله ورځ اوكيدلاسی چې يوڅوک غائب وكيل دروی:

اتحاد المجلس شرط فی جميع العقود ماعد اثلاثةالوصيةوالايصاءوالو كالة ...واما الوكا لة... فمبنية على التوسعة واليسروالسما حة فلايشترط فيها اتحاد المجلس لان قبولها قديكون باللفظ لقول اوبالفعل بان يشرع الوكيل فی فعل ماوكيل فيه ويصح فيها توكيل الغائب (الفقه الاسلامی ج۴ ص۱۱۳ هكذافی بدائع الصنائع ج۶ ص ۲۰)-

(نوټ) داول سوال دجواب په تفصيل كی بايدازياته كړو چې كله جانبين يوچاته ووايی چې زموږ مابين كی ته تقسيم وكه موږ په راضی يواوهغه هم تقسيم وكی نوداصلح ده يوه جانب لره بيادا حق نسته چې رجوع وكړی اوووايی چې زه داتقسيم نه منم لكه ۱۵۵۶ مادة دمجلی چې وائی:

اذاتم الصلح فليس لواحد فقط من الفريقين الرجوع عنه والله اعلم

مولوی احمد نوری عفی عنہ مولوی نذاحمد الستانی

وكيل ترعمل كولو وروسته معزوليږی اوكنه؟

پوښتنه :وحضورته دعلماء كرامودادارالافتاء السلام عليكم ورحمة الله وبركاته دالله جل جلاله په حفظ كی اوسی ۲ نفراويادير كسان چې يووكيل ته په خپله رضا سره وكالت

شرعي ورکړی دتقسيم دمعلومولود پاره يعني دويش دمعلوميد ولپاره نووکيل چې عمل وکړی

يعني ويش معلوم کړی ترعمل وروسته موکل کولای سی چې وکيل معزول کړی اياترعمل وروسته معزول کيدای سی اوکيا ؟اوکه معزول کيدای سی څوقدرزمانه وروسته معزول کيد ای سی اوکه ګرسره ترعمل وروسته بيانسی معزول کيدای.

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

وکيل چې خپل کاراوعمل پای ته ورسوی په محض پاي ته رسيد لوسره دعمل خپله وکيل معزول کيږی ضرورت وذی ته نسته چې موکل يې عزل کړی:

طرق انتهاء الوکالة ۳ انتهاء الغرض من الوکالة وهوان يتم تنفيذ التصرف الذی وکل فيه لان العقد يصبح حينئذ غيرذی موضوع(الفقه الاسلامی ج۵ ص۱۲۶) يترتب على الوکالة ثبوت ولاية التصرف الذی تناوله التوکيل (الفقه الاسلامی ج۵ ص۹۳)

مولانانذاحمدالحقانی مولانااحمدنوری عفی عنہ

وکيل دغائب پرخپل وکالت پاتيږی ترڅوچي خيانت پکي څرګندنشي

پوښتنه ومحترم ددارالافتاء رياست لوړمقام ته السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته امابعد څرنګه چې زه نيازمحمد دنورمحمد زوی دکندهارولايت د۲ناحية اوسيد ونکی دارنګه عرض وړاندی کوم رام تلوهندو په شير سرخ کي ۴۰۰ انګوری جوی لری تړوله ئې وماته په تسليم راکړی دی اودی وهندوستان ته کډه شوی دی مادغه باغ په اول کال وحافظ آغاته په روزنه ورکی ترکال وروسته هغه بيرته راپريښود مابيرته ومعلم عبدالغنی ته په شراکت ورکی چې نيمايي دهندواونيمايي زمااوستا هغه تر اوسه وماته يوه افغانی هم نه ده راکړی دباغ مالک خوزماڅخه غوښتنه کوی اودغه انګوری جووی ئې پرخپل سرخرابه کړی دی زه په خبرنه يم څکه چی د ا، وائي دغه باغ دهندودی ته هيڅ حق نه لری يودانه واترپمپ او۳ خونی ماپکښی آبادی کړی دی ستاسو دمحترم حضور څخه هيله کوم چې زموږدموضوع په باره کی شرعی فتوی راکړی اوقومندانی ته وليکی چې په دې باب کی اجراءات وکی والسلام.

(مستفتی نيازمحمد ولد نورمحمد)

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الجواب بعون الملک الوهاب

هندوچې په وقت دخپل موجودیت کې نیاز محمد دخپل باغ متصرف تا کلی دی نو بیا بل څوک نسی کولای چې په وخت کښې دغیبوبت دهند ودنیا ز محمد دلاسه دغه باغ وباسی مگر کچیری دنیازمحمد خیانت ظاهر سی نو به قاضی دنیاز محمد څخه باغ اخلی او بل ثقه امین سړی ته به ئې ورسپاری په(الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۱ ص۳۳۹)کښې راغلی دی:

فان العرف فیمابین الناس ان من اراد سفرا یؤکل غیره بقبض دیونه اوبقبض حقوقه علی الناس ویرید بذلک التوکیل بالقائم والحادث جمیعا حتی لایضیع شئ من حقوقه فلمکان العرف صرفنا الوکالة الی الکل وهذانظیر من وکل انسانا بقبض غلاته کان وکیلا بالواجب وبما یحدث وانصرفت الوکالة الی الکل لمکان العرف فان الناس فی عاداتهم یریدون بهذاالتوکیل القائم والحادث حتی لایحتاجون الی تجدید الوکالة فی کل زمان ولایقعون فی الحرج

اوپه (ردالمحتار ج۳ ص ۳۶۰)کښې راغلی دی:

نقل ابن المؤید عن جامع الفصولین لو اخذ القاضی ودیعة الفقود ممن هی بیده ووضعها عندثقة لا بأس به آه وهذایخالف مافی المعروضات الاان یقال ما فیها هوفی حق امین بیت المال فلیس له ذالک وان کان المفقود لاوارث له الابیت المال لان الوارث حقیقة لیس له ذلک فامین بیت المال بالاولی ومانقلناه انما هوفی القاضی الذی له ولایة حفظ مال الغائب والظاهر انه محمول علی مااذارءی المصلحة فی ذلک بان کان من المال بیده غیر ثقة والافهوعبث تأمل-

حاصل دادی چې ددغه باغ متصرف نیازمحمد دی که ئې تفویض دهندوونیازمحمدته په حجة شرعی ثابت وی اوغلات اوحاصلات به وده ته تسلیمیږی اومعلم عبد الغنی ته صرف خپل حصه ده والله تعالی اعلم وعلمه اتم واکمل

مولوی نذاحمد الحقانی مولوی احمد نوری عفی عنہ

کتاب الشفعه

دکان شفعه لری اوکنه ؟

پوښتنه : جناب محترم دمرکزي دارالافتاء فاضل اودانشمند رئیس صاحب السلام علیکم محترمه زمونږدستری محکمی نمایندګی ته یوتعداد ښاری خلک راځی اوداتپوس کوی چې دکان شفع لری که نه؟ موږپه خپل واردالازم وګڼل چې داکار رسمی شکل پیداکړی اوتاسو محترم په دی باب شرعی فتوي دلاندی ټکو په باب صادره کړی (۱) که چیری ددکان څنګ یاشاته کومه مځکه خرڅیږي ددغه دکان مالک اویا کرایه نشین داحق شرعا لري چې دشفع دعوی ئې وکړی اوکه یا اوچې دوکان خرڅیږی دبل دوکان مالک حق لری کنه ؟ امیدواریوچې دخلکودمشکل دحل په منظورپورته معلومات راته راکړی ستاسو مهربانی او مرحمت به وی والسلام

(المستفتی خطیب دستری محکمی نمایندګي مسئول)

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلاهله والصلوة علی اهلها امابعد شفعه په هرهغه شئ کی چی نه نقل کیږی اوثابت دپارد استمراروی یعنی غیر منقول وی لکه مځکه ژرنده کوهی اوداسی نورشیان شته نوکه پرچا باندي بله خونه سربیره وه شفعه لری یعنی که سربیره خونه خرڅه شوه دلاندي صاحب حق دشفع لري اوکه لاندي خونه خرڅه شوه دسربیره خوني صاحب ئې حق لری که څه هم لاري سره جلاوي هم دارنګه که دري دوکانه څنګ پر څنګ لاري وعام لاري ته راوتلی وي یوه سړی لره پرڅنګ ددي درودکانونودادري دوکانونه خرڅ شوه دادڅنګ دوکاندارحق دشفع لری دلاندی مسئلو :

وشرطها ان یکون المحل عقاراالمراد بالعقار ههناغیر المنقول فدخل الکرم والرحاء والبئر وان لم یکن طریقه فی السفل الخ (ج۵ ص۱۵۲من ردالمحتار) لانه التحق بالعقار بماله عن حق القرار الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۵ ص۱۵۳)(ومنها) ان یکون المبیع عقاراوماهو بمعناه فان کان غیر ذلک فلاشفعة فیه عندعامة العلماء سواء کان العقار مما یحتمل القسمة اولایحتملها کالحمام والرحی والبئر والنهر والعین والدور الصغار (الفتاوي الهندية ج ۵ ص ۱۶۰)وعن محمد رح حوانیت ثلاثة یلی بعضها بعضا وباب کل واحد الی الطریق الاعظم ولرجل الی جنب حانت منها حانوت فبیعت الحوانیت الثلاثة فله ان یأخذ بها وهی کالبیوت فی دارواحدة(

بزازیه بهامش الهندیة ج ۶ ص۱۵۹)
اودسرقلفی والاکه همیشه ددوکان مستحق شی په شفعه کي اختلاف دی بهتره داده چې حق دشفع نه لري په قرار دلاندی مسئلی:
بقی لوکان الخلو بناء اوغراسا بالارض المحتکرة اوالمملوکة یجری فیه حق الشفعة لانه لما اتصل بالارض اتصال قرار التحق بالعقار آه قلت ذکره من جریان الشفعة فیه سهو ظاهر لمخالفته المنصوص علیه فی کتب المذهب کما سیأتی فی بابها ان شاء الله تعالی (ردالمحتار ج۴ ص۱۹ والله اعلم)

دفضولي په بیع کي دعوی دشفعي صحت نه لری ترڅوچي مالک اجازه ونکړی

پوښتنه: ددارالافتاء رئیس صاحب دحاجی وزیر محمد اوعبد الله موضوع تاسوته راجع سوه دپوره څیړنی وروسته به تاسی خپل نظر او فیصله موږته راولیږی. والسلام ۶-۸- ۱۳۷۵
(امیر المؤ منین مجاهد ملامحمد عمر)

هوالله المستعان

دافغانستان داسلامی دولت محترم عالی قدر امیرالمؤمنین ته السلام علیکم ورحمة الله و برکاته جناب فضلیت ماب تاسوچې موږته دحاجی عبد الله اوحاجی وزیر موضوع رالیږلی وه هغه موږته په ۲۸ – ۱۳۷۵–۸ راتسلیم شوه زموږدمرکزی دارالافتاء علماء دغور لاندی ونیوله ترڅیړنی روسته موږچې کوم مطلب ته ورسیدو هغه داده چې په فیصله کښې ذکرشوی دی چې بائع هندووه لکن معلوم نه ده چې کوم هندووه خوحاجی وزیر وایي چې هغه هندو تندلال وه دبگوانداس زوم په دوسیه کښې خودیر اوږد جریان ذکرشوی خوموږ به یوه نوی خبره پکښې وکړو هغه داچې تندلال چې زوم دبگوانداس ده هغه خوپه میراث دبگوانداس کښې حق نه لری اودغه تندلال دحاجی وزیر سره بیع په وکالت دورثه دبگوانداس هم نه ده کړی ځکه چې دنن دلال یواقرار خط پروت ده په دوسیه کښې چې دسفارت مهرهم پری لګیدلی هغه ویلی چې ورثه رضایت ونه ښوده اوحاضر نشول چې دابیع ومنی نوکله چې دابیع بلاوکالت شوی ده نوبیع دفضولی بلل کیږی اوپه بیع دفضولی کښې دعوی دشفع نه صحیح کیږی ترڅو اصل مالک اجازه ونکړی لکه چې په الدر المختار علی هامش ردالمحتار کښې په ج۵ ص ۱۵۴ کښې وایی:
وتجب بعد البیع ولو فاسد انقطع فیه حق المالک...آه

اوپه مجلة مادة ۱۲۶ کښې وايي:
يشترط ان يزول ملک البائع عن المبيع:
نو ظاهره داده چې دلته شفع نشته بل خواته شفيع دخپلې شفع داثبات دپاره هم ډير څه ويلي دی البته مونږ مصلحت او مناسب دابولو چې کچيری امير المؤمنين مدظله العالی په خپل صلاحيت او اختيار سره دادواړه دتميز فيصلې معطله کړی ترهغې چې تول جوانب حاضر شی اوحالت روښانه شی بياپه امرد امير المؤمنين جديد دابتداء څخه داموضوع په جريان کښې واچول شی دابه دجنجال په ختمولو کښې مؤثر واقع شی.

مولوی عبدالحکيم عفی عنه ۱۳-۹-۱۳۷۵ مولوی احمد نوری عفی عنه مولانا عبدالله مولانا سلطان شاه مولوی نور محمد ثاقب رئيس دارالافتاء اداره اسلامی افغانستان

دشفعي په دعوی کي که مدعي عليه حاضر نشي دمدعي په جانب فيصله څنګه ده؟

پوښتنه: وحضورته د محترم رئيس صاحب دارالافتاء يونفرپه نامه عطاء الله اوبل په نامه داسدالله نوميړی چې دکل اغا څخه محکمه رانيولی ده تقريبا ۲۰ خرواره محکه ده نوزه حاجي نصرالله اوبل حاجی خان بل آيات الله بل حاجی عبدالکريم نوميږو موږ په دغه ورځ چې خبرسو دشفع دعوی وکړه نوموړی عطاء الله اواسد الله نامي زموږ څخه وتښتيده کابل ته ځان نه حاضروی نوموړ دنوموړی پلار حاضر کی او ۲۰ ورځې موږ وخت ورکړی او پلار هم حاضر نکړه اودست برداره سوه بيا موږ په راديو کی اعلان وکړی اوس غواړو چې دغه مځکه موږته تسليم اوقيمت وحکومت ته ورتسليم کړی ياڅنګه وکړو؟ ستاسو څخه افتاء غواړو په ډير احترام

(محکمه عدليه د ولسوالۍ ابتدائيه قاضی دوست محمد وملامحمد خان)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب محترمو مستفتيانو تاسو په استفتاء کی داسی ليکلی دی چې هغه ورځ چې موږ دشفع دعوی وکړه عطاء الله اواسد الله زموږ څخه وکابل ته وتښتيدل اوس غواړو چې موږته مځکه راتسليم شی اوقيمت وحکومت ته ورتسليم کړو د شريعت منوره له مخې تاسو حق نه لری ترڅوچې مدعيان عليهما حاضرشی اويا ملامت

شي قاضي حکم پرو کوي بیا حق د تسلیم لري ځکه چې پر غائب حکم نه کیږي:
ولایقضی علی غائب ولاله اي لایصح (قوله ولایقضی آه) ای بالبینة سواء کان غائبا وقت الشهادة اوبعدها وبعد التزکیة وسواء کان غائبا عن المجلس اوعن البلد واما اذااقر عند القاضي فیقضی علیه وهو غائب لان له ان یطعن فی البینة دون الاقرار(قوله ای لایصح)لما فی الفتح من ان حضرة الخصم لیتحقق انکاره شرط لصحة الحکم (ردالمحتار ج۴ ص ۳۷۳)-
او هغه عبارت چې په درمختار کی لیکلی دی:
ولوقضی علی الغائب بلانائب ینفذ وقیل لا:
هغه دهغه قاضي حکم ده چې قضاء پر غائب صحیح بولی لکه چې تفسیریي کړی ده:
اي قضی من یری جوازه کشافعي لاجماع الحنفیة علی انه لایقضی علی غائب(ردالمحتار ج۴ ص۳۷۶) والله تعالی اعلم

مولوی عبدالحکیم عفی عنہ مولانازمان شاہ مولاناعبداللہ مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دارالافتاء دولت اسلامی افغانستان

دشفیع ترمرګ وروسته وارث حق ددعوی لری کنه؟

پوښتنه : دعبد الصمد دنظرمحمد دزوی دپنجوایي داوسیدونکی غوښتن لیک دتمیز دعلماء کرامو حضورته السلام علیکم ورحمةالله وبرکاته عالیقدروپنجوایي کی پلار محمد انور دملک دشفع دعوی کوله اوس دغه پلاروفات سو دهغه زوی میرحمزه غواړی چې دعوی وکړی زه په دی هکله ستاسو عالیقدرو دحضور څخه مسئله غواړم چې زوی ئې ددعوی حق لری او که ئې نه لری ؟

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم الجواب ومنه الصدق والصواب
کله چې شفیع مړشی دبیع څخه وروسته اومخکی تراخستلو دهغی مخکی یاسرای چې شفیع یې په شفعه باندي اخلی په مذهب داحنافو رحمهم الله دهغه وارث حق داخستلو په شفعه سره نه لری که چیری قاضی قضاء په شفعه سره د شفیع لپاره نه وه کړی ورنه حق دشفعی وارث لری:

اذامات الشفيع بعدماقضى القاضي له بالشفعة قبل ان يقبض الدار وقبل اوينقد الثمن كانت الدار لورثة الشفيع لان قضاء القاضي بالشفعة بمنزلة البيع ....واذامات الشفيع بعد البيع قبل ان يأ خذ بالشفعة لم يكن لوارثه حق الاخذ بالشفعة عندنا(الهندية ج۵ ص۱۹۸) ويبطلها موت الشفيع قبل الاخذ بعد الطلب اوقبله ولاتورث خلافا للشافعي ولومات بعد القضاء لم تبطل(الدر المختار) (قوله يبطلها موت الشفيع الخ) لانها مجرد حق التملک وهو لايبقى بعد موت صاحب الحق فكيف يورث (قوله ولومات بعد القضاء لاتبطل) لما تقدم متنا انها تملک بالاخذ بالتراضي وبقضاء القاضي (ردالمحتار ج۵ ص۱۷۰)

مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی نذاحمد الحقانی مولانا محمود میوندوال مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

دشفيع دځمکي سره متصله ځمکه که بائع ومشتري ته وبخښي نو ....

پوښتنه :کله چې محمدزی پرما ځمکه خرڅول ۱۰ منه تخم ریزه ځمکه ئې زماپه خوارې کي په بخښنه راکړل هغه ۱۰ منه دمحمد انور سره وبغل ته دی اوهغه بله خوائې راباندی خرڅه کړل اوس ددی مسئله راکړی چې دشفع دعوی ئې صحیح کیږی کنه؟

(المستفتی عبدالصمد)

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون الملک الوهاب

په مذکوره صورت کی دمحمد انور دشفعي دعوی د محمدزی پرمځکه پرمشتری عبدالصمد باندی صحت نه لری ځکه ۱۰ منه تخم ریزه مځکه دمحمد انور سره متصل د محمدزی له طرفه وعبدالصمدته په هبه باندی ورکول شوي ده دهبی ځخه وروسته يي باقی حصه پرخرڅه کړی ده نوپه دی صورت کي د ارض مشتراة اتصال دعبدالصمد دخپلي موهوبی مځکی سره سته د محمد انوردمځکی سره اتصال نشته :

(ومن جملة ذلک) ای ومن جملة الحيل لمنع وجوب الشفعة ان يبين موضعامن الدارويخط خطا ويتصدق عليه بذلک الموضع بطريقه اويهبه ذلک الموضع بطريقه ثم يشتری بقية الدار فلايثبت حق الشفعة للشفيع وانما قال يخط خطا کی لاتكون هذه هبة المشاع فيما يحتمل القسمة وانمالايكون

فی هذه للشفیع حق الشفعة لان المشتری صار شریکا والشریک مقدم علی الجار وانما شرط ان یتصدق علیه بطریقه لانه اذالم یتصدق بطریقه صارالمتصدق علیه جاراللدار المشتراة فلایتقدم علی الجار غیران هذه الحیلة انماتکون حیلة لابطال حق الجارلالابطال حق الخلیط(الهندیة ج۶ ص۴۲۲)

وان باع رجل عقار الاذراعا مثلافی جانب حد الشفیع فلا شفعة لعدم الاتصال وکذالاشفعة لووهب هذا القدر للمشتری وقبضه (قوله لووهب هذا القدر) ای الذراع مثلا والظاهر ان المراد وهبه بعد بیع ماعداهذاالقدر بقرینة قوله للمشتری ....ویحتمل ان الهبة قبل البیع الخ (ردالمحتار ج۵ ص۱۷۱)والله اعلم بالصواب

مولوی نذاحمد الحقانی مولانا محمود میوندوال مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی نورمحمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

په ځمکه کي دخپل حق ددعوی ګټلو وروسته په پاتي ځمکه دشفعي دعوی کول

پوښتنه زه بی بی روزی ګله چې خپل میراثی ملک اوجائداد می دخپلو ماما ګانوڅخه په لاندی ډول جلاکړی یو باغ چې زماماما ګانو زماپه غیاب کی بغیرله اجازی څخه خرڅ کړی وو اوزه هم په دی باغ کی شریکه وم اومشتری زمادحق دراکولو څخه منکروو کله چې خبره شریعت ته شوه نوماخپل حق پیداکړ او بیامی دبائع اومشتری په حضورکی خپله حصه جلا کړه ماته له حق سپارلو څخه وروسته مادستی دشفعي دعوی وکړه اومشتری ته می وویل چې زه خوپه اوبو لښتی اودباغ په هرحساب کی شریکه یم ځکه زه یووارثه یم اوته غیر سړی یی نوزه شفیع یم اودباغ دغه نوره حصه زماپه شفع ده تاته ئې نه درکوم مشتری راته وویل چې ستا شفع حق نکیږی ولی تاپخوادشفعي ږغ نه دي کړی ماورته وویل چې پخواماخپل حق نسوځوندی کولای ماځه ږغ کړی وای نواوس سوال دادی چې زه شفع پیداکولای شم اوکیا؟

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب

په شفع کې طلب مواثبت شرط دی طلب مواثبة دادی چې شفیع په بیع ددغه زمکې چې دی
یې شفیع دی خبرشي په دغه مجلس کې دعلم طلب دشفع وکی حتی که دغه شفیع په دغه
زمکه کې دعوی درقبی اودشفعي ددواړوکول دواړی دعوی به په یوه کلام کوی اوکه ئې
اول دعوی دملکیت درقبی وکړه وروسته ئې دعوی دشفع وکړه نوئې دعوی دشفعی نه
صحیح کیږی اوس نوحکم دادی کچیری دغه بی بی روزیګله په هغه وقت کې چې په بیع
دباغ خبره شوه دعوی دخپل حصی اودشفعي په دغه نورباغ کې کړی وی نوئې دعوی د
شفعي صحیح کیږی اوکه ئې محض خپل دحصی دعوی کړی وه نوئې شفع ساقط ده:

یلزم الشفیع ان یقول کلامایدل علی طلب الشفعة فی المجلس الذی سمع فیه عقد البیع فی الحال
کقوله اناشفیع المبیع اواطلبه بالشفعة ویقال لهذاالطلب طلب المواثبة (مجلة الاحکام المادة
۱۰۲۹) ولو بیعت دار بجنب دار رجل هوشفیعها وهویزعم او رقبة الدار المبیعة له وهو یخاف انه
اذاادعی رقبتها تبطل شفعته وان ادعی فیها تبطل دعواه فی الرقبة فیقول هذه الدار داری وانا ادعی
رقبتها فان وصلت الیها والاانا علی شفعتی لان الجملة کلام واحد فلایتحقق السکوت عن طلب
الشفعة غمز عیون البصائر شرح الاشباه والنظائر ج۳ ص۱۹۱ وهکذافی طحطاوی علی
الدر المختار ج۴ ص۱۳۱)والله اعلم وعلمه اتم وحکم

مولوی عبدالحکیم عفی عنه مولوی احمد نوری عفی عنه مولانا محمود میوند وال مولوی نور محمد ثاقب رئیس دار الافتاء دولت اسلامی افغانستان

په بیع فاسد کې ترهغو شفعه نه صحیح کیږی ترڅوحق دفسخ ساقط شي

پوښتنه :زه حاجی عبدالله جان یوه پوښتنه لرم هغه داده چې محمد هاشم نامی یوسرای
رانیوو د فیض الله څخه په دي شرط چې مسجدته وقف کړی مائې دشفیع دعوی ورپاده
کړه محمدهاشم ئې جواب راکړچی دغه سرای دپاره دمسجد شریف دضرورت دپاره رانیسم
دغه سرای محمدهاشم رانیوی قباله ئې دمسجد دملاامام په نام جوړه کړه ووسته ترقبالی
ئې اقرار دوقف نویشته کړی چی دسرای دعوی نه زه کوم نه ئې زما اولادکوی وروسته

حاجي خيرو جان نامى راغلى چې زه ئې شفيع يم اوشفعه په مشترک ځاى سره کوى په نام دشفيع دغه قباله ئې دمحمدهاشم څخه واخيسته قيمت ئې ورکړى اومونږ مسجد وال ئې هم شفيع يو نوشرعى حکم څه ده ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

که بيع په مابين دمحمدهاشم اوفيض الله په شرط دوقف دمسجد سوى وى بيع ئې فاسدده په بيع فاسد کى ترهغه پورى شفعه نسته چي حق دفسخ نه وى ساقط سوى په بناء سره دمشترى ياپه بيع ياغيره چى په فقهه کي ذکر سوى دى اوکه پدغه بيع کى دغه مذکور شرط نه وي بيع بياصحي ده شفعه دشفيع پکي سته چى په صحي شرعى طلبات سره مسبوق وى اگرچې وقف کول دمځکى وروسته تربيع وى بلکه شفيع حق دشفع لرى اووقف نقض کيږى هرچى شفع دحاجى عبدالله جان اودده دشريکانو ده هغه ساقط ده ځکه چى طلبات ئې پر وجه شرعى نه دي کړى هرچى بيع په شرط دوقف دمسجدفاسدده ځکه په ردالمحتار کى راغلى دى:

وكذا اذاكانت المنفعة لغير العاقدين ومنه اذاباع ساحة على ان يبنى بها مسجداا وطعاما على ان يتصدق به فهو فاسدا ه(ردالمحتار ج۴ ص۱۳۷ وهكذافى فتح القدير ج۶ ص ۷۸)

هرچى عدم شفعه په بيع فاسدکى ترهغه وخت چى حق دفسخ ئې ساقطيږى ځکه په هندية کى راغلى:

ولاشفعة فى الشراء الفا سد سواء كان المشترى مما يملك بالقبض اولايملك وسواء كان المشترى قبض المشترى اولم يقبض اه(الهندية ج۵ ص۱۶۴ وكذافى المجلة المادة ۱۰۶۶)فى الكاميلة ص ۲۲۰سئلت عمن اشترى ارضا شراء فاسدا هل تثبت فيها الشفعة فالجواب لاتثبت فيها الشفعة ففى منح الغفار اذااشترى دارا شراء فاسد ا فلاشفعة فيها اما قبل القبض فلبقاء ملك البائع فيها وامابعده فلاحتمال الفسخ لا ن لكل من المتبا يعين سبيلا الى فسخه ولم يسقط فسخه فان سقط فسخه بان بنى المشترى فيها وجبت الشفعة...آه

هرچى وقف کول شفع نه ساقط وى ځکه په الدرالمختار کى راغلى:

كما ينقض الشفيع جميع تصرفاته فى المشترى حتى الوقف والمسجد والمقبرة والهبة (زيلعى وزاهدى) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۵ ص۱۶۴)وفى الكاميلة ص۲۱۸ سئلت عمن اشترى ارضا فبنى فيها مسجدا اووقفها ولها شفيع هل له الاخذ بالشفعة وهدم المسجد وابطال

الوقف فالجواب نعم قال الكفوى سئل عمن اشترى ارضا فبنى فيها مسجدااو وقفها ولها شفيع هل له الاخذ بالشفعة ويهدم المسجد اجاب نعم له الاخذ ويومر البانى بالهدم ابن نجيم فى الشفعة اه

هرچي سقوط دشفعى دحاجى عبدالله جان دى ځكه چى مجلة كى راغلى دى ان اخر الشفيع طلب المواثبة مثلالووجد فى حال يدل على الاعراض عنداستماعه عقد البيع ولم يطلب الشفعة فى ذالک المجلس بان اشتغل بامرآخر وبحث صددآخر اوقام من المجلس من دون ان يطلب الشفعة يسقط حق شفعته آه(المادة ۱۰۳۲)وفى مجمع الانهر وتبطل الشفعة بترک طلب المواثبة اوطلب التقرير حين علم مع القدرة عليهما لانها تبطل بالاعراض وترک الطلبين اواحد هما دليل الاعراض آه(ج۲ ص۴۸۳)والله اعلم-

هرچي شفعه په سبب دمشترکه مشاع مځکى ده يعنى دهغه مځکى چى شفيع په سبب ددغه مځکى دعوى دشفع کوى هغه مشترکه په مابين کى دشفيع اودنوروکسانووى دشفيع شفعه په سبب ددغه مځکى صحي کيږى ځکه په تبيين الحقائق کى راغلى دى؛

وکذالوکانت داربين رجلين ولاحدهما فيها بئر مشترکه بينه وبين آخر غير شريکه فى دار فباعها کان الشريک فى الداراولى بشفعة الدار لانه شريک فيها والاخر جاروالشريک فى البئر اولى لانه شريک فيها والاخر جارآه (ج۵ ص۲۴۱)والله تعالى اعلم

وفى الخانية على هامش الهندية (ج۳ص ۵۳۶)واذابيعت الدار بجنب دار مشترکة بين رجلين کان لکل واحد من الشرکين فيها الشفعة وتسليم احدهما للشفعة يصح فى حق نفسه دون صاحبه...آه

مولوى نورمحمد ثاقب رئيس دار الافتاء دولت اسلامى افغانستان مولوى عبدالحکيم عفى عنه مولانا احمد نورى مولانا زمان شاه مولانا عبدالله

کتاب المزارعة

دمزارعة په هکله دارغستان دعلماء کراموځومهمي مسئلي

دغه مسائل چې په ارغسان کښى علماء ترتيب کړى دهغه ځاى دولسوال ملاحاجى محمد اخند لخوادافغانستان مرکزى دارالافتاء ته تقديم شوى ترڅوئې تصويب ياترديد وکړى دارغستان دولسوالى دمسئولينو لخوا دارغستان دولسوالى وټولو اوسيد ونکوته خبر ورکول کيږى چې دغه يو ځو مسئلى چې ډيرى ضرورى دى اودو لسوالى دجيدو او مشرانو

علماء په اتفاق سره فیصله سوی اوترتیب کړه سوی ضرور باید ومنی اوهغه رواعملی اودهغه ناروا څخه پرهیزوکړی که چیری دغه دعلماء دفیصلواوحکمونو مخالفت وکړی شرعی جزاء به ورکړه سی

(۱) په ترکتوراوتریشل داګ کوتل په یوحصه دهغه دغنمو جائزاوروانه ده باید په پیسو ساعت واره اویاپه ټیکه وکړل شی

(۲)لوی دهرکښت په یوحصه دهغه کښت غیر جائز اوناروادہ باید په پیسو او مثلی شیانوو کړل شي

(۳) کاریز کارول په یوڅوشباروزو ددغه کاریز غیر جائز اوناروادی باید په پیسو یامثلی شیانووکړل شي

(۴) خرابه مځکه جوړول په منافع اوکښت ددغه مځکی غیر جائز اوناروادی باید په پیسو اویامثلی شیانووکړل شی

